دا کتاب له اصلاح انلاین څخه ډاونلوډ شوی

تاسې کولی شئ له همدې سایټ څخه په زرګونو اسلامي او تحلیلي مقالې، په سلګونو اسلامي ویډیوګانې او ترانې او بېلابېل کتابونه ډاونلوډ کړئ

ادرس: www.Eslahonline.net



## کتاب پېژندنه :

دکتاب نوم : دحضرت محمد (ص)ص سپېڅلی ژوند

مؤلف : محمد عبدالحی

ژباړن : استاد محمداجان حقپال

خپرندویه موسسه : جمعیت اصلاح و انکشاف اجتماعی افغانستان

تیراژ: ۱۰۰۰ ټوکه

د چاپ نوبت: دویم

د چاپ نیټه: زمری ۱۳۸۶

کمپوز او ډیزاین : محمدجمیل احمدي

د پشتۍ طرحه او ډیزاین: جاوید خان امیري

آدرس: کابل، خوشحال مینه، الف ساحه، د شاداب ظفر بلاکونو ترشا

موبایل ۰۷۷۸۱۹۱۳۸۲ / ۰۷۹۹۳۹۴۰۱۵

دیجیتل: ۰۷۵۲۰۲۱۲۲۱

Email:eslahmilli@gmail.com

Download from:aghalibrary.com

بسم الله الرحمن الرحيم

# دلارې مشال

دپیغمبر(ص) مبارک سیرت دبشریت دمثبت بدلون لپاره یوازینۍ غوره وسیله او داخلاقو اوچتې پوړۍ ته درسیدلوځانګړې نسخه ده ،داسلام دسترپیغمبر(ص) ژوند لیک هغه ارزښتناکه اکسیردی چې که څوک یې دلارې مشال وګرځوي نو هرومروبه ورته ددنیاسرلوړي او داخرت نیکمرغي ورپه برخه شي، له همدې امله په اسلام کې دګران پیغمبر(ص)پاک سیرت ته پوره پاملرنه شوي



ده،اوکول په کول په متواترډول داسلام دسترلارښوددژوندهره برخه په پوره تفصیل او وضاحت سره په ډېرغورثبت شوې او وروستیونسلونوته رارسیدلې ده .

په دې لړکې داصحابانو رضی الله تعالی عنهم پرامت مسلمه احسان دی چې دپیغمبر(ص) دسپېڅلي سیرت هراړخ یې وروستیونسلونوته دومره روښانه نقل کړی دی چې ساری یې نه میندل کېږي.

په سیرت کې دهند دنیمې وچې دعالمانو لیکنې په بېلابېلو سبکونو خورا دقدروړ دي.

ځینویې په مفصل ډول دسیرت په هکله تألیفونه کړي دي ، ځینویې په لنډه توګه، ځینوصوفیانه انداز خپل کړی او ځینو نورو عاطفي او حماسي طریقه باندې دګران پیغمبر(ص) دسیرت په باب معلومات وړاندې کړي دي .

چې هریویې بېل بېل خوند اومزه لري اویودبل ځای نه شي نیولای.

یک قصه بیش نیست زغم عشق وین عجب

کز هرزبان که میشنوم نامکررست

له دې جملې څخه ښاغلي ابوسلیم محمد عبدالحی هم په اردوژبه د حیات طیبه) په نوم سیرت لیکلی دی چې دنوروپه نسبت ډېرې ځانګړنې لري.

نوموړي په دولسوبرخوکې په لنډه توګه په ډېر زړه راښکونکي اسلوب سره دګران پیغمبر ژوندلیک کښلی دی.

هدفمن اومجاهد قلموال استاد محمداجان حقیار نوموړی کتاب په روانه پښتو د سپېڅلي ژوند) ترعنوان لاندې ژباړلی،چې په ۱۳٦۲ لمریز کال دنیکمرغه میلاد په ویاړ دافغانستان دمجاهدینوداسلامي اتحادفرهنګي کمیټې له پلوه چاپ اوخپورشوی دی.

داچې نوموړی کتاب ډېرپه زړه پورې اوګټورو،په ګڼ شمېر تعلیمي اوتربیتي کورسونو اوحلقوکې دځوانانو اومجاهدینولپاره په نصاب کې ټاکل شوی و،همغه وچې په لږوخت کې توزیع شو اومینه والوته یې میندل ګران شول،بیابه ځینومینه والوهغه فوټوستیټ کاوه اوګټه به یې ورڅخه اخستله .

اوس دخوشحالی ځای دی چې داستاد حقیار له بیانظراچولواو دجملوله لاکره کولونه وروسته لوستونکوته وړاندې کېږي .

موږپه داسي حال کي چي ژباړونکي اومصنف دواړوته له الله پاک څخه ددنیا اواخرت خوشحالي غواړوهیله لروچي درانه لوستونکي به له دغي قیمتي اوارزښتناکي ډالۍ څخه پوره ګټه واخلي اودګران پیغمبر  معیاري سیرت اوښووني به ځانته دلارې مشال وګرځوي .

**په درنښت**

**رفیع الله عطاء**

**دافغانستان اسلامي فرهنګي مرکز مدیر**

# دژوند اسره

دژوند په کړلیچونو اولوړو ژوروکي په خپل فکر،پوهي اوتدبیر سره سمه لاره موندل خورا ګران بلکي ناممکن کاردی انساني فکر اوپوهه که رهبري نشي اروموږپه غلطولاروکي په کارلوېږي .له دغي لاروړکی اوفکري لالهاندی نه دنجات په خاطر رب العلمین هروخت دخپلو غوره بندګانو په وسیله خپل پیغامونه لیږلي دي چي دغه لړی دقران مجیداوحضرت محمد  په لېږلواوبعثت سره پای ته رسول شوې ده .

درحمة للعلمین سپېڅلی سیرت دمؤمن دژوند اسره ده .مؤمن یوازې په همدې اسرې سره کولای شي چي دژوند تیارې روښانه کړي ،پرستونزواوسختیوبری ومومي،خپل مسؤلیت اوفرایض په ښه شان اداً کړي،دخدای(جل جلاله) له غلامی نه پرته دبل هرچاله غلامی نه ازاد اوسي،په دنیاکي له ډاډیني اوحریت نه برخور داروي اوپه اخرت کي له رضاء اودیدارنه .

دسیرت پرموضوعاتو دنړی په مختلفوژبوکي بې شمېره لوی او پرېړ کتابونه لیکل شوي دي اود دواړو جهانونودسردارحضرت محمدرسول الله  دسپیڅلي ژوند پربیلابیلواړخونو باندې رڼااچول شوې ده اوپه دې لاره کي دقدروړ خدمتونه شوي دي خوکه په غورسره وکتل شي له بل هراړخ نه یې تاریخي بڼه زیاته غالبه ترسترګولګېږي ،د دعوت اوجهاد اړخونه چي په عمده ډول دخدای(جل جلاله) دپاك حبیب  سیرت یکي خلاصه کېږي دتاریخي بهیر په ترڅ کي څېړل شوي دي چي په دغومفصلواو اوږدو تحقیقاتو کي د دعوت او جهاد اسلامي  سیاست او اسلامي نظام په باب داسوۀ حسنه په پلوشوکي معلومات ترلاسه کول دمطالعي کافي فرصت غواړي .



په نړی کي له کفري طاقتونو سره په جهاد اومبارزه کي مصروف ټول مسلمانان په تېره بیا دروسي نړی خوربنکېلاك پرضد راپاڅېدلي افغاني مجاهدین له بل هروخت نه زیات دې ته حیاتي ضرورت لري چي دسیرت الرسول  د دعوت اوجهاد انقلابي اړخونه په مختصرډول ور وپېژندل شي ترڅو چي داسوۀ حسنه دپیروۍ په رڼاکي پرخپله اغزنه اوستغه لاره په پوره ثبات ،پاخه ایمان اوکلك هوډمخ په وړاندې لاړشي .

دغه هدف ته درسېدوپه خاطردحیات طیبه په نوم په اردو ژبه کي کوچنی کتاب چي دهنددنیمي وچي داسلامي لیکوالودیونامتوعالم ابوسلیم محمدعبدالحی لیکنه ده دېرپه زړه پورې مطالب لري .دسیرت ټول موضوعات یې په لنډه توګه په دولسوبابونو کي راغونډکړي دي .

دافغانستان دمجاهدینو داسلامي اتحاد فرهنګي کمیټه چي دخپلومجاهدو،مهاجرواوعاموافغاني مسلمانو ورونو د اذهانودروښانولو مسؤلیت دنشر اوتبلیغ له لارې په غاړه لري ددغه ګټورکتاب ترجمه چي دپیاوړې  لیکوال مجاهد ورور محمداجان  حقپال) له خوا په روانه او خوږه پښتو کي شوې ده د ۱۴۰۴هـ.ق د لومړۍ خورد دولسمي یعني دسرورعالم  دکالیزې په مناسبت دقیمتي معنوي سوغات په توګه وړاندې کوي .

مولف اومترجم دواړوته له لوی خدای(جل جلاله) نه اجراولوستونکوته دلوست اوعمل توفیق غواړو.

قیام الدین کشاف

# دلومړي چاپ سريزه :

درنو اوګرانو لوستونکيو ! دغه کتاب چې ستاسې په مخ کې دی له آره دپياوړي محقق اوليکوال محمدعبدالحی صاحب له خواپه اردوژبه د داعي اسلام کي حيات طيبه ) په نامه ليکل شوی دی .زه نه غواړم چې ددې کتاب پرمحتویٰ باندې څه وليکم ،بيوازې دومره ليکم چې ددې کتاب په ليکلوکې له يوه ځانګړي سبك اومهارت نه کاراخيستل شوی دی اوهغه داچې لومړی يې په دولسوبرخوبېل کړی اوبيايې ترهرغټ سرليک لاندې په نوروداسې وړو وړو سرليکونو ويشلی چې دېرځله دهغوی ترمنځ اړيکه نه شلېږي اودلوستونکو په تېره بيادنوو زدکوونکو لپاره مهم مطلبونه داسې ورپه ګوته کوي چې هغوی دسترياحساس ونه کړي اوهغه ورپه زړه وي. بل داچې دحضرت پيغمبر پرسپيڅلي ژوند باندې خوراډېرې ليکنې شوې دي خوپه هرصورت هره ليکنه په خپل ځای او وخت کې دارزښت وړوي اوليکوالوته يې له لوی خدای(جل جلاله) څخه اجر غواړم. مګردغه ښاغلي ليکوال دحضرت پيغمبر پرسپيڅلي ژونداسې رڼا اچولې ده چې کټ مټ هغه صحنه نيغ په نيغه دلوستونکوپه وړاندې تمثيلوي اوداسلامي نهضت روح،اخلاق،تګلار اوکړنلاره لکه څنګه چې ده هغسې يې دکفر اوطاغوتي کرغېړنو نظامونو پرضدپه پوره وضاحت سره راښيي .

په دې ډول ددنيوي او اخروي ګټواوزيانو نولاملونه په زغرده اودقران کريم په رڼاکې په بشپړه اغيزمنه توګه دانسان مخ ته ږدي دنيکمرغۍ اوسعادت په لورېې رهبري کوي اوپه دې لړکې يې دزړه په مينه دژوند دآرې موخې اصلي هدف) دترلاسه کولوپه لاره کې سرښندنې اوفداکارۍ ته چمتوکوي .

که څه هم ماله ځينو مقالواومضامينوپرته تراوسه پورې له اردوژبې څخه کوم کتاب نه وژباړلی خودفرهنګي کمېټې په تېره بياد ښاغلي کشاف صاحب ډېره لورينه اومهرباني وه چې زه يې دې کارته وهڅولم اوپه دې اساس مې خپل مات ګوډقلم راواخيست اود دې کتاب په ژباړنه مې لاس پورې کړ.څومره چې زماپه وس کې وو هومره مې کوښښ وکړچې اصلي جملې هم



خپلې معناوې له لاسه ورنه کړي اومفهوم هم ادا ْ شي خوڅنګه چې يومفهوم له يوې ژبې نه بلې ژبې ته اړول کېږي ارومروڅه کمی اوزياتی پکې راځي مابياهم له دغسې کارنه ډډه کړې ده اوکه چېرې داکارشوی وي نوهغه به زماتېروتنه وي.

په هرصورت دادی اوس دخدای(جل جلاله) په فضل اومهرباني دغه کارترسره شو.لوی خدای(جل جلاله) دې وکړي چې زماپه دغه نيمګړي کارداسلامي وياړلي انقلاب پيروان اوداسلام دمکتب رښتيني شاګردان په دې توفيق ومومي چې دحضرت محمد ژغورنده اوسپيڅلې لارپل په پل تعقيب کړي . په افغانستان اوټوله نړۍ کې دوياړلي اسلامي انقلاب دبري په هيله .

محمد اجان حقپال

# د دویم چاپ سریزه:

دانسانیت دلارښود حضرت محمد  سیرت یوه داسې موضوع ده چې هر چاته دلارې دمشال حیثیت لري په تېره بیاد اسلامي تحریک او غورځنګ دلارویانو لپاره .

کېدای شي چې له همدې امله به دې کتاب  دحضرت پیغمبر  سپېڅلي ژوند) دمعهدونو په تعلیمي نصاب کې تدریسي بڼه غوره کړې وي .

څنګه چې داکتاب نژدې درویشت کاله پخواچاپ شوی ونو په زړه کې مې داولوله پیداشوه چې دوخت له تنګسیاسره سره یې په ځغلندنظر وګورم ترڅویوځل بیادچاپ په ګاڼه وګاڼلی شي .

ښکاره خبره ده چې خپله لیکنه وي او که دبل دبیامطالعې په ترڅ کې یې دعبارت اوجملوپه اړه په ذهن کې نوی خیال را پیداکېږي اوفکرکوي چې نوې بڼه به یې له پخوانۍ څخه غوره وي .

په دې اساس که یو نیم ځای په عبارت اوجملوکې څه بدلون لیدل کېږي دابه دسلاست اوروانۍ په نیت یوه هڅه وي اوبس،په پای کې له لوی خدای څخه هیله من یم چې ګران لوستوال به ترې ګټه واخلي اومابه هم  په دعا یادکړي .

په درنښت

# بسم الله الرحمن الرحیم

الحمدلله رب العلمین والصلوة والسلام علی رسوله الکریم .

دحضرت پیغمبر  پاك سیرت یوه داسې موضوع ده،چې بې شمېره خلکوپرې لیکنې کړې دي اوترقیامته به دغه لړۍ روانه وي دایوه داسې موضوع ده که هرڅومره خلك پرې خورازیاتې لیکنې وکړي بیابه هم له مضمون سره هېڅکله دمینې اوعلاقې دنشتوالي شکایت پیدانه شي. دحضرت پیغمبر  دسپېڅلي ژونددومره اړخونه دي اوهراړخ یې دومره غوښتنې لري چې هېڅکله به څوك



دادعوه ونه شي کړای چې ددې موضوع حق یې ور اداء کړی دی. دلته خوهغه حال دی چې :

کرشمه دامن دل می کشدکه جااینجاست

ستادښایست ګلونه ډېردي

ځولۍ مې تنګه زه به کوم کوم ټولومه

ددې موضوع په اړه په اردوژبه ساده،مشکل ،غټ او واړه لیکل شوي کتابونه خوراډېر دي .خوله ډېرې اوږدې مودې مې په زړه کې داولوله وه چې که په دې ژبه کې یوداسې کتاب وای چې داسلام دداعي  دسپېڅلي ژوند تفصیل پکې په داسې انداز سره راغلی وای چې ددغه سترکاراونهضت کومه نقشه چې حضرت محمد  یې په سرته رسولو مامور و دلوستونکوپه وړاندې هم هغسې ترسیم شوې وای.څرګنده ده چې داڅه اسان کارنه دی. ددې کارلپاره پراخ علم ،کره تصنیفي استعداد، دضرورت وړبشپړکتابونو او پوره وخت ته اړتیابرېښي .خدای(جل جلاله) پخپله ډېرښه پوهېږي چې ددې خدمت نیکمرغي خپل کوم یوه بنده ته ورپه برخه کوي .

د۱۹۵٤ع کال داګست دمیاشتې له دولسمې نه د۱۹۵۵ع داګست تر۱۱نېټې پورې دهنددرایې بریلي دضلعې په زندان کې که څه هم نوراسباب راسره نه وو البته پوره وخت مې درلود.په دې وخت کې نابېره دافکرراغی چې دبندله دغې مودې نه څرنګه ډېره ګټه ترلاسه کیدای شي .خدای(جل جلاله) په خپل فضل اوکرم لارښوونه راته وکړه ،طبیعت مې همدې یوې لارې ته راوګرځید اوداوخت زمادهغې غوښتنې دسرته رسیدو وسیله کیدای شي چې دمخه یې یادونه شوې ده.

په زندان کې له محدودشمېرکتابونولکه سیرة النبي،تفهیم القران اویوڅونورو وړو وړو کتابونو نه پرته نورڅه رابرابرنه شول .دخدای(جل جلاله) نوم مې رایادکړاودهمدغوکتابونو له مخې مې دخپل استعداد په اندازه هغه غوښتنه بشپړه کړه چې له اوږدې مودې مې په زړه کې وه .

داچې دموضوع حق څومره ادا ْ شوی دی دابه دکتاب له مطالعې څخه لوستونکوته څرګنده شي. البته دلیکوالۍ پوره پوره احساس دی،که نه ددې موضوع دحق ادا ْ کولو خوپه ما کې نه وړتیاوه اونه یې له ماسره څه اسباب وو.

خوبياهم څه هيلې وې چې دهغوله مخې مې دغه كارته ملاوتړله اوهغه ترسره شو:

۱- كيداى شي دغه لړكوښښ دنورو پوهانو لپاره يو محرك و ګرځي او هغوى داكاركماحقه اداً كړي.

۲- په ساده اردو،په نومې بڼې سره پاك سيرت وليكل شي چې يوبل كتاب پرې زيات شي .

۳- داهيله ده چې خداى(جل جلاله) دې دغه كوښښ قبول كړي اوپه دې ذريعه دې ګڼ شمېرخلكوته داسلامي نهضت مزاج اوكړنلاره وروښيي اوپه دې توګه دې ځينونوروكې داسلامي نصب العين په لوردپرمختګ ولوله پيداكړي .

ربناتقبل منااتك انت السميع العليم

محمدعبدالحی

درايی بريلی ضلعې زندان

د دوشنبې ورځ د۱۳۷۴هـ.ق دذيقعدې ۲۰

د۱۹۵۵ع دجولاى ۱۱



# لومړۍ برخه

## اسلامي نهضت اوترې دمخه :

- داسلامي نهضت اهميت
- داسلامی نهضت يو امتياز
- داسلامي بلنې په وخت كې دنړۍ څرنګوالی
  - دروم حكومت
  - هندوستان
  - يهود
  - دعربو حالات
- داسلامي نهضت لپاره دعربو ځانګړنې
- دعربو په اصلاح كولو كې ستونزې

**بسم الله الرحمن الرحيم**

الحمدلله رب العلمين والصلواة والسلام على محمدواله واصحابه اجمعين .

اسلام يادحضرت پيغمبر  پيغام په نړۍ كې يوعظيم الشان اصلاحي نهضت دی ،داهمغه نهضت دی لكه څنګه چې په هره زمانه كې به هرملك ته دخداى(جل جلاله) رالېږل شوي نبي راووړ.دغه نهضت يوازې روحاني نه بلكې دانساني ژونددهراړخ يو اصلاح كوونكی تحريک دی چې ساری يې نه ليدل كيږي اودايو داسې هراړخيز نهضت دی چې په همدې يوه وخت كې روحاني

،اخلاقي،ټولنيز،اقتصادي اوسياسي هرڅه پکي شته اوله دغي دايرې څخه دانساني ژونديوتوك هم وتلی نه دی .

## داسلامي نهضت اهميت :

په نړۍ کي ډېراصلاحي اوانقلابي نهضتونه را اوچتېږي خواسلامي نهضت دخپلي پراختيا اوځينو نورو ځانګړنوله مخي له هغوټولونه ممتازاوغوره دی. دغه نهضت څرنګه را اوچت شو؟ وړاندې کوونکي يې څرنګه وړاندې کړ؟ په پايله کي څه وشول؟ دغه پوښتني په هغه ذهن کي را پيداکېږي چي ددې اسلامي نهضت له پيلامي سره څه ناڅه اشناوي .خودې پوښتنوته ځوابونه پيداکول ،دتاريخپوهني د ذوق بشپړول نه دي بلکي ددې ځوابونو اصلي اهميت په دې کي دی چي دهغودڅرګندولوپه نتيجه کي يوداسي بشپړاصلاحي نهضت زموږ مخي ته راځي چي همدا اوس هم دهغوټولومسايلودحل لپاره چي انسان پکي نښتی دی ضروري اوکافي ګڼل کېږي .

له يوې خواخودغه نهضت انسان ته دهغه دواقعي ګټي اوزيان رښتينی مطلب ورښيي اودتلپاتي دايمي) ژوندهغه حقيقتونه يې مخ ته ږدي چي هغه دهرانسان وروستی سرمنزل دی .له بلي خوادهغه ددنيوي ژوندلپاره دعمل ديوې داسي لايحي تجويزکوي چي دتلپاتي ژوندله برياليتوب سره سره يې دغه ژوندهم داسي ورسنبالوي چي بيابه انسان له هغوټولوستونزوڅخه ځان وژغورلی شي چي دهغوپه حل کولوکي تل خواخپوری پريشان) و او اوس هم دی .

داداسلامي نهضت هغه ځانګړنه ده چي هرزده کوونکی دې ته متوجه کوي ترڅوهغه له نژدې څخه وګوري اوپردې خبرې دپوهېدلولپاره هڅه اوهاندوکړي چي ددې نهضت په اړه دومره لويه دعوه ترکوم ځايه پوري سمه ده . داسلامي نهضت په باب خوداسي ډېرکتابونه ليکل شوي دي اولا نورهم ليکل کېږي چي دهغو دمطالعي په مرسته داسلام تاريخ پوره څرګنديدلای شي،خوڅنګه چي دروښنايي تصورله ډېوې اودخوشبويی احساس له ګل څخه نه شي بيلېدلای په همدې ډول دغه عظيم الشان نهضت هم هېڅوک دهغه له محرك څخه نه شي جلاکولای له همدې امله کله چي دخلکوپه وړاندې داسلامي نهضت يادونه کېږي



ورسره سم دنهضت د داعي حضرت محمد  دژوندد څرنګوالي اودنهضت دبلني داصلي مأخذيعني دقران کريم دسپېرني اوتفسير غوښتنه هم کوي اودابيخي يوه فطري غوښتنه ده .

## داسلامي نهضت یوامتياز:

ټول په دې پوهېږوچي دانسانيت ترټولولومړنی فرض اوترټولوښه خدمت دادی چي خلك داخلاقوپه لحاظ وروزل شي،بدې خواوې يې ترې لرې کړای شي اودهغوی په وړاندې دژونديوه داسي بشپړه نقشه راکښله شي چي انسان پرې لاړشي اوهغه په بشپړه توګه بريالی کړي .ددې مقصدلپاره ګڼ شمېرخلکوپه خپلوخپلوطريقوسره کارکړی دی .

دې ډول اصلاحي كار كوونكو دانساني اصلاح لپاره ځان ځانته ګوټونه اختصاص کړي،بيايي چي په هغوګوټونوکي څه کولای شول هغه يې کړي دي؛چاخپل ځانته اخلاق او روحانيت مرکزګرځولی اوچادتهذيب اوتمدن دسنبالولو کوښښ کړی دی او چاځان ته دحکومت اوسياست ډګرجوړکړی دی. خوکومو صالحوکسانو چي دانسان دبشپړ ژونددسنبالښت پرېکړه کړې ده هغه حضرات انبياء عليهم السلام دي .

پرانسانيت باندې دکايناتودپيداکوونکي ترټولولوی احسان دادی چي دانبيا کرامو عليهم السلامو ترټولووروستني پيغمبردې نړۍ ته تشريف راووړ دهغه بلنه اودژونددڅرنګوالی تراوسه پوري داسي خوندي پاتي دي چي په انساني تاريخ کي يې بله کومه بيلګه نه موندل کېږي .دمحمد  دژوندحالات داسي کښل شوي چي له يوې خوايې يوداسي سمون او انتظام وموند چي تراوسه پوري هېڅاته دغسي تاريخي ريکارډ ميسرنه شواوله بلي خوادهغه خبرې،کار،دژوندتګلاره،جوله اوصورت،ناسته ولاړه،خبرې اترې،ميشتوالی،چارچلند،لنډه داچي خوراك څښاك ملاسته ولاړه،ناسته پاسته اوان ترخنداپورې هره يوه ادا ° يې په بشپړه پراختيااوتفصيل سره خوندي پاتي شوه. له نن څخه يوڅوسوه کاله پخوادګڼ شمېر ستروخلکودژونداړخونه په تياروکي پراته دي خودحضرت محمد  په اړه که څه هم نژدې يونيم زرکاله پرې تېرشول) په بشپړه توګه معلومات لرو.

دحضرت محمد  دژونددڅرنګوالي له مطالعي څخه مخکي يوې بلي ځانګړني ته کتنه پکارده او هغه داچي دهرکارانداژه اواهميت له هغوحالا تونه

ځرګندېږي چې هغه کار پکې ترسره شوی وي که په مناسبواوموافقوحالا توکې یوه نهضت ته وکتل شي نوهغه په بشپړه توګه پرمخ تللای شي خوپه نامناسبوحالا توکې هم غه نهضت بیخي مړژواندی اونیمګړی پاتې کېږي .په عمومي ډول دنهضتونو حال داسې وي چې لومړی په خلکوکې هغه دمنلولپاره موادپخوي اوبیاچې کله نابېره دچاله خواهغه نهضت اعلانېږي نودخلکوخواخوږي ورسره پیداشي اونهضت پرمخ بیايي مثلاً دیوه هېواد دازادۍ نهضت راواخلـئ،خلک په عمومي ډول دبهرنیو حکمرانانو له ظلم اوزورزیاتي څخه په تنګ شوي وي او په زړونوکې یې دهغوی پرضدیوه ولوله اوجذبه هم راوخوټېږي. په دې وخت کې چې کله کوم همتناك سړی را پاڅېږي اودهېواد دآزادۍ په نامه غږپورته کړي .نو ډېر لږشمېر خلك غواړي چې دخطرونو اوزیانونو داندیښنوله کبله ورسره مله شي خوډېری اکثره)دردیدلي خلك دزړه له کومې ورسره ملګرتیاکوي. داقتصادي نهضتونوهم همدغه حال دی،خلك دخپلواړتیاو اوداقتصادي لوټمارانو دظلم اوزور له کبله ارومروبیوزلي کېږي .که په دغسې وخت کې کوم نهضت داقتصادي اصلاح اوانقلاب لپاره غږ پورته کوي نوبیا داټول خلك هغه لوري ته خپل پام وراړوي. خودیته لږ فکروکړئ یودغسې نهضت چې بیخي په مخالفوحالا توکې راولاړېږي مثلاً په یوه بت پرست قوم کې یوڅوك داسې غږ پورته کړي چې بت پرستي بابیزه اوبې ځایه حرکت دی په داسې حال کې چې دهغه ځای ټول اوسیدونکي دبت پرستۍ مینان وي نوفکروکړئ چې په داسې حالا توکې به هغه له څه ډول مصیبتونو اوستونزوسره مخامخېږي .

داسلامي نهضت د داعي اصلي اهمیت اودهغه دکار دربښتیني اوکوب عظمت ) تصور ترهغې پورې نشي کېدلای ترڅو پردې باندې پوهېدلی نه وي چې حضرت محمد څه غوښتنه درلودله اوهغه یې په کومومخالفوحالا توکې وړاندې کړه. ددې لپاره چې دحضرت محمد دژوندواقعیتونه وڅېړئ داهم وګورئ چې کله داسلام داعي خلکوته اسلام وړاندې کاوه په هغه وخت کې دعربواوټولې نړۍ حالات څه ډول وو؟

سپېڅلی ژوند

## داسلامي بلنې په وخت کې دنړۍ ځرنګوالی:

اسلام چې موږته څه وړاندې کړي دي مهم بنسټ یې توحید دی اوداهغه روښنایي ده چې یوازې عرب نه بلکې ټوله نړۍ ترې بې برخې وه ،انساني ذهن دتوحیدله رښتیني تصور څخه تش و. او دایوه جوته خبره ده چې له محمد څخه پخواهم بې شمېره اسلامي بلندویان ''داعیان '' راغلي وو او دځمکې هره آباده سیمه دخالص توحید د پیغام په مرسته سرلوړه شوې وه مګردانسانیت بدمرغۍ ترې دا درس هېرکړی و او دناپوهۍ له کبله یې دخپلوخواهشاتوپه پیروۍ لمر،سپوږمۍ ،ستوري،پیریان،پرښتې اودیوان په الوهیت کې شریك کړي وو اوانسان دیوه خدای دبندګۍ پرځای دبې شمېره خدایانو په لومه کې نښتی و.

داوخت په سیاسي لحاظ دفارس او روم دوه مهم ځواکونه موجود وو .دفارس مذهب،اورلمانځنه وه چې له عراق نه رانیولی دهندوستان ترپولوپورې خپورشوی و.دروم مذهب عیسویت و چې اروپا،اسیااو افریقایې په لومه کې راښکیل وو. سربېره پردې په مذهبي لحاظ دوو ځواکونو یهودانو اوهندوانو) هم اهمیت درلود اوهریوه په خپل خپل ځای دربښتینولۍ دعوه لرله .

په ایران کې دستورو لمانځنه عامه وه .له دې سره سره به پاچاو امیران هم پوره په پوره درعیت خدای اوپرښتې وې،هغوی ته به یې سجدې کولې اودخدایۍ ترانې اوسندرې به یې ورغږولې لنډه داچې ټول ملك دتوحیدله تصورنه تش و.

## دروم حکومت :

دیونان له سقوط نه راوروسته دروم حکومت په ټوله نړۍ کې سترحکومت ګڼل کېده مګر دشپږمې عیسوي پېړۍ په پای کې دغه حکمت دګډوډۍ اواړدوړ وروستي پړاو ته رسېدلی و. په حکومت کې بې نظمي،دښمن نه وېره،دهېواد دننه بې امنیتي،بشپړه بداخلاقي،خورا ډېره عیش پالنه لنډه داچې داسې یوبدکارنه موندل کېده چې هغه دې په اهل اسلام کې نه وي پیداشوی. په مذهبي لحاظ خویوشمېر خلك دستورو،پرښتو اوبتانو په لمانځنه اخته ووخوهغوخلکوچې عیسوي مذهب منلی وو هغوی هم دتوحیدله تصورنه لرې وو

هغوی دپلار،زوی،روح القدوس اومریمې پرخدایي باندې ګروهېدلي معتقد) وو.سلګونه مذهبي ډلې جوړې شوې وې اوداټولې به په خپل منځ کې سره جنګیدلې .پادریانو عیسوي ملایانو ) ته به یې سجدې کولې. پاپانو اوترې راوروسته درجه په درجه به مذهبي ژمنوالو"عهده دارانو" هریوه په خپل ځای کې شهنشاهانه بلکې خدایي اختیارات دخپل ځان ګڼلي وو. دحلالو اوحراماواختیارات له هغوی سره وو. اودهغوی قول دخدای قول ګڼل کېده. د دینداریَ اوچت تصور،رهبانیت اودنیاته شاړول وو او له هرډول ارامتیا اوهوساینې نه ځان محرومول ترټولوستر عبادت و .

## هندوستان :

داوخت په هندوستان کې هغه دوره وه چې په مذهبي ادواروکې ورته پورانك) دوره ویل کیږي. دغه دوره دهندوستان په مذهبي تاریخ کې ترټولو توره دوره ګڼلی شي .دامهال برهمنیت دبري په لور روان و اوبودایان تقریباً له منځه تللي وو. ددې دورې ځانګړنه داده چې شرك پکې له حده زیات و .

دبتانو شمېر مخ په زیاتېدو و ان تر ۳۳۰ ملیونو پورې رسېدلي وو. ویل کیږي چې دویدونو په زمانه کې بت پرستي دودنه وه خوپه دې وخت کې دبتانو لمانځنه عامه وه. دمندرونو درمسالونو ) خادمان دبداخلاقی بیلګې وې او قومي توپیر انتهاته رسېدلی و،حال داچې په لومړیو وختونو کې داډول توپیر نه و. همدې توپیر ټولنیز نظام په بشپړډول ګډوډ کړی و. داسې قوانین یې وضعه کړي وو چې عدالت یې ببخي له منځه وړی و. دتوکم اوکورنیَ په اساس یې دخلکو بې ځایه رعایتونه کول.

دشرابو څښل عام دود و. دخدای پلټنې لپاره به په غرونو اوځنګلونو کې ټول ژوند تېرول ضروري ګڼل کېده .اوهام اوفاسد خیالات خپل وروستي حدته رسیدلي وو. شیطاني ارواګانو اوپه سلګونو ډوله فال نیولو،انساني ژوند له ستونزو ډک کړی و. هر اریانوونکی شی خدای و. ګواکې دهریوه په وړاندې صرف سراپښودلو،مذهب جوړکړی و.د دېوانو،پرښتواوبتانو شمېرله اټکل نه وتلی و. دمندر درمسال) دخدمه و اوبت پرستانو اخلاقي حیثیت خورالوېدلی اوشرمناك



و. ظلم خولاداو چې داهرڅه دمذهب په نامه یادېدل ،ښځې به یې په جواریَ کې بایللې. یوې ښځې ته به ګڼ شمېر خلك مېړونه کېدل .کونډه ښځه به دټول ژوند لپاره په قانوني توګه له هرډول لذت څخه محرومه کړای شوې وه. دټولنې ددغسې شرمناك چلندله کبله به ښځه دخپل مېړه له مړینې سره یوځای په اوروسوځول شوه اوداسې مرګ به ورته خوراغوره ګڼل کېده. پلار،وروراومېړه به په جنګ کې دخپلې ښځې دبایللوله وېرې په خپل لاس هغه ووژله اوپه دې کار به یې فخرکاوه .نرینه و اوښځینه و به په بربنډتن عبادت کاوه. په مذهبي جشنونو کې به دشراب څښنه اوبدمستي داټول کارو نه ښه ګڼل کېدل. لنډه داچې په ډېره بده توګه دخدای(جل جلاله) دغه ځمکه داخلاقو، مذهب اوګډژوند له مخې دشیطان په جال کې راښکېل وه .

## یهود:

دخدای(جل جلاله) ددین اوچتولو په اعتبار داصلاح توقع له یهودوڅخه کېدله خودهغوی حالت هم خوراډېرشرمیدلی اوبې حیثیته و. هغوی دتاریخ په اوږدوکې داسې جرمونه کړي وو چې له هغې وجهې نه داسې کوم دریځ ورته نه و پاتې شوی چې هغوی دې کوم اصلاحي کاروکړي. ان تردې چې دخدای له لوري به کوم نبي هم دوی ته ورغی نو دهغه خبره به یې هم نه شوای سهلای اودناپوهیَ له کبله به یې زیات شمېر نبیان ووژل. او داګومان یې کاوه چې له خدای سره دوی کومه ځانګړې اړیکه لري او په دې اساس به هغه ورته څه عذاب هم نه ورکوي. ددوی داخیال و چې دجنت نعمتونه په اصل کې یوازې دهمدوی لپاره تیارشوي دي. نبوت اورسالت یې خپل قومي میراث ګاڼه. عالم به یې پوره شتمن اوابن الوقت و. دحاکمانو اوشتمنودخوشحالیَ لپاره به یې په خپل وخت په مذهبي احکاموکې کمی اوزیاتی راووست. دخدای له احکاموڅخه به چې کوم حکم اسانه اود دوی له غوښتنو سره سمون درلودپرهغه باندې به یې عمل کاوه. اوکوم احکام چې به ددوی لپاره ستونزور او نه منونکي وو هغه به یې پرېښودل. خپل منځي جنګونه او وژنه ددوی عام کاروبارګرځېدلی و.دمال اوشتمنیَ حرص یې دومره زیات شوی و چې د یوه داسې کارکولو اراده یې نه شوای کولای چې په هغه کې دې دسراومال اندېښنه وي. په همدې سبب دهغوی اخلاقي حالت ببخي

کمزوری و.اودمشرکانه بت پرستۍ نښې نښانې هم پکې پیداشوې وې. سحر،ټوټکې،اوهام،خرافات، کوډې،ناجایز تعویذونه،طلسم اونور سلګونه ډوله ناوړه چارې پکې دودوې. ترهغې پورې چې دخدای(جل جلاله) وروستي نبي دتوحید روښانه فکر راوړاندې کړ. خوبیابه هم همدغو یهودانو ویل چې تردې مسلمانانو خومشرك عرب خورابنه اوغوره دي .

## دعربوحالات :

دنړۍ له مذهبي اوسیاسي حالا تونه راوروسته راځئ چې پخپله دعربوپرحالا تو باندې رڼاواچوو ځکه چې دخدای(جل جلاله) نبي  په همدې ځای کې خپل نهضت پیل کړاودجهان له حالا توڅخه دمخه له همدوی سره مخامخ شو.

دعربوپه ډېروبرخو یعنې وادي قرئٰ،خیبر اوفدك کې ډېر اکثره) یهودان میشته وو.اوپه مدینه کې هم یهودانو حکومت کاوه. په پاتې نورهېوادکې هم دمشرکانه دودبهیرو.خلکو دبتانو، ډبرو، ونو، ستورو، پرښتو او پېریانو عبادت کاوه البته دیوه خدای تصورهم موجودو ان تردې چې هغه به یې دخدایانو خدای یاترټولولوی خدای باله،خودغه عقیده یې هم دومره کم زورې شوې وه چې عملاً یې دخپل لاسي وړو وړو خدایانو لمانځنه کوله،خوسره له دې یې الله(جل جلاله) هم دخپل عبادت قبله ګرځولې وه. هغوی داخیال درلود چې په ورځني ژوندکې اصلي کار دد غو وړو وړو خدایانو ترمنځ ویشل شوی دی نوپه دې اساس به یې هغوی لمانځل .دهغوی په نامه به یې قربانۍ اونذرونه ورکول اوخپل مرادونه به یې ورڅخه غوښتل .دالله(جل جلاله) په باره کې به دهغوی عقیده داوه چې د وړو وړو خدایانو په خوشحالو لوسره الله(جل جلاله)  هم خوشحالېږي .

دې خلکو پرښتې دخدای(جل جلاله) لوڼې ګڼلې،پېریان یې دخدای(جل جلاله) نژدې خپلوان اوپه خدایي کې ورسره شریك ګڼل اوپه همدې مناسبت به یې دهغوی لمانځنه کوله ،له هغوځنې به یې امدادغوښته .په خدایي کې به چې دوی کومې هستۍ شریکې ګڼلې دهغوی بتان به یې جوړول اوبیابه یې دهغوی عبادت کاوه. دبت پرستۍ مینه دومره عامه شوې وه چې په کوم ځای کې به یې یوه ښکلې شانته تیږه وموندله نودهغې په عبادت به اخته شول اوکه به یې څه ونه موندل نوله



خټونه به یې مجسمه جوړه کړه اودوزې پۍ به یې پرې ولونلې او دهغې په طواف به یې پیل وکړ. لنډه داچې په عربوکې بې شمېره بتان موجودوو،خوله دې سره سره یې دستورو عبادت هم کاوه .په دې واړو معبودانوکې لمر اوسپوږمۍ زیات اهمیت درلود،دشیطاني ارواګانو اوپېریانو عبادت هم ترسره کېده .دهغوی په باره کې عجیبه عجیبه خبرې مشهورې دي .له دې ټولو سره سره څه ډول توهمات چې به مشرکو قومونو کې عام وو په دوی کې هم وو.

له دغې مذهبي ګډوډۍ نه پرته خپل منځي جګړې په هغوی کې یوه عامه خبره وه. په وړو وړو خبروبه دجنګ لپاره چمتوشول اوبیابه دغه لړۍ پښت په پښت روانه وه. دجوارۍ لوبه اوشراب څښل دومره عام وو چې شاید په دې برخه کې به هېڅ یوقوم ددوی مقابله نه شوای کولای .

ددوی شاعري دشرابوتعریف اوله هغې نه دراولاړو بدوکارونو له یادونونه ډکه وه. سربېره پردې سود خوړل،لوټماري،غلا،بې رحمي،مرګ اوژوبلې،زنا اونوروپلیتوکارونو په انساني بڼه کې له دوی نه درندګان جوړکړي وو.خپلې لوڼې به یې ژوندۍ ښخولې اودبې شرمۍ اوبې حیایۍ یوځانته عالم و .داځکه چې نرینه و اوښځو به په بربنډځان دکعبې له خونې نه طواف کاوه اودابه یې یو مذهبي کارباله .لنډه داچې عرب دمذهب،اخلاقو،ټولنیزژوند اوسیاست په برخه کې په هراړخیزډول بې همته اورالویدلي وو .

## داسلامي نهضت لپاره دعربوځانګړنې:

نه یوازې عربوبلکې ټولې نړۍ به په دې تپه توره تیاره کې ټکرې خوړلې نوځکه داسرې یوه سباوون ته اړتیاوه چې دغه ټولې تیارې ورکې کړي اودخدای(جل جلاله) لارورکوبندګانوته دخدای(جل جلاله) لاروروښیي .داچې خدایτ په ټوله نړۍ کې ددې سباوون دڅرك لپاره دعربوملك غوره کړ په دې باره کې لا ندې ځوخبرې هم دغوروړدي :

خدای(جل جلاله) دټولې نړۍ دهدایت اولارښوونې لپاره وروستی پیغمبراواستازی حضرت محمد  ﷺ و اوغوښتل یې چې په ټوله نړۍ کې دهغه دعوت خپورشي. څرګنده ده چې دهېڅ یوه وګړي ژوندون ددغه سترکار

دعوت)لپاره کفایت نه شي کولای. نوددې کارلپاره ضرور و چې دخدای‌پیغمبر په خپل ګډون ،دصالحوکسانویوداسې ټولګی جوړ کړي چې ترده وروسته دغه سترکارته دوام ورکړي .ددغه مهم کاردسرته رسولو لپاره چې څه ډول ځانګړنوته اړتیاوه هغه ځانګړنې په عربوکې په ډېرې لوړې پیمانې اوعمومیت سره موجودې وې .دعربوملك دجغرافیوي موقعیت له مخې نژدې دنړۍ په مرکزکې پروت دی،په دې ډول یې ځلوروخواوته په پیغام رسولو کې خوراډېرې اسانتیاوې وې .

سربېره پردې دعربې ژبې پراختیا او ځانګړنې داسې وې چې یومضمون یکې په دومره اسانتیاسره اداء کېدلای شوچې دنړۍ په نورو ژبو کې یې لمن ډېره تنګه اوپرې نه شوای اداء کېدلای .

دعربویوه ستره ځانګړنه داوه چې دوی محکوم خلك نه وو. دمرییتوب له کبله چې په ذهنونو کې بې همتي اوپه لوړوانساني صفاتوکې تېروتنې پیداکېږي داخلك ترې پاك اوخوندي وو. دعربوځلوروخواوته دایران اوروم لوی لوی حکومتونه پراته وو. خوله عربوځخه یې هېڅوك خپل مریی نه کړای شو. دوی خورازیات زړور اوتکړه خلك وو دخطرونو په مقابل کې یې خیال هم نه راووړ.جګړې ورته لوبې ښکارېدلې،له جذبې اوولولې نه ډك وو. ارادې یې پخې اوپه زړه پاك وو. هره خبره به یې چې په زړه کې وه هغه به یې په ژبه هم وه .چل اودوکې،دښمنی اونفاق چې په عمومي ډول مریې او وېرېدونکې قوم کې پیداکېږي،په دوی کې نه وو .په عمومي توګه دوی دعقل اوفکر په اتبارلوړه درجه درلودله اوپه ذهني ډول اوچت خلك وو. پرډېروباریکوخبرو باندې یې دپوهېدنې اهلیت درلود. حافظه یې ډېره قوي اوغښتلې وه ان تردې چې دنړۍ په همعصرو قومونو کې یې بېلګه نه درلوده. له بې ځایه حرکت نه یې ځان ژغوره،فیاض اوغیرتمن وو.ذلیلتوب یې نه شو زغملای. دشګلنځې دسخت ژوندله کبله په عمل کې بریالي خلك وو. دیوې خبرې له منلونه راوروسته دوی ته داډېره ګرانه وه چې کښېنې اوپه ستاینه یې بسنه وکړي،بلکې ددې خبرې پرخلاف به ودرېدل اوپه همدې شېبه کې به یې خپل ټول ژوندپرخپل غوره کړای شوي کارو لګاوه .

## دعربوپه اصلاح کولوکې ستونزې :



له یوې خواخو دعربودځمکې،ژبې اواوسېدونکوځانګړنې داسې وې چې په هم دې اساس خدای(جل جلاله) خپل وروستی پیغام دې ملك اودې خلکو ته ورولېږه خوله بلې خواداستونزې هم څه کمې نه وې چې حضرت محمد ددې قوم په اصلاح کولوکې وزغملې .په لومړي سرکې لیکل شوي دي چې دهر کار داوکوب اټکلولولپاره دهغه کارلېدنې ته اړتیالېدل کېږي چې هغه کار په کوموحالا توکې سرته رسېدلی دی؛ په کومې زمانې اوحالا توکې چې اسلامي نهضت را اوچت اوبریالی شو په دې اتباردنړۍ په تاریخ کې دایوه ستره کارنامه ده اوهمدارازکوم قوم ته چې حضرت محمد ددنیاامامت جوړکړاوپه دې لړکې یې ډول ډول ستونزې وزغملې هغه هم له یوې معجزې نه کمې نه دي .

ترڅوچې دعربوپردغوځانګړنو څوك خبرنه وي،ترهغې پورې دخدای(جل جلاله) ددغه وروستنې پیغمبر دغه ستراصلاحي کارچې دده په لاس سرته رسېدلی دی ،نه شي اندازه کولای .ددې قوم په اصلاح کولوکې بې شمېره ستونزې موجودې وې چې ډېرې مهمې اودیادونې وړیې دادي :

دعربوخلك بیخي بې لیك لوسته وو. دخدای(جل جلاله) دذات اوصفاتو سم تصور، درسالت نوعیت او اهمیت، دوحي مفهوم، داخرت تصور، د عبادت رښتینی مطلب اوهدف لنډه داچې داسې یو څیزنه وچې دوی دې دهغه له پیلامې څخه خبروي ،بله داچې داخلك دخپل پلارنیکه په دودونوپسې داسې دېتوسترګوپیروان وو چې یو انچ ترې لرې کېدل هم خورا ګران اوناوړه کار و. هلته چې اسلام څه وړاندې کول هغه یې له پلرنې مذهب سره بیخي مخالف وو.له شرك څخه راپیداشوې ټولې ناروغی په هغوی کې موجودې وې توهم پرستې یې عقل له کاره غورځولی و. خپل منځې جنګونه ګواکې دهغوی قومي ځانګړنه ګرځېدلې وه. په دې اساس پریوه مسئله باندې سم فکرکول ورته اسان کارنه و. هغوی که څه فکرونه کول نودجنګ اوکور په کور جنګونو پرطریقو باندې به یې کول. په عمومي ډول لوټمارې دهغوی دژوندکولوذریعه وه .په دې توګه دا اټکل کېدلای شي چې کله محمد هغوی ته داسلام بلنه ورکوله نوهغوی له داسې خبروسره مخامخېدل چې دمخه تردې یې نه اورېدلې اونه یې داسې ګڼلې وې اودپلارنیکه چار چلند او خیالا ت چې تراوسه پورې هغوی ته په زړه پورې

وواخبرې بيخي ورسره مخالفې وې. ددې بلنې غوښتنه داوه چې : جنګونه بندکړئ. دامنيت پرېکړه وکړئ ، لوټماري غلطه ده، فاسدخيالات ، بدعادتونه اوترټولولومړی داچې دژوندکولوحرامه ذريعه ژرترژره پرېږدئ؛ددې ډول غوښتنو منلوته څرګنده خبره ده چې دهغوی چمتوکول خورا ډېرګران کارو.

لنډه داچې دټولې نړۍ حالا ت،دعربوحالات اوله کوم قوم سره چې ده اړيکې درلودلې دهغوی له عاداتواوخصوصياتونه هېڅ يوداسې شی په نظرنه راته چې ددې بلنې لپاره دې مناسب وګڼلی شي خوکله چې نتايج مخ ته راځي معلومېږي چې :

وه بجلی کاکڑ کاتهاياصوت هادی
عرب کی زمين جس نے ساری هلادی
نئی اك لگن دل مين سب کے لگادی
اك آواز مين سوتی بستی جگادی
پڑا هر طرف غل يه پيغام حق سے
که گونج اٹھے دشت وجبل نام حق سے

**ژباړه :**

هغه دبرېښناتړك و يادهادی غږ
چې دعربوټوله ځمکه يې وخوځوله
دټولوپه زړه کې يې يوه نوې هيله پيداکړه
په يواوازسره يې ويده ښارونه ويښ کړل
هرې خواته دحق پيغام زوږشو
له دښتې اوغره نه دحق نوم انګازه شوه

داهغه معجره ده چې هرڅوك ورسره مخامخېږي نو زړه يې غواړي چې ددغه مبارك ذات پرحالا توباندې په تفصيل سره پوه شي اودهغه وړاندې کړل شوی دعوت له نژدې نه قبول کړي ،په راتلونکو برخو کې به همدغه موضوعات په مخه درځي .



# دويمه برخه

## پيدايښت اوورکتوب :

- کورنۍ
- پيدايښت
- روزنه او وړکتوب

### کورنۍ :

دحضرت محمد دپلارنوم عبدالله اودنيکه نوم يې عبدالمطلب و. دنسب لړۍ يې کابوپه اووم پښت کې حضرت اسمٰعيل بن ابراهيم عليهم والسلام ته رسېږي .کورنۍ يې قريش نومېږي چې دعربو په ټولوکورنيوکې پښت په پښت معززه اوممتازه وه. دعربوپه تاريخ کې ددې کورنۍ زيات شمېروګړي خورا مخوراوعزتمن ګڼل شوي وو لکه نضر،فهراوقصي دکلاب زوی؛قصي په خپله زمانه کې دکعبې دحرم

متولي شو اوپه دې ډول دهغوی اوکوب اوعظمت نورهم زيات شو.ده  قصي) به ډېر لوی لوی کارونه سرته رسول لکه حاجيانوته اوبه ورکول،دمېلمه پالنې انتظام اونور.... له قصي نه وروسته دهغه کورنۍ دغه کارسرته رساوه. قريشوددغو رفاهي کارونودسرته رسولواودکعبې دحرم دمتولي کيدو له کبله په ټولوعربوکې ډېرعزت او اهميت ترلاسه کړی و. په عربوکې په عمومي ډول لوټماري دود وه اولارې خوندي نه وې،خودکعبې د حرم په نسبت او حاجيانو ته د خدمت کولو په اساس د قريشو کاروانونه هېچانه لوټول او په امنيت سره يې خپل مالونه له يوځای نه بل ځای ته لېږدول .

عبدالمطلب لس  (۱۰) يادولس  (۱۲) زامن درلودل خودکفرپااسلام دخصوصيت له کبله په هغوی کې پنځه تنه خوراډېر مشهوروو. يوښاغلی عبدالله دحضرت محمد  پلار او دويم ابوطالب و.که څه هم ده ايمان نه و راوړی مګر ترېوې مودې پورې يې دحضرت محمد  پالنه او سرپرستي وکړه. درېيم حضرت حمزه او څلورم حضرت عباس(رضی الله تعالی عنها) وو.

دحضرت پيغمبر  دغه دواړه ترونه په اسلام مشرف شوي وو.چې په اسلامي تاريخ کې يې لوړدريځ ترلاسه کړ ؛ اوپنځم ابولهب و چې داسلام په تاريخ کې يې اسلام دښمن شخصيت په بشپړه توګه څرګنداوښکاره دی .

عبدالله دزهره قبيلې دوهب بن عبدمناف لورسره چې بي بي آمنه نومېده،واده وکړ،دقريشوپه کورنۍ کې دايوه ډېره ممتازه ښځه وه .عبدالله اوولس کلن و چې واده يې وکړ. له کورنې دورسره سم يې له واده وروسته درې ورځې خپل خسرکره تېرې کړې اوبيادسوداګرۍ په لړکې شام ته ولاړ کله چې مدينې ته ورسېدهلته ناروغ  او په همغه ځای کې وفات شو.دامهال حضرت آمنه امېنواره وه .

## پيدايښت :

ددوشنبې په ورځ دربيع الاول په نهمه نېټه چې د۵۷۱ع  داپرېل شلمې سره سمون لري دسبامهال و چې دالهي پرېکړې له رحمت سره سم دغه نېکمرغه هستي پيداشوه. ددې هستي له راپيداکېدوسره دټول عالم تېپې تياری

سپېڅلی ژوند

ورکې شوې اوانسانيت دهدايت نورومونډچې پردې ځمکه باندې ترقيامته پورې دټولواوسېدونکوانسانانولپاره دکائناتودځښتن ترټولولوی نعمت دی .پلارېې عبدالله دده له زېږېدنې دمخه وفات شوی و،نيکه يې عبدالمطلب پرې محمد  نوم کېښود.

## روزنه او وړکتوب :

ترټولولومړی حضرت محمد  ته دهغه مورحضرت آمنې تی ورکړاو وروسته له دې دابولهب خدمتګارې  ثويبې) هم تی ورکړ. په هغه وخت کې داسې دود و چې دښارډېروخلکوبه خپل کوچنيان دتې رودلواوبشپړې روزنې لپاره کليو اوبانډوته لېږل ترڅوهلته په ازاده هواکې و اوسې ،صحت يې ښه شي اوډېره ښه فصيحه عربي ژبه زده کړي .په عربوکې دښارونو په نسبت دکليواوبانډوژبه خورازياته فصيحه ګڼل کېده. له دوداودستورسره سم به دکليوښځې ښارته ورتللې اوکوچنيان به يې دروزنې لپاره له خپل ځان سره بيول .په دې توګه دحضرت محمد  له پيدايښت نه څوورځې وروسته دهوازنو دقبيلې څوتنه ښځې دکوچنيانوپه هڅه کې مکې ته راغلې .له دوی سره سعديه حليمه هم وه. داهغه نيکمرغه ښځه وه چې دې ته بل کوچنی پيدانه شو نوداړتياله کبله يې دحضرت آمنې يتيم زوی ومانه اوله ځان سره يې بوت،دوه کاله وروسته يې هغه بېرته آمنې ته راوست خوځنګه چې په مکه کې هغه وخت ناروغي خپره شوې وه ،نوله دې امله آمنې خپل زوی بېرته بياکليوته ولېږه ،نږدې ترشپږکلنۍ پورې هماله واوسېد.

کله چې دحضرت محمد  عمرشپږکلنی ته ورسېدموريې هغه له ځان سره مدينې ته بوت غالباً به هغه دخپل مېره دقبرزيارت ته تللې وي ياداچې دخپلولۍ دکوم ارتباط له کبله به يې دغه سفر غوره کړی وي .نږدې يوې مياشتې پورې هماله پاتې شوه دبېرته راتګ په وخت کې دابواء په مقام کې وفات اوهماله دفن شوه .دمورتر وفات وروسته يې ټوله غمخوري اوپالنه عبدالمطلب پرغاړه واخيسته او تل به يې له خپل ځان سره ساته. کله چې حضرت محمد  اته کلن شو،نونيکه يې هم وفات شو.دمړينې پر وخت يې سرپرستي او روزنه خپل زوی

ابوطالب ته وسپارله،ابوطالب خپله دغه دنده په ډېره ښه توګه سرته ورسوله.
ابوطالب اودحضرت محمد  پلار عبدالله) له يوې موره وو له همدې کبله دابوطالب
مينه هم ورسره ډېره زياته وه. دده په مقابل کې به يې دخپلو بچيانوپرواهم نه ساتله
.کله چې به ويده کېده نوهغه    به يې يوځای له ځان سره څملاوه. که چېرې به
ورته نو دی به يې هم له ځانه سره بيوه. کله چې حضرت محمد  لس کلنی ته
ورسېد نو له خپلوهمزولو سره به يې وزې هم څرولې.

ابوطالب سوداګري کوله اودقريشوله دستورسره سم په کال کې يوځل
شام ته ورته. حضرت محمد  دولس کلن و چې ابوطالب شام ته دسفراراده وکړه
که څه هم ده دسفر د ستونزوله کبله نه غوښتل چې هغه    له ځانه سره بوځي
مګرله هغه سره يې دومره مينه وه چې کله ابوطالب سفرته ورته نودی ورپورې
ونښته اوله هغه سره يې په ملګرتياتيينګار وکړ. څنګه چې دحضرت محمد
خواشيني يې نه شوه زغملای نو هغه يې هم له ځانه سره بوت .

سپېڅلی ژوند

# درېیمه برخه

## پخواله نبوته:

- دفجارجنګ
- حلف الفضول
- دکعبې ودانۍ
- سوداګرۍ
- نکاح
- غیرمعمولي پېښې

### دفجارجنګ :

تراسلام دمخه په عربوکي دجنګونویوه نه ختمیدونکي لړۍ روانه وه په دې جنګونو کې دفجارجنګ یو ډېرخطرناك اومشهورجنګ و. داجنګ دقریشواوقیس دقبیلوترمنځ واپیښ شوی و. څنګه چې په دې جنګ کې قریش په حقه وو په همدې سبب حضرت محمد  پکې دقریشوپه پلوي ګډون وکړ،مګرپرهېچاباندې یې لاس اوچت نه کړ.په دې جنګ کې لومړی قیس اوبیاقریش برلاسي شول. په پای کې جنګ په سوله پای ته ورسېد.



### حلف الفضول :

هره ورځ به سلګونه کورنی تباه کېدلې .خلك به نه دورځې ډاډه  مطمئن ) وو اونه دشپې. دفجارله جنګ نه راوروسته داخلك له دې وضعې نه په تنګ شول اویوشمېر خیرغوښتونکویو اصلاحي نهضت پیل کړ. دحضرت محمد  تره زبیربن عبدالمطلب دغه تجویز وړاندې کړ.چې داوسنیو حالا تودسنبالولولپاره یوڅه باید وشي. په دې توګه دقریشودکورنی لوی لوی خلك راټول شول اوداتړون یې وکړچې موږ به :

١- له ملك څخه بې امنیتي ورکوو.

٢- دمسافروساتنه اوحفاظت به کوو.

٣- له بېوزلو سره به مرسته کوو.

۴- دمظلوم ملاتړبه کوو.

۵- په مکه کې به ظالم نه پرېږدو.

حضرت محمد  هم په دغه تړون کې ګډون کړی و اوپه ډېرپرې خوښ و،له همدې کبله یې دنبوت په زمانه کې وویل : "که ددې تړون په بدل کې چاسره اوښان هم راکړي وای نومابه نه وواخیستې اوکه اوس هم ماڅوك ددې تړون لپاره وغواړي زه حاضریم" .

### دکعبې ودانۍ :

دکعبې ودانۍ صرف څلوردیواله درلودل،پرسریې چت نه و،دیوالونه یې هم دسړي دقدپه اندازه اوپه ژورځای کې واقع وه .دباران په وخت به  اوبه هلته ډنډېدلې له دې کبله یې داوبودمخنیوي لپاره یوبندجوړکړی و خوهغه به نه ټینګېده او اوبه به پکې ډنډېدلې په دې تو ګه یې آبادي ته زیان رساوه .په پای کې داپرېکړه وشوه چې ودانۍ دې ړنګه اوپرځای دې بله ټینګه ودانۍ جوړه شي. قریش ټول سره راغونډشول اودودانۍ په کار یې پیل وکړ.بېلابېلوقبیلودوداني مختلفې برخې په خپلومنځوکې ووېشلې ،داددې لپاره چې له دغه شرف نه هېڅوك هم بې برخې پاتې نه شي،خوکله چې دحجرالاسود د اېښودلو وخت راغی یوه لویه

جګړه ونښته .هرې قبيلې غوښتل چې دغه خدمت دې پخپله سرته ورسوي. خبره دې ځای ته ورسېدله چې توری يې سره راوويستلې اوترڅلورو ورځوپورې دغه جګړه روانه وه،پنځمه ورځ دقريشو يوه بوډا اوسپين ږيري دارايه ورکړه :

ګهيځ بنه دوخته چې ترهرچادمخه دې ځای ته څوك راغی هغه دې دربيمګړی وټاکل شي چې مسئله حل کړي). څنګه چې دې سرې وويل هسې وشول. ټولو همدا خبره ومنله ،دخدای(جل جلاله) په فضل ترټولومخکې سړی چې دخلکوپه نظرورغی هغه دعالم رحمت حضرت محمد و .هغه په دې توګه داپريکړه وکړه :

دکوموکورنيوخلك چې په دې ځای کې د حجرالاسود داښودلو مدعيان دي هغوی دې خپل يويومشروټاکي،هغوی چې خپل مشران وټاکل وروسته له هغې حضرت محمد څادروغوړاوه ،تېره يې پرې کېښوده اومشرانوته يې وويل چې دڅادرڅنډې ونيسئ اوتيږه پورته کړئ .کله چې څادرټاکلي ځای ته ورسېد،نو حضرت محمد دحجرالاسوددبره اوچته کړه اوپه خپل ځای يې کېښودله. په دې توګه يوداسې جنګ پای ته ورسېد چې په نتيجه کې به يې څومره وينې تويې شوې وې .داوخت دکعبې ودانۍ اوچت يې هم جوړشو،خوڅنګه چې دودانۍ سامان بشپړنه ونو ځکه دکعبې دځمکې يوه برخه بهرته پاتې شوه اونوره يې په نوتاداوونوټينګه کړه. داهغه برخه ده چې اوس دحطيم په نامه يادېږي.

## سوداګري :

دعربوپه تېره بيادقريشوکاروبارسوداګري وه، دحضرت محمد تره ابوطالب هم سوداګر و.په همدې اساس کله چې حضرت محمد ځوان شو سوداګری يې دژوند دلامل په توګه غوره کړه،په وړکتوب کې يې چې دخپل تره په ملګرتياکوم سفرونه کړي وو پوره تجربه يې ترې حاصله کړې وه. کله چې يې په دې کاروبارکې لاس پيداکړنو په معاملا توکې يې څلوروخواو ته ښه شهرت وموند.خلکوبه هغه په معاملوکې رښتينی اوبشپړ ديندارباله په همدې اساس به خلکوهغه ته خپله پانګه دشراکت په موخه ورکوله. ژمنه ترسره کول،په معامله کې اخلاص ،بشپړرښتينی چار چلند دا ټول سره يوځای شول اوهغه يې دخلکوپه



نظر عزتمن وګرځاوه .په عمومي توګه به خلکودامين اوصادق په لقب ياداوه. دسوداګرۍ لپاره يې شام ،بصرې اويمن ته سفرونه کړي وو.

## نکاح :

حضرت خديجه رضی الله تعالیٰ عنها يوه معززه اوشتمنه ښځه وه .دحضرت محمد له لرې خپلوانو څخه دترورزي لوريې) هم وه. وروسته له لومړني واده ،کونډه شوه دويمه نکاح يې وکړه. لږ وخت نه وتېرشوی چې دويم مېړه يې هم وفات شو او داوخت بيايوه کونډه وه. دغه ښځه دخوراډېروښو او سپېڅلو اخلاقو څښتنه وه. خلکوبه هغه دډېرشرافت له کبله دطاهرې پاکې) په نامه يادوله. او خورا ډېره شتمنه وه،دخپلې سوداګرۍ سامان به يې خلکوته ورکاوه اوخلکوبه پرې دسوداګرۍ دنده پرمخ بيوله .په دې وخت کې حضرت محمد د۲۵کالو و .ده چې څومره سوداګريز سفرونه کړي وو په هغوکې يې خپله رښتينولي،امانت کاري اوسپېڅلي اخلاق خلکوته څرګندکړي وو. کله چې حضرت خديجه رضی الله تعالیٰ عنها دهغه له دې رازشهرت نه خبره شوه داپيغام يې ورولېږه چې زمادتجارت سامان واخله اوشام ته لاړشه څومره پيسې چې ددې کارپه بدل کې نوروته ورکوم تاته به دهغې دوه برابره درکړم. حضرت محمد دا خبره ورسره ومنله. مال يې ترې واخيست اوبصرې ته لاړ،له بېرته راتلونه درې مياشتې وروسته حضرت خديجې رضی الله تعالیٰ عنها ورته دنکاح پيغام ولېږه. هغه قبوله کړه اونېټه وټاکلی شوه. په ټاکلې نېټه حضرت محمد له ابوطالب ،حضرت حمزه اودخپلې کورنۍ له نورو مشرانوسره د خديجې رضی الله تعالیٰ عنها کورته ولاړ،ابوطالب دنکاح خطبه ولوستله او د سروزرو درې سوه درهمه يې دنکاح مهرشو. د ودېدلو په وخت کې حضرت خديجه رضی الله تعالیٰ عنها څلوېښت کلنه وه اوله مخکنيومېړونوڅخه يې يوه لوراودوه زامن هم درلودل.

## غيرمعمولي پېښې :

په نړۍ کې چې څومره ممتاز خلك پيداشوي دژوندله همغه پيل څخه پکې داسې نښې نښانې لېدل شوي چې دهغوی دروښانه راتلونکي په باب ترې اټکل کېدای شي ،خوددې خلکو حال دا دی چې کله پرمخ لاړشي نو بيادکومې کورنۍ

،قوم یاملك دژوندپه یوه اړخ کې په یوه اصلاحي کارلاس پورې کړي خوهغه سپېڅلې هستي چې ان ترقیامته پورې دټول عالم دلاربنوونې لپاره پیداشوې وې او انساني ژوندپرې اصلاح کېږي نوپکارده چې دهغې په پیلیزژوندکې دغسې نـښې نښانې ډېرې ښکاره شي. دسیرت په کتابونو کې ددې ډول نښونښانو یادونه خوراډېره شوې ده مګرکوم واقعیتونه چې دڅېړنې په رڼاکې په صحیحوروایتونوسره یادشوي دي یوڅویې دادي: حضرت محمد وایي"کله چې زه دخپلې مورپه ګېډه کې وم هغې یوخوب ولیدچې له بدن څخه یې یونورراوځي چې دشام ملك پرې روښانه شو" له داسې ډېرو روایتونو څخه څرګندېږي چې په دې زمانه کې په ځانګړي ډول یهوداونصارادیوه نبي راتلوته سترګې پرلار وو اودهغه په باره کې یې ډول ډول پیش ګویي ګانې کولې.

دحضرت محمد دوړکتوب واقعه ده چې کعبه ودانېدله نوله لویانو سره کوچنیانوهم دخښتوپه اوچتولوکې برخه اخیستې وه . له دې کوچنیانوڅخه یوهم حضرت محمد و . دهغه تره حضرت عباس ورته وویل چې خپل لنګ دې راخلاص کړه پراوږودې واچوه. دخښتودسولېدلوکړاوبه درباندې نه وي .دعربوپه چاپېریال کې داخبره څه حیرتناکه خبره نه وه .کوچنیان خولاڅه چې غټانوهم له بربنډتیاڅخه شرم نه کاوه،خوچې څنګه یې داسې وکړل نابېره دبربنډتیاله انګېرنې بې هوښه شو،ولوید.چې سترګې یې راپرانستې په اسمان ولګیدې کله چې په هوښ شونو ویل به یې : زمالنګ) زمالنګ) په بېړې سره خلکودهغه ترملالنګ وتاړه وروسته بیاابوطالب ددې کیفیت پوښتنه ترې وکړه.هغه ورته وویل ماته یوسړی په نظر راغی چې سپینې جامې یې اغوستې وې اودایې راته وویل چې : عورت دې پټ کړه ) غالبأدابه دغیبولومړنی اوازو.په عمومي ډول په عربوکې دکیسوویل دود و،خلك به دشپې له خواپه یوه ځای کې سره راټولېدل اوکیسه ویونکوبه ټوله شپه کیسې اورولې .حضرت محمد هم په وړکتوب کې یوځل په دې ډول غونډوکې دګډون اراده وکړه خوپه لارکې نابېره دیوه چادواده غونډه وه،حضرت محمد دهغې ننداري ته پاتې شوخوهلته خوب ورغی اوویده شو.دغسې واقعه یې یوبل ځل هم مخ ته ورغله خوداځل هم په



ناڅاپي توګه ویده شو. په دې ډول خدای(جل جلاله) له دې غونډې نه هم وژغوره .

کله چې حضرت محمد پیداشونومکه دبت پرستۍ ترټولولویه اډه ګرځېدلې وه. پخپله دکعبې په خونه کې درې سوه اوشپېته ۳۶۰) بتان وو خوسره له دې بیاهم هغه دبتانو په وړاندې هېڅکله سرټیټ نه کړ اونه یې هلته په کوم مشرکانه دودکې برخه واخیسته،که څه هم قریش په دغوغلطودودونوکې روږدي عادي ) وو مګرحضرت محمد په دغودودونوکې له خپلې کورنۍ سره ملګرتیاونه کړه .

# څلورمه برخه

## دنبوت پیل

- دحراغار
- لومړنۍ وحیه

دامهال دحضرت محمد  په ژوندکي یوانقلاب راښکاریده. او په ګوښه کیناستوسره یي دخدای(جل جلاله) عبادت اودخپل چاپیریال پراخلاقي اودیني انحطاط باندې غوراوفکرکاوه. اوپرله پسې یي دافکر هم کاوه چي ولي زماقوم بتان خپل معبودان ګرځولي اوپه اخلاقي لحاظ څومره رالوېدلي دي او له هغوی څخه څرنګه بدي لرې کړم؟هغوی ته څرنګه وښودلی شي چي دخدای لمانځني لاره کومه یوه ده ؟ ددې کائناتودواقعي خالق اومالک عبادت بایدپه څه ډول وشي ؟ سلګونه دارنګه خیالات اوپوښتني وې چي په ذهن کې به یې ګرځېدلي راګرځېدلي اوپه ساعتونو به یې پرې فکرکاوه .

سپېڅلی ژوند

## دحراغار:

له مکي معظمي څخه درې میله لرې یوغاروچي حرا نومیده حضرت محمد  به ډېر زیات هلته اوسېده .پرغوروفکراوالهي عبادت باندې به بوخت و.دخوراک اوڅښاک شیان به یې له ځانه سره وړل کله چي به هغه خلاص شول نوبیابه راغی اوله ځانه سره به یې یووړل اویابه حضرت خدیجي رضی الله تعالی عنها ورته ور وړل .

## لومړنۍ وحیه :

یوه ورځ له عبادت سره سم دحراپه غارکي په عبادت بوخت و اودروژې میاشت وه چي دخدای(جل جلاله) رالېږل شوې پرښته ورڅرګنده شوه ،دغه حضرت جبرائیلυ و چي ترټولوپرښتویي مرتبه لوړه ده اوتل دخدای(جل جلاله) پیغام دخدای رسولانوته رسوي .حضرت جبرائیلυ په ښکاره حضرت محمد  ته وویل " اقرا "  ولوله ) ده ورته وویل : زه لوستونکی نه یم) ددې خبرې له اوریدوسره یې حضرت محمد  راونیو-دومره یې ټینګ کړچي سترې شوبیایې پرېښوداو ورته یې وویل :" ولوله " هغه بیاهم هغه ځواب ورکړوروسته له دې یې بیاراونیو- ټینګ یې کړورته یې وویل : " ولوله " هغه بیاوویل : زه لوستونکی نه یم) حضرت جبرائیلυ بیاهماغسي چاروکړه،پرې یې ښوداوورته یې وویل:

**اقراباسم ربک الذی خلق ~ خلق الا نسان من علق ~ اقراوربک الا کرم ~ الذی علم باالقلم ~ علم الا نسان مالم یعلم ~**

العلق

ولوله په نوم درب ستا،هغه چي پیداکوونکی دی .انسان یې دغوښي له بوټۍ څخه پیداکړ .ولوله اوستارب لوی کریم دی .هغه  خدای) چي انسان ته یې دقلم په واسطه علم وروښود او انسان ته یې هغه څه وروښودل چي هغه پرې نه پوهېده .

همدغه ترټولولومړنۍ وحیه وه .وروسته له دې حضرت محمد  کورته ولاړ په دې وخت کې پرهغه باندې رېږدېدنه برلاسي شوې وه حضرت خدیجې رضی

تعالیٰ عنها ته يې وويل : ماپه کمپله کې راونغاړه) ماپه کمپله کې راونغاړه) هغې حضرت محمد په کمپله کې ونغښت .کله چې يوڅه آرام شونو حضرت خديجې رضی الله تعالیٰ عنها ته يې ټوله کيسه تېره کړه اوورته يې وويل : زه پرځان وېرېږم ) حضرت خديجې رضی الله تعالیٰ عنها ورته وويل : نه، هېڅکله نه،ته مه وېرېږه تاسې ته خطره نشته خدای(جل جلاله) به دې نه رسواکوي. ته دخپلولۍ حق اداء کوې. دخلکوبارپه خپل سراخلې، له فقيرانو او مسکينانو سره مرسته کوې، دمسافرانو ميلمه پالنه کوې،دمصيبتونو په وخت کې دانصاف په خاطر خلکوته پکارېږې . وروسته له دې حضرت خديجې رضی الله تعالیٰ عنها هغه ورقه بن نوفل ته ورووست،دی يو بوډا عيسوي ديندار و،تورات به يې لوسته. حضرت خديجې رضی الله تعالیٰ عنها دغه ټوله پېښه ورته واوروله کله چې ورقه دغه خبرې واورېدلې نوويې ويل : داهغه ناموس پرېښورازونوباندې پوهېدونکې پرښته) ده چې پرموسیυ باندې نازل شوې وه کاشکې ترهغه وخته پورې چې ستاقوم به تاله خپل ټاټوبي څخه باسي ،ژوندی اوسم ) حضرت محمد ترې پوښتنه وکړه : آيازماقوم به ماله خپل ټاټوبي څخه باسي ؟ هغه وويل : هو! اوزياته يې کړه هغه څه چې تاراوړي هغه چې هرچاراوړي دي له هغه سره دهغه قوم اوخلکودښمني کړې ده،نوکه زه ترهغه وخته ژوندی وم،له تاسره به مرسته وکړم له دې واقعې څخه يوڅوورځې وروسته ورقه بن نوفل وفات شو.

وروسته له دې د جبرائيلυ راتګ وځنډيد.حضرت محمد به معمولاً دحراغارته ورته ،لېترلږه يې شپږمياشتې په دې توګه تېرې کړې په دې منځ کې دجبرائيلυ دځنډېدنې ګټه داوه چې دحضرت محمد په زړه کې دبشريت غوښتنې کومې اغېزې سملاسي پيداشوې وې هغه ترې لرې کړای شوې اودهغه مبارک زړه داوخت بيادوحيې نازلېدوته ليوال شو. ان تردې پورې چې کله به دغه موده اوږده شوه نوحضرت جبرائيلυ به کله کله دهغه دارامتيااوډاډينې لپاره راته اوهغه ته به يې دزړه ډاډ ورکاوه چې په يقيني توګه هغه درسول په حيث منل شوی دی بيابه نو ډاډه مطمئن) شواوسترګې پرلار به و.حضرت جبرائيلυ به په پرله پسې ډول له څوورځووروسته پيغمبرε ته راته .



# پنځمه برخه

## دبــــــلنــــې پـــــــيـــل

- دبلنې دوې دورې
- مکي ژوند
- دمکي ژوندڅلوردورې
- لومړنۍ دوره ـ پټه بلنه
- دقرآن اغېزه
- دعقيدواصلاح
- پټ لمونځ کول
- په دې دوره کې دمؤمنانوځانګړنې
- دويمه دوره ـ ښکاره بلنه
- دبلنې مخالفت
- دمخالفت سببونه
- دمخالفينواړتياوې
- دحالا تومقابله
- بلنې خواته دخلکوپاملرنه

- **دمخالفينوله خواسوغاتونه وړاندې كول**
- **درېيمه دوره ـ ابتلاء اوازميښت**
- **دنبوت په پنځم كال حبشي ته هجرت**
- **مسلمانان دنجاشي په درباركي**
- **دنجاشي اسلام**
- **دحضرت حمزه ايمان**
- **دنبوت په شپږم كال دحضرت عمرψ اسلام راوړل**
- **دشعب ابي طالب كلابند**
- **دبلني سلوک**
- **ځلورمه دوره ـ دظلمونواومصيبتونو انتها**
- **له مكي ځخه دباندې تبليغ**
- **ليلة الجن**
- **اسلام په مدينه كي**
- **دمخالفت شدت**
- **دعقبه اولی بيعت**
- **دعقبه ثاني بيعت**



دحرا په غاركې دلومړنۍ وحې له نازلېدلونه راپه دېخواتريوڅه مهال پورې هېڅ وحيه ورنغله .وروسته بيادمدثرسورة لومړني ايتونه پرې نازل شول :

**يايهاالمدثر۔ قم فانذر۔ وربک فكبر۔ وثيابک فطهر۔ والرجزفاهجر۔ ولا تمنن تستكثر۔ ولربک فاصبر۔**

مدثرسورت له۱-۷پورې ايتونه

ای په جامه كې نغښتونكيه! پاڅېږه اوخلک ددبې لاربتوب له بدانجام څخه ) ووېروه .اودخپل رب لويي اوسترتوب بيان كړه اوجامې دې پاكې كړه اوله پليتي بتانو)نه لرې اوسه اودزياتې بدلې په نيت له چاسره احسان مه كوه اودخپل خدای لپاره داذيت اومصيبت په وخت كې صبرغوره كړه .

دنبوت پركار باندې دادحضرت محمد دماموريت پيل و په دې وخت كې قانوني حكم وركړی شو چې پاڅېږه له ګمراهۍ نه انسانيت ته دفلاح اوكامرانۍ لاره وښيه اوخلک په دې خبركړه چې دبري لاريوازې همدايوه لارده يعنې يوازې ديوه خدای بندګي .چاچې دغه لارغوره كړې ده هغه به بريالی وي .څوک چې له دې لارې نه پرته كومه بله لارغوره كوي له هغه سره به داخرت دبدانجام وېره وي .دانساني ژوندبنسټ ديوه خدای بندګي ده اودهغه پراوكوب او لويي باندې اعتراف پكاردی.په دې توګه يوځوك له هرډول ناولتياڅخه پاک پاتې كېدلای شي .له خدای(جل جلاله) نه پرته دنوروبندګي دزهروهغه تومنه ده چې دانسان دتباهۍ لامل ګرځي .انسانانوته خپل منځوي ښه چارچلنداوسلوک پكاردی. داسې چارچلند او سلوک چې اساس يې تمه اوغرض نه وي.

## دبلني دوې دورې :

له کوم ځايه چي دحضرت محمد(جل جلاله) دژوندبلنيزه دعوتي) دوره پيل کېږي دغه دوره په دوولويو برخووېشلاى شو چي يوې ته مکي دوره اوبلي ته مدني دوره ويل کېږي .مکي دوره دحضرت محمد دژوند هغه برخه ده چي مخکي له هجرت نه يي په مکه کي تېره کړې وه اومدني دوره يي دژوندهغه برخه ده چي وروسته له هجرته يي په مدينه کي سرته رسولي وه .لومړنی دوره ديارلس کاله اودويمه دوره نژدې لس کاله وه .

## مکي ژوند :

دحضرت محمد(جل جلاله) دبلني هغه دوره چي په مکه کي يي تېره کړې ده دخپلونتايجوپه لحاظ ډېره مهمه ده .په حقيقت کي داهمغه دوره ده چي داسلام دکښت تخم پکي شنل شوی دی اودانسانيت داسي اعلی بېلګي پکي جوړې شوې چي داسلامي نهضت له ځېرې سره يي ټوله نړۍ اشناکړه.

دتاريخ اوسيرت کوم کتابونه چي همدا اوس موجود دي په هغوکي دمکي دورې بيان اوتفصيل بيخي لږ راغلی دی. ددې دورې پراهميت اوعبرتناکوحالا توباندې دپوهېدني لپاره په غورسره دقرآن شريف دهغي برخي مطالعه ضرورده چي په مکه کي نازله شوې ده .په حقيقت کي دمکي دورې رښتينی اهميت له هغه وخت نه اټکل کېداى شي چي دمکي سورتونو دبلني انداز،دهغه وخت دحالا تو اوواقعيتونو بيان ،دتوحيد اواخرت دليلونه،دکړو وړو اوسيرت دجوړښت لپاره لارښووني اودحق اوباطل ترمنځ داخ وډب په دوران کي چي دانتهايي صبردازموينې وخت و) دنهضت دپرمخ بيولو اودنهضت دعلمبردارانو پرخپل مقام باندې دثابت پاتي کېدلوپه اړه په تفصيل سره پوه نه شواو،دا ترهغې پورې ممکنه نه ده ترڅو نبغ په نبغه قرآن کريم په غورسره مطالعه نه شي البته موږ دلته په لنډول ددې دورې تفصيلات بيانوو.

## دمکي ژوند څلور دورې :



دحضرت محمد دسپېڅلي اوپاک ژوندهغه برخه چي له هجرت څخه دمخه يي په مکه کي تېره کړې وه اواسلامي نهضت پکي دبلني له بېلابېلوپړاوونو او کشمکشونوڅخه تېرېده؛هغه دخپلوځينو ځانګړنو له کبله په څلورودوروباندې وېشلاى شو.

## لومړنی دوره :

له نبوت څخه راپه دېخواکابوتردريو کلونو پورې حضرت محمد دبلني اوتبليغ دنده په پټه توګه سرته رسوله .

## دويمه دوره :

دنبوت له اعلان نه يي راواخله کابو تردووکلونو پورې په دې دوره کي لومړی خومخالفت ورسره وشو،بياپرې ملنډې ووهل شوې،ډول ډول تورونه پرې ولګول شول ،بدورد ورته وويل شول؛اوپه داسي نورودرواغوتپلو،پروپاګندونو اومخالفانه خبرواتروداسلامي بلنې دټکو لو لپاره هلې ځلې وشوې .

## درېيمه دوره :

سره له دې چي اسلامي نهضت مخ په وړاندې روان و،بياهم دظلم اوزورزياتي دوره پيل شوه اوپرمسلمانانو باندې سخت ظلمونه وشول دا دوره پنځه شپږکاله وځنډېدله اوپه دې اوږدوکي مسلمانان له سختوکړاوونوسره مخامخ وو.

## څلورمه دوره :

دابوطالب اوحضرت خديجېψ وفات نه يي راواخله ترهجرت پورې نژدې دغه درې کلنه دوره دحضرت محمد اودهغه دملګرولپاره ډېره زياته دستونزواومصيبت زمانه وه .

**لومړنۍ دوره :**

# پټه بلنه

دنبوت پرکاربانديې دحضرت پيغمبر  له ماموريت څخه راپه دېخواترېټولولومړنۍ مرحله داوه چې يوازې ديوه خدای(جل جلاله) دبندګۍ غوره کولواوله سلګونو خدايانوڅخه دانکاربلنه دې په څه ډول دې خلکوته ورکړل شي. دايوداسې خبرو چې دهغوی له طبعي،منښت اوعادتونوسره يې بيخي توپيردرلود،ځکه نو داواقعايوه سخته مرحله وه .له همدې کبله حضرت محمد ترټولودمخه هغه خلک غوره وګڼل چې له هغوی سره يې دخپلولی خورانژدې اړيکې درلودلې اودهغوی اخلاق اوعادات يې نېغ په نېغه تجربه کړي وو اودهغوی دريښتينولی په باب يې غوڅه پرېکړه کړې وه .هغوی ته په اسانۍ سره داممکنه نه وه چې دحضرت محمد  له ويناووڅخه دکومې يوې خبرې انکار وکړای شي .په دغوخلکوکې حضرت خديجه(رض) ترټولوزياته دده درازونومحرمه وه .وروسته له دې بياحضرت علی(رض) ،حضرت زيد(رض)،اوحضرت ابوبکر(رض) وو.حضرت علی(رض) يې دتره زوی،حضرت زيد(رض) يې ازادکړی شوی مريی اوحضرت ابوبکر(رض) يې دوست و .دوی به تل دهغه له مجلس نه فيض مونده .په دې توګه يې ترټولو دمخه حضرت خديجې(رض) ته داپيغام ورساوه اووروسته له دې يې داخبره نورومشرانوته ورسوله،دوی ټول ګواکې له پخوانه مؤمنان وواوله اورېدوسره سم



يې پرې تصديق وکړ.وروسته بيادابوبکر(رض) په ترغيب اولارښوونه حضرت عثمان(رض)، حضرت زبير(رض)، عبدالرحمن بن عوف(رض)، حضرت سعدبن ابی وقاص(رض) اوحضرت طلحه(رض) ايمان راوړ.په دې توګه اسلامي بلنه په پټه خورېدله اودمسلمانانوشمېره کرارکرارزياتېدله.

**دقران اغېزه :**

په دې دوره کې چې قران رانازلېده دبلنې دپيليزې مرحلې په مناسبت به لنډې لنډې ويناوې پکې وې. ژبه يې خورازياته خوږه ،کره اوپوره اغېزناکه وه .اوداسې ادبي رنګ پکې پروت و چې په اورېدونکې  به يې ژرترژره اغېزه کوله په ډېره مينه به يې دزړونو تل ته ورپرېوتله،له اوريدلوسره سم به يې ومنله او زړه به يې غوښتل چې دغه خبرې بيابياواوري .

**دعقيدواصلاح :**

دقران شريف په دغوسورتونوکې به دتوحيداواخرت حقيقتونه بيانېدل اوپه دې باره کې به داسې دليل وړاندې کېده چې دهغوی په زړونوکې به يې ځای ونيو.له همدې کبله به اورېدونکوته دهغوی له نژدې چاپېريال څخه دلايل او شواهدوړاندې کېدل او په داسې  اسلوب سره به يې داخبرې ورته وړاندې کولې چې دمخاطب لپاره به په زړه پورې وې. په دې  سورتونوکې به دتاريخي واقعيتونو او روايتونو په نسبت داصلي خبرې دپوهېدلو هڅه کېدله او دعقېدو دهغو ګمراهيو يادونه به پکې وشوه چې پخپله به هغه خلک پرې خبر وو. په همدې سبب به چې چا دغه خبرې واورېدلې نو اغېزه به يې پرې وکړه. حضرت محمد  په يوازې توګه د غه بلنه پيل کړه خو دقرآن شريف دهمدغو لومړنيو آيتونو نزول و چې په دې ډګرکې به يې داغېزمنې وسلې کار ورکاوه او بلنه به په پټه توګه ورو ورو خورېدله .

په دې دوره کې دبلنې او تبليغ لپاره دتوحيد او آخرت له دلايلو سره سره حضرت محمد  ته د دغې چارې تعليم هم ورکول کېده چې دی پخپله خپل

ځان ددغه عظیم الشان کار لپاره په څه ډول چمتو کا او ددغه مهم کار دسر ته رسولو لپاره کومې لارې چارې غوره کړي.

## پټ لمونځ کول :

تر دې وخته پورې چې څه کېدل هغه به په پټه توګه سرته رسېدل او له خورا ډېر احتیاط نه به یې کار اخېسته تر څو خبره داعتماد وړ کسانو تر منځ وي او بهرته ونه وځي. کله چې به دلمانځه وخت راغی نو حضرت محمد  به دکوم غره سمڅې ته لاړ او هلته به یې لمونځ کاوه. یو ځل یې له حضرت علي(رض) سره په یوه سمڅه کې لمونځ کاوه چې نا څاپه یې تره  ابو طالب ) راغی او دعبادت دغې نوې طریقې ته یې تر ډېر وخته پورې په حیرانتیا سره کتل او ترلمانځه وروسته یې ترې پوښتنه وکړه چې : " دا څه راز دین دی ؟ " حضرت محمد  وویل : " زموږ دنیکه ابراهیم دین دی " ابو طالب وویل : زه خو دانشم منلای خو تاسې ته اجاز ه ده هېڅوک به ستاسې مزاحمت ونشي کړای "

## په دې دوره کې دمومنانو ځانګړنې :

ددې پیلیزې مرحلې ځانګړنې داوې چې دامهال اسلام منل او بیا له حضرت محمد  سره ملګرتیا کول ګواکې له خپل سرسره لوبې کول وو. په دې دوره کې به چې کوم خلک دې خواته راوړاندې شول سمدلاسه به یې دغه بلنه ومنله. په هغوی کې یقینا ځینې داسې ځانګړنې وې چې دهغو پراساس به یې په دې ډګرکې پرمختګ کولای شو،دهغوی څو ګډې ځانګړنې داوې: له پخوا نه به یې له مشرکانه دودونو او عبادتونو څخه کرکه کوله او دحق په لټه کې به وو،نو طبیعتا دسپېڅلو اخلاقو خاوندان وو.

نژدې تر دریو کلونو پورې دبلنې او تبلیغ کارپه پټه توګه ترسره کېده خو ترڅو پورې !هغه لمر چې په خپلووړانګوسره ټول عالم روښانوه په هرحال پلوشې یې لاپسې خپرېدلې او دمخالفینو سترګې یې تتولې په دې توګه اسلامي بلنه په همدې وخت کې خپلې دویمې مرحلې ته ورد اخله شوه .



## دویمه دوره :

# ښکاره بلنه

په دې وخت کې ښکاره حکم وشو چې دعوت دې په څرګنده ورکړای شي. په دې ډول یوه ورځ حضرت محمد  دصفا غره ته لاړ او هلته ودرید،غږیې کړ : "یا صبا حا " په عربوکې دادود و چې کله به کومه خطره په مخ کې وه نو یو څوک به یوه لوړ ځای ته وخوت او په دې الفاظو  یاصباحا) به یې غږ کاوه او خلک به ددې غږ په اورېدو سره راټولېدل .

کله چې ګڼ شمیر خلک راټول شول،نو حضرت محمد  وفرمایل: " ای خلکو ! که زه تاسې ته ووایم چې ددې غره شاته یو لوی لښکر راټول شوی دی او پر تاسې باندې دیرغل لپاره چمتو دی نو ایا تاسې به زما خبره رښتیا وګڼئ ؟" خلکو وویل : " ارومرو به یې رښتیا ګڼو. تراوسه پورې تا هیڅ دروغ نه دي ویلي او موږ دې امین او رښتینی بولو".بیا یې وفرمایل : " ای خلکو ! زه تاسې دیوه خدای بندګې ته رابولم او دبتانو عبادت نه مو راګرځول غواړم. خو که تاسې زما خبره نه منئ نوزه تاسې له یوه سخت او دردناک عذاب څخه وېروم ".

کله چې قریشو دغه خبره واورېدله نو سخت خو اشیني شول او ابولهب په ډېر غضب سره وویل : " ایا دا غږ یوازې دهمدې لپاره و ؟ "

داداسلامي بلنې یو عمومي غږ و. په دې وخت کې د خدای رسول په ډاګه او خلاص کومې اعلان وکړ چې دی په څه ویلومامور شوی دی او دایولویه

لار ده چې هغې خواته هر یورا بلې ؟ دا وخت دنبوت په ژبه اعلان شو چې په اصل کې ددې لایتناهي پاچاهی پیدا کوونکی او څښتن یوازې الله دی. انسان هم هغه پیدا کړی دی او مالک یې هم هغه دی. دانسان دریځ له دې نه اخوا بل څه نه دی چې هغه دالله بنده او مریی دی او دهغه تابعداري او حکم منل پرې فرض دي له هغه نه پرته دنورو په وړاندې سر ایښود ل یا له الله سره نور شریک ګڼل دانسان ددغې موخې   هدف ) پرخلاف دی چې دهغه دمالک له خوا هغه ته وربخښل شوې وه. په حقیقت کې یوازې الله دانسان او ټول جهان خالق،معبود او حاکم دی. دهغه په دې سلطنت کې انسان نه په خپل سردی او نه یودبل بنده. دانسان لپاره پرته له الله(جل جلاله) څخه بل څوک داطاعت،بندګی او لمانځنې وړنه دی،دنیوي ژوند دهغه دازموینې یو دور دی چې وروسته له دې به ارومرو دالله(جل جلاله) څنګ ته ورځي او هغه به دانسان ټول کارو نه تصفیه کوي چې څوک په دې ازموینه کې بریالی کېږي اوڅوک نه کامیږي .

دغه اعلان څه عادي اعلان نه و،پرقریشوباندې اورپورې شواوله څلوروخواونه ددې بلنې په اړه تبصرې پیل شوې،یوڅوورځې وروسته حضرت محمد  حضرت علی(رض) ته وویل چې یوه مېلمستیاجوړه کړي؛دغې مېلمستیاته دعبدالمطلب ټوله کورنۍ راوغوښتل شوه .په دې مېلمستیاکې حضرت حمزه(رض) ،ابوطالب،عباس ټولوګډون کړی وو.له ډوډۍ نه وروسته حضرت محمد  ودرېداوویې فرمایل :  ماهغه څه راوړي دي چې ددین اودنیادواړولپاره بسنه کوي ددې درانه پېټي په اوچتولوکې به څوک له ماسره ملګرتیاوکړي؟) داډېره سخته مرحله وه .له دې درانه پېټي څخه یې مطلب داو چې انسان دي نه یوازې دکورنۍ،قبیلې اوښاري خلکودمخالفت لپاره اماده شي بلکې دټولوعربودمقابلې لپاره دې چمتوشي اوصرف ددې لپاره دې چمتوشي چې په بدل کې یې د اخروي ژوند بریاوې وګټي اوبنده دخپل مالک په وړاندې سرلوړی واوسي،له دې نه اخوابله کومه ګټه خوراډېره لرې هم په نظرنه راتله ،په دې توګه پرټوله غونډه باندې دوېرې حمله راغله خوحضرت علی(رض) په دوی کې که څه هم دکم عمر څښتن و،بیاهم ودرېداوویې ویل :[سره له دې چې زماسترګې له اوښکوډکې دي  په دې وخت کې دهغه سترګې خوږېدلې) ګواکې زماپښې نازکې

سپېڅلی ژوند

دي اوترټولوکوچنی هم یم خوسره له دې زه له تاسره ملګرتیاکوم]. دقریشولپاره دغه منظره هم اریانوونکې وه چې یو۱۳ کلن نوی زلمی بې له سوچ اوفکرځومره لویه پرېکړه کوي !

## دبلنې مخالفت :

په اسلامي ټولنه کې تراوسه پورې څه دپاسه څلوېښت کسه شامل شوي وو.په همدې وخت کې یوه ورځ حضرت محمد  دکعبې حرم ته ولاړ اودتوحید اعلان یې وکړ،دا دکعبې حرم ته دنژدې مشرکانولپاره ترټولولوی توهین و له هم دې اعلان سره سم یوشوراوزوږاوچت شو اوله هرې خوانه خلکو پرې حمله وکړه حضرت حارث(رض) بن ابی هاله دهغه دملاتړلپاره ورمنډه کړه خو له څلوروخواوپرې دتورو دومره ګوزارونه راغلل چې شهیدکړی شو. داسلام په لاره کې همدغه لومړنی شهادت و خودخدای(جل جلاله) په لورینه حضرت محمد روغ رمټ پاتې شو اوجګړه پای ته ورسېده .

## دمخالفت سببونه :

داسلامي بلنې دغه اعلان ترهر چازیات دقریشو دخواشینی لامل وګرځېد اوهمدغه قریش ددې بلنې سخت مخالف هم وو.په دې وخت کې دمکې عزت دکعبې له کبله و او دکعبې مجاوران اوخادمان دقریشو کورنی وه.په دې توګه ګواکې نژدې پرټولوعربو باندې دقریشو یوډول مذهبي برلاسي ټینګه وه .په مذهبي چاروکې به خلکوهغوی ته سترګې اړولې اوګڼ شمېر خلکوبه دهغوی په لارښوونه باوردرلود. داسلامي بلنې ترټولولومړۍ اوترټولوسخته حمله پردغه ډول مذهب باندې وه چې نمایندګي یې قریشوکوله،داځرګنده خبره ده چې دپلارنیکه دباطل مذهب ټینګول دجاهلوقومونوکلکه عقیده وي اوپه مقابل کې دچا د معقولو خبرواورېدلوته هم نه چمتوکېږي .په همدې سبب به خلک ددې نوې بلنې په اورېدلوسره له ډېرې غوسې لوخوړې شول اودقریشوځواکمنوخلکوته داهم په نظر راتلله چې ددغې بلنې له خپرېدلو څخه مطلب پرته له دې بل څه نه دی چې د دوی اقتدارله خاوروسره خاورې کېږي اوچاته چې دمذهبي مشرتابه مقام ورپه

برخه دی هغوی به پخپله له منځه ځي. له همدې کبله څوک چې به دڅومره لوی برم څښتن و هومره زيات به داسلامي نهضت په دښمنی کې بوخت و. اوپه قريشوکي خوراډېرې بداخلاقی خپرې شوې وې،لوی لوی وګړي په دې بديوکې سره اخته وو خوسره له دې ټولوبياهم دهغوی مذهبي مقام دخلکوله نظره نه لوېده چې حضرت محمد  له يوې خوادبت پرستی بدی بيانولې اوپه مقابل کې يې دخالص توحيدبلنه ورکوله اوله بلې خوايې دهغوی دانساني بنسټيزواخلاقويوه يوه کمزوری اونيمګړتياهم په خلاص کومي بيانوله اوله دې ټولوڅخه يې د ډېږ کولولاربښوونه هم کوله .دې ډول خبرو دغه  لويان!) خلک په سختې خواشينی کې مبتلاکړي وو.په هرحال داداسي خبرې نه وې چې دوی ورته صحيح وويلای شي .څوځنګه چې ددوی خپله لمن له دې بديوڅخه پاکه نه وه نوچې کله به دعواموپه وړاندې داسي خبرې کېدلې هغوی ته به محسوسېدله چې مقام يې دعواموله نظره لوېږي اوکه مخامخ نه وي نوترشاخوضروردوی په باره کې داسي نکته چينی کېږي چې دادهغوی دخپګان دزياتوالي لپاره بس وي. په قران شريف کې پرله پسې دداسي بديواوبداخلاقيو په باره کي ايتونه رانازلېدل اوهغوی ته يې ددې بدوعملونودسخت عذاب وېره ورکوله .کله چې دا ايتونه په خلکوکې خپاره شول،هرچادرک کړه چې اوس به څه کېږي .

داسلامي تحريک دمخالفت اودښمنی لپاره داټول سببونه کافي وو چې هغوی داسلامي ټولي ددې کم شمېر وګړوپرخلاف خپلې توري راواخلي ،ودرېږي او ددې خطرونو!دروازه په يوه وارسره بنده کړي مګرالهي ارادې داپرېکړه کړې وه چې دهمدې کم شمېر انسانانوپه لاس ټول عالم ته دالله(جل جلاله) هغه رحمت ورسوي چې ترڅودنياشته هغه دانسانيت لپاره دازادی يوازينی ذريعه ده .له همدې کبله په دې وخت کې څه نورداسي اسباب هم رابرابرشوي وو چې قريشويې په مقابل کې اقدام نه شوکولای .

## دمخالفينو اړتياوې :

په همدې نژدې وختوکي دقريشو کورني جنګونه دهغوی دتباهی لامل ګرځېدلي وو. دفجارله جنګ نه راوروسته قريش دومره کمزوري شوي وو چې



دجنګ له نامه څخه وېرېدل . په تېره بياله دغه کم شمېر مسلمانانوسره چې له بېلابېلوقبيلوڅخه راګرځېدلي اوپه اسلامي ټولي کې شامل شوي وو که دهغوی په وژلويې لاس پورې کړی وای نودداسې کړنې مطلب به داوچې دعربوپه مختلفوقبيلوکي دې جنګ ونښلي ،ځکه چې په هغه وخت کې ديوه شخص وژل په حقيقت کې دهغه دقبيلې پرضددجنګ اعلان و چې له هغې قبيلې سره به دهغه اړيکه وه په دې توګه له دوی سره داانديښنه وه ،نه چې ټوله مکه دجنګ ډګرشي نوپه دې مرحله کې يې دنهضت دټکولولپاره څه نورتدبيرونه غوره کړل اوهغه داچې په بلنې اوبلندوی  داعي) پورې خنداګانې وشوې .تورونه پرې ولګول شول ټوکې وشتې اوملنډې پرې ووهل شوې په بېلابېلوبنوغلطې اودروغ خبرې ورپورې وتپل شوې ،پروپاګندونه ورپورې وشول .دلېوني اومجنون لقب ورته ورکړل شو،دشاعراوکوډګرپه نامه مشهورکړای شواوخلک ترې منع شول چې هېڅوک دې دهغه خبرې نه اورې.

## دحالا تومقابله :

په دې دوره کې چې دقران کريم کوم سورتونه پرې نازل شول په هغوکې دحالا تودمقابلې لپاره پرله پسې لاربښوونه کېده اودمخالفينواعتراضونو ته مناسب اومعقول ځوابونه هم ورکول کېدل دساري په توګه په قلم سورت کې دحضرت محمد  دډاډېنې لپاره وويل شول چې :  پرتادالله لوی کرم دی .ته لېونی نه يې .پرتادهغه ډېره لورينه  ده .ژربه څرګنده شي چې په کوم يوه کې عقل نشته ستارب ته ډېرښه معلوم دي چې څوک په سمه لارروان دي اوڅوک بېلارې شوي دي .څوک چې دادعوت دروغ ګڼي دهغوی ويناهېڅکله مه منه .هغوی خوداغواړي که ته دخپل نهضت اودعوت په کارکې لږه سستي هم وکړې ،نوهغوی به هم سست شي مګرداستاکارنه دی چې ته دهغوخلکودغوښتنې پيروي وکړې .څه چې وړاندې کوې دنه منلومعامله يې ماته پرېږده .هغه به ژرترژره معلومه شي چې دوی ته کوم مهلت ورکول کېږي .دهغوی مطلب څه دی ته هغوی ته ووايه چې ايازه له تاسي څخه څه غواړم يادخپلې ګټې لپاره له تاسي څخه څه غواړم .يازمادخبروپرخلاف له تاسي سره کوم دليل شته .څرګنده ده چې

داسې خبره نه ده .په دې سبب په خپل بشپړخپلواک طبیعت سره خپل کارتینګ کړه .له خپلوملګروسره په نهایت صبرددې حالا تومقابله کوه .حالات به په خپل وخت سره بدلیږي).

دغه ویناخویوه بېلګه ده په دې توګه نورې ډېرې ویناوې رانازلېدلې چې په ښکاره ډول پکې ښودلی شوي وو چې دحق بلونکی نه لېونی دی نه کاهن .نه شاعر دی نه کوډګر ؛د کاهنانو،شاعرانو او کوډګروځانګړنې مخ ته کښېږدئ او وګورئ چې دحق دداعي په باب څه راز خبرې شوې دي .هغه کلام چې حضرت محمد یې وړاندې کوي اوهغه اخلاق چې دهغه له هرعمل څخه څرګندیږي اوستاسې په منځ کې یې ژوندژواك هم څرګندی؛ښه نو! دشاعرانو،کاهنانواوکوډګرولـه خبروسره دهغه څه نسبت !

## بلنې ته دخلکو پاملرنه :

دمکې اوسېدونکوچې دډول ډولوغلطوخبرودمشهورولو اود بلنې لورته دخلکودمخنیوي لپاره څومره کوښښو نه وکړل سرچپه هومره زیات خلک دې ته لېوال شول چې پخپله دغه صاحب محمد ) وګوري چې څه وایي ؟ کله چې به عرب له نوروسیموڅخه دحج په وخت اویانوروختونوکې مکې ته راتلل له هغوی څخه به چې څومره کسان په پټه دحضرت محمد خدمت ته حاضرېدلای شول له راتلوسره سم به یې چې دهغه ځلاندو کریمانه اخلاقوته وکتل اوالهی ایتونه به یې واورېدل ،نو دزړه دنیابه یې بدله شوه اوډېرژر به خپلوسیموته ولاړل اوداسلامي بلنې په خپرولوبه یې پیل وکړ.

کله چې به دغه خبرې په نوروښارونوکې خپرېدلې له لرې لرې سیموڅخه به خلک یوازې دهغه دحال دڅرګندونې لپاره به راتلل .په دې ډول واقعاتوکې دحضرت ابوذر(رض) واقعه یوه ښه بېلګه ده .دغفارقبیله دهغې لارې پرسرمېشته وه چې قریش به پرې دشام دسوداګرۍ لپاره ورتلل،کله چې دلته هغه خبرراورسېد نودحضرت ابوذر(رض) په زړه کې هم دلېدنې کتنې شوق او ولوله پیدا شوه لومړی یې خپل ورور انیس) مکې ته ولیږه چې ورشه وګوره هغه شخص چې دنبوت دعوه لري دهغه تعلیم په څه شي کې دی ؟ انیس مکې ته



ورغی ،دحضرت محمد په باره کې یې معلومات ترلاسه کړ،کله چې بېرته راغی نوخپل ورورته یې وویل چې : هغه پوره دنېکواخلاقوڅښتن دی .دښواخلاقو ښوونه کوي اودیوه خدای(جل جلاله) لوري ته خلک رابولي هغه چې څه وایي له شاعرۍ سره بېخي توپیرلري .)

په دې لنډوخبرو دابوذر(رض) دزړه تسل ونه شوپخپله دسفرلپاره چمتوشو .کله چې مکې ته ورسېد دوېرې له کبله یې دحضرت محمد دنامه پوښتنه قدرې هم ونه شوای کولای .په حرم کې یې حضرت علي(رض) سره وکتل تردرې ورځوپورې همالته مېلمه پاتې شو بیایې جرئت وکړاودخپل سفرغرض یې ورته بیان کړپه دې توګه یې دحضرت علي(رض) له خدمت څخه فیض وموند،وروسته له دې حضرت ابوذر(رض) همالته اسلام ومانه اوحضرت محمد ورته دالارښوونه وکړه چې اوس نو بېرته خپلې قبیلې ته لاړ شه .خودخالص توحیدکومه نوې اوتازه اغېزه چې دده زړه ته راپرېوتې وه ،ټول مصلحتونه او وېرې یې هم له زړه ځنې لرې شوې وې اوله راتلو سره سم یې په حرم کې چیغه کړه .

**اشهدان لا اله الا لله واشهدان محمداً رسول الله .**

ددې خبرې په اورېدوسره له څلورو خواو نه خلکوراوځغاستل اوهغه یې تروهلو لا ندې ونیو خوخیر راپیښ شوچې په همدې وخت کې حضرت عباس(رض) راغی اودې خلکوته یې وویل چې دی دغفاردقبیلې سړی دی اوستاسې تجارتي لار دهمدې قبیلې ترڅنګ تېره شوې ده که هغه ستاسې پرلارباندې بندېز ولګوي نوتاسې به څه وکوئ ؟ خلکو چې داخبره واورېدله نوهغه یې خوشې کړ.

حضرت ابوذر(رض) چې څنګه خپلې قبیلې ته ورسېد،لاړ اوخلکوته به یې داسلام بلنه ورکوله .نژدې نیمه قبیله یې په همدې وخت کې مسلمانه شوه .دغفاردقبیلې ترڅنګ داسلم قبیله پرته وه ،دهغې له اثره دې هم اسلامي بلنه ومنله لنډه داچې پرله پسې اسلامي بلنه پیل شوه. داخبره مخالفینوته دسخت ځوراوکړاولامل ګرځېدلې وه ځکه نو یوشمېرخلکو داړتیاله کبله ابوطالب ته شکایت وړاندې کړ. په دې وفد خلکو)کې دقریشوټولومشراکانو ګډون کړی و .دوی ابوطالب ته وویل چې : ستا وراره زموږ دخدایانو غندنه کوي .زموږ

پلرونه اونیکونه بېلارې بولي اومورېتولو ته بې لارې اوناپوه وايي نوله دې کبله یاخوته له دې منځه ووځه .بیابه مورږ دهغه وروستۍ چاره کوواویاداچې ته هغه پوه کړه. ابوطالب چې فکر وکړپوه شو چې وضعه ډېره حساسه ده اوپه یوازې توګه به ترڅوپورې دټولوقریشومقابله کوم ،نو حضرت محمد ته یې وویل : ګرانه وراره ! پرماباندې دومره بارمه ږده چې زه یې اوچتولی نه شم کله چې حضرت محمد ولېدل چې دابوطالب پښې هم ښوییږي نوپه پوره ډاډینه یې هغه ته وویل : په خدای سوګنددی که داخلک زماپه یوه لاس کې لمر اوپه بل لاس کې سپوږمۍ کښېږدي بیابه هم له خپلې دندې نه راونه ګرځم ،خدای(جل جلاله) به زماداکار سرته رسوي یابه زه پخپله پردې کار باندې قربان شم ) کله چې ابوطالب دهغه داپخه اراده اوهمتناکه پرېکړه واورېدله نوده هم دهمت ملاوتړله اوهغه ته یې وویل : ځه ! هېڅوک ستاوېښته ته هم کاږه نشي کتلای ).

## دمخالفینو له خواسوغاتونه وړاندې کول :

کله چې قریش له دې اړخه هم ناهیلي شو ل نودوروستۍ چارې لپاره یې داپرېکړه وکړه که چېرې دغه نهضت په سختۍ سره له منځه نه وړل کیږي په نرمۍ دې له منځه یووړل شي .له دې کبله یې عتبه بن ربیعه حضرت محمد ته ولېږه،هغه چې هلته ورغی ،نودایې وویل :

محمده ! اخرراته ووایه ،ته څه غواړې ؟ ایادمکې واکمني غواړې ؟ په کومه لویه کورنۍ کې واده کول غواړې؟ ډېره شتمني غواړې ؟ مورږ داټول تاته برابرولای شو ته نوولې داسې کارونه کوې ،مورږ په دې خوښ یو چې په راتلونکي کې مکه ستاترواکمنۍ لا ندې شي اویانورهر څه چې غواړې هغه به وشي ،خوته له خپلې دغې بلنې نه لاس واخله ).

بیوزلو مخالفینوهمدومره فکرکولای شو .دهغوی ذهن ته داخبره نه رالوېده چې یونهضت چلیږي یایو دعوت راولاړیږي دهغه ترشادې مادي غرض نه وي .هغوی دافکرهم نه شوای کولای چې یوکاربه دخدای دخوشحالۍ اویوازې دهغه داطاعت لپاره هم کیږي .هغوی خویوازې په همدې پوهېدل چې سراومال ښندل دحکومت اوشتمنۍ لپاره وي هغوی په دې نه پوهېدل چې داخرت اوتلپاتې



دایمي ) ژوند دبري لپاره هم خلک داپیرل اوپلورل کوي. په دې تو ګه عتبه بن ربیعه پوره باوري شو چې غوښتنه به یې ارومرومنل شوې وي،خوحضرت محمد دهغه په ځواب کې دپاک قران څوداسې ایاتونه تلاوت کړل چې په هغوکې یې توحیدته دبلنې اودخپل رسالت څرګندونه کړې وه .

عتبه چې داخبرې واورېدلې بېرته راغی اودومره اغېزه یې پرې کړې وه چې څنګه یې دقریشو سردارانو ته خپل رپوټ وړاندې کړنو ویې ویل : محمدچې څه وایي هغه شاعري نه ده ،نورڅه دي ،زمارایه داده چې تاسې هغه پرخپل حال پرېږدئ که بریالی شونو پرټولوعربوبه غالب شي اوستاسې عزت به هم پکې وي اوکه غالب نه شونوعرب به یې پخپله له منځه یوسي ) . خوقریشو دغه رایه ونه منله .

اوس نودوی ته یوازې یوه لاره پاتې وه چې هرباطل یې په دې پړاوکې دحق پرخلاف غوره کوي یعنې په پوره تشدد اوزورسره دحق اواز دچوپولوکوښښ. په دې وخت کې قریشودا پریکړه وکړه چې پرمسلمانانو باندې دومره سختي راشي چې هغوی په تنګ اودخپلې فیصلې ماتولوته اړشي. په دې ډول به چې چېرته هم دوی ته موقع په لاس ورغله نو مسلمانان به یې ځورول اواذیت به یې ورکاوه .

**درېیمه دوره :**

# ابتلأ اوازمیښت

تردې وخته چې اسلامي بلنې کوم کارکړی و پایله یې په دریوو صورتونو کې څرګنده شوه :

١. یوشمېرنېکواوغوره کسانو دغه بلنه ومنله ،یوه ډله یې جوړه کړه اوپه هرقیمت دنهضت دپرمختګ لپاره چمتوشول .

٢. ګڼ شمېرخلک دخپلې ناپوهی،خپل سری یادخپل پلارنیکه دتثې ګروهې په وجه ددغه نهضت مخالفت ته چمتوشول .

٣. دغه نوې بلنه دمکې اوقریشوله حدودونه ووتله اونسبتاًپراخې حلقې پورې ورسېدله .

په دې اساس ددغه نوي نهضت اوزاړه جاهلیت ترمنځ یوسخت کشمکش پیل شو. کومو خلکوچې غوښتل په خپل زاړه دین پورې دې تړلي وي هغوی په پوره قوت سره داسلامي تحریک دله منځه وړلو لپاره ملاوتړله اوپراسلام منونکوباندې یې خوراډېروحشیانه ظلم اوزورزیاتی پیل کړاوپه هررازتضعیفو لویې رضا شول،نوپه همدې اساس داهغه دوره ده چې په دې کې دقریشودظلمونو خورا زیاتې عبرتناکې پېښې زموږ مخې ته راځي.

دعربوپه تود اوګرم ټاټوبي کې دسختې ګرمی اوتکنده غرمې په وخت کې مسلمانان په سره شګه اوږده غځول پرتېترباندې یې درنې درنې ډبرې اېښودل اوبیافشارورکول ،په سره اوسپنه داغل اوپه اوبوکې غوټه کول ،په ډېرې بې رحمی سره وهل ټکول ،لنډه داچې دا اوداسې نورمظالم ووچې پرمسلمانانوباندې به ترسره کېدل. په دې دوره کې دمسلمانانو لپاره ژوندون له ستونزوډک و،مګرپه تاریخ کې چې دکومو مظلو مانو د کیسویوڅه برخې رانقل شوې دې یوڅوبېلګې یې په لا ندې ډول دي :

حضرت خباب دام النمارمریی و. تردغه وخته پورې نژدې شپږو اووتنواسلام راوړی و چې دی هم په اسلام مشرف شو اوپه دغه جرم !) دقریشو دمظالمو نښه وګرځېد. یوه ورځ قریشو پرځمکه باندې سکروټې ښې تازه کړې



وې اودی یې له پاسه پرې څملاوه اویوه تن یې پرتېترباندې پښه کېښوده اوټینګ یې ونیو چې په اړخ وانه وړي ترهغې چې سکروټې یې ترشالا ندې سړې شوې حضرت خبابτ دېره موده وروسته دخپلې سوځېدلې شا سپین پیس په شان) داغونه ښکاره کړي وو.

حضرت بلالτ دامیه بن خلف مریی و. پوره دغرمې وخت و چې هغه یې پرسره شګه څملاوه،ټټرباندې یې درنه ډبره کېښودله او ورته یې وویل : له اسلام نه انکاروکړه که نه په همدې کړاو اوسختی کې به مړشې خود درد په همدې سخت حالت کې هم دهغه له خولې څخه د خدای یودی) خدای یودی ) اوازراواته، باداربه یې په غاړه کې پړی وتاړه هلکانوته به یې په لاس ورکړ اودښاریوې خوابلې خواته به یې راښکوده .

حضرت عمارτ دیمن اوسیدونکی اود هغو همتناکو خلکوله ډلې څخه و چې په همغه لومړي سرکې مسلمان شوي وو. کله چې ده اسلام راوړنو قریشوبه پرسوژنده ځمکه څملاوه اودومره به یې وواهه چې بې هوښه به شو .

حضرت لبنیه رضی الله تعالی عنها یوه وینځه وه ،حضرت عمرτ له اسلام راوړلونه دمخه هغه دومره ووهله تردې چې دستړیاله کبله به پخپله کېښناست خود الله دې بنده لبنیيτ ) به همداویل چې : که ته اسلام رانه وړې نوخدای(جل جلاله) به له تانه دغه کسات واخلي .

حضرت زنیره رضی الله تعالی عنها هم دحضرت عمرτ دکاله وینځه وه .یوه ورځ ابوجهل دومره ووهله چې سترګې یې ړندې شوې .لنډه داچې په نرینه و اوښځوکې ډېر داسې بې چاره او اړ مسلمانان وو چې هغوی ته به یې ډول ډول تعذیبونه ورکول خوله دې ټولو مظالموسره سره یو مسلمان هم اسلام پرېښودلوته چمتونه شو.

کله به چې پردغوبېوزلو اوبې ګناه مسلمانانو باندې ظلمونه کېدل نوخامخابه خلک ورته متوجه کېدل اوپه زړه کې به دې سوچ کولوته مجبورېدل چې اخردانوڅه راز غوښتنه ده چې داخلک له دومره مصیبتونو سره سره بیاهم له اسلام سره دپیوستون لپاره چمتوکېږي ،ټول په دې پوهېدل چې داخلک دخپلواخلاقو،معاملو اونوروانساني اړیکوپه اتبارترټولوغوره انسانان دي اود دوی

گناه پرته له دې بل څه نه ده چې وايي موږله الله(جل جلاله) پرته بل څوک خپل رب بادار،مالک،معبود) نه نيسو،اطاعت اوبندګي به يوازې دهغه کوو. ۱)

ددې مظلومو مسلمانانوددغه ټينګارپه وجه به ګڼ شمېرخلک له يوې سترې پوښتنې سر ه مخامخېدل اوخامخابه يې په زړونوکې يو ډول نر مي پيداکېدله اوله نژدې څخه به ددغه نوي نهضت لېدنې اومنلوته هڅېدل .دحق دڅښتنانو مظلوميت دتل لپاره دحق دبرياليتوب پوړدی په دې توګه که له يوې خواپردوی باندې ظلمونه کېدل خوله بلې خوا اسلامي تحريک پرله پسې پياوړی کېده .په مکه کې داسې يوه کورنی اوکورپاتې

..........................................................................................

← مخکې لرو خو هغه خلک په دې پوهېدل چې د دوی په ژبه کې درب او عبادت دالفاظو پراختياوې څه دي؛ په دې توګه چې کله به هغوی ويل چې زما رب الله دی نو ويونکی او اوريدونکی دواړه په دې پوهېدل چې له دې خبرې څخه يې مطلب دادی چې :

۱- له الله نه پرته بل پالونکی نه شته . څنګه چې داسې ده نو انسان ته پکار دي چې دهمغه شکرګوزار وي له همغه څخه د دعا غوښتنه سمه ده او په مينې او ګروهې سره دهغه په وړاندې سراېښودل پکاردي . له هغه څخه پرته بل څوک دلمانځنې وړ(مستحق) نه دی اونه کېدای شي.

۲- له الله نه پرته بل مالک اوبا دار نه شته ،نو انسان بايد دهغه بنده اومريي وي. دهغه په وړاندې خو نه خپل ځان واکوال وګڼي اونه بل څوک . پرته له هغه دبل چامرييتوب اومحکوميت سهي نه دی.

له الله نه پرته بل حاکم او واکوال نه شته له دې کبله يوازې دهغه اطاعت او حکم منل پکاردي. انسان خونه پخپله حاکم کېږي اونه له خدای ځنې پرته دبل چاوا کمنې ته غاړه ږدي .

داهغه اعلان و چې له يوې خوا دهغو ټولو معبود انو خدايي چې له پلار نيکه څخه يې دهغوی عبادت کاوه، پای ته ورسوله او له بلې خوا د هرډول سرداری اوحکومت پرضد ازادانه اعلان و. په دې اساس هيڅ يو مذهبي لاربښوداو د قبايلو سردار د دغه اعلان ســـــهلوته په هېڅ ډول چمتونه و.

نه وچې له هغوی څخه يونه يو اسلام منلی نه وي. په همدې سبب داسلام دښمنان لا نو رهم دخپګان اوقهرښکارشوي وو. دوی ليدل چې خپل ورونه ،ورېرونه ،خوېندې،اوښې ،زومان اوزامن يې له يوې مخې اسلامي



بلنه قبلوي اويوازې داسلام لپاره خپل هرڅه پرېږدي اوپه دې لړکې له هغوی سره داړيکوشلولوته هم چمتوکېږي .

دهغوی لپاره دغه سخت ټپ دزغم اوسهلووړنه و.بيادېرښه داچې کوم خلک په دې نوي نهضت کې شاملېدل هغه داسې خلک وو چې په خپله ټولنه کې ترهرچاغوره خلک ګڼل کېدل .دهغوی عقل اوفکر،اخلاق اوانساني ټولې ښېګڼې هر چاته ښکاره وې .کله چې دغسې خلکواسلام ومانه نوله خپلوټولو ګټوڅخه دتېرېدو لپاره هم چمتوشول .په هر صورت هرسړی مجبورو چې په دې اړه فکروکړي چې اخرپه دغه نهضت اوبلونکي کې څرنګه راښکون دی چې په دې شمېره خلک سرښندنې اوقرباني ته چمتوکوي .بياداهم خلکووليدل چې داسلام په دايره کې له داخلېدلونه راوروسته داخلک لا نورهم رښتيني ،اخلاقي ،صادق اوپه معامله کې ترې لاډېرښه اوسپېڅلي انسانان جوړېږي. داټولې داسې خبرې وې چې هرليدونکی مجبورېده چې که هغه اسلامي بلنه مني اويايې نه مني خوپه خپل زړه کې ددغې بلنې دغوره والي له احساس څخه هسې نه پاتې پاتې کېده.

## دنبوت په پنځم کال حبشې ته هجرت :

په دې وخت کې کابو دحضرت محمد دنبوت پنځم کال و. کله چې ده دا اندازه ولګوله چې اوس نو دقريشو دظلمونو دپای ته رسيدوپته نه لګېږي. که څه هم ډېرداسې مسلمانان هم شته چې دهيڅ يوې سختی په مقابل کې له اسلام نه مخ نه اړوي،خوپه هرحال ددغومصيبتونو دزغملواوسهلوځواک ترې ځي اوداسلامي فرايضودپه ځای کولو امکان هم له منځه ځي،نو حضرت محمد داپرېکړه وکړه چې يوشمېر مسلمانان دې حبشې ته هجرت وکړي. حبشه دافريقې په ختيځه غاړه يوهېوادو چې پاچايې نيک نيتی اوانصاف منونکی عيسوو. له دې هجرت څخه يومقصد داو چې يوشمېر مسلمانان دقريشو له ظلم اوزورنه لږترلږه ترڅوپورې چې حالات سمون مومي ،وژغورل شي .يوه بله لويه ګټه يې داهم وه چې اسلامي

بلنې ددغوسربښندونکو په ذريعه ترلرې لرې سيموپورې هم درسېدلوموقع پيداکړه .په دې توګه لومړی څل يوولس تنه نرينه اوڅلوربځې ددې هجرت لپاره چمتوشوې. دغوکسانو په پنځم نبوي کال درجب مياشت کې سفر وکړ. داللهؔ(جل جلاله) کړه وو چې ځنګه دغه خلک بندرته ورغلل نودوه تجارتي بېړۍ دبېرته تلولپاره چمتووې او دوی يې په خوراکمه کرايه بوتلل .کله چې قريش خبرشول په دغو خلکو پسې ور غلل خودخدای په فضل ددغوخلکوبېړۍ خوځېدلې وه .

په حبشه کې دغه مسلمانان په امن او امان کې اوسېدل خوکله چې داخبرقريشوته ورسېد،سخت په غوسه شول بالا خره يې داپرېکړه وکړه چې يوشمېرخلک دې دحبشې پاچا عربونجاشي باله ) ته ورشي چې داخلک زموږ مجرمين دي اوهغوی يې له خپل هېواد نه وشړي اوزموږ خلك يې ببېرته له ځانه سره راولي.عبدالله بن ربيعه اوعمربن العاص ددې کارلپاره وټاکل شول .په پوره برم او اوکوب دغه خلک حبشې ته ولېږل شول .کله چې هلته ورسېدل لومړی يې دحبشې له پادريانو عيسوي ملايانو) سره وکتل اودايې ورته وويل چې هغوی نوی مذهب راويستلی دی ،اوستاسې هېوادته درتښتېدلي دي .تاسې هغوی له خپل هېوادڅخه وباسئ .موږ غواړو چې ستاسې پاچاته دغه غوښتنه وړاندې کړو چې هغه مجرمين بېرته موږته وسپاري نوتاسې صاحبان هم په دربارکې زموږ سپاربښتنه وکړئ .

## مسلمانان دنجاشي په دربارکې :

کله چې دمکې دخلکوغوښتنه نجاشي ته وړاندې شوه نوهغه مسلمانان راوغوښتل اوپوښتنه يې ځنې وکړه : داتاسې څه ډول نوی مذهب راپيداکړی دی ؟) مسلمانانو دخبرواترولپاره حضرت جعفربن ابي طالب دحضرت علی(رض) ورور)وټاکه .ده چې کومه ويناپه دې دربارکې وکړه دتاريخ په کتابونو کې محفوظه ده؛ لنډيزيې دادی :

”ای پاچا! موږيو وخت دجهالت اوګمراهۍ په تو رتم کې تېکرې خوړلې ،يوخدای موهېرکړی و اوپه سلګونو بتانوته مو عبادت کاوه ،حرام موخوړل ،زنا،لوټماري ،غلااويوپربل باندې ظلم کول مودشپې او ورځې کارو .اوزموږ



هريوه ځواکمن به دکمزوري پروژلو باندې وياړکاوه ،لنډه داچې زموږژوندله درندګانو اوځناورانو هم بترو. داللهؔ(جل جلاله) رحمت ولېدل چې زموږ پرحال باندې يې لورېينه وکړه په موږکې يې يوداسې شخص راپيداکړچې هغه داللهؔ(جل جلاله) استازی شو .موږدهغه له نسب نه خبريو هغه پوره رښتينی ،امين اوسپېڅلی دی ،دوستان او دښمنان ټول دهغه په نېکۍ اوشرافت قايل دي .

موږ يې اسلام ته راوبللو اودايې راوښودل چې دډبرو اوتېږو عبادت پرېږدئ. يوازې يو ه الله(جل جلاله) واکوال اومالک) ته غاړه کښېږدئ اودهغه بندګي غوره کړئ. رښتياووايئ، له وژنې قتل ) اولوټمارۍ نه لاس واخلئ ،دېتيمانو مالونه مه خورئ .له ګاونډيانو سره مرسته وکړئ،له زناکارۍ اونوروپليتوکارونو نه ډډه وکړئ ،لمنځونه وکړئ ،روژې ونيسئ. دخدای په لاره کې خپل مالونه وپلورئ. له بېوزلواوغريبانو سره مرسته وکړئ ؛موږپرهغه باندې ايمان راووړ.شرک اوبت پرستي موپرېښودله اوټولوبدوکارونو نه موتوبه وکړه .په دې سبب زموږ قوم زموږدښمن شو .اودې ته مواړباسي چې هغه دين ته بياوروګرځونوپه همدې غرض دغه خلک زموږ په بېرته ستنيدو ټينګارکوي “.

نجاشي وويل : ښه ! ” داللهؔ هغه کلام چې ستاسې پرپيغمبرباندې نازل شوی دی دهغه يوه برخه ولولئ چې وايې ورو.” حضرت جعفر(رض) دمريم سورت يوڅوايته ولوستل .پرنجاشي باندې يې پوره اغېزه وښندله اوله سترګويې اوښکې وبهېدې اودايې وويل : “په خدای سوګنددی چې داکلام او انجيل دواړه ديوې ډيوې وړانګې دي. له همدې ويناسره يې قريشوته په ډاګه وويل چې دامسلمانان به هېڅکله تاسې ته بېرته نه درسپارل کېږي “.

## دنجاشي اسلام :

دويمه ورځ قريشو يوه بله دسيسه جوړه کړه دربارته لاړل نجاشي ته يې وويل چې ته خوله دغوڅوتنومسلمانانونه پوښتنه وکړه چې دحضرت عيسیυ په باب څه ګروهه لري .داخلک خوپه دې پوهېدل چې مسلمانان خودعيسويانودګروهې پرخلاف حضرت عيسیυ دخدای دزوی پرځای دمريم زوی بولي ،ځنګه چې دغه خبره نجاشي ته وړاندې شي نو ضروربه له

مسلمانانونه مخ واړوي ؛خونجاشي بیا مسلمانان خپل دربارته وغوښتل کله چې مسلمانان له یوې دغسې وضعې سره مخامخ شول ،لومړی خوهغوی هم زړه نازړه شول مګرحضرت جعفر(رض) وویل : "هرڅه چې کیږي موږ باید رښتیاووایو " په دې ډول حضرت جعفر(رض) ددرباردټولوحاضرینو په وړاندې په ښکاره اعلان وکړل چې : " زموږ پیغمبرموږته راښودلي دي چې حضرت عیسیυ دخدای بنده اوپیغمبرو"ددې خبرې له اورېدلوسره سم نجاشي له ځمکې نه یوخلی را اوچت کړ او ویې ویل : "قسم په خدای دی څه چې تاوویل عیسیυ ددې خلې په اندازه تردې زیات نه و." په دې توګه دقریشودغه دسیسه هم شنډه شوه .نجاشي حضرت جعفر(رض) اودهغه ملګروته له عزت سره په خپل هېوادکې داستوګنې اجازه ورکړه اودحضرت محمد  نبوت یې ومانه اواسلام یې قبول کړ. ددغه نجاشي نو م اصمحه و. کله چې وفات شونو حضرت محمد  دهغه په غیاب کې دهغه دجنازې لمونځ اداء کړ.ورو ورو نژدې  ۸۳) تنه مسلمانان حبشې ته مهاجرشول .

## دحضرت حمزه(رض) ایمان :

له یوې خواپه مکه کې دقریشو ظلمونه وو له بلې خوا دحضرت محمد اودهغه دملګرو دصبراوټینګارڅرګندونه ،ددغه اخ وډب  په دوران کې به دمکې ترټولو غوره انسانان راوهڅېدل او داسلام په دایره کې به داخل شول. حضرت حمزه دحضرت محمد  تره و تر دې وخته پورې لامسلمان شوی نه و. مخالفین به چې په څه ډول بېرحمی له حضرت محمد  سره مخامخېدل خپلوخویې لاڅه چې پردیو هم په دې حال نه شولېدلای .

یوه ورځ ابوجهل دحضرت محمد  په مقابل کې له ډېرناوړه سلوک نه کاراخیست په دې وخت کې حضرت حمزه(رض) ښکارته تللی و .کله چې بېرته راغی نویوې وینځې دغه ټوله واقعه هغه ته بیان کړه .حضرت حمزه(رض) له ډېرې غوسې بې طاقته شو.غیشی اولینده یې ترلاسه کړل اوحرم ته ورغی اودغوسې په حالت کې یې ابو جهل ته بدوردوویل اودایې ورته وویل چې : "دادی زه مسلمان شوی یم !"



دحضرت محمد  په پلوي خویې په غوسه کې داویناوکړه مګردزړه له کومې دپلارنیکه دین پرېښودلوته لا تراوسه پورې چمتوشوی نه و،لنډه داچې دحق غږ پرې غالب شو اواسلام یې ومانه. داد نبوت دشپږم کال پېښه وه .له حضرت حمزه نه څوورځې وروسته حضرت عمر(رض) هم اسلام ومانه چې داسلامي بلنې په تاریخ کې داپېښه هم ډېره مهمه ده .

## دنبوت په شپږم کال دحضرت عمر(رض) اسلام راوړل :

حضرت عمر(رض) تراسلام منلو دمخه دهغوخلکو له ډلې څخه و چې داسلام سرسخت مخالف وو. له یوې خوادقریشو مشرانو داسلام دداعي اواسلامي بلنې پرخلاف له ډېرشدت نه کاراخیسته له بلې خوادحضرت محمد  حال داو چې دهغوی دلارښوونې اوهدایت لپاره یې په زړه کې دزیاتې مینې ولوله اوجذبه موجوده وه. ابوجهل اوعمر دواړه دهغه خوراسرسخت دښمنان وو خوځنګه چې پردوی باندې دبلنې اوتبلیغ ټولوهلوځلواغېزه اوتاثیر ونه کړنو دعالم رحمت یوځل خدای تعالی ته دا دعاوکړه چې : "ای خدایه! په ابوجهل اوعمرکې چې هریوتاته نژدې اوزیات محبوب وي هغه ته داسلام ویاړوروبخښې ." له دې دعانه یوڅوورځې وروسته حضرت عمر(رض) ته داسلام منلو توفیق ورپه برخه شو .

حضرت عمر  پخپله وایي چې : " یوه شپه دحضرت پیغمبر دځورولوپه خیال له کوره را ووتلم ،هغه مسجدحرام ته روان و ځنګه چې ښه مسجدته وردننه شو اولمونځ یې پیل کړ،زه دهغه دقرائت داورېدلولپاره ودرېدلم هغه الحاقه سورت ولوست .زه ددې کلام په اورېدوسر ه هک پک پاتې وم دکلام نظم او انداز خورازیات زړه راښکونکی معلومېده زمازړه ته داخیال راغی : قسم په خدای چې دی شاعردی .زه لا په همدې خیال کې وم چې هغه دا ایت ولوست :

**انه لقول رسول کریم وماهوبقول شاعرقلیلاً ماتؤمنون .**

بېشکه دا  قران) خامخادمکرم اوعزتمن رسول کلام دی او دا دکوم شاعرکلام نه دی مګرله تاسې نه لږایمان راوړئ .

چې څنګه مې داواورېدل نو ژرترژره مې په زړه کې داراوګرځېدل چې اوهو! داخوزمادزړه پرخبروباندې پوه شو. دی کاهن دی تردې وروسته يې دا ايت ولوست :

**ولابقول کاهن قليلاً ماتذکرون تنزيل من رب العلمين .**

"دادکاهن کلام هم نه دی .تاسې خورا لږ پنداخلئ داخودجهانونو دپالونکي له خوا نازل شوی دی "

حضرت محمد دغه سورت ترپايه ولوست اومادا احساس کړه چې اسلام زمازړه ته راننوځي.

داسې معلومېږي چې حضرت عمر تجربه کاراودپخې ارادې څښتن و. په دې وخت کې پوره اوبشپړبدلون پکې رانغی اوخپله لاره يې ونيوله ان تردې چې يوه ورځ يې ددښمنۍ له تاوه توره راواخيسته اوپه دې اراده له کوره راووت چې همدا اوس نعوذبالله) دحضرت محمد کارختموم نابېره په لاره کې نعيم بن عبدالله سره مخامخ شو .هغه ترې پوښتنه وکړه چې : "ولې ! چېرې ځې ؟ ده وويل دادی اوس دحضرت محمد دله منځه وړلو لپاره ورځم " هغه وويل :لو مړی ته دخپل کورخبرواخله .ستاخپلې خوراو اوښي اسلام راوړی دی. چې څنګه يې داخبره وا ورېدله په بيړه بېرته راستون شو اونيغ په نيغه خپلې خورکره ورغی .هغې دقران تلاوت کاوه کله چې يې حضرت عمر(رض) وليد،غلې شوه اودقران توکي اجزاء) يې يوې خواته کړل .خودوی چې څه لوستل حضرت عمر اورېدلي وو. له دوی نه يې پوښتنه وکړه چې څه مولوستل ؟ اودايې وويل چې تاسې دواړه دخپل پلارنيکه له دين نه ګرځېدلي يئ ؟ اوخپل اوښی يې تروهلولا ندې ونيو کله چې خوريې دخلاصون لپاره ورغله نو هغې ته يې هم ګوزار ورکړ تر هغې پورې چې دواړه په وينو کې لت پت شول خو په همغه وخت کې هم هغوی دواړو په ډاګه اوښکاره وويل چې موږ اسلام منلی دی او اوس ستاسې ظلمونه موږ له دې لارې څخه نشي اړولای. د دوی دغه پخه اراده چې حضرت عمر وليدله نو يوڅه اغېزه يې پرې وکړه او ويې ويل : ښه ! هغه څه چې تاسې لوستل هغه راوړئ ماته يې هم واوروئ .دهغه خور فاطمې) دقران توکي راوړل او په مخ



کې يې ورته کېښودل هغه دا سورت و اوده يې په لوستلوپيل وکړکله چې دې آيت ته ورسېد :

**اننی انا الله لا اله الا انافاعبدنی واقم الصلواة لذکری .**

زه خدای يم ،بې له مابل خدای نه شته نو زمابندګي وکړئ اوزماپه يادلمونځونه وکړئ. ددغه آيت اغېزه وه ،چې ناڅاپه يې چيغه کړه **لا اله الا الله** اونيغ په نيغه دحضرت محمد په لور وخوځيد. دامهال حضرت محمد دارقم په کورکې استوګن و. کله چې حضرت عمر ددې کوردروازې ته ورسېد توره يې په لاس وه ،صحابه تلولي اوزړه نازړه شول حضرت حمزه(رض) وويل : "پرېږدئ چې راشي که په ښه نيت راغلی وي خودېرښه که نه نو دهغه پخپله توره به دهغه سروالوزوم " حضرت عمر(رض) چې دننه قدم کېښودنو حضرت محمد له لمنې ونيو او ورته يې وويل : "ولې عمره په کوم نيت راغلی يې ؟" حضرت عمر(رض) چې داخبره واورېدله يوډول وېره اوربېږديدنه پرې راغله اوپه پوره عاجزۍ سره يې وويل : "دايمان راوړلو لپاره "حضرت محمد ناڅاپه دالله اکبر ناره وکړه اوټولوصحابه و ورسره دتکبيرناره اوچته کړه .

دحضرت عمر(رض) له اسلام راوړلونه وروسته اسلامي ټولګی پوره ځواکمن شو .تردې وخته پورې مسلمانانوخپل مذهبي فرائض په ښکاره نه شول اداء کولای .په کعبه کې په جماعت سره لمونځ کول ناممکن وو. دحضرت عمر(رض) له اسلام راوړلونه وروسته حالت بدل شو مسلمانانوپه ښکاره دخپل اسلام څرګندونه وکړه .که څه هم پردوی باندې زيات شورماشورجوړشوخوپه کعبه کې يې لمونځ په جماعت سره اداءکړ. په دې وخت کې دمسلمانانو ټولګی ترهغوی ډېر ځواکمن شو اونړيوالو داوليدل چې دوروستي پيغمبر ددعا مننه تردې اندازې پورې څرګنده شوه چې له څوارلس سوه کلونو نه راپه دېخواترنن ورځې پورې هم تاريخ په دې خبره شاهد دی چې الله تعالی دحضرت عمر(رض) په لاسونو کوم عزت اوسرلوړي اسلام ته وربخښلې ده بله بېلګه يې نشته .

## دنبوت په اووم کال  په شعب ابي طالب کې ) کلابند:

دقریشو مشرانو چې داسلامي بلنې چټک پرمختګ لېده نودوی به له رخې اوحسدنه سوځېدل اوهره ورځ به يې ددې نهضت دځکولو لپاره نوي فکرونه سنجول .په دې لړکې دهغوی یوه دسیسه داوه چې له ټولوقبیلوسره يې تړون وکړ چې : ''هېڅوک به ترهغې دبني هاشم له کورنۍ سره خپلولي نه کوي اونه به هغوی سره پیرل اوپلورل کوي .نه به له هغوی سره مخامخېږي .نه به هغوی ته دخوراک څښاک څه اسباب ورکوي ترڅوچې هغوی پخپله  حضرت محمد  ) مووږته په لاس نه وي راکړی .دغه تړون ترلیکلووروسته دکعبې پردروازې باندې وځړول شو. په دې وخت کې دبني هاشمولپاره دوې لارې وې یاخوبه حضرت محمد  کفاروته سپاري اويابه دهغوی داقتصادي اوټولنیزو اړیکودنشتوالي له کبله پرې څه مصیبتونه راځي نو دهغودزغم اوتحمل لپاره به چمتوکیږي .په دې توګه ابوطالب دبني هاشم له کورنۍ سره دغره په یوې درې کې چې په میراثي ډول دبني هاشموټاټوبی و،استوګن شو ،هغوکسانو چې په دې درې کې حضرت محمد سره تردریوکلونوپورې له ستونزونه ډک ژوند تېرکړ ،زيات وختونه به يې  دونو پاڼې خوړلې لنډه داچې خلک دلوږې له شدت نه تنګ شول ،څرمنې به يې وایشولې اوهغه به يې خوړلې .کله چې به ماشومانو له لوږې نه چیغې وهلې قریشوبه اورېدلې ،خودابېرحمه اوظالمان به پرې خوشحالېدل .که چېرې کوم وخت به دکوم یوه زړه سواندي په زړه وېره پریوتله نوپه پټه به يې یوه اندازه خواړه ورولېږل .

کله چې دبني هاشموکورنۍ پرله پسې خپل استقامت ثابت کړنو بالاخره الله تعالی دهمغوظالمانو په زړونو کې رحم واچاوه اوپخپله دهغوی له لوري دتړون ماتولوتحريك پیل شو اویوپه بل پسې يې زړونه نرم شول که څه هم ابو جهل اوپلویان يې ددې فکر پرضد ودرېدل خوپه پایله  نتیجه) کې يې ډېردوام ونه کړای شو .نژدې دنبوت لسم کال و چې داخلک له هغې درې نه راووتل .



## دبلنې تګلار:

لکه څنګه چې دمخه ترې یادونه وشوه دمکي دورې دهڅې اوهاند بیان دتاریخ اوسیرت په کتابونوکې خورالږ موندل کیږي .په دې توګه ددغې اقتصادي اوټولنیزې مقاطعې په اوږدوکې چې دبلنې اونهضت کارپه څه ډول سرته رسېده اوترکومې اغېزې لا ندې مرتب شوی وپه دې باره کې هم څه تفصیلات نه موندل کیږي .البته قران کریم به په پرله پسې توګه رانازلېده په دې دوره کې چې کوم سورتونه نازل شوي دي دهغودمضامینو ،هدایاتو اوتعلیماتو له څېړنې څخه څرګندېدلای شي چې اسلامي نهضت به په هغه دورکې له څه ډول حالا توسره مخامخېده .

ددغه سخت او اوږده اخ وډب په دوران کې چې کومې خطبې الله تعالی نازلې کړې دي هغه له ډېرو ولولونه ډکې اواغېزمنې دي په دې خطبوکې دایمان خاوندانو ته ددوی فرائض وښودل شول اوپرهغوفرایضوباندې دپابندۍ هدایت ورکړی شو .اوپه ډېرلوړ معیار دهغوی دشخصي کردار دغوره کولو صورتونه وروښودلی شول. دتقوی تمرین اودغې ستاینې ته د ودې لپاره له ډېر زیات انتهايې ټینګارنه کارواخیستل شو .داخلا قودلوړوالي اوعاداتو داصلاح لپاره لارښوونې وشوې .ټولنیز شعورراوپیښ کړای شو اودټولنیزو اخلا قو روزنه وشوه .دحق دین دتبلیغ لارې وښودلی شوې. په سختو اوناوړوحالا توکې پرصبراوټینګارکولوباندې بیابیا سپارښتن وشو. دبري دژمنواودجنت دزېري په ورکولو سره دهغوی دهمت ملاوتړل شوه .ددین په سخته لارکې ثابت قدمي اوپه لوړ همت سره دخدای په لارکې پرله پسې هلوځلوته وهڅول شول .اوپه هغوی کې دفداکارۍ اوسرښندنې داسې ولوله راپیداشوه چې دهر مصیبت زغملواودهرې سختی سهلوته چمتو شول .

له بلې خوابه يې مخالفین اودخدای له دین څخه سرغړوونکي دهغوی له بدانجام څخه وېرول. دوی ته به يې دهغوقومونو عبرتناک واقعات اورول چې له دوی څخه دمخه يې دغفلت او انکار لاره نیولې وه او په نتیجه کې يې هلاک شوي وو. دا ټول هغه واقعات وو چې پخپله عرب پرې خبر وو ددوی پاملرنه هغو ړنګ شویوکلیو او کنډرونوته وروګرځول شوه چې هلته به يې شپې ورځې

تیرولي. بیا مخامخ ورته دتوحید او آخرت هغه دلیلونه په ډاګه او ښکاره وښودلی شول چې په ځمکه او آسمان کې به یې شپه او ورځ په خپلو سترګولیدل. دشرک بدۍ وربنکاره شوې. دخدای په مقابل کې دبغاوت اختیارولو له نتایجونه خبر کړی شول. له اخرت ځني دانکار په وجه چې په ژوند کې ګډوډۍ او خرابۍ پیدا کیږي پر هغو باندې واضح او ښکاره وپوهول شول. دېلار نیکه له تتې ګروهې نه چې انسانیت ته کوم زیانونه وراوړي هغه ورپه ګوته شول. او دا ټولې خبرې ورته له داسې دلیلونو سره بیان کړی شوې چې دغور کولو لپاره به یې زړه ته ورپر پوتلې. مخالفانو او منکرانو به چې کوم اعتراضونه وړاندې کول دهغو معقول ځوابونه به ورکړی شول چا چې کومې شبهې درلودلې هغه لرې کړی شوې،لنډه دا چې هغه ټولې اندیښنې ترې لرې کړی شوې چې دوی پخپله پرې اخته وو او یا یې نور پرې اخته کول.

## څلورمه دوره :

# دظلمونو او مصیبتونو انتها

کله چې هغوی له شعب ابي طالب نه راووتل او دقریشو له ظلمونو څخه په امان شول نو لږې ورځې وروسته ابو طالب او حضرت خدیجه رضی الله عنها وفات شول حضرت محمد دغه کال دغم کال وباله .ددغو دوو شخصیتونو تر مړینې وروسته له مسلمانانوسره دقریشو مخالفت او هغوی ته اذیت رسول پسې لا زیات شول چې دا داسلامي نهضت لپاره تر ټولو ډیره سخته دوره وه. په دې وخت کې قریشو په ډیرې بې رحمۍ او بې باکۍ سره مسلمانانو او پخپله حضرت محمد ته لاس وغځاوه.

## له مکې څخه دباندې تبلیغ :

په مکه کې چې کوم مخور کسان وو کابو هغو ی ټول بې له ځنډه په اسلامي ټولګي کې داخل شول. په دې ډول داسلام داعي له مکې نه



راووت،دخدای دپیغام رسولو پریکړه یې وکړه او له دغه پروګرام سره سم طایف ته هم لاړ،په طایف کې لوی لوی سرداران او مخور خلک اوسېدل.پیغمبر داسلامي بلنې لپاره دهغوی ترڅنګ هم تشریف یووړ، خو څنګه چې دولت او اقتدار دحق قبلو لو په لاره کې زیات نه زیات مانع ګرځي نو هلته هم همدغه معامله مخې ته ورغله،یوه سردار وویل : ایا بې له تا نه بل څوک نه و چې خدای(جل جلاله) هغه خپل رسول ګرځولی وای. یوه بل وویل : زه خو تا سره خبرې نشم کولای،که ته رښتینی یې نو تاسره خبرې کول بې ادبي ده او که درواغجن یې نعوذبالله) نو دمخامخېدلو وړ نه یې لنډه دا چې دغو مشرانو !) پر هغه باندې ټوکې او ملنډې وهلې او یوازې دومره هم نه بلکې دښار ډاکوان او بد معاشان به یې را پاڅول او دبازار پر مخ به یې نه یوازې پر رسول الله باندې ټوکې او ملنډې وهلې بلکې هغه به یې په تیږ وهم ویشته. په دې وخت کې هغه دومره ټپي شو چې له مبارک بدن څخه یې وینې بهېدلې او پنې یې ترې ډکې شوې وې،مګر ظالمانو به بیا هم په تیږو ویشته او ښکنځل به یې ورته کول ان تر دې پورې چې یوه بڼ ته یې پناوروړه.

دمخالفینو ښارته په یوازې توګه ورتلل او دتبلیغ فرض اداء کول، ځان په کړاوونو کې اخته کول او دخدای بندګانو ته دخدای پیغام رسول چې څومره همت او زړورتوب غواړي،اندازه لګول یې څه ګران کارنه دی،دا پر خدای تعالی باندې بشپړایمان او پر هغه باندې دانتهایي توکل تر ټولو یواوچت مثال دی او تر دې وروسته دراتلونکو کسانو لپاره دتقلید وړ بېلګه اسوه ) ده.

دحضرت محمد دستور و چې کله به دحج لپاره له ټول ملک نه بیلا بیلې قبیلې راتللې نو دی به دهرې قبیلې ترڅنګ ورغی او اسلامي بلنه به یې ورته ورکوله. په دې ډول به چې عربو په کوم ځای کې مېلې کولې دی به همالته ولاړ او دهغوی له غونډو څخه به یې ګټه اخیسته او خلکو ته به یې اسلامي بلنه ورکوله په دغسې ډېرو وختونوکې به دقریشو سرداران په تېره بیا ابولهب ) هم ورته او په کومو غونډو کې به چې حضرت محمد وینا کوله نو ده به خلکو ته ویل : " ګورئ !دده خبره مه اورئ " دی له دین نه ګرځېدلی دی او درواغ وایي حضرت محمد به په داسې وختونو کې دقرآن شریف هغه برخې اورولې چې

دخپلې اغيزې له کبله به دغيشي په څير په هدف ولگېدې او له اورېدلو سره سم به داورېدونکي په زړه کې اسلام ورننووت .

دحضرت محمد  دغه تبليغي دوره دخپلو نتايجو او اغېزو له کبله بشپړه بريالی دوره وه. په دې وخت کې داسلام بلنه نه يوازې دا چې په عربو کې پردئ ونه گڼل شوه بلکې دلرې لرې ځايونو خلکو هم دغه بلنه ومنله او دخپلې پريکړې له مخې داسلامي نهضت ملگري شول او هر يوه په خپله سيمه کې دبلنې اوتبليغ کار پيل کړ.

## ليلة الجن :

دخدای تعالی له گڼ شمير مخلوقاتو څخه يو هم پيريان دي. پيريان هم دانسانانو په څير دارادې او اختيار مالکان او دالله(جل جلاله) پر را ليږل شوي هدايت باندې مکلف دي،دوی هم بايد پر توحيد،رسالت او اخرت باندې ايمان راوړي او دالله تعالی داحکامو پيروي وکړي. په دې اساس  په هغوی کې هم ښه اوبد خلک شته.

له لرغوني زمانې نه راپه دېخوا دپيريانو دشتون په باب په خلکو کې ډول ډول خيالات موجود دي. په عربو کې هم دپيريانو په اړه ډېرې خبرې اترې وې،دهغوی عبادت به يې کاوه او له هغوی څخه به يې مرسته غوښتله،واکوالو به دهغوی ددوستی  دعوې کولې او په دې باره کې ډول ډول افسانې مشهورې وې. لکه څنگه چې هغوی نورې زرگونه پرښتې او ښاپيرياني په خدايی کې شريکې گڼلې دغسې يې پيريان هم په خدايي کې شريک گڼل. اسلام ددغسې ټولو عقايدو اصلاح وکړه او دايې راوښوول چې پيريان هم دخدای مخلوقات دي خو هېڅکله په خدايي کې شريک نه دي. نه هغوی په خپل اختيار چاته گټه رسولای شي او نه زيان. پرهغوی باندې هم دخدای بندگي فرض ده. په هغوی کې هم دخدای دحکم منونکي او نه منونکي شته او دانسانانو په څېر دخپلو ښواوبدواعمالو مکافات او مجازات مومي. پېری هم دانسان په شان دخدای(جل جلاله) دقدرت په وړاندې اړ او ناچار دی.



کله چې دخدای تعالی دين په خپله وروستی بڼه دحضرت محمد  په ذريعه دنيا ته رارسېده نولکه څنگه چې دانسانانو لپاره يې پيروي ضرور وه هغسې دپيريانو لپاره هم وه. يوځل حضرت محمد  دعکاظ يوې اوڅارې مېلې ته ورته، په لاره کې ديوې شپې لپاره دنخلې  په مقام کې مېشت شو، حضرت محمد  له خپلو څو تنو صحابه و سره دسبا په لمانځه لگياو اود قران کريم قرائت يې کاوه په ناڅاپه توگه دپيريانو يوټولی دهغه تر څنگ تېرېده اوقرآن ته يې غوږ ونيو. ددې پېښې يادونه دقرآن شريف داحقاف په سورت کې په دې ډول ده :

ای پيغمبره ! کله چې موږ تاسې ته دپير يانو يو ټولی دروگرځاوه هغوی به قرآن ته غوږ ايښوده. کله چې هغوی حاضر شول  دې قرآن ته ) نو يو  له بله سره يې وويل چوپ اوسئ ! کله چې قرآن ختم شو هغوی لاړل،خپل قوم يې تنبيه کړ هغوی دا وويل : " ورونو! موږ يوکتاب واورېد چې وروسته له موسی υ نه رانازل شوی دی. هغه کتابونه چې پخوا ترې نازل شوي دي دا دهغو تصديق کوي. دحق په لور لار ښوونه کوي او سمه لار ښيي.

ددې واقعې پوهنه حضرت محمد  ته دوحيې په ذريعه وشوه او تفصيلات يې دجن سورت کې راغلي دي.

## دنبوت په لسم کال اسلام په مدينه کې :

په کوم ډول چې داسلام غږ دعربو نورو لرې لرې سيموته رسېده په هماغه ډول مدينې ته هم ورسېد. له ډېرې لرغونې زمانې څخه يهودهم مدينې ته راغلي او مېشته شوي وو. او مدينې ته څېرمه يې خپلې وړې وړې کلا گانې جوړې کړې وې.

اوس او خزرج دوه ورونه وو؛ددوی اصلي هېواد يمن و مگر يو وخت له يمن نه راغلي او په مدينه کې مېشته شوي وو. ددوی له توکم  نسل ) نه هلته دوې لويې کورنۍ جوړې شوې وې. چې اوس او خزرج نومېدلې. وروسته بيا دغه خلک دانصارو په لقب ونو مول شول. دې خلکو په مدينې او دمدينې په شاو خوا کې خورا ډېرې کلا گانې جوړې کړې وې. دغه خلک دعقېدې له مخې بت پرست وو  خو له يهودانو سره دڅېرمه والي په اساس،له رسالت،وحيې، اسماني

کتابونو او داخرت له گروهو سره هم خا مخا اشنا شوي وو،ځنگه چي په دوی کي دا رنگه خبري نه وي نو له دي کبله دمذهب په چاروکي هم له يهودو څخه يو څه وېرېدلي وو. او دهغوی خبروته به يي درنښت ورکاوه. دي خلکو له يهودي علماوو څخه داهم اورېدلي وو چي نړی ته يو بل پيغمبر راتلو نکی دی. که څوک له هغه سره ملگرتياو کړي هغه به بری مومي او پر ټوله نړی به برلاسی شي. دهمدي معلوماتو په اساس مدينه وال نبي او دهغه بلني ته متوجه شول.

د محمد دادستور و چي دحج په وخت کي به دقبيلو مشرانو ته ورته او هغو ی به يي له اسلامي بلني سره اشنا کول. دنبوت دلسم کال پېښنه ده چي دعقبه مقام ته نژدي يي دخزرج دکورنۍ څو تنو وگړوته اسلامي بلنه ورکړه او دقرآن څو آيته يي هغوی ته واورول. ددي کلام په اورېدلو سره دهغوی زړونه تر اغېزي لاندي راغلل او پوه شول چي ارومرو دا همغه نبي دی چي يهود دهغه په باب دا وايي چي دخدای(جل جلاله) يو بل نبي راتلونکی دی. دي وگړو يو بل ته سره وکتل او ويي ويل : " چېري داسي ونه شي چي پر دغه نبي باندي ايمان راوړلو کي يهود له موږ څخه دلو مړيتوب لوبه وگټي " له همدي وينا سره سم يي اسلام قبول کړ. دوی شپږ کسه وو. په دي توگه دمديني په انصارو کي اسلام راوړل پيل شول او هغه ښار چي په راتلونکي کي داسلام مرکز و هلته داسلام روښنايي په خپرېدو شوه .

**دمخالفت شدت :**

دهر نهضت له پرمختگ سره سره بيا هم مخالفت او اخ و ډب پر مخ ځي خو داسلامي نهضت له راتگ سره چي دکفارو دمخالفت کوم توپان راځي په دي وخت کي داسلامي نهضت علمبرداران له ډېري سختي ازموينې سره مخامخېږي، ځنگه چي له يوي خوا داسلامي بلني شهرت او پېژندنه زياتېده نو له بلي خوا دحق پر بلونکي او دهغه پر ملگرو باندي هم ډېر سخت حالات تېرېدل. دقريشو مشرانو دا پريکړه کړي وه چي پخپله حضرت محمد دومره وربروي تر څو پخپله اړ شي او له اسلامي بلني نه لاس واخلي. دقريشو لوی لوی مشران يي گاونډي او تر ټولو ستر دښمن وو.دي خلکو دحضرت محمد په لاره کي اغزي اچول .دلمانځه په وخت کي به يي پري خنداگاني کولي،په سجده چي به پرېووت



نو لري او لړشنونه به يي په غاړه ور اچول،په غاړه کي به يي ځادر وتاړه او په داسي بي رحمی سره به يي راښکوده چي مبارکه غاړه به يي تغمي تغمي شوه، هلکان به ورپسي ځغستل او ښکنځلي به يي ورته کولي. او چک چکي به يي پري کولي. که چېري په کوم ځای کي به يي وعظ کاوه نو دوی به هلته شور ماشور جوړکړ اوو يل به يي چي داټول درواغ دي. لنډه دا چي دځوروني او خو اشينې دډېرو زياتو سختو کړاوونو څومره ډولونه چي ليدل کېږي هغه يي ټول پري تېرکړل.

په دي دوره کي چي خدای تعالی پر خپل نبي باندي کومه وحيه رانازلوله په هغي کي ددغو ټولو حالاتو دزغملو لپاره دلارښووني اسباب موجود وو،داسلامي نهضت علمبردارانو راوښووله چي په دي وخت کي حق په ښکاره دمظلوميت ښکار کېږي دا بايد تلپاتي خبره ونه گڼله شي. په دنيوي ژوندکي دغسي لوبي شوي دي خو هسي هم دبري اصلي معيار ددنيا ژوند نه بلکي دآخرت ژوند دی او داپرېکړه يي وکړه چي آخرت به دهغو خلکو لپاره خورا ښه او غوره وي چي دتقوی ژوند غوره کوي. حضرت محمد ته په خطاب کي ويل شوي وو : " که څه هم موږ پوهېږو هغه څه چي دوی يي وايي هغه بشپړ تکليف رسوونکي دي، خو په اصل کي داخلک حق درواغ گڼي. هغوی تا نه ،بلکي موږ درواغجن بولي او دا کومه نوي خبره نه ده .

تر دي دمخه هم له رسولانو سره دغه معامله شوي ده،مگر هغو به په دغسي حالاتو کي صبر کاوه او هر ډول مصيبتونه او کړاو ونه به يي زغمل تر هغي پوري چي زموږمرسته به هغوی ته ورسېده،ته به هم له دغسي حالاتو څخه تېريږي " هغه به بيا بيا په دي پوهول کېده چي دحق او باطل دکشمکش لپاره دخدای(جل جلاله) يو ټاکلی قانون شته چي په زور سره هغه ته څوک بدلون نه شي ورکولای. دهمدي قانون له مخي پکار ده چي حق پالونکي تر يوي اوږدي مودي پوري وازمويل شي. ددوی دصبر،ربښتيني راکړي ورکړي،سر ښندني،وفاداری او دايمان دپوخوالي امتحان واخېستل شي او دا څرگنده شي چي دوی پر توکل علی الله او ايمان بالله باندي تر کومه ځايه پوري ټينگ ولاړ دي. ددغه اخ و ډب په دوران کي په دوی کي هغه صفتونه پيدا کېږي چي په

راتلونکي کي دخدای(جل جلاله) ددين دعلمبردارانو په جوړښت کي مرسته کوي. کله چي داخلک په دې ازموينه کي خپل ځان اهل ثابت کړي نو بيا به دخدای(جل جلاله) مرسته په خپل وخت له هغوی سره کېږي. خو تر دې پخوا يې له هېڅا سره نه کوي.

## دنبوت په يولسم کال دعقبه اولیٰ بيعت :

بل کال يوولس تنه مدينه وال دمحمد  خدمت ته حاضر شول او بيعت يې ورسره وکړ او ددې خبرې غوښتنه يې هم وکړه چي داسلامي تعليم لپاره دې کوم يو له دوی سره ولېږل شي. په دې توګه حضرت عميرτ دهغوی په ملګرتيا مدينې ته ولېږل شو. ده په مدينه کي کور په کور دوره وکړه او خلکوته به يې قرآن شريف لوسته او  هغوی به يې اسلام ته رابلل. په دې توګه به دورځې يوه يادوو تنو اسلام راووړ. ورو وروله مدينې نه دباندې هم اسلام په خپرېدو پيل وکړ. داوس او خزرج دقبېلي مشر حضرت سعد بن معاذ هم دحضرت مصعب په لاس اسلام راووړ،دده اسلام راوړل ګواکي داوس دقبيلي اسلام منل وو .

## دنبوت په دولسم کال دعقبه ثاني بيعت :

په راتلونکي کال کي دوه او يا تنه دحج په وخت مکي ته راغلل او له خپلو ملګرو سره يي په پټه دعقبه په مقام کي دحضرت محمد  په لاس اسلام ومانه او په تودو سړو هر ډول حالاتو کي يي له اسلامي نهضت سره دملګرتيا ژمنه وکړه،حضرت محمد  له دې خلکو څخه دولس تنه وټا کل او دهغوی نقيب   مشر ) يي هم مقرر کړ. په هغوی کي نهه قبيلي دخزرج او درې قبيلي داوس وې. حضرت محمد  چي له هغو ی څخه دکومو خبرو اقرار واخيست هغه داوي :

١ـ له يوه خدايه پرته به دبل هېچا بندګي نه کوئ.

٢ـ غلا به نه کوئ.

٣ـ زنا به نه کوئ.

٤ـ خپل اولادونه به نه وژنئ.



٥ـ حضرت محمد  چي پر کومو ښو خبرو   معروف ) حکم کوي غاړه به ترې نه غړوئ،له بيعت نه وروسته حضرت محمد(جل جلاله) وويل : “ که دغه شرطونه مو پوره کړل نو تاسي ته دجنت زيری دی که نه نو ستاسي معامله دخدای په لاس ده. که وغواړي تاسي ته بخښنه کوي او که وغواړي نو تاسي ته عذاب درکوي “ .

کله چي دې خلکو بيعت کاوه نو سعد بن زراره پاڅېده او ويې ويل ورونو ! په دې هم خبريئ چي تاسي په کومه خبره بيعت کوئ. پوه شئ دا  دعربو او عجمو پر ضد دجنګ اعلان دی “   ټولو وويل،هو ! موږ په دې ټولو خبرو پوهېږو او بيعت کوو. همدارنګه له اهل وفد څخه هم يو شمېر خلکو له ولولو نه ډکي وينا وې وکړې او په دې وخت کي ددغو نويومسلمانانو او حضرت محمد تر منځ دا پرېکړه وشوه: که چېرې رسول الله  مديني ته ځي،نو دمديني خلک به دژوند تر وروستی سلګۍ پورې دهغه ملګري وي. په همدې وخت کي حضرت براءτ وويل چي : “ موږ خلک دتورو په غېږکي لوی شوي يو “ .

# شپږمه برخه

## معجزې او معراج :

- سپوږمۍ دوه ټوټې کېدل شق القمر )
- معراج “ لوړ ختل “
- دمعراج اهميت او دراتلونکي لپاره نغوتې
- ديهودانو ګوښه کول
- دمکې دکفارو تنبيه کول
- داسلامي ټولنې بنسټونه
- دهجرت لپاره نغوتې
- دتهجد دلمانځه اهميت
- په دې دوره کې ددعوت ځانګړنې
- توکل پر خدای او صبر
- قران يوه معجزه ده



- ښکاره خبرې
- دهجرت لپاره تياری

ددين په اصطلاح کې معجزه هغې خبرې ته وايي چې خدای(جل جلاله) يې دکوم پيغمبر دنبوت ددعوې دثبوت لپاره نړيوالوته څرګندوي. دمعجزې يو شرط داهم دی چې ددوديز عادت پرخلاف وي مثلا داور کار سوځول دي خو چې هغه سوځول ونه کړي. سمندر بهاندوي خو چې هغه تم شي. ونه په يوه ځای ټينګه ولاړه وي خو چې هغه روانه شي؛مړی ژوندی شي ياله لرګي نه مار جوړ شي او داسې نور. څنګه چې په نړۍ کې دهر فعل اصلي لامل علت) دخدای(جل جلاله) په قدرت او اراده کې دی له دې کبله کله چې يو کار تر ټاکلو اصولو لاندې په پر له پسې توګه تر سره کيږي هسې دخدای(جل جلاله) په قدرت هغه له عادي اصولو نه اخوا تر غير عادي اصولو لاندې هم ترسره کيږي،خو چې کله يې خدای(جل جلاله) وغواړي نو بيا يې ترسره کوي.

ډېرو انبياء وυ ته دهغوی دنبوت داثبات لپاره معجزې ورکړی شوې دي خو په دغو معجزو سره لږشمير کافرانو ايمان راوړی او يقين يې پرې کړی دی او دمعجزو څرګندونه يو ډول وروستی دليل دی له دې کبله کله چې به خلکو معجزې ولېدلې نو وروسته له هغې به يې له نبي نه هم انکار وکړ،ځکه خو بيا پر

هغوی دخدای(جل جلاله) عذاب نازل شوی دی او دنړی له سره ورک شوي دي. دقریشو کافرانو هم له حضرت محمد  نه دمعجزو غوښتنه کوله. خو دهغوی دا غوښتنه ځنډېد له ځکه چې دخدای(جل جلاله) طریقه همداسي ده. که چېرې دامهال ددې خلکو دغوښتنې په ځواب کې کومه واضحه معجزه ښودل شوې وای،نو بیا به دهغوی لپاره دوې لارې پاتې وای   ایمان یا هلاکت ) ځکه نو دهغوی دا غوښتنه پر له پسې ځنډېدله. خودا چې دبلنې ورکولو نژدې لس یو لس کاله تیر شوي وو او دقوم دپوهوني لپاره بله کومه چاره پاتې نه وه نو ډېر ځله به دحضرت محمد  او نورو مؤمنانو په  زړونو کې دا غو ښتنه ور ګرځېدله چې کاشکې دخدای(جل جلاله)  له لوري داسې یوه نښه راڅرګندېد لای چې په لېدو سره یې دې خلکو ایمان راوړی وای.

خودهغوی ددې غوښتنې په ځواب کې به یې همدا ویل چې ګورئ له بې صبرئ څخه کار مه اخلئ په کوم ترتیب او کومه طریقه چې موږ دبلنې چارې پرمخ بیا یو هغه دصبر په همدغسې طریقه سرته رسوو که له معجزو نه کار اخېستل کېدای نو وخته به داکار شوی وای. که موږ وغواړو دهر یوه کافر زړه نرموو او په زور سره یې دهدایت پرلارې باندې روانو و. مګر دا زموږ طریقه نه ده. په دې توګه خو نه دانسان دازادی او اختیار امتحان ترسره کېږي او نه هغه فکري او اخلاقي او ښتون  انقلاب) رامنځ ته کېږي چې دهغه پر اساس یوه بریمنه ټولنه جوړه شي. که چېرې دخلکو دبې پروایی او دهغوی دانکار له امله تاسې په صبر سره دحالاتو مقابله نه شئ کولای. ځمکه سوری کړئ یا اسمان ته وخېژئ او یوه معجزه را ښکاره کړئ.

دانعام سورت ٣٥ ایت)

خومطلب یې دانه دی چې حضرت محمد  ته معجزه نه ده ورکړل شوې. دده تر ټولو لویه معجزه پخپله قران مجید دی چې تفصیل به یې وروسته پخپل وارسره راشي. سربېره پردې له هغه مبارک څخه بې شمیره معجزې څرګندې شوې دي له دې جملې څخه دسپوږمی دوه ټوټې کېدل  شق القمر) او اسمانونو ته سفر کول   معراج ) ډېر مهم دي. سره له دې بیا هم خورا ډېرې



وړاندويني،په دعا سره دباران اورښت،دخلکو هدايت موندنه. دارتياو په وخت کې لږ شيان زيا تېدل،دناروغانو ښه کېدل،او به جاري کېدل او داسې نورې معجزې دي چې هره يوه يې په خپل وخت کې ښکاره کړې ده.

## سپوږمی دوه ټوټې کېدل   شق القمر ) :

دسپوږمی دوه ټوټې کېدل دمکې دکفارو لپاره دحضرت محمد  له معجزو څخه دبشپړ دليل په توګه يوه مهمه معجزه ده.

ددې پېښې روايت حضرت عبدالله بن مسعودτ کړی دی چې په صحيح بخاري او مسلم کې داروايت راغلی دی. دی پخپله په همدې پيښه کې حاضر و او په خپلو سترګو يې دسپوږمی دوه ټوټې کېدل ليدلي وو، دی وايي چې ” موږ له حضرت پيغمبر  سره په منیٰ کې وو چې سپوږمی دوه ټوټې شوه او يوه ټوټه يې غره خواته لاړه “ او هغه وفرمايل  ” خبر اوسئ “ خو لکه څنګه چې دمخه ليکل شوي دي دا ضروري نه ده چې دمعجزې له ليدلو نه وروسته دې کافران ايمان راوړي،بلکې شوي خو داسې دي چې کوم خلک دمعجزو غوښتنه کوي دهغوی زړونه له عقېدې څخه تش وي ځکه نو هغوی دانکار لپاره دحيلو او پلمو هڅه او هاند کوي. هغه زړونه چې دايمان دقبلو لو وړوي او داغراضو او مادي ګټو په پنډوکي پورې نښتي نه وي هغو ی ته خو تر ټولو لويه معجزه پخپله حضرت محمد  او دهغه تعليمات دي او ټل دحق په منلو کې يو قدم مخکې ځي. څنګه چې سپوږمی دوه ټوټې شوه وروسته له دې به بيا هم کافرانو ويل چې “هو! دا خو سحر دی او دسحر په زور سره خو دا کار ونه شوني او کېږي “ په دې توګه هغو کسانو ته چې هدايت نه و شوی دهغوی دجرمونو په لړکې يو بل مهم جرم هم ورزيات شو ځکه چې له ښکاره نښو څخه وروسته به يې هم دالله رسول درواغجن باله .

## معراج :

دمعراج معنی پورته ختل دي. څنګه چې حضرت محمد  دخپل يوه اسماني سفر په باب دغه لفظ استعمال کړی دی،نو له همدې کبله ورته معراج

وايي. ددې سفر دويم نوم اسرا ء دی. اسراء دشپې يون کولوته وايي څنګه چې دا سفر په شپه کې و،نوځکه يې اسراء هم بولي. په قران شريف کې همدغه لفظ استعمال شوی دی.

انبيا ءυ چې دبلنې او تبليغ او ددين داقامت کوم خدمتونه سرته رسوي دهغو ی لپاره چې څومره پاخه ايمان او يقين ته ضرورت دی هومره دا هم ضروري ده چې پرکومو حقيقتونو باندې دايمان راوړلو لپاره بلنه ورکوي لږترلږه هغه په خپلو سترګو ووينې ځکه چې ددنيا په وړاندې په پوره زور او قوت سره داخبره کېږي چې تاسې مازې په خيال او قياس سره له يوه شي نه انکار کوئ په داسې حال کې چې موږ په ستر ګو ليدلی حقيقت بيانوو،تاسې سره خيال دی او موږ سره علم. دا ځکه چې اکثرو نبيانوυ باندې پرښتې نازلې شوې دي،هغوی ته داسمان ا و ځمکې حکومت ورښودل شوی دی، دوزخ او جنت يې په سترګو ليدلی دی او له مرګ نه وروسته چې پرانسان باندې کوم حالات تېرېږي هغسې ژوند ورښودلی شوی دی. معراج يا اسراء هم له دغسې واقعاتو څخه يوه واقعه ده چې حضرت محمد  ته هغه حقيقتونه وروښودل شول چې يو مومن پر هغه باندې په غيبو سره ايمان راوړي. دمعراج واقعه چې په کوم وخت کې پيښه شوې په دې باره کې ډول ډول روايتونه راغلي دي .البته تاريخ ليکونکو دا ټول روايتونه مخې ته ايښي دي اووروسته له هغې يې چې کومې خبرې ته ترجيح ورکړې ده هغه داده چې دا واقعه نژدې له هجرت څخه يو نيم کال دمخه پيښه شوې ده. ددې پيښې په باب که چېرې دامام بخاري او مسلم روايتونه مخ ته کښېږدو،وروسته له هغې چې کوم ټوليز  مجموعي ) بيان په لاس راځي هغه دادی :

حضرت محمد  يو سهار وفرمايل : تېره شپه زه ويديدم چې زما رب ماته لوی عزت را وباښه هغه دا چې جبراييلυ راغی زه يې راپاڅولم او دکعبې حرم ته يې بوتلم له دې ځايه يې راواخله،هغه زما ټټر څيرې کړ او دزم زم په او بو يې ومينځه  زم زم په کعبه کې يوه متبرکه چينه ده ) له ايمان او حکمت څخه يې ډک کړ ا و بيا يې را وګنډه. تردې وروسته يې يو حيوان راوست چې له کچرې نه لږ شانته کوچنی او سپين رنګ يې درلود او دهغه نوم براق او ډېر ګړندی و. زه پرهغه باندې سپور وم چې سمدستي بيت المقدس ته ورسېدو. هلته



براق دجومات له دروازې سره وتړلی شو او زه مسجد اقصی ته داخل شوم. دوه رکعته لمونځ مې وکړ. په دې وخت کې جبرائيلυ دوې پيالې راته وړاندې کړې. يوه له شرابو او بله له شدونه ډکه وه. ما دشدو پياله قبوله کړه. جبرائيلυ چې داحال وليدنو ويې ويل: تا چې دشېدو پياله قبوله کړه نو دفطرت دين دې غوره کړ.

تردې وروسته داسمان سفر شروع شو کله چې موږ لومړي اسمان ددنيا اسمان ) ته ورسېدو نو جبرائيلυ ددروازې پيره دارې پرښتې ته وويل چې دروازه پرانېزه،هغې پوښتنه وکړه چې : "ملګری دې څوک دی ؟" جبرائيلυ وويل چې : "محمد دی" پرښتې بيا پوښتنه وکړه چې : "آيا دی رابلل شوی دی ؟" جبرائيلυ وويل : " هو !دی بلل شوی دی " چې دا خبره يې واورېدله،ويې ويل : "دداسې هستۍ راتلل دې مبارک وي" کله چې موږ پکې داخل شوونو آدمυ مو وليد،جبرائيلυ ماته وويل : "دی ستاسې پلار  دانساني نسل اعلی مورث ) آدمυ دی تاسې هغه ته سلام ورکړئ،ما هغه ته سلام ورکړ"هغه دسلام ځواب راکړ اوويې ويل : "په خير راغلې،ای صالح زويه ! او ای صالح نبي ! "تر دې وروسته دويم اسمان ته ورسېد و هلته هم دلومړي اسمان په څېر له سوال او ځواب نه راوروسته دروازه پرانېستل شوه او موږ ور داخل شووهلته موله يحيی او عيسیυ سره ولېدل جبرائيلυ هغوی راوپېژندل اوو يې ويل : "هغو ی ته سلام ورکړه " ما هغوی ته سلام ورکړ. هغوی ځواب راکړ او ويې ويل : "په خير راغلې ای صالح وروره! او ای صالح نبي !" په دې توګه بيا دربيم اسمان ته ورسېدو هلته له حضرت يوسفυ سره مخامخ شوو او دپخوا په شان سوال او ځواب وشو. څلورم اسمان کې موله حضرت ادريسυ سره وکتل اوپه پنځم کې له حضرت هارونυ ،شپږم کې له حضرت موسیυ  سره اوپه اووم اسمان کې له حضرت ابراهيمυ سره مخامخ شوو هغوی هم له سلام اوځواب نه وروسته وويل :  په خيرراغلې ای صالح زويه! اوای صالح نبي !) بيايې ترسدرة المنتهی پورې ورسولم .دادبېرې يوه ونه ده چې بې شمېره ملائک پکې داوروركيوپه څېرځليدل.

هلته حضرت محمد  خورا ډېرحقايق وليدل اوله خداى(جل جلاله) سره هم ،هم كلام شو.خداى(جل جلاله) دهغه پرامت باندې په شپه ورځ كې پنځوس وخته لمونځ فرض كړ.كله چې له دغې ليدنې كتنې څخه فارغ اوبېرته راستون شو نو يوځل بياله حضرت موسى υ سره مخامخ شو اوهغه ترې پوښتنه وكړه چې : وايه! دخداى له درباره څخه دې څه سوغات راووړ؟ ) هغه وويل په شپه ورځ كې پنځوس وخته لمونځ ،موسىυ ورته وويل چې ستاامت دغه پېټى وړلاى نه شي .ببېرته لاړشه اوكم يې كړه په دې توګه حضرت محمد  ببېرته لاړ اودكمېدوغوښتنه يې وكړه هلته يوه برخه كمه شوه خوحضرت موسىυ هغه بيابيابېرته ولېږه اوپه هرواريكې كموالى راغى لنډه داچې دغه شمېره پنځو وختوته ورسېده. كه څه هم موسىυ په دې ډاډه نه و اوويل يې چې نور دې هم كم شي ،مګرحضرت محمد  ورته وويل چې تردې زيات په نورڅه ويلوشرمېږم .په دې وخت كې پرهغه باندې دخداى(جل جلاله) له لوري غږ وشو كه څه هم  موږ دلمنځونو شمېرله پنځوسو څخه پنځوته راټيټ كړخوكه ستاپه امت كې څوک دورځې پنځه وخته لمونځ اداء كړي هغوى ته به دهغو پنځوسو لمنځونو اجروركړشي .

سرببېره پردې په دغه وخت كې له الهي دربارڅخه د دوونورو سوغاتونو مرحمت هم وشو. يو يې دبقرې سورت وروستي ايتونه دي چې په هغوكې داسلامي عقايدو او ايمان دبشپړتيا بيان اودا زېرى شوى دى چې اوس دمصيبتونو دوره ختمېدونكې ده ،بل داچې محمدي امت به له شرک څخه لرې او وبخښل شي .

په دې سفر كې حضرت محمد  جنت او دوزخ په خپلو ستركو وليد او له مړينې وروسته چې داعمالو له مخې كوم كوم حالات پرخلكو باندې راځي دهغو څومنظرې يې هم وليدلې .

كله چې له اسمانونو ببېرته راستون شو اوبيت المقدس ته راغى نو ويې ليدل چې دلته انبياءυ راټول دي،هغوى ټولو دده په امامت سره لمونځ اداء كړ،وروسته له دې خپل مقام ته ورغى اوګهيځ په همغه مقام را ويښ شو .



## دمعراج اهميت او دراتلونكي لپاره نغوتې :

ګهيځ چې كله حضرت محمد  دا پېښه بيان كړه دقريشو كافرانو هغه درواغجن وباله  نعوذبالله) اودكومو خلكوپه زړونو كې چې دهغه دربښتينولۍ اوصداقت يقين و ټكى په ټكى يې پرې تصديق وكړ او ويې ويل حضرت محمد چې څه وايي هغه ټول رښتيني واقعيتونه دي په دې توګه دمعراج دغه پېښه له يوې خوا دخلكو دايمان او درسالت دتصديق ازموينه وه له بلې خوا پخپله حضرت محمد  ته دغيبودبې شمېره حقيقتو نو دليدنې كتنې ذريعه هم وه .سرببېره پردې داد هغه راتلونكي اوښتون لپاره يوه نغوته وه چې اسلامي نهضت په چټكۍ ورسره مخامخېده .دغه نغوتې دقران شريف دبني اسرائيل سورت په هغه برخه كې چې دمعراج بيان راغلى دى په تفصيل سره موندل كېږي .ددې سورت په مضامينو كې چې كومې ښكاره اوپه ډاګه نغوتې ليدل كېږي هغه دادي :

## ديهودوګوښه كول :

تردې وخته پورې يهودان دخداى(جل جلاله) ددين وارثان وو اوپه دې چوپړمقرروو چې نړۍ دخداى(جل جلاله) له پيغام  اسلام) سره اشناكړي خوهغوى نه يوازې داچې دغه چوپړسرته ونه رساوه بلكې دوى پخپله دبې شمېره بديو ښكارشول او ددې وړنه وو چې دخداى ددين خدمت پرځاى كړى شي له دې كبله يې په دې وخت كې دبني اسمعيل كورنۍ ته دورسپارلوپرېكړه وكړه ،اوله دې كورنۍ څخه حضرت محمد  مبعوث كړى شو .تر دې وخته پورې بني اسرائيلو ته نيغ په نېغه خطاب نه و شوى خو اوس يې دبني اسرائيل سورت كې ورته وويل چې تراوسه پورې تاسې كومه غلطي كړې هغه موكړې ده اوتردې پخواهم دوه ځله ازمويل شوي يئ مګرتاسې خپل ځان اصلاح نه كړ،خو اوس هم تاسې ته ددغه نبي  له بعثت نه وروسته يوځل بيا موقع په لاس درغلې ده كه چېرې دهغه پيروي وكړئ نو تاسې به بياهم دترقۍ په لاره درومئ.دمكه والوبشپړ مظلومانه اوخواشينى نه ډک ژوند لپاره دانغوته خوراډېرلوى زېرى و. وروسته بياداپرېكړه په پوره توګه رښتينې ثابته شوه .

## دمکي دکافرانوتنبيه کول :

دمکي دکافرانودښمنی اومظالم انتهاته رسېدلي وو او په کراتو به يې ويل که چېرې دی دخدای پيغمبر وي نوزمونږ دانکارپه سبب ولې پرمونږ عذاب نه رانازلېږي چې دی موترې وېروي. په ځواب کې يې دا وويل شول چې دخدای(جل جلاله) طريقه داده ترهغې پورې چې يوه قوم ته دخدای(جل جلاله) پيغمبرنه وي راغلی پرهغه قوم باندې عذاب نه راولي کله چې دخدای(جل جلاله) پيغمبر ورغلی نو دقوم شتمنواودلوړې طبقې خلکودحق بلنې دجرړودوېستلولپاره ملاوې تړلې اودقوم عام خلک پرته له هغوکسانوچې په هغوی کې دحق قبلولو استعداد موجودو نورټول له هغوی سره ملګري شوي دي. اوکوموکسانو چې حق قبول کړی دی په دې وخت کې بيادديې دوارو ډلو تر منځ اخ وډب پيل شوی دی اوبياخدای(جل جلاله) دحق پلويانوسره مرسته کړې ده خودديې مرستې وخت ټاکلی وي. البته څنګه چې انسان بې صبره وي نو ځکه کله داسې شی هم خيرګنې اودهغه غوښتنه کوي چې په اصل کې دهغه لپاره خيرنه بلکې شروي اودافکورته نه ورځي چې دخدای(جل جلاله) ټول کارونه دخپل وخت له مخې مقيداوتړلي وي .شپې او ورځې ته وګورئ دخدای(جل جلاله) نښې نښانې دي اوتريوه ترتيب شوي نظام لاندې يوه په بلې پسې راځي .تېرتاريخ ته نظروکړئ وګورئ ،له نوحυ نه يې راواخله تردې اوسه پورې يې څومره قومونه هلاک کړل،خدای(جل جلاله) دخپلوبندګانو پرهرحال باندې په پوره توګه خبردی اوهغوی ته دهغوی داستحقاق په اندازه بدله ورکوي .په دې سبب بايد دمکې کافران په دې خبره ځان پوه کړي چې اوس دوی دخدای(جل جلاله) دپيغمبرپه مقابل کې څه ډول چلندغوره کوي په هماغه ډول به له دوی سره هم معامله کېږي اودغه فيصله کوونکی وخت رانژدې دی .

## داسلامي ټولنې بنسټونه :

اوس نو هغه وخت رارسېدلی و چې داسلام دمظلوميت دوره په ختمېدواوپه بيړې سره يوه داسې ټولنه په جوړېدوکې وه چې دهغې بنسټونه دې



پراسلامي اصولوباندې ولاړ وي .لکه څنګه چې ددغه اسلامي نظام دژوندلپاره دبنسټيزواصولو سوغات هم دمعراج له دغې پېښې سره وتړل شو .همدغه بنسټيزاصول دي چې په راتلونکي کې به داسلامي نظام دژوندلپاره دلاربښود اصولوپه توګه په کارراځي اوهغه داوو:

١- له الله سره بل کوم الله مه نيسئ ،په عبادت ،بندګۍ ،اطاعت اودفرمانبردارۍ په حقوقو کې دې هېڅوک له هغه سره شريک ونه ګڼل شي.

٢- دموراوپلارعزت اوطاعت دې وشي البته په هغه ځای کې چې دهغوی اطاعت دخدای له اطاعت سره ټکرکوي بيادې دهغوی اطاعت ونه شي ).

٣- دخپلوانو،مسکينانو اومسافرانو حقوق دې ورکړل شي. په ټولنه کې چې يو انسان پربل انسان کوم حقوق لري په هغوکې دې بې پروايي اوغفلت نه کېږي اوپه سمه توګه دې اداء کړل شي ،ځکه چې بې له دې نه دتمدن بنسټ نه شي ټينګېدلای .

٤- بې ځايه لګښت دې ونه شي خدای رابخښلي نعمتونه په غلطه طريقه مصرفول دشيطان کاردی .په کومه ټولنه کې چې خلک په پټوسترګولګښت کوي اويابيخي بخل کوي اودمارپه څېرپرخزانې باندې منجيله وهي هغه هېڅکله نيکمرغه کېدلا ی نه شي .دمال په لګښت اوسپماکې بايد داعتدال لارغوره کړای شي .

٥- دمفلسۍ له وېرې خپل اولادونه مه وژنئ په اصل کې روزي ورکول دخدای(جل جلاله) کاردی اوهغه يې انتظام کوي .تاسې له دې اندېښنې څخه خپل نسلونه مه وژنئ چې هغوی به سباڅه خوري. داډېره لويه ګناه ده اودټولنې لپاره دځان وژنې انتحار) معنی لري.

٦- زناته هم مه نژدې کېږئ .يوازې دانه چې تاسې له دغه پليت اوګنده کارڅخه لرې اوسئ بلکې ټول هغه محرکات چې مودغه ناپاک کارته لمسوي هغه هم پای ته ورسوئ .کومه ټولنه چې له دغې بدۍ څخه پاکه نه وي هغه پخپله خپلې جرړې اوريښې راباسي اوپه ډېره بيړه له تباهۍ سره مخامخېږي .

۷- په ناحقه څوک مه وژنئ .په کومه ټولنه کې چې خلک په امنيت کې نه وي هغه هېڅکله نېکمرغه کېدلا ی نه شي .

۸- له يتيم سره ښه چلندکوئ. کمزوري خلک او هغه چې خپل حقوق پخپله نه شي ساتلای هغوی دمرستي برخمن  مستحق) دي په کومه ټولنه کې چې ددغسي کمزورو خلکودحقوقو ساتنه نه کېږي هغه هېڅکله پرمختګ نه شي کولای .

۹- پرخپلوژمنو تعهدونو) باندې وفاکوئ .دژمنې په اړه به پوښتنه اوپلټنه کېږي،په دې ځای کې هم له ژمنې څخه مطلب ژبه ،قول اووعده ده اوله هغې ژمنې څخه هم چې يومؤمن بنده يې دايمان راوړلوپه وخت له خپل خدای(جل جلاله) سره کوي .

۱۰- په تول کې پيمانه اوترازو پوره اوبرابره ورکوئ .په راکړه ورکړه کې رښتينولي اويودبل دحقوقوخوندي کول دټولنې دامنيت اوسوکالۍ لپاره خوراډېرضروري دي. په کومو خلکوکې چې يوپربل اعتماد نه وي اوبالعموم خلک دنورو دحقوقو په غصبولو پسې ګرځي هلته هېڅکله دنيکمرغی فضانه شي را منځ ته کېدلا ی .

۱۱- په کومه خبره چې موعلم نه رسېږي په هغې پسې مه ورځئ.بې له علمه دنامعلوموخبروپلټل اوبې له وجهې په خيال اواټکلونوسره درايې قايمول همېشه معاملې خرابوي ،هره نېکمرغه ټولنه له دغه عيب ځنې پاکوالی غواړي اوانسان ته دافکر په کاردی چې دهغه غوږ،سترګه اوزړه داټول پوښتل کېږي .

۱۲- پرځمکه باندې په غرور اوتکبر سره مه ځئ. غرور اوتکبردانسان له دېروناوړو اوبدو اخلاقوڅخه رامنځ ته کېږي او انسان دهمدې  عيب له کبله دټولنې لپاره خوراډېرمضرثابتېږي .دخپل منځې اړيکودښوساتلولپاره ضروري ده چې نورخلک دخپل ځان په مقابل کې ذليل اوکم ونه ګڼئ اوله هغوی سره غيرانساني چلند ونه کړئ .

## دهجرت لپاره نغوتې :



دخدای(جل جلاله) داطريقه ده چې کله يوه قوم ته خپل پيغمبرلېږي نوتريوه وخته پورې هغه قوم ته موقع ورکوي چې دهغه خبرې واوري ،فکروکړي اوقبولې يې کړي .په نتيجه کې ځيني خلک دابلنه قبلوي خويوزيات شمېر خلک چې هغوی دمادي اغراضو،دپلارنيکه دپوچ تقليداونفسي غوښتنوپه تور جال) کې راښکېل دي دابلنه ردوي اودښمنی ته يې ملاتړي.لنډه  داچې يووخت داسې راځي چې هغوی په دې پوهېږي چې په قوم کې يې کوموګړو استعداد درلود،هغوی دعوت قبول کړاو نورنو اوس په هغوی کې داسې وګړي پاتې نه شول چې بلنې ته غوږکېږدي اوغوږېږي وکړي .

په داسې پړاوکې قوم له نبي څخه دمعجزو غوښتنه هم کوي اواکثره ددغه قوم په وړاندې معجزې هم ورښيي لکه څنګه چې په دې دوره کې پخپله له حضرت محمد  څخه هم دمعجزوغوښتنه وشوه اوهغه له خپل مبارک ذات څخه ورښکاره هم کړې خوچې له دې ټولوسره سره به بياهم منکران په خپل انکارټينګ ودرېدل نو دافيصله به وشوه چې اوس بايد نبي دقوم له مينځه ووځي ترڅوپردې قوم باندې عذاب نازل شي .

داعذاب خوکله داسمان ياځمکې کوم فطري ځواک لکه دزلزلې،اوبو،باد او داسې نورو په ذريعه وي اوکله بيادغه عذاب دمومنانو په لاس بشپړاوترسره کېږي لکه څنګه چې خدای(جل جلاله) پخپله دبني اسرائيل په سورت کې ددې تګلارې وضاحت کوي اوپه څرګنده وايي چې داخلک به دبدبختی اودښمنی دزياتوالي له کبله دېرژرتاله دې ځای  مکې) څخه په وېستلومجبوروي .که داسې وشول نو دوی به هم دلته په ډاډ اواطمينان سره پاتې نه شي .له تاڅخه دمخه چې موږ څومره پيغمبران لېږلي دي ګردوسره همدغسې چلندشوی دی او اوس به هم پکې څه بدلون نه راځي.

## دتهجددلمانځه اهميت :

له دې حالا توڅخه دخلاصون لپاره يې پرله پسې دلمانځه اوپه ځانګړي ډول دتهجدلمانځه داهتمام لارښوونه وکړه او دهجرت دعايي تلقين کړه چې ای پيغمبره له خپل رب څخه دي دادعاوغواړه چې:  ای ربه ماښه ځای ته

ورسوه، اوله دې ځایه مې په ښه توګه وباسه ،اوپردښمن باندې له خپل لورې نه فتح اونصرت راکړه .) وروسته له دې دازېرى هم ورکړشو چې حق غالب اوباطل له مینځه تلونکی دی. باطل همېشه له مینځه تلونکی وې خوپه دې شرط چې حق په میدان کې شتون ولرې .

تردې وروسته دمکې دکافرانو هغواعتراضونوته چې دضدیت په اساس به یې کول هم ځواب ورکړشواوپه دې توګه لاسونداودلیل پوره شواوپه پای کې دعبرت لپاره دموسیυ دواقعاتویادونه هم وشوه .

## په دې دوره کې دبلنې ځانګړنې :

په دې دوره کې چې دحالا تو په مناسبت قران شریف رانازلېده یوڅه ځانګړنې یې په لا ندې توګه دي :

### ۱- توکل پر الله اوصبر:

دادانسان فطرت دی چې کله دیوه کارلپاره هلې ځلې کوي اونتایج دهغه له هیلوسره سم په لاس ورنه شي نوناهیلی پرې لاسبرې کېږي .دحق دعلمبردارانو لپاره همدغه مرحله ترټولونازکه مرحله وي که چېرې خدای دې نه کادنااميدئ ښکارشوي وای نودابه دهغوی اودهغوی دبلنې لویه ناکامي وای .په دې مرحله کې ثابت قدم اوسېدل اونتایج په بشپړه توګه دخدای توکل ته پرېښودل اوپرله پسې دکارپرمخ بیول داسې خبرې دي چې خوراقوي ایمان ته اړتیالري .خدای تعالی ددې وروستۍ دورې اودهغې دځانګړنې په باره کې هدایات رانازل کړل .تقريباً دپرله پسې ۱۲ کلونوهلوځلو کوم نتایج چې په مخ کې وو یوه امې اومعمولې انسان ورته کله زړه ټینګولای شو. له دومره اوږدې مودې نه وروسته بیاهم له ستونزواوخواشینی سره مخامخېدل خودصبرازموینه ده. له دې کبله دمؤمنانو دزړونو دټینګښت اودحق په لار کې دهغوی داستحکام لپاره ددې دورې ځانګړنوته پوره پاملرنه وشوه .



په دې دوره کې دعنکبوت سورت یوغوره مثال دی .مؤمنانوته پکې په ډاګه وښودل شول چې ابتلاء او ازمیښت خوپه دې لاره کې چې تاسې پرې دتلوپرېکړه کړې ده یولا زمې پړاودی. داهغه محک دی چې ترمښلووروسته دایمان په دعوه کې دربښتینو اودرواغجنوتوپيروربانديې کېدلای شي،خودمؤمنانو له دغه ازمیښت څخه مطلب دانه دی چې کافرانوته په حقیقي معناکې غلبه حاصلېږي .هغوی هم باید په دې پوه شي چې دخدای(جل جلاله) په مقابله کې لوبه نشي ګټلای،لنده داچې حق به خپل ځای نیسي خوپه دې شرط چې پرحق باندې ولاړکسان دخپل صبر اواستقامت له مخې خپل خدای ته ځانونه دمرستې او امداد وړوګرځوي .مؤمنانوته وویل شول چې په دې لاره کې به ډول ډول ستونزې راځي خوتاسې مه خواشیني کېږئ .تردې پخواچې دخدای(جل جلاله) کومو بندګانو د اسلامي بلنې بیرغ اوچت کړی دی هغوی هم له دې حالا توڅخه تېرشوي دي .دحضرت نوحυ دواقعې په یادونې سره وښودلی شوه چې هغه ۹۵۰ کاله په څه ډول صبر اوټینګارسره دخپل قوم دښمني وزغمله په دې توګه حضرت ابراهیمυ،حضرت لوطυ،حضرت شعیبυ ،حضرت صالحυ اوحضرت موسیυ،له دغسې حالا توسره مخامخ شول خوبالاخره حق برلاسی اوباطل میدان پرېښود اوله منځه لاړ.

### ۲- قران یوه معجزه ده :

مخکې یادونه وشوه چې کافرانوبه دمعجزې غوښتنه کوله نو دحضرت محمد اونوروموٴمنانوپه زړونوکې به داهیله ګرځېدله چې کاشکې یوه داسې معجزه څرګندېدلای چې په لیدوسره یې دغوخلکوایمان راوړی وای .ددې غوښتنې په ځواب کې چې خدای تعالی کوم هدایات ورکړل هغه هم دمخه ذکرشوي دي .په دې وخت کې خدای تعالی دخپل وروستي نبي ترټولولویه معجزه ورښکاره اوڅرګنده کړه اوخلکوته یې وویل چې تاسې دکومومعجزوغوښتنه کړې وه پکارده چې لومړی هغه معجزه وګورئ چې هغه دنړۍ دټولواوسېدونکوانسانانولپاره ده اوپه هغې کې دهرعاقل اوپوه انسان لپاره دلارښوونې اسباب شته ،هغه معجزه قران دی اوحضرت محمد ته چې څومره

معجزې ورکړی شوې دي رښتیاخبره خوداده چې ترټولولویه معجزه همدغه قران دی .

ددغې دورې په رانازل شوي سورت  عنکبوت)کې ښودل شوې ده چې په دغومخاطبوکسانوکې څوک په دې نه پوهېده چې له نبوت څخه پخوا پیغمبر  نه کوم کتابي علم حاصل کړی و  اونه په لیک اولوست پوهېده خوله دې سره سره چې هغه کوم کلام وړاندې کوی هغه دومره اوچت اوله داسې حکمتونوڅخه ډک دی چې یو ډېرلوی عالم یې هم ترننه پورې په دې ډول نه شي وړاندې کولای لکه څنګه چې دوی ته دیوه بې لیک لوسته شخص په ژبه وړاندې کېږي،سره له دې بیاهم داخلک دمعجزې غوښتنه کوي .نو ووایه چې دمعجزې څرګندېدنه اونه څرګندېدنه خوزمادرب په حکم کې ده،مګرزه تاسې ستاسې له بدانجام څخه په ښکاره وېروم.البته تاسې ته ددې خبرې غورپه کاردی چې ایازمادنبوت دثبوت لپاره هغه الهي ایتونه کافي نه دي چې زه یې تاسې ته او روم .تاسې غوروکړئ نودر معلومه به شي چې دا ایاتونه دهغوخلکولپاره له یوې مخې رحمت اونصیحت دی چې زړونه یې دایمان له دولت څخه ډک وي اودترلاسه کولو اهلیت یې لري.

پخپله حضرت پیغمبر  قران مجیدته ترټولولویه معجزه ویلې ده ،هغه وایي چې : په پیغمبرانوکې هریوه پیغمبرته خدای تعالی دومره معجزې ورکړې چې په لیدو سره یې خلکوایمان راووړ خوکومه معجزه چې ماته راکړی شوې هغه د قران) وحېه ده چې خدای تعالی پرماباندې رانازله کړې ده .له دې کبله هیله من یم چې دقیامت په ورځ به زماد‌پیروانوشمېرترټولوزیات وي) قران یوه داسې معجزه ده چې هغه تلپاتې اودایمي ده. نورې معجزې موقتي وې اوپای ته ورسېدې،خودامعجزه به ترقیامته پورې وي اوخلک به ځانته راکاږي. دقران پاک دکلام نظم،فصاحت اوبلاغت اوپه هغه کې دداسې غیبوخبرو او وړاندوینو ذکرراغلی دی چې هېڅ انساني ذهن ورته نه شي رسېدلای .دهغه داغېزې قوت،دهغه داحکامواولارښوونوګټورتوب چې تراوسه پورې دانساني ټولنې داقتصادي نظام لپاره په کاراچول شوي دي په دې کچه یې بل کوم اقتصادي نظام نه شي وړاندې کولای اودموضوع له دومره پراختیاسره سره بیاهم دهرډول تضاداواختلاف له بیان څخه خوندي پاتې دی اوترهرڅه لا زیات داچې داټول کلام



دیوه داسې شخص په ژبه اداء شوی چې په اصطلاحي معنی بیخي نالوستی و. داټولې خبرې دقران مجیدپرمعجزه والي باندې داسې دلیلونه دي چې دهغوپه اساس نن هم پرمحمدي نبوت باندې باورکېدای شي اوکېږي .

## ۳- ښکاره اوسپیني خبرې :

په دې دوره کې درانازل شوي کلام یوه ځانګړنه داده چې په دې وخت کې به له کافرانوسره ښکاره اوسپیني خبرې کېدې،له هغوڅخه دا اټکل کېدای شوچې اوس له پوهولواو ښودلوڅخه خبره تېره شوې که یې منئ خواوس یې هم وخت دی ویې منئ که نه نودخپل انکاراوضد دنتائجوسزاته تیاراوسئ.

لکه څنګه چې وویل شول (۱) :  زه دخپل رب له خواراغلی یم ،په یوه روښانه دلیل قایم یم اوتاسې هغه درواغ بولئ چې ددې انکارپه بدل کې کوم عذاب راځي رادې شي مګرزه تاسې ته وایم چې زماپه اختیار کې هغه څه نه دي چې له تاسې سره په بیړه عمل وکړم ،فیصله یې دخدای په لاس کې ده .که خبره زماپه واک کې وای نومعامله کله پای ته رسېدلای شوه دغیبو علم له خدای(جل جلاله) سره دی .هغه پوهېږي چې دکوم کارلپاره کوم وخت مناسب دی هغه ددې خبرې قدرت لري چې کله وغواړي پرتاسې باندې عذاب نازل کړي ).

وروسته بیا په دې لړکې هدایت ورکړشوچې کوم خلک ددین چارې یوه لوبه ګڼي اوهغوی ددنیا په ژوندانه مست دي هغوی په خپل حال پرېږدئ،البته هغوی ته داقران پرله پسې اوروه که یې بیاهم نه مني نوهغوی ته ووایه چې ای خلکو! تاسې په خپل ځای کې هغه عمل کوئ چې تاسې هغه غواړئ ،زه هم په خپل ځای کې عمل کوم.ژربه نتیجه ستاسې مخ ته درشي چې څوک په سمه لارو .

داددې ډول کلام یوه بېلګه ده .سربېره پردې ددې دورې په  وحیه ) کې په ښکاره او واضحه توګه دغه بېلګې مخې ته راځي او داګواکې ددې خبرې اعلان و چې اوس خبره دپرېکړې پړاوته ورداخلېږي .

..........

(۱) وګورئ دانعام سورت له (۶۰-۷۰ او ۱۳۴-۱۳۵ )آیتونه .

## ٤- `دهجرت لپاره تياری :

له دې سره سره ددې دورې په کلام کې بيابيا دهجرت لپاره واضح اوښکاره نغوتې مخې ته راځي لکه څنګه چې دعنکبوت په سورت کې هدايت ورکړی شوچې ای زمابندګانو! يوازې زمابندګي وکړئ که زمادبندګی په سبب تاسي ته دخپل هېوادځمکه تنګه شوې ده نوددې پروامه کوئ زماځمکه ډېره ارته ده .

مطلب داچي کور کهول دې درنه پاتي شي خوزمادبندګی اړيکي دې ونه شلول شي .ديوه ساکښ لپاره چي زياتونه زياته وېره کېدای شي هغه دمرګ وېره ده نويقين ولرئ چي مرګ خودهريوه لپاره دی اوبيابه موږته راوستل کېږئ نو که يوازې زماپه لاره کې مرګ راشي نوبيادکومې خبرې فکردی .چي دصالح عمل او ايمان له شتمنی سره راشئ،په داسي باغونوکي به ارام اوسېږئ .داڅومره ښه اجردی ددغوعمل کوونکو لپاره چي له سختونه په سختوحالاتوکي هم داعمل کوونکي دالله ددين په لاره کي ټينګ اوسي اودخپلوهلوځلوپه هره پړاوکي يوازې پرخپل رب باندې توکل کوي .

بياداوښودل شوه چي دخدای په لاره کي دکور کهول دپرېښودلو دويمه اندېښنه له ستونزونه ډک ژوند تېرول دي ،په دې باب دهغوی ايمان ټينګ کړی شو. هغه داچي په اصل کي درزق چارې دخدای په لاس دي،وګورئ په ځمکه کي څومره ژوي دي چي خپل رزق په خپلولاسونو نه شي اوچتولای خو خدای(جل جلاله) هغوی ته هم رزق برابروي اوهغوی يې خوري نو اخرتاسي ولي دهغه له رزاقيت نه داسي ناهيلي کېږئ چي هغه به تاسي ته رزق نه درکوي .

سربېره پردې ددې دورې په يوه بل سورت بنی اسرائيل ) کي دهجرت لپاره تعليم ورکړی شو،ويي ويل دعاګاني وغواړئ چي : ای ربه ! مابنه ځای ته ورسوه اوله مکي څخه مو په ښه نوګه راوباسه اوله خپل لوري نه پردښمنانو باندې فتحه اونصرت راکړه او ای پيغمبره اعلان وکړه چي حق راغی اوباطل له منځه ولاړ،باطل له منځه تلونکی دی .



لنده داچي دا او داسي نورې هغه نغوتې وې چي ددې دورې په کلام کي پيداکېږي .په دې کلام کي خوله يوې خواددې راتلونکي اوښتون لپاره اشارې کېدلي اوله بلې خواله هغوحالاتو څخه دژغورنې لپاره دتياري ضرورت و چي په کراتو به ورسره مخامخېدل ؛پراخرت باندې بشيريقين ،ددنيادنعمتونو هوا اوهوس له زړونو څخه ويستل،خالص توحيد اودهغه غوښتني په صحيح توګه ذهن ته سپارل،په زړه کي پرته له الله نه بلې کومې اسرې ته ځای نه ورکول،يوازې همغه ذات ته په بشپړه توګه اسره کول ،کوم هدايات چي دالله له لوري رانازلېدل بې له کم وزياته پوره وړاندې کول اود دغوتولو کارونو دودې اوپرمختګ لپاره لمونځ واسطه کول اودې لوري ته پوره پاملرنه اوداسي نور اساسات ووچي دمسلمانانو دروزنې لپاره رانازلېدل اوله دې سره سره به په د غو سختوحالاتوکي هم هغوی ته ددين دتبليغ لپاره ضروري هدايات ورکول کېدل.

# اوومه برخه

## هجرت :

- مدينې ته دټولومسلمانانو هجرت
- دحضرت محمد دوژنې قتل ) مشوره
- له مکې څخه وتل
- دثورغارته پناه وروړل
- مدينې ته تشريف راوړل
- په مدينه کې مېشت کېدل
- دنبوي جومات ودانول
- ورورولئ مواخات )



په اسلامي اصطلاح کې يوازې دالله ددين په خاطرخپل هېواد پرېښودل اويوه بل داسې ځای ته ورتلل چې هلته ددين غوښتنې بشپړېږي،هجرت باله شي.ديوه مسلمان لپاره جائزه نه ده چې هغه مازې دکاروبار،کوراوجايداد يادخپلولیٔ اوقرابت په خاطرپه يوه داسې ځای کې پښې ټينګې کړي چې هلته ورته داسلامي ژوندتېرولو اودالله ددين دبلنې ورکولوازادي نه وي .

دلته پردې خبرې باندې پوهېدل پکاردي چې که چاد الله پردين باندې ايمان راوړی وي نوهغه ته ترکفري نظام لا ندې ژوند يوازې په دووصورتونو کې رواکېدلای شي: يوداچې په دغې ځمکه کې داسلام دبرلاسي کولو اودکفري نظام دنسکورولو او پرځای يې داسلامي نظام دټينګښت لپاره هلې ځلې وکړي ،لکه څنګه چې په مکه کې مسلمانان پاتې شول اوپرله پسې يې هلې ځلې کولې او ددې کارپه مقابل کې يې هرډول ستونزې ګاللې .دويم داچې په رښتياسره له هغه ځايه دوتلو لارونه مومي ياهغوی ته بل کوم داسې ځای په لاس ورنه شي چې هلته داسلامي ژوندتېرولواوداسلامي نظام دټينګښت لپاره هلې ځلې وکولای شي. (۱)

خوچې کله يوداسې ځای په لاس ورشي چې هلته ددين غوښتنې پوره کېدای شي لکه څنګه چې په هغه وخت کې دمدينې پرځمکه باندې داهيلې ترسره شوې وې نو په دې صورت کې يوازې هغه خلک دبخښنې

..................................................................................

(۱) داخبره په پام کې ولرئ چې دهجرت لپاره د دارالاسلام موجوديت شرط نه دی دکفر داحکامو له اطاعت څخه ښه داده چې يومسلمان دځان ژغورنې لپاره کوم ځنګله يا غره ته لاړشي اوهلته ژوند تېر کړي . دمسلمان له نظره د دين دژغورنې اهميت تر هر څه زيات دی .

وړدي چې هغوی بشپړ معذور او اړوي اوپه هېڅ ډول دسفرکولو وړنه وي که هغه دناروغۍ له کبله وي یاد مفلسۍ او بې وسۍ.

## مدينې ته دټولو مسلمانانو هجرت :

کله چې په مدينه کې اسلام تريوې اندازې پورې خپورشو،نو په دې وخت کې ټولو هغومسلمانانو ته چې په مکه کې دکافرانو له خو ځو ر ېدل ددې خبرې اجازه ورکړل شوه چې مدينې ته هجرت وکړي، له دې سره سم دمسلمانانو دهجرت دمخنيوي لپاره کافرانو نورهم خپل مظالم پسې زيات کړل او هرډول کوښښونه يې وکړل چې داخلک دهغوی له منګولونه خلاص نه شي مګر مسلمانانو خپل مال،سراو اولاد په خطرکې واچاوه اود الله ددين لپاره يې دخپل هېواد پرېښودنه غوره وګڼله اوهېڅ ډول څواک اودمال حرص دهغوی د ارادې خنډ ونه ګرځېدل،ورو وروګې شمېر صحابهτ مدينې ته لاړل خوله حضرت محمد سره حضرت ابوبکرτ اوحضرت علیτ پاتې شول اویاداسې مسلمانان پاتې شول چې دمفلسۍ له کبله اړوو اوسفريې نه شوای کولای .

## دحضرت محمد  دوژنې قتل) مشوره :

کله چې دنبوت ديارلسم کال پيل شونوتردې وخته پورې يوزيات شمېر صحابه و مدينې ته هجرت کړی و،داوخت قريشو وليدل چې په مدينه کې دمسلمانانو ځواک زياتېږي اوهلته اسلام خپرېږي ،نوهغوی اندېښمن شول اوپه بشپړه توګه يې داسلام دله منځه وړلو لپاره تدبيرونه او فکرونه سنجول. پرعمومي قومي مسائلوباندې يې دفکرکولولپاره دمشورې يوځای  دارالندوه) ټاکلی و،هلته دهرې قبيلې مشران او نامتو سرداران راغونډشول اودافکريې وکړ چې اوس ددې نهضت دله منځه وړلو لپاره څه بايد وشي،يوشمېر خلکودامشوره ورکړه چې محمد  دې په زنځير وتړل شي اوپه يوه کوټه کې دې بندي کړی شي ،مګردامشوره په دې سبب ونه منل شوه چې ځينو خلکو وويل کېدای شي چې دحضرت محمد  ملګري دهغه دخلاصون لپاره راشي اوموږيې په مقابل کې ماته وخورو. يوه مشوره داوه چې هغه دې له خپل ټاټوبې څخه وشړل شي ،خوداهم



ددې لپاره ونه منل شوه که دی کوم ځای ته لاړ شي هلته به دپيروانوپه پيداکولو بوخت شي اونهضت به يې پرله پسې پرمخ ولاړشي .په پای کې ابوجهل دامشوره ورکړه چې له هرې قبيلې څخه دې يويوځوان وټاکل شي اوداټول دې په يوځای پرحضرت محمد  باندې حمله وکړي اوهغه دې ووژني په دې ډول به دهغه وژله قتل) په ټولو قبيلوباندې وويشله شي اودهاشم کورنۍ به يوازې له دې ټولوقبيلوسره دجنګ مقابله ونه شي کړای .دغه رايه ټولو ومنله اوپه پای کې ددې کارلپاره يوه شپه وټاکل شوه اوداپرېکړه وشوه چې ټاکل شوي کسان به ټول دهغه له کورڅخه چاپېرېږي .کله چې هغه له خپل کورنه دباندې وځي نودوی به خپله دنده سرته رسوي .په عربوکې دشپې له مخې په ناخبرۍ دچاکورته ننوتل نامنلی اوبدکارګڼل کېده.خدای تعالی داسې وکړل چې حضرت محمد  يې ددښمنانوپه پټوتدبېرونوپوه کړاودوحيې په ذريعه ورته حکم وشوچې اوس ته هم مکه پرېږده اومدينې ته ځه .په دې ډول يې له هجرت څخه دوې ورځې دمخه حضرت ابوبکرτ سره مشوره وکړه اوداپرېکړه وشوه چې حضرت محمد  به له ابوبکرτ سره سفرکوي.ددې خبرې لپاره داوښانوتجويزونيول شو اولږغوندې دلارې څوری هم واخيستل شو .

## له مکې څخه وتل :

دقريشوکافرانو چې کومه شپه دحضرت محمد  دوژلولپاره ټېره کړه .رسول الله  په دې شپه حضرت علیτ راوغوښت او ورته يې وويل چې پرمادهجرت حکم شوی دی .زه به نن شپه مدينې ته ورځم. له ماسره دډېروخلکو امانتونه دي داهغوی ته وروسپاره اوته نن شپه زماپه بسترکې څمله ،ترڅوکتونکي په دې ډاډه اوسي چې زه په کورکې موجوديم .

که څه هم دقريشوکافران دهغه دوينو تږي وو،خوبيايې هم هغه يوداسې امين اوديانت دارګاڼه چې خپل امانتونه اومالونه به يې راوړل اوحضرت محمد ته به يې اېښودل .

کفارودشپې دهغه  کورکلابندکړ.کله چې شپه پخه شوه نوهغه په ارامۍ اوډاډينه له کورځنې ووت. په دې وخت کې يې ديٰس سورت ددې آيت  فاغشيناهم فهم لايبصرون) ١) تلاوت کاوه اويوډک موټی خاوره يې

واخيستله اوبيايي شاهت الوجوه مخونه دي ادل بدل شي) ووايه اودکفاروخواته يي وشيندله اودهغوی له منځه ووت په دې وخت کې دخدای تعالی په قدرت سره پرکافرانو باندې داسي غفلت راغی چې حضرت محمد يې له منځه تېرشو خودوی ونشوليدلای. بيادحضرت ابوبکرτ کورته ورغی اودهغه په ملګرتياله مکې څخه ووت اودثورغارته يې پناه يووړه .

............................................................................................
(۱) فاغشينا هم فهم لا يبصرون (يس سورت -۹ آيت)

## دثورغارته پناه وروړل :

دحضرت ابوبکرτ زوی عبدالله نوی زلمی) و دشپې به له هغوی سره اوسېده اوګهيځ به ورغی ترڅوداپته ولګوي چې کفاراوس څه مشورې کوي .څه معلومات به يې چې ترلاسه کړ هغوی دواړه حضرت محمد اوحضرت ابوبکرτ ) به يې هم پرې خبرول .دحضرت ابوبکرτ مريي به په شپه کې دوزوشدې وروړلې يابه يې له کوره ځنې يوڅه خواړه ور رسول .په دې ډول سره هغوی تردرې ورځوپورې هلته واوسېدل .

ګهيځ چې قريشووليدل چې حضرت محمد له مکې څخه هجرت کړی دی نوډېراندېښمن شول او اخوا دېخوايي په هغوی پسي هلې ځلې اومنډې رامنډې ووهلې يوځل ان تردې چې په کوم ځای کې حضرت محمد پټ شوی و دهمغه غارترخولې پورې هم ورغلي وو. دهغوی دښکالو اورېدلونه حضرت ابوبکرτ اندېښمن شو. دانه چې هغه خپل ځان په خطرکې وليدبلکې په دې خاطرچې دخدای رسول ته څه تکليف ونه رسېږي .حضرت محمد چې دده وېره وليدله نوپه پوره ډاډسره يې هغه ته تسل ورکړ او ويې ويل :

**لاتحزن ان الله معنا)** توبه )

مه غمجن کېږه خدای(جل جلاله) له موږسره دی .

همداسي هم وشول .دخدای تعالی په حکم دغارپه خوله کې داسي علامې اونښې (۱) پيدا شوې چې کافرانو وليدلې نوفکريې وکړچې

په دې غارکې څوک ننوتي نه دي له دې کبله دقريشو کافرانو اعلان وکړکه چېرې هرچاحضرت محمد موږ ته په ژوندون اويامړينه راووست نوهغه ته به سل ۱۰۰) اوښان انعام ورکړل شي.ددې انعام اعلان چې هرچااورېدلی و هغوی يې په لټه کې شول دلته اوهلته يې پسي وځغاستل.

............................................................................................
(۱) ويل کېږي چې دغار په خوله کې غنې خپل تارونه غځولي وو او کوترې ځاله جوړه کړې اوهګۍ يې پکې اچولې وې دليدونکو(کفارو) يقين راغی چې په غارکې له ډېروخت را هيسې څوک نه دي داخل شوي.

سپېڅلی ژوند

## مديني ته سفر:

څلورمه ورځ حضرت محمد دثورله غارنه راووت ،يوه شپه او ورځ يې پرله پسي سفروکړ.حضرت ابوبکرτ لادمخه د دوواوښانوتياری نيولی و .چې په غوښوپېټ وو .دلاربښووني لپاره يې هم يو تن پيداکړی و. کله چې دويمه ورځ دغرمې په وخت ډېره ګرمي شوه نوديوه پاڼ په سوري کې يې لږ غوندې آرام وکړ،هلته نژدې يوشپون پيداشو .دهغه دوزوپی يې وڅښلې اوبياله هغه ځايه وخوځېدل ناڅاپه يوه سړي سراقه بن جعشم ) په همدې وخت کې هغوی وليدل ،دی دانعام په هيله په هغوی پسي راوتلی و. کله چې هغوی يې وليدل خپل اس يې ورپسي وځغلاوه ،اس تيندک

وخوړاو ولويد .بيايي ځان سنبال کړاودحملې لپاره چمتوشو،کله چې مخ په وړاندې لاړ دخدای په قدرت دده اس ترزنګنوپورې په مځکه ښخ شو .داوخت سراقه غمجن شواوفکريې وکړچې ولې معامله بل ډول ده اوزه پرحضرت محمد باندې بريدنه شم کولای نوبې له ځنډه يې له خپلې وېرې نه رسول الله ته ځان تسليم کړاودامان غوښتنه يې وکړه حضرت محمد هغه وبخښه او امان يې ورکړ.دا هم دهغه يوه معجزه وه .

## مدينې ته تشريف وروړل :

مدينې ته د دوی له ورتګ نه پخواد دوی خبر رسېدلی و اوټول ښار يې راتلوته سترګې په لار و. کوچنيان اولويان به هره ورځ ګهيځ دوختته له ښاره راوتل اودباندې به راتولېدل اوتر غرمې پورې به سترګې په لاروو اوبيابه بېرته ستانه شول .لنډه داچې په کومه ورځ دی مبارک راغی ، منتظرينوله لرې دهغه دراتلونښې اوعلامې وليدلې،له ټول ښارنه دتکبير انګازې پورته شوې

اودمنتظرینو زړونه وغوړېدل ،له مدینې نه ددرې میلو په واټن دقباپه نامه یوځای دی،هلته دانصارودېرې کورنۍ ابادې وې په دوی کې دعمروبن عوف کورنۍ ترټولوممتازه اوغوره وه اوکلثوم بن الهدم یې مشرو .دغه نیکمرغي ددغې کورنۍ په برخه وه چې د دوارو جهانونو سردارترټولومخکې دهغوی مېلمستیا قبوله کړه اوپه قباکې دهغوی په کورکې میشت شو .حضرت علیτ هم له درې ورځوسفرنه وروسته راورسېد اوپه همدې ځای کې دېره شو.

حضرت محمد دنبوت په دیارلسم کال دربیع الاول دمیاشتې په اتمه چې د۶۶۲ دستمبر ۲۰ سره سمون خوري قباته ورغی .په قباکې دهغه لومړی کاردیوه جومات ودانول وو.هغه په خپل مبارک لاس دجومات بنسټ کېښوداوله نوروصحابه و سره یې یوځای دجومات په ودانولوکې برخه واخیسته .په قباکې له څوورځوستنېدونه وروسته دمدینې په لوروخوځېد.دجمعې ورځ وه چې په لارکې دبني سالم په کلي کې دماسپښین دلمانځه وخت شو اودادجمعې لمانځه لومړی خطبه اولومړی لمونځ و چې دلته یې اداء کړکله چې مدینې ته ورغی دهر سرښندونکي داهیله وه چې دهغه دمېلمستیا ویاړ ورپه برخه شي .هره قبیله ورته راتله اوویل به یې چې ای پیغمبره! داکوردی ،دلته واوسېږئ) دخلکو دمینې اومحبت یوه ځانته نړۍ وه چې هرزړه دهغه دلارې فرش واوپه هرچاکې دسرښندنې ولوله راپارېدلې وه .ښځې به پرباموںو ختلې اوویل به یې :

| | |
|---|---|
| طلع البدر علینا | سپوږمی پرموږراختلې ده |
| من ثنیات الوداع | دوداع غره له کنډوڅخه |
| وجب الشکر علینا | پرموږدخدای شکرواجب دی |
| مادعی لله داع | تــــــرڅوچې دعاغوښـــــتونکي ددعا غوښتنه کوي |

معصومونجونو به داریاواهه او ویل به یې :

| | |
|---|---|
| نحن جوارمن بني النجار | موږدنجاردکورنۍ نجونې یو او) |
| یاحبذامحمدامن جار | محمد څه ښه ګاونډی دی |

محمد له هغو نجونونه پوښتنه وکړه ایاتاسې له ماسره مینه لرئ؟) هغوی وویل هو!) ده وویل زه هم له تاسې سره مینه لرم .)

## په مدینه کې مېشت کېدل :

دکوربه والي ویاړ به دچاپه برخه شي؟دایوه داسې پوښتنه وه چې تصفیه یې اسانه خبره نه وه .حضرت محمد وویل زمااوښ چې دهرچادکورمخې ته ودرېد هغه دې داخدمت ترسره کړي .په دې توګه داویاړ دحضرت ابوایوب انصاريτ په برخه شو.دا اوس چې په کوم ځای کې نبوي جومات دی له هغه سره جوخت دهغه کورو. داکوردوه پوړیزو.پورتنی پوړیې حضرت محمد ته وړاندې کړ،خوهغه دخلکودتګ راتګ داسانتیالپاره لاندینی پوړغوره کړ اوپورتنی پوړدحضرت ابوایوب اودهغه دمېرمنې په برخه شو .

حضرت محمد اووه میاشتې همدلته تېرې کړې ،وروسته له دې چې کله دنبوي جومات ترڅنګ دهغه لپاره کوټنۍ حجرې ) جوړې شوې نودی هلته لاړڅوورځې وروسته یې دکورنۍ وګړي هم مدینې ته راغلل.

## دنبوي جومات ودانول :

په مدینه کې له مېشت کېدونه وروسته ترټولو لومړی اوضروري کاردیوه جومات ودانول وو. دی چې په کوم ځای کې اوسېده ترڅنګ یې د دوویتیمانو یوه ټوټه ځمکه پرته وه .دهغې بیه یې ورکړه اوداځمکه یې ترلاسه کړه .اودجومات دودانولوپه کارپیل وشو په دې وخت کې حضرت محمد هم دمزدورانوپه څېرله هغوی سره یوځای کارکاوه اودرنې درنې تیږې به یې راوړلې .

دغه جومات په ساده توګه جوړشو. دیوالونه یې داوموخښتووو .چت یې دکجوروله پاڼونه جوړو.ستنې یې دکجورو تنې وې .دجومات قبله بیت المقدس خواته وه ځکه چې تردې وخته پورې لاهمدغه قبله وه کله چې قبله کعبې خواته شوه نوپرهماغه بنسټ جومات هم ترمیم کړای شو دجومات ځمکه خامه وه

سپېڅلی ژوند

.دباران پر وخت به پکې چکړ اوختې وې،لږه موده وروسته یې ځمکه په تېږو وپوښل شوه .دجومات په یوه سرکې یوه سرپټې چوتره وه چې صفه) بلل کېده .داځای دهغوخلکولپاره وو چې اسلام به یې راوړ اوکورمور به یې نه درلود .

کله چې نبوي جومات جوړ شونوترڅنګ یې دپاکو بي بیانولپاره هم کوټې جوړې شوې .داهم داوموخښتواودکجوروله کېږوڅخه جوړې شوې وې .داکوټې په شرعي ګز په برشپږشپږ اوپه اوږ دولس لس ګزه وې چت یې دومره جګ و چې سړی به ودرېدنولاس به یې ور رسېده په دروازو به یې دکمپلوپردې ځوړندې وې .دحضرت محمد دکورترڅنګ چې کوم انصاراوسېدل دخوراک څښاک لپاره به یې هغه ته یوڅه شدې ورلېږلې .کله نګولی اوکله نورڅه. بس په همدې توګه یې ژوندله تنګسیاسره تېرېده .

## ورور ولۍ مواخات) :

په مکه کې چې کومومسلمانانو خپل کورکهول پرېښوداومدینې ته راغلل،تقریباً ټول بې شتواوبې سامانه خلک وو. په هغوی کې شتمن خلک هم وو خوخپل مال یې له مکې څخه راوړای نه شو .او ټول شیان یې هلته پرې ایښي اوپخپله راغلي وو. که څه هم داټول مهاجر دمدینې دمسلمانانومېلمانه وو خوپه هرحال هغوی ځانته دانتظام ضرورت احساساوه .دې خلکو دخپلولاسونو په تګاکوژوندترسره کول غوره کارګڼه په دې توګه کله چې دنبوي جومات ودانۍ سرته ورسېده نوحضرت محمد یوه ورځ انصار راوغوښتل او هغوی ته یې وویل چې دامهاجرین ستاسې ورونه دي بیابه یې یوتن له انصارو اویوتن له مهاجرو څخه راوغوښت او وبه یې ویل چې اوس تاسې دیوبل ورونه یئ .په دې ډول ټول مهاجرین دانصارو ورونه دي. اودخدای(جل جلاله) دامخلص بندګان چې په حقیقت کې سره ورونه وو لا زیات ورونه اودیوبل دوستان شول .انصارو خپل مهاجرین ورونه خپلوکورونو ته بوتلل اودخپل ټول جایداد اوسامان حساب یې دهغوی مخ ته کېښود او ویې ویل چې نیم یې ستاسې اونیم یې زموږ.دباغونوحاصلات،دکښت پیداوار،دکوراسباب،کوراو جایداد لنډه داچې هر څه یې برابر دورونوپه څېرووېشل شول اودابې کوره مهاجرین چې کوم وخت



پرځای ډاډمن شول وروسته له دې نورو ډېرو مهاجروهم پرکاروبار پیل وکړ. دکانونه یې پرانېستل اوپه نورو کارونو لګیاشول .په دې ډول دمهاجرو دبسیاکېدوکارترسره شواوله دې لارې هم ډاډه شول .

# اتمه برخه

## اسلامي بلنه په یوه نوې دوره کې :

- له یهودو سره معاهدې
- منافقان
- دقبلې بدلون

له هجرت څخه دمخه به چې دمکې مشرکانوته داسلام بلنه ورکول کېده دادهغوی لپاره یونوی شی و، مګروروسته له هجرت نه چې په مدینه کې یهودان ورسره مخامخ شول هغه داوچې داخلک پرتوحید،رسالت،اخرت،پرښتو،وحیې اونوروباندې قایل وو او دیوه پیغمبر موسی(υ) دامت له امله دراالېږل شوي شریعت دمنښت مدعیان هم وو. په اصل کې ددوی دین هغه اسلام و چې حضرت محمد یې بلنه ورکوله خودابله خبره وه چې دڅوپېړیو بې باکیوپه سبب بې شمېره بدۍ پکې پیداشوې وې اودهغوی ژونددخدایي اصل شریعت له قوانینوڅخه ازاد او لرې شوی و اوسلګونه ډول بدعتونه ،تصرفات او دودونه پکې داخل شوي وو .له دوی سره به ارومروتورات و،خوپه هغه کې یې ډېرزیات بشري کلام ځای کړی و اوکه چېرې پکې څه خدایي احکام هم پاتې وو هغه به یې دخپل زړه په غوښتنه



دتاویلونو اوسپړنو تشریحاتو) په قالب کې اچول اوله یوه شي نه به یې بل شی جوړکړی و. دخدای له دین سره یې اړیکه ډېره کمزورې اوسسته شوې وه اوپه ټولیز ډول په هغوی کې دبدۍ داسې جرړې ټینګې شوې وې چې دخدای(جل جلاله) کوم بنده به کوم وخت هغوی ته دلاربښوونې لپاره ورغی نودهغه یوه خبره به یې هم نه اورېدله بلکې هغه به یې خپل ترټولولوی دښمن ګاڼه اودهغه داواز چوپولولپاره به یې هرډول کوښښ کاوه که څه هم داخلک په حقیقت کې داصل له مخې مسلمانان) وو خو داوخت دومره بې لارې شوي وو چې هغوی پخپله هم په دې نه پوهېدل چې اصلي دین یې کوم و .

له دې امله په هغه وخت کې داسلامي نهضت کاریوازې خلکوته ددین داصولوداساسي تعلیم وروپېژندنه نه وه بلکې په هغوی کې ددیني روح دبیاراژوندي کولو کارهم و ،ځکه چې هغوی په یوه لحاظ منحرف شوي مسلمانان) وو.سربېره پردې له څلوروخواومدینې ته دراغلومسلمانانوراټولول اودمهاجرینو اودمدینې دانصارو لپاره دیوه وړوکي شانته اسلامي ریاست بنسټ اوتاداوابښودل هم وو داځکه چې تراوسه پورې خونهضت یوازې دبلنې داصولو،دعقایدو داصلاح اودځینو نورو اخلاقي تعلیماتو بشپړهدایات ورکړي وو ،مګرپه دې وخت کې دژوندکولو دلاروچارو اصلاح اود انتظامي قواعدواو خپل منځي اړیکو د سمون لپاره قوانینوته اړتیاوه په دې ډول دغه اړخ ته هم پاملرنه وشوه .

په دې وخت کې یوبل لوی بدلون داو چې تراوسه دکفرپه چاپېریال کې داسلام بلنه ورکول کېده اوهلته پاتې مسلمانانو به دکافرانو ظلمونه زغمل خوپه دې وخت کې مسلمانانو یوځپلواک غوندې حکومت جوړکړی و چې له څلوروخواو څخه دکفرپه منځ کې ایسارو او دامهال یوازې دځورولو اواذیت ورکولو معامله نه وه بلکې ټول عرب دې خبرې ته چمتو ووچې ژرترژره دغه یوموټې مسلمانان له منځه یوسي ،ځکه چې له هغوی سره داوېره وه که چېرې داسلام دغه نوی مرکزقوي اوپیاوړی شي نوبیابه دهغه دمخنیوي لپاره هېڅ چاره پاتې نه شي ځکه نوپه دې وخت کې پخپله ددې اسلامي ټولګي اونهضت دحفاظت لپاره دااړتیاوه چې :

۱- په پوره جوش او ولولې سره دې دخپل مسلک تبلیغ وکړي،دهغه حقانیت دې په دلا ئلوسره ثابت کړي او هڅه دې وکړي چې زیاتونه زیات خلک خپل هم فکره کړي.

۲- مخالفین چې په کوموعقایدوپورې کلک نښتي دهغوی غلطي دې په دلا ئلوسره ثابته کړي ،داددې لپاره که یوڅوک غواړي چې دعقل په رڼاکې پرخبره پوه شي نودهغه لپاره اصل حقیقت ته درسېدوپه لارکې دې هېڅ ستونزې ونه اوسي .

۳- دکورکهول پرېښودلواوکاروبارله سرته رسولونه وروسته چې کوم خلک دې نوي ریاست ته راځي او را ټولېږي ،نه یوازې داچې دهغوی دپیوستون کوم انتظام دې وکړی شي بلکې دهغوی داسې ایماني او اخلاقي پالنه دې وشي چې دتنګسیااوبې اطمینانۍ په حالت کې هغوی له پوره صبرسره دحالا تومقابله وکولای شي .اوپه ډېرسخت حالت کې هم دهغوی قدم ونه ښوییږي .

۴- مسلمان دې د دې خبرې لپاره چمتوکړل شي چې کله د دوی دله منځه وړلولپاره دښمن حمله کوي ،سره له دې کمزورتیااوبې سروسامانۍ دې بیاهم په پوره جرائت سره دهغه مقابله وکولای شي اودخپل مسلک په رښتینولۍ اوپرخدای باندې داسې یقین اوتوکل ولري چې په هېڅ یوه میدان کې ترې مخ وانه ړوي .

۵- دتحریک په علمبردارانوکې دومره همت پیداکړی شي چې کوم خلک له پوهې سره سره بیاهم دهغه اقتصادي نظام دټینګښت مانع ګرځي کوم چې اسلام یې جوړول غواړي ،نوهغوی دې په زورسره له منځه یووړل شي .

## له یهودوسره معاهدې :

دمدینې څلورو خواو ته دیهودوکلي پراته وو.هغوی ته داسلامي بلنې په ورکولوسربېره ددې خبرې اړتیاهم وه چې دهغوی دسیاسي اړیکونوعیت دې وټاکل شي .کله چې دمکې قریش پوه شول چې مسلمانان له مکې څخه لاړل نوهغوی نه یوازې داچې ډاډه کښې نه ناستل بلکې چې همداویې لیدل چې په مدینه کې دمسلمانانو یومنظم ټولګی جوړېږي نوداسلام د دغه مرکز دله منځه وړلولپاره یې په خپل زور اوطاقت سره په تدبیرونو اوسوچونوپیل وکړ،نوځکه ددې خبرې اړتیاپیداشوه چې دمدینې څلورو خواوته دیهودو کوم کلي پراته وو ،مسلمانان دې له هغوی سره خپلې سیاسي اړیکې په ښکاره ډول تعین او وټاکي ترڅودمکې دمشرکانو دحملې په وخت په دې پوه شي چې دیهودوزورکومې خواته دی .په دې ډول یې له هغوقبیلوسره خبرې اترې پیل کړې چې دسره سمندرګي دغاړې اومدینې ترمنځ ابادې وې په دوی کې یې له ځینوڅخه دناپییلتوب ژمنه واخیسته یعنې که دمدینې پرمسلمانانوباندې قریش اویانورخلک یرغـــــــل کوي نوداخلک به نه د مسلمانانوپه ملګرتیاجنګیږي اونه به دمسلمانانو له دښمنانوسره ملګر تیاکوي اوله یوشمېرنوروقبیلوڅخه یې هم داتعهدواخیست که چېرې پر مسلمانانو باندې څوک یرغل وروړي نوهغوی به له مسلمانانوسره ملګرتیاکوي .

## منافقان :

په مدینه کې چې اسلامي نهضت داوخت له کوموحالا تو سره مخامخ وله هغوی څخه یوه ډېره مهمه مسئله دمنافقانوهم وه. دمکې په وروستۍ دوره کې خوډېرداسې خلک په اسلامي ټولګي کې شامل شوي وو چې داسلامي بلنې پرحقانیت باندې پوره پوهېدل مګردخپل ایمان دکمزورتیاپه سبب یې خپلې دنیوي اړیکې داسلام په خاطرنه شوای پرېښو دلای .دسوداګرۍ،کرهنې اوخپلولۍ بندیزونه به ډېرځله دهغوی داسلامي غوښتنو په مخ کې خنډونه ګرځېدل مګرپه مدینه کې داسې ډېرمنافقان هم په اسلامي ټولګي کې ننوتي وو چې په واقعیت کې هغوی له اسلام نه بیخي منکروو،خویوازې دفتنې پیداکولولپاره دمسلمانانوپه منځ کې ننوتي وو اویوشمېر داسې کسان هم وو چې داړتیاله کبله یې خپل ځانونه مسلمانان ښودل خوپه زړونوکې پراسلام باندې ډاډه اوخواټولي  خاطرجمع)نه وو خوځنګه چې دقبیلې یاکورنۍ یوزیات شمېرکسان یې مسلمانان وو دهمدې اړتیاله کبله هغوی هم په مسلمانانوکې ځانونه شامل کړي وو. سربېره پردې داسې مهال پالي  موقع پرست) خلک هم په دې ټولګي کې وو چې له یوې خوایې دمسلمانانو په ملګرتیاکې د خپلو دنیوي ګټودترلاسه کولو فکرکاوه اوله بلې خوایې له کافرانو

سره هم لاره درلوده. دي خلکودافکرکړی و که داسلام اوکفرپه اخ و ډب کي اسلام بريالی شي نودوی ته به داسلام په دايره کي امن پيداشي اوکه چېرې ميدان کفروګاټه نوپه هغه وخت کي به هم د دوی ګټي ساتل شوې وي .

داسلامي تحريک لپاره دلستوني دغه ماران دپوره ستونزولاملونه وو اوله هغوی څخه ژغورنه اسانه خبره نه وه .په مدينه کي چي ددغوخلکو دفتنوپه مقابل کي څنګه کارونه وشول په راتلونکي کي به يې په مناسبوځايونوکي يادونه وشي .په دې وخت کي دې خبرې ته په کلکه اړتياوه چي دغسي منافقان او داسلام په لارکي ربنتيني اود ژور فکر لرو نکي مؤمنان بايد ديوبل په مقابل کي وپېژندل شي ځکه چي دامهال مسلمانان له هغوحالا توسره مخامخ وو چي دې خبرې ته يې پوره اړتيادرلوده چي کوم خلک تراوسه پورې دزړوتعصباتو اوله اسلام نه پرته دنورو خيالا تومريان وو اويا دهغوی په ايمان کي کوم اړخ کمزوری و،هغه ترې چاڼ اوجلاکړی شي .

## دقبلي بدلون :

تردغه وخته پورې داسلام قبله بيت المقدس و .مسلمانانوبه هغې خواته مخامخ لمنځونه کول .له بيت المقدس سره ديهودو اړيکه خورا ډېره نژدې وه ،يهودوبه هم هغې خواته لمنځونه کول .ددويم هجري کال دشعبان دمياشتي واقعه ده چي دلمانځه په وخت کي دقبلي دبدلېدلوحکم رانازل شو اودبيت المقدس پرځای کعبه دمسلمانانو قبله وګرځېدله .په دې توګه حضرت محمد  دلمانځه په وخت خپل مخ له بيت المقدس څخه واړاوه  اوکعبې ته مخامخ شو.دغه پېښه داسلامي نهضت په تاريخ کي خورامهمه پېښه وه .پخپله خدای(جل جلاله) دهغې داهميت يادونه په دې الفاظوسره کوې:

موږچي کعبه ستاسي قبله وګرځوله دهغې سبب دادی چي داڅرګنده شي چي څوک دپيغمبرپيروي اوڅوک ترې په شاګرځېدونکی دی).

''البقره''

سربېره پردي  ددې خبرې اعلان هم وچي تراوسه پورې خود دنيااخلاقي او ايماني لاربنوونه يهودوته سپارل شوې وه خو اوس داله هغوی څخه



اخيستل کېږي ځکه چي هغوی يې حق اداء نه کړای شو او د دې نعمت پرقدر پوه نه شول نو اوس دهغوی پرځای دغه خدمت مسلمان امت ته ورکول کېږي او دافريضه به سرته رسوي .

ددې پېښي اغېزه داوه چي ددې ګڼ شمېرخلکو له ډلي څخه دچاپه زړه کي ايمان ځای نه درلود هغوی افشاشول اودرسول الله  په دې کاريې سختي نيوکي وکړې اودابنکاره  او واضحه شوه چي دهغوی دريځ په اسلامي ټولنه کي څه ډول دی ؟ په دې توګه يوزيات شمېرزړه نازړه مسلمانان له اسلامي ټولني څخه جلاشول اوترډېره حده پورې له دغسي وګړوڅخه اسلامي ټولنه پاکه شوه .

# نـــهــمــه بــرخــــــه

## داسلامي نهضت دفاع :

- قريشوته خطر
- دقريشوروغه جوړه
- پرقريشوباندې خج
- دحضرمي وژل

- دبدرغزا
- دقریشویرغل
- دمسلمانانوتیاری
- له مدینې څخه دمسلمانانولښکر
- دجنګ ډګر
- دجنګ پیل
- دقریشوماته
- دبدرغزاپایلې او اغېزې
- دبدرپرجنګ تبصره اودمؤمنانوروزنه
- داحدغزا
- اسباب
- دکمزورتیاجرړه
- دقریشووړاندې تګ
- دمنافقانو دوکې
- دکمکیانوولوله



- دلښکرترتیب
- دقریشوساز اوسامان
- دجنګ پیل
- دشاله خوادقریشویرغل
- دالله مرسته اوسوبه
- درضوان بیعت
- دسولې تړون
- دپیلیزې ماتې سببونه اودمسلمانانوروزنه
- توکل
- دمال مینه
- دبري ضمانت
- داسلامي نهضت اصلي محرک
- دقبایلوتعهد ماتول
- دیهودي عالمانو اومشرانو مخالفت
- دبني قینقاع غزا

- **دکعب بن اشرف وژل**
- **دبني نضيرو اخراج**
- **داحزاب غزا**
- **دخندق کيندل**
- **دکفارويرغل**
- **دالله(جل جلاله) مرسته**
- **دالله(جل جلاله) پرفضل توکل**
- **دايمان د دعوې ازموينه**
- **دکمزورتياجرړه**
- **دخدای رسول دتقليدوړيېلګه**

- **دبنوقريظه وپای**
- **دحديبيې سوله**
- **دکعبې دزيارت سفر**
- **له قريشوسره خبرې اترې**

سپېڅلی ژوند

- **دحضرت ابوجندل واقعه**
- **دحديبيې دسولې اغېزې**

په مکې مکرمه کې (١) چې کله دمديني ګڼ شمېرخلکودعقبه په مقام کې دحضرت محمد په لاس بيعت کړی و نوله حضرت محمد نه يې داغوښتنه هم کړې وه چې ته اوستاملګري مديني ته تشريف راوړئ په دې وخت کې په ښکاره داخطر په مخ کې و چې ددې بيعت اوغوښتنې حيثيت په حقيقت کې دمدينه والوله خوا ټولوعربوته دجنګ يواعلان دی په دې توګه له بيعت کوونکوڅخه يوه مشربن عبادهτ چې خپلوملګروته په خطاب سره کوم الفاظ ويلي وو تراوسه پورې په تاريخ کې خوندي اوهغه دادي :

پوهېږئ ! له دغه شخص سره دڅه شي بيعت کوئ؟ تاسې چې دده په لاس بيعت کوئ دټولې نړۍ جنګ په بيه اخلئ. له دې کبله که ستاسې خيال داوي چې کله ستاسې مال اوستاسې اشراف له تباهۍ اوهلاکت سره مخامخېږي،نوبيا به هغه دښمنانوته حواله کوئ نوښه داده چې له همدې اوسه يې پرېږدئ. داځکه ،قسم په خدای چې دا د دنيااواخرت رسوايي ده اوکه چېرې ستاسې اراده داده چې دخپلومالونو اوخپلواشرافوله تباهۍ اوهلاکت سره سره بياهم له هغه سره وفاکوئ نوبې شکه له هغه سره بيعت وکړئ .په خدای سوګندی چې دا د دنيا اواخرت ګټه ده)په دغه وخت کې د وفد)ټولوغړوپه اتفاق سره وويل چې موږ له هغه سره بيعت وکړ ددې

..........................................................................................

(١) دلته داشک اوشبهه پکارنه ده چې په اسلام کې دې جنګ يوازې د دفاع لپاره وي بلکې کله چې د دين غوښتنه وي . نو دحق دپرمختګ لپاره هم باطل قوت ته ماتې ورکوي.
دغسې جنګونه د اسلامي غورځنګ په وروستيو دوروکې رامنځ ته شول چې وروسته به يې ذکرراشي.

لپاره چمتويو چې خپل مالونه اواشراف دتباهۍ او هلاکت په خطرکې واچوو).
اوس نوهغه وخت رارسېدلی و چې دمدينه والو ددغې دعوې ازموينه واخيستل شي.

## قريشوته خطر:

مدينې ته دمسلمانانواوحضرت محمد له ورتګ څخه مطلب دا و چې دامهال داسلام لپاره هلته داوسېدويوځای وربرابر شوی و اوهغه مسلمانان چې په صبر،ټينګار اوصداقت سره بيابيا ازمويل شوی وو.ديوه منظم ټولګي بڼه يې غوره کړې وه .قريشوته دايو ډېرسخت خطرو .په دې وخت کې يې په ډاګه ليدل چې داسلامي ټولګي دارنګه تنظيم په حقيقت کې دجاهلي نظام دمړينې پيغام دی ،پرته له دې هغوی له يوبل خطرسره هم مخامخ وو چې دوی يې تلولي اوخواخپورې کړي وو.دمکه والودژوندلويه ذريعه دشام اويمن سوداګري وه .شام ته چې کومه تجارتي لار دسره سمندرګي په غاړه تېره شوې وه ،مدينه هم په همدې لاره کې واقع وه.په مدينه کې دمسلمانانوله قدرت نېولو څخه يو مطلب داوچې له شام سره دقريشودسوداګرۍ معامله هغه وخت ترسره کېدای شي چې له مسلمانانو سره ښې اړېکې ټينګې کړي اويابياپوازې په هغه صورت کې له دې لارې دسوداګرۍ مال تېرولای شي چې په مدينه کې دمسلمانانو ځواک په بشپړه توګه وټکولی شي .همدغه سبب وچې قريشوله هجرت نه مخکې ډېره زياته هڅه وکړه چې په مدينه کې مسلمانان سره يوځای اوراټول نه شي خوچې کله دهغوی داتدبيرناکام شو نو داپرېکړه يې وکړه چې په هرډول کېدای شي بايد دغه راپيښ شوي خطرونه دتل لپاره له منځه يو وړل شي .

## دقريشوروغه جوړه :

عبدالله بن ابی دمدينې يوسردارو. مدينه والودده دپاچاهۍ لمانځلولپاره تياری نيولی و.خوچې کله دمدينې خلکوپه اسلام منلوپيل وکړ اوله مکې څخه حضرت محمد اومسلمانانو مدينې ته تشريف راووړ نو داتجويز سرته ونه رسېد



او دعبدالله بن ابی هيلې په اوبولاهوشوې. په دې وخت کې مکه والو هغه ته ليک ولېږه چې : تاسې زموږ يوه سړي ته په خپل ځای کې پناه ورکړې ده ،موږ په خدای سوګنديادوو چې لومړی خوتاسې پخپله له هغه سره وجنګېږئ اوهغه له خپل ځای نه وباسئ .که نه موږبه ټول پرتاسې باندې حمله وکړونرينه به مو ووژنو او ښځې به مو وينځې کړو).

دغه ليک دعبدالله بن ابی دټوټه شوو هيلو لپاره يوڅه ډاډينه وه خوحضرت محمد سرله وخته ددې شردمخنيوي لپاره هغه په دې وپوهوه چې اياته به خپلوزامنواو ورونو سره جنګ وکړې؟) څنګه چې دانصارو يوه زياته برخه مسلمانان شوي وو نو عبدالله داړتياله کبله له خپلو بدو ارادو څنې راواوښت
.

په همدغه وخت کې دمدينې رئيس سعدبن معاذ دعمرې لپاره مکې ته لاړ، دحرم په دروازه کې له ابوجهل سره مخامخ شو،ابوجهل ورته وويل: تاسې زموږددين مرتدانو مسلمانانو) ته پناه ورکوئ اوموږ به تاسې پرېږدو چې ډاډه له مکې نه طواف وکړئ ؟ که چېرې تاسې داميه بن خلف مېلمانه نه وای نوله دې ځايه راځنې ژوندی نه شوای تلای ) سعدچې داخبرې واورېدلې په ځواب کې يې ورته وويل : په خدای سوګنددی که تاسې موږ له دې څخه منع کړئ تاسې به له هغه څه نه منع کړوچې تردې زيات ستاسې لپاره مهم دی يعنې پرمدينه باندې چې ستاسې لارده له هغې به مومنع کړو) ګواکې دا ددې خبرې اعلان و که چېرې قريش کوم شرارت کوي نوپکارده چې دهغوی پرتجارتي لار باندې بنديزولګول شي.

## پرقريشوباندې خج فشار)

په دې وخت کې چې قريشودمسلمانانو اواسلامي نهضت دله منځه وړلولپاره کوم تجويز ونيو دمسلمانانو په نظردهغوی دمغلوبولو اومجبورولو لپاره تردې غوره بله کومه لارنه وه چې مسلمانان دې دغه لارپه خپله ولکه قبضه) کې راولي او دهغوی پرمخ دتجارت پرلارې باندې بنديزولګوي ،دايوداسې خج فشار) و چې دمکې خلک يې پرې مجبورولای شول ،لکه څنګه چې دمخه يادونه

شوي ده چي حضرت محمد  دغي لارې ته له نژدې اوسېدونکويهودي قبيلوڅخه دمختلفو معاهدو دلاېتر لاسه کړ اوبيايي دقريشوقافلوته دوېرې اوټکان ورکولو لپاره کله کله دمسلمانانو دوړو وړو ډلګيوپه لېږلوپيل وکړ. که څه هم ددغو ډلګيو له خواهېڅکله څه ژوبله اوقتل ونه شو اونه کومه قافله لوټ شوه مګرد دوی لېږدونې هغوی په دې ښه پوه کړل که چېرې په دې ډول څوک قدم ږدي په دې دې هم فکروکړي چې وضعه څرنګه ده .که هغوی مسلمانان په تنګوي نوله خپلې تجارتي لارې نه دې هم لاس ومينځي .

## دحضرمي وژل :

په دې دوره کې به حضرت محمد  له حالا تو سره سم دخبرتيا لپاره هڅه اوکوښښ کاوه ترڅوداڅرګنده شي چې قريش څه ډول تجويز نيسي د دويم هـ کال درجب دمياشتې واقعه ده چې حضرت محمد  عبدالله بن جحش له دولسوتنوسره بطن نخله ) خواته ولېږه. دغه ځای دمکې اوطائف ترمنځ پروت دی. هغه  حضرت عبدالله ته يوليک ورکړ اوويې فرمايل چې دوې ورځې وروسته يې پرانيزه ،حضرت عبدالله له همدې ويناسره سم ليک پرانيست. په کې يې ليکلی وو چې په نخله نومي ځای کې استوګن شه اودقريشودحالا توپته لګوه اواطلاع راکوه ). نابېره دقريشويوشمېر کسان له شام څخه را روان وو اودتجارت مال يې راووړ،حضرت عبدالله پرهغوی باندې يرغل وروړ اوله هغوی څخه يوتن عمروبن الحضرمي ووژل شو،دوه تنه نوريې دبنديانوپه توګه ونيول شول اودغنيمت مال هم په لاس ورغی .حضرت عبدالله مدينې ته ورغی اوددې پېښې دبيان په ترڅ کې يې دغنيمت مال دحضرت محمد  حضورته وړاندې کړ خو هغه  د ډېرې خواشينی په څرګندولوسره وويل :  ماخوتاسې ته دا اجازه نه وه درکړې اودغنيمت دمال له قبلولونه يې انکاروکړ) په دې پېښه کې وژل شوی حضرمي )اودوه تنه بنديان له ډېرې درنې اومعززې کورنۍ څخه وو له دې کبله پردغې پېښې باندې قريش خوراډېرپه غوسه شول اودوينو دبدلې او کسات بنسټ کېښودل شو.



# دبدرغزا

دغه ډول حالات ووچې د دويم هجري کال دشعبان په مياشت د  ٦٢٣ع کال په فروري يامارچ) کې دقريشو يوه ډېره لويه قافله چې نژدې دپنځوسووزرو اشرفيومال ورسره و له شام څخه بېرته راغله اوهغې سيمې ته ورنژدې شوه چې دمسلمانانو په کنترول کې وه .قافلې سره له دېرش څلوېښت تنوساتندويانوزيات نه وو. اود دې وېره ورسره وه هسې نه چې دمدينې نژدې سيموته له رسېدو وروسته مسلمانان پردوی باندې حمله وکړي ،دقافلې مشرابوسفيان و. ده چې داخطر درک کړيوتن يې په منډه مکې ته ورولېږه چې له هغه ځايه مرسته واخلي .څنګه چې دغه سړی مکې ته ورغی چيغه يې کړه چې مسلمانان قافله لوټوي  ورمنډه کړئ دمرستې لپاره ورمنډه کړئ ) قافلې سره چې کوم مال و زيات يې په هغوکسانوپورې اړه درلوده چې بيايوه قومي مسئله ترې جوړه شوه. په دې توګه له دغې چيغې سره دقريشوټول لوی لوی مشران دجنګ لپاره راووتل اونژدې زروتنوځوانانوڅخه يولښکرجوړشو.دې لښکرله پوره اوکوب  شان اوشوکت) او ولولې سره حرکت وکړچې اوس نودمسلمانانوله منځه وړل پـــــکاردي ،ترڅوچې دادهرې ورځــــې جنجال پای تــــه ورســـېږي . له يوې خوادمال دژغورلوغوښتنه وه اوله بلې خوادزړې دښمنۍ اوتعصب ولوله،څکه نو دغه خلک په بشپړلېونتوب اوغضب سره ديرغل لپاره مدينې ته وخوځېدل .

## دقريشويرغل :

هلته حضرت محمد  ته هم ددغوحالا تواطلاعات رسېدل،هغه محسوسوله چې که قريش اوس پرخپلوارادوباندې بريالي شي او د مسلمانانو دغه نوي ټولګي ته ماتې ورکړي نوداسلامي نهضت د پرمختګ سوال به په بشپړه توګه کروړ اومشکل شي اوکېدای شي چې داسلام غړ دتل لپاره ټپ شي تر اوسه پورې لامدينې ته ددوی دراتګ دوه کاله نه وو پوره شوي،مهاجرينو خپل ټول شته په مکه کې پرې اېښې او تش لاسي وو. انصار دجنګ په

چاروکي بې تجربې وو. دیهودو ډېرې قبیلې هم دمخالفت لپاره چمتو وې. یوه ډېره لویه مسئله پخپله په مدینه کې دمنافقانو او مشرکانو شته والی و. په دې وخت کې ددې خبرې اندیښنه وه که چېرې قریش پرمدینه باندې حمله وکړي نو کېدای شي چې دمسلمانانو دغه وړوکی ټولگی ختم شي او که چېرې حمله هم ونه کړي او په خپل زور سره قافله بچ او تېره کړي نو په دې ډول به هم مسلمانان نا هیلي شي چې گانده اینده ) به بیا دغوشاوخوا قبیلو ته دمسلمانانو دمغلوبو لو هیڅ اندیښنه پاتې نه شي او دقریشو په نغوته به دمسلمانانو پر ځورولو باندې لاس پورې کړي. دلته به یهود،منافقان او مشرکان هم سر راپورته کړي. له دې کبله حضرت محمد دا پرېکړه وکړه چې اوس څومره ځواک هم لرو هغه راواخلئ چې ډگرته ووځو او دا پرېکړه وشي چې دژوند کولو حق دچا دی او دچانه.

## دمسلمانانو تیاری :

له دې پرېکړې نه وروسته حضرت محمد مهاجرین او انصار راټول کړل او ټول حالات یې هغوی ته څرگند او وښودل،هغه دا چې له یوې خوا دمدینې شمال ته تجارتي قافله ده او له بلې خوا سهیل ته دقریشو لښکر راروان دی. دالله ژمنه دا وه چې له دغو دواړو څخه به یو تاسې ته په لاس درشي. ووایئ چې تاسې له کوم یوه سره مقابله کول غواړئ ؟ په ځواب کې یې ګڼ شمیر صحابه و داغوښتنه څرگنده کړه چې پرقافله باندې دې یرغل وشي خود حضرت محمد را یه بله وه ځکه یې بیا خپله پوښتنه تکرار کړه. په دې کې له مهاجرینو څخه یو تن صحابي مقداد بن عمرτ را پاڅېد اوویې ویل : یا رسول الله ! کومې خوا چې ستا رب تاته حکم کړی هغې خواته ځه،موږ ستا ملگري یو. موږ داسرائیلو په شان نه وایو چې : " ته او ستا خدای دواړه ولاړ شئ جنگ وکړئ موږ به دلته ناست یو " (۱) مگر په دې معامله کې دوروستۍ رایې له ټینگولو نه مخکې دانصارو درایې څرگندونه ضروري وه ځکه حضرت محمد هغوی نیغ په نیغه مخاطب کړل او خپله پوښتنه یې تکرار



کړه. په همدې وخت کې سعد راپاڅېد اوو یې ویل: "یارسول الله ! موږ پر تا ایمان راوړی دی او تصدیق مو کوو. ددې خبرې
شهادت ورکوو چې تا څه راوړي هغه حق دي. ستا داطاعت پوخ تړون مو کړی دی نو ای دالله رسوله ! ته چې کومه اراده لرې هسې وکړه،قسم په هغه ذات دی چې ته یې په حقه رالیږلی یې که ته مو سمندر ته واچوې له موږ څخه به یو هم غاړه ونه غړوي. موږ به په جنگ کې ثابت قدم او سو. په جنگ کې به دسر ښندنې رښتینولۍ وښیو او لرې نه ده چې الله زموږ له خوا تاته هغه څه وښیې چې په لېدو سره یې ستا زړه آرام شي نو دالله دبرکت په هیله موږ له ځانه سره بوځه "
.

له دې وینا نه وروسته دپرېکړې له مخې دقافلې پر ځای دلښکر مقابلې ته وخو ځېدل مگر دغه پرېکړه څه معمولي پرېکړه نه وه. دمسلمانانو ټولگی دقریشو په مقابل کې بیخي کمزوری و. دجنگ وړ کسان څه دپاسه درې سوه تنه وو. په دوی کې دوه درو تنو آسونه درلودل او داوښانو شمیره هم تر ۷۰ ) و زیاته نه وه. دجنگ پوره سامان هم نه و،بوازې اوو تنو زغرې درلودلې. له دې کبله پرته له یولړشمېر کسانو نور په زړونو کې وېرېدل او هغوی ته داسې څرگندېده له چې گواکې پخپله دمرگ خولې ته ور درومي. دانفال سورت دا لاندې آیتونه دغه انځور په دې توگه وړاندې کوي :

**کما اخرجک ربک من بیتک بالحق و ان فریقاً من المؤمنین لکار هون یجادلونک فی الحق بعد ما تبین کانما یساقون الی الموت وهم ینظرون. واذ یعدکم الله احدی الطآئفتین انها لکم و تودون ان غیر ذات الشوکة تکون لکم و یرید الله ان یحق الحق بکلمته و یقطع دابر الکفرین لیحق الحق و یبطل الباطل و لو کره المجرمون .**

لکه څنگه چې ای پیغمبره ! ستا خدای ته په حقه له خپل کورنه وویستلې حال دا چې دمسلمانانو یوه ډله په دې کار ډېره ناخوښه وه. دغه ډله تاسره دحق له څرگندېدلو نه وروسته هم جگړه کوي. گویا لکه چې دوی مرگ خواته بیول کېږي او دوی مرگ په سترگو ویني او هغه وخت په یاد کړئ چې خدای له تاسې سر ه وعده کوله چې له دوو ډلو څخه به یوه ستاسې په لاس درشي

او تاسي دا غوښتل چي ضعيفه ډله دي ستاسي شي مگر دخدای اراده دا وه چي حق په خپل حکم ثابت کړي او دکافرانو ريښي غوڅي کړي تر څو حق،حق شي او باطل،باطل.

### له مديني څخه دمسلمانانو لښل :

له دي نا انډوليو سره سره ددويم هجري کال دروژي مياشتي په ۱۲ ) مه حضرت محمد دخدای(جل جلاله) په توکل کابو ۳۱۳ ) تنو مسلمانانو سره له مديني نه راووت او نيغ په نيغه دجنوب لويديځ پر هغه لاره لاړ چي دقريشو لښکر له هغي خوا را روان و. دروژي په ۱٦ )مه بدرته نژدي ورسېدل. بدر ديوه کلي نوم دی چي دمديني منوري جنوب لويديځ ته نژدي د۸۰ ميلو په واټن پروت دی. کله چي مسلمانان هلته ورسېدل نو خبريالانو ورته دا خبر ورکړ چي دقريشو لښکر دناوي هغي بلي څنډي ته را رسېدلی دی نو له دي کبله يي دحضرت محمد په حکم همدلته واړول.

په دي ځای کي دقريشو له حاله خبر شول چي هغوی له ډير ساز او سامان سره راغلي دعسکرو شمير يي له زرتنو نه زيات او نژدي ۱۰۰ تنو رئيسانو پکي گډون کړی دی او دخپل لښکر لپاره يي ډير ښه انتظام نيولی،عتبه بن ربيعه يي دلښکر ستر مشر و.کله چي دقريشو لښکر بدرته نژدي شونو داسي ورمعلومه شوه چي ددوی تجارتي قافله دمسلمانانو له خطر نه روغه تېره شوې ده له دي کبله دزهره او عدي قبيلو مشرانو وويل : "اوس جگړي ته اړتيا نشته " مگر ابو جهل ونه منله. په دي توگه دزهره او عدي قبيلو خلک بېرته لاړل او نور لښکر پر مخ ولاړ.

### دجنگ ډگر :

دجنگ په ډگر کي چي کومي برخي قريشو لاندي کړي وې دموقعيت په لحاظ ډېري ښې او ځمکه يي کلکه وه. خو په کوم ځای کي چي مسلمانان دېره شوي وو ځمکه يي شگلنه وه او دمجاهدينو پښي به پکي ښخېدلې. دشپې ټولو مجاهدينو په ارامه خوب وکړ خو حضرت محمد ټوله شپه په وينه او دعا تېره



کړه. دروژي په اوولسمه دسهار لمانځه نه وروسته يي دجهاد په اړه وعظ وکړ او دجنگ له اصولو سره سم يي دلښکرو ليکي برابري کړي په همدغه کال روژه فرض شوې وه او دايو اريانوو نکی ازميښت و چي دروژي په همدي لومړي کال ددښمن ددرې برابره لښکرپه مقابل کي دجنگ لپاره چمتو شول. په همدي شپه دوه داسي کاره وشول.چي دالله تعالی دکرم ځانگړي څرگندوی وو يو خو دا چي مسلمانانو ته په ارامه خوب ورغی او سهار په تازگی او هوسايئ سره له خوبه پاڅېدل دويم دا چي په دي شپه باران وشو او له دي کبله دغه شگلنه ځمکه دمسلمانانو لپاره پخه شوه او ښه ډگرتري جوړ شو.او ددې پر خلاف په کوم ځای کي چي دقريشو لښکر و هغه خټه شوی و او پښي به يي پکي ښخېدلي .بله دا چي دمسلمانانولپاره کوچني کوچني ډندونه هم جوړ شول تر څو دغسل،اوداسه او نورو اړتياو لپاره په آرامه تري کار واخلي. له دي کبله دمسلمانانو له زړونو څخه وېره او ډار لري شو او په پوره ډاډېينه دمقابلي لپاره چمتو شول.

### دجنگ پيل :

کله چي دواړه پوځونه يوله بل سره مخامخ شول،دا يوه حيرتناکه منظره وه.چي يوې خواته پرالله باندي ايمان لرونکي اوپرته له الله(جل جلاله) دبل چادبندگی اواطاعت نه منونکي ۳۱۳ تنه مسلمانان وو او دجنگ بشپړسامان هم ورسره نه و اوبلي خواته دکفارو زرونه زيات پوځ په سازوسامان اوزغروپټ اوسنبال و .اودافيصله يي کړې وه چي دتوحيد غږ به دتل لپاره چوپ اوغلی کوي .په دغه وخت کي حضرت محمد خدای(جل جلاله) ته ددعاالاسونه اوچتوي اوپه پوره عاجزئ اوزاری دا دعاکوي چي: ای الله ! داقريش دي ،دخپل غرورله سامان سره راغلي دي ترڅوستارسول درواغجن ثابت کړي نو ای الله! هغه مرسته راسره وکړه چي تايي وعده کړې وه .ای الله! که دغه يوموټی خلک ووژل شي نوبيابه دځمکي پرمخ ستاعبادت اوبندگي چېرې ونکړی شي).

په دي جنگ کي ترټولوسخته ازموينه دمهاجرووه .ځکه چي هغوی له خپلوورونو،زامنو اوخپلوانوسره په جنگ وو.دچاتره دچاماما اودچا ورور دتوروخولوته وړاندي شوي وو او هغوی په خپلولاسونو دخپل زړه ټوټي غوڅولي

،دې سختې ازموينې ته هغه خلک درېدلای شول چې هغوی په رښتيا اودزړه له کومي له خپل خدای(جل جلاله) سره ژمنه کړې وه چې له خپلو خپلوانوسره به مخامخېږي اوله هغوی سره به جنګېږي اوهغه څوک به وژني چې دهغه دوژلوحکم ورته شوی دی که څه هم هغه يې له نژدې دوستانوڅخه وي خودانصارود ازموينې ستونزې هم له هغوی نه کمې نه وې تردې وخته پورې خودعربو دکافرانو اودمکې دمشرکانوله نظره د دوی جرم!) بس همدومره و چې دهغوی دښمنانويعنې مسلمانانوته يې پناه ورکړې وه مګر اوس خويې په ښکاره داسلام ملاتړ کاوه اوله کفاروسره دجګړې لپاره راوتلي وو .مطلب داچې دوی دخپل ملک مدينې) په سبب دټولوعربو دښمن شوي وو،په داسې حال کې چې په مدينه کې ترزرو زياتې کورنۍ نه وې. هغوخلکو داهمت کولای شو چې په زړونو کې يې دخدای(جل جلاله) اودهغه درسول بشپړه مينه وه اوپراخرت باندې يې ټينګ ايمان درلود که نه نوڅوک کولای شي چې په دې توګه خپل مال اوشتمنۍ،خپلې ښځې اوبچيان دټولو عربودښمنۍ اوخطرته واچوي .

## دقريشوماتې :

دادايمان هغه درجه ده چې کله ترلاسه شي نوبيادالله مرسته راځي او اورمروراځي لکه څنګه چې دبدرپه ډګرکې هم له هغو ۳۱۳ تنومسلمانانوسره خدای تعالی مرسته وکړه اوپه مقابل کې يې له زرونه زيات لښکرته داسې ماتې ورکړه چې دقريشوټول قوت مات شو.دبدرپه جنګ کې له قريشوڅخه نژدې ۷۰ تنه مړه او همدومره بنديان شول .په دې جنګ کې کابودهغوی ټول رئيسان ووژلی شول چې شيبه، عتبه، ابوجهل، زمعه ،عاص او اميه يې په ځانګړې ډول سره ديادولووړدي. د دغو رئيسانو دمړينې له کبله دقريشوملاماته شوه اوله مسلمانانو څخه شپږ تنه مهاجر او اته تنه انصارپه شهادت ورسېدل .په جنګ کې چې کوم خلک بنديان شوي وو دوه دوه او څلورڅلور پرصحابه و باندې وويشلی شول او دالارښوونه ورته وشوه چې له هغوی سره ښه سلوک وکړي په دې توګه اصحابو دغه بنديان ارام اوهوسا ساتل او دېرځله به يې تکليفونه په خپله غاړه اخيستل خوهغوی ته يې ربړ او تکليف نه ورکاوه .د دې ښه سلوک له امله دهغوی



زړونه داسلام لپاره نرم شول او دا ددې تحريک لپاره ترټولولوی بری و.وروسته بياله دې بنديانوڅخه يوه زيات شمېرفديه په بدل کې يوڅه مال) ورکړه اوخوشې کړی شول .څوک چې يې وژلي وو.خوپه ليک اولوست پوهېدل هغوی په دې شرط ازاد کړی شول چې لسوتنو هلکانوته به ليک لوست ورښيي .

## دبدر دغزا نتايج او اغېزې :

دبدرجنګ دخپلونتايجو او اغېزو له کبله دېرمهم جنګ و.دغه جنګ په اصل کې دالهي عذاب لومړنۍ برخه وه چې دمکې کفاروته داسلامي بلنې دنه منلو په سبب ورکړی شوه.دې جنګ راوښووله چې دژوند کولوحق په اصل کې دچادی ،دکفردی که داسلام اوراتلونکي حالات به څرنګه وي،په دې اتبار داداسلام په تاريخ کې لومړنی جنګ ګڼل شوی دی،انفال سورت په پوره تفصيل سره د دې جنګ په باب تبصره کړې ده خودغه تبصره له هغوټولوتبصروسره بيخي توپيرلري چې دنيوي پاچايان او جنرالان يې په عمومي توګه ديوه جنګ له فتحې نه وروسته کوي .

ددې تبصرې ځانګړنې داسې دي چې لږ.شانته په تفصيل سره نظراچول ورته ضروري دي ځکه چې په هغې کې داسلامي نهضت مزاج اودمسلمانانو دروزنې پرپروګرام باندې ښه رڼااچول شوې ده .

## دبدرپرجنګ باندې تبصره اودمؤمنانوروزنه :

**لومړی :** لکه څنګه چې مخکې يادونه وشوه له اسلام نه دمخه په عربوکې جنګ خوراپه زړه پورې کاروبار و،په جنګ کې چې به هغوی ته مال دغنيمت مال) په لاس ورته له هغه سره به يې بې کچه مينه درلوده اودېرځله به د دغسې مال ولوله دجنګ سبب شوه مګرداسلام له نظره دجنګ موخه هدف) له مال او دولت څخه دېره لوړه وه او دې مقصد ته په زړه کې ځای ورکول هم ضرور وو.

دبدرجنګ لومړنی جنګ و چې په هغه کې دمسلمانانو دا ازموينه اخيستل کېده چې ايا داسلامي جنګ اصول او اخلاق په پوره ډول دهغوی زړو

نوته راپرېوتي دي اوکه تراوسه پورې په یوه نه یوډول دغیراسلامي جنګونو تصورات یې په زړونو کې شتون لري. دبدرپه جنګ کې چې کوموخلکو ته دکفارومال په لاس ورغی هغوی له خپل زاړه دود سره سم هغه خپل ملکیت وګاڼه اوکوموخلکوچې کفار ځارل اویا دحضرت محمد په ځارنه کې بوخت وو هغوی ته څه په لاس ور نغله په دې توګه دمسلمانانو ترمنځ زړه بداوی پیداشو. په همدې وخت کې داسلامي نهضت بلندویان وروزلی شول لکه څنګه چې دوی ته لاتر ټولو دمخه ښکاره او وښودلی شوه چې دغنیمت مال په اصل کې دجنګ بدله نه ده. بیاهم دانفال سورت وګورئ یعنې دادخدای له لوري یوانعام اوسوغات دی چې سرببېره پراصلي اجورې داهم ورکول کېږي .دخدای په لارکې د جنګ اصلي بدله هغه ده چې خدای تعالی یې په اخرت کې ورکوي خودلته چې څه په لاس راځي هغه دچاحق نه بلکې دخدای تعالی یواضافي بخشش دی نوځکه ددې بخشش په اړه دبرخې کوم سوال نه پیداکېږي .دا ټول شیان دخدای او دهغه درسول دي نوهغه بایدهمغسې وویشل شي لکه څنګه چې دمخه یې اصول بیان شوي دي .په دې ډول دجنګ په لړکې یوه ډېره لویه اخلاقي اصلاح رامنځ ته شوه .

مسلمانانو ته دتل لپاره وښودل شوه چې هېڅکله دې د دنیوي ګټې دترلاسه کولو لپاره توره نه اوچتوي ،بلکې د دنیاداخلاقي انحراف دسمون اودغیر الله له مربیتوب نه دالله دبندګانو دژغورنې په خاطرمکلف دي چې خپل ځواک په کاروا چوي. کله چې ګوري ددښمن ځواکونه د ده داوازچوپولو لپاره له خپل ځواک نه کاراخلي اونورنو دبلنې اوتبلیغ په ذریعه دهغوی اصلاح ناممکنه ده،له دې کبله په کارده چې دمسلمان نظرتل داصلاح لپاره وي اودهمدې موخې لپاره یې اراده هم کړې ده ،نه دهغومادي ګټولپاره چې دهمدې مقصد دترلاسه کولوپه پایله کې حاصلېږي .

**دویم :** په اسلامي نظام کې دامیراطاعت باید داسې وګڼل شي لکه په جسم کې روح .له دې کبله دبشپړاوپوره اطاعت لپاره دزړونو چمتووالي ته په کراتوپاملرنه وشوه لکه څنګه چې د دې جنګ په وخت کې هم دغنیمت دمال په لړکې ترهرڅه دمخه دبشپړ اوپوره اطاعت غوښتنه وشوه او وویل شول چې



داهرڅه دخدای(جل جلاله) اودهغه درسول دي .په دې باب چې هغه څه پرېکړه کوي پر هغې باندې دزړونوخوښي پکارده .

**درېیم :** دعمومي نهضتونو تګلورى داوي چې دخپلو پیروانو اوکارکوونکو دلازیات همت لپاره دهغوی دکارناموپادونه کوي اوپه دې ډول په خلکوکې دشهرت اونوم ګټلوولوله راژوندۍ کوي اوله دې لارې یې سرښندنې اوفداکارۍ ته هڅوي. همدارنګه له لویو جنګونو یاسترو کارنامونه را وروسته خپلوسرښندونکواوکارکوونکوته مخامخ خطابې او تمغې ورکوي،انعامونه پرې وېشي اود هغوی په ویاړ داسې ډول ډول چارې سرته رسوي چې له یوې خوا هغوی دخپلو کارونو دبدلې په موندلوسره ډاډه اومطمئن اوسي اوپه راتلونکي کې تردې لا زیاته سرښندنه ښکاره کړی شي اوله بلې خوا دنوروخلکوپه زړونوکې د دغه لوړ دریځ دترلاسه کولو هیله پیداشي .خواسلامي نهضت دهغوی له تګلوري سره ببخي مخالف دی ،سره له دې چې دمسلمانانو ۳۱۳ تنو مجاهدینودمقابل ځواک ترزرو زیات لښکرته ماتې ورکړه اوله خپلې دغې بې سر اوسامانۍ سره سره یې بیا هم هغه ځواک چې په کراتو تردوی زیات و له منځه یو وړ خو دوی ته داوویل شول چې دا پېښه دې مسلمانان خپله مېړانه او همت نه ګڼي .دایوازې دالله(جل جلاله) فضل و. صرف دهغه دلورېینې اومرحمت پایله نتیجه )وه چې دښمن ته یې ماتې ورکړه .دوی نه غوښتل چې پرخپل ځواک او وسایلوباندې اتکاوکړي .د دوی اصلي ځواک دادی چې پرخدای(جل جلاله) باندې توکل لري اوتل دهغه دفضل په اسره ډګرته راوځي .دجنګ په وخت کې حضرت محمد یوموټی شګې را واخیستې اوشاهت الوجوه مخونه دې ادل بدل شي)یې وویل اوکفاروخواته یې ولونلې اوبیایې یودم په هغوی یرغل ور ووړ اوکافرانو تېښته وکړه. دایوه داسې پېښه ده که نوروخلکوداسې خپل کرامت ښودلی وای نوچې څومره ویاړیې پرې کاوه هغه به هم کم و. اوکه هغوی داسې نه کولای نوپیروانوبه یې په دې اړه ډېرې خبرې جوړې کړې وای مګر خدای تعالی پخپله په قران شریف کې مسلمانانو ته داوښودل چې : تاسې ونه وژل بلکې خدای تعالی ووژل ) اوحضرت محمد ته یې داوویل چې : تانه دي ویشتلي بلکې خدای تعالی

ويشتلي ) اوداچي : خداى(جل جلاله) داكاردډي لپاره كړى و چي مؤمنان دي يوه ډېره ښه ازموينه په برياليتوب سره تېره كړي ).
انفال سورت ١٧) ايت )

مسلمانانوته يې په ښه توګه وروښودله چي په اصل كي دټولو كارونو انتظام دخداى(جل جلاله) په لاس كي دى څه چي كېږي دهغه په حكم او اراده كي وي .دمؤمن كارپرخداى(جل جلاله) باندې توكل او په هرحال دخداى(جل جلاله) اورسول الله پوره پوره اطاعت كول دي. په همدې كي دهغه ازموينه ده .

**څلورم :** په اسلامي نهضت كي جهاد هغه وروستى امتحان دى چي په هغه كي دنهضت دهرعلمبردار پوره اوبشپړه تشخيص كيږي .كله چي دكفراو اسلام كشمكش هغې درجي ته ورسول شي چي مؤمن دبلني اوتبليغ دكارجاري ساتلولپاره دې ته اړشي چي دګرته ورودانګي،نوبياله دګرڅخه بېرته تښتېدل ممكن نه وي .دخداى(جل جلاله) په لاره كي دجنګ له دګرڅخه دتښتني مطلب تر دې اخوابل څه نه دى چي :

ياخو

الف: مؤمن ته خپل ځان ترهغه هدف ډېرخوږدى چي دى دهغه لپاره جنګ كوي .

يا

ب: دهغه ايمان كمزورى دى ځكه چي په اصل كي مرګ اوژوند دخداى(جل جلاله) په لاس كي دي،ترڅوچي دهغه حكم نه وي ترهغي پورې مرګ نه شي راتلاى خوچي كله دهغه حكم وشي نوبيانه شي ځنډېدلاى .

يا

ج: دهغه په زړه كي تردې وخته پورې دخداى(جل جلاله) درضا او اخرت له برې پرته څه نوروهيلوهم وده كړي ده. اوپه اصل كي يې تراوسه دخداى(جل جلاله) ددين قايمولولپاره هېوځان نه دى وقف كړى .

څرګنده ده چي دهغه په ايمان كي له دغوپورته خبروڅخه يوه شامله ده ،په دې توګه نوهغه ته څرنګه بشپړايمان ويلاى شو؟له همدې كبله په دې جنګ كي مسلمانانوته په ډاګه اوښكاره وښودلى شول چي جنګ ته شاړول دمسلمان



كارنه دى حضرت محمد ويلي دي چي درې داسي ګناهونه دي چي دهغوپه كولوسره هېڅ يوه نيكي ورته ګټه نه شي رسولاى : يو شرک بل دمور اوپلارحق تلفول اودربيم دخداى(جل جلاله) په لاركي له جنګ څخه تېښته اوشا اړول .

**پنځم :** كله چي سړى دخداى(جل جلاله) په لاركي په مخ درومي په دې وخت كي كه له دنيوي اړېكوسره دهغه مينه له يوه جائز حدنه اوړي هغه هم كمزورى كيږي .په دې توګه يې مسلمانانوته دمال او اولاد له بشپړ حيثيت څخه خبرورکړاو ويي فرمايل : پوه شئ چي ستاسي مال اوستاسي اولادپه حقيقت كي ستاسي دازمېينښت سامان دى. اوله خداى سره داجرورکولولپاره ډېرڅه شته )
انفال سورت ٢٨)ايت)

دمال اودولت په وركړې سره خداى تعالى مؤمن ازمويي چي اياهغه په سمه توګه په كاراچوي اوكه نه؛هسي نه چي په زړه كي يې دمال محبت دومره زيات شي چي كله دخداى(جل جلاله) په لاركي دهغه دلګولو وخت راشي نوخواشينى اوتنګ شي اويادهغه په زړه كي دحق په هلوځلوكي څه كمزورتياراشي .په دې ډول اولادهم دانسان دازموينې دويمه پاڼه ده.له يوې خوا خوديوه مؤمن لپاره لا زم دي چي دهغوى جايز حقوق داسي اداء كړي چي هغوى دخداى(جل جلاله) په لاركي پوره هڅه اوهاندوكړي اوله بلي خواهغه فطري محبت چي له هغوى سره خداى(جل جلاله) دهرانسان په زړه كي اچولى دى هغه دومره زيات شي چي دخداى(جل جلاله) په لاركي دتلونكولپاره دروندېږتى شي دمال او اولاد په لړ كي همدغه دويمه ازموينه ده چي هرمؤمن بايد دې ته تيارا وچمتووي .

**شپږم :** صبر دهريوه نهضت لپاره د روح حيثيت لري اوداسلامي نهضت لپاره خو ددغه صفت اړتياداسي ده لكه جسم ته دروح .په مكه كي چي مسلمانان له كوموحالا توڅخه تېرشوي وو هلته هم ددې صفت دپيداكولو لپاره خوراډېره پاملرنه شوې وه خوهلته داسي وو چي دمظالمو له ګاللونه پرته نورڅه دمسلمانانو په مخكي نه وو. كله چي اسلامي نهضت دويم پړاو ته راداخلېده نو په دې وخت كي دا انديښنه هم وه چي پخپله دمسلمانانوپه لاس پرچاباندې تېرى ونه شي ځكه نو په دغوبدل شويو حالا توكي هم ددې صفت دپرځاى كولواوپرمختيا

لپاره ټينګاروشو او ويې فرمايل : ای مؤمنانو! کله چې له کومې ډلې سره ستاسې مقابله وي نوثابت قدم اوسئ اوخدای(جل جلاله) ډېريادوئ هيله ده چې بری به ستاسې په برخه شي. دخدای(جل جلاله) او دهغه درسول اطاعت کوئ اوپه خپلوکې جګړه مه کوئ چې سست اوکمزوري به شئ اوستاسې هوابه ووځي قوت به مولاړشي) له صبر نه کارواخلئ .په رښتياچې خدای(جل جلاله) دصبر کوونکو ملګری دی ).

انفال سورت ٤٥-٤٦) ايتونه

دلته دصبر په مفهوم کې لا ندې ټولې خبرې شاملې دي :

١- خپلې ولولې اوغوښتنې موکنترول کړئ.
٢- تلوار،وېرې اوډارنه لرې اوسئ.
٣- هېڅ يوې نامناسبې ولولې اوحرص ته مه ورنژدې کيږئ.
٤- که له خطر اوستونزوسره مخامخيږئ نوپښې موونه رېږدي .
٥- دغوسې ،قهراوغضب په وخت کې کوم غلط کاردرنه ونشي.
٦- که دمصيبتونويرغل اوحالات بل ډول په نظردرشي نو دنارامۍ او و ېرې له کبله مه خواشيني کيږئ.
٧- دمقصددترلاسه کولولپاره مو ولوله دومره زياته نه شي چې په بيړه پرکوم ناقص تدبيرباندې لاس پورې کړئ .
٨- دنيوي ګټې اونفسي حرص دومره مه خوښوئ چې په مقابل کې يې داسې کمزوزتياوښيئ چې دنيوګټواونفسي حرص خواته موجذب اوراکاږي.په دغوبدل شويو حالا توکې دمؤمنانو دصبرازموينه په څه نوروطريقوسره هم وه .

**اووم :** له مقصد سره دمينې غلبه کله کله دومره زياته شي چې په مقابل کې يې انسان دحق او انصاف پوره پوره مراعات نه کوي اودافکر کوي چې دمقصد لپاره په داسې کارکولوکې هېڅ حرج نه شته خوځنګه چې اسلامي نهضت له يوې مخې ټول دحق پربنسټونو باندې ولاړ دی هغه هېڅکله هم خپل پيروان ترحق او انصاف اخواقدم اېښودلوته نه پرېږدي لکه څنګه چې دکفراواسلام ددغه مهم کشمکش په دوران کې



دنورواخلاقي اوتربيتي لارښوونو ترڅنګ مسلمانانوته له دښمنانوسره هم دسياسي ژمنوپه باب لارښوونې وشوې چې هغه له يوې مخې دحق اوانصاف پربنسټ ولاړې وې. ددې لارښوونو روح دادی چې مسلمان دې هېڅکله هم دسوبې،ماتې اومادي ګټودمعيار په اساس دژمنو پرخلاف چلندنه کوي ،پرخدای(جل جلاله) دې توکل وکړي اوپه پوره ديانت دارۍ سره دې دژمنو درناوی وساتي .په دې اساس نوهغه به ولې دخپلو مسلمانانو ورونو دبسپنې لپاره خپل لاس نه ورکوي! دا دهغې تبصرې مهمې ځانګړنې دي چې دبدرله جنګ نه راوروسته په قران شريف کې ددې پرېکنده فيصله کوونکي) جنګ په باب راغلې دي او دا اندازه ترې لګېدلای شي چې اسلامي نهضت دنړۍ دنورو نهضتونو په مقابل کې څومره ممتازاوغوره دی اوپه څه ډول دخپلو پيروانو روزنه کوي .

# داحدغزا

**اسباب :**

دبدرپه جنګ کي که څه هم مسلمانان سوبمن شوي وو خو ددغه جنګ مطلب داو چي ګواکي مسلمانانو دغومبسوچک په تېرو ويشتلی دی،دبدرجنګ لومړنی جنګ وچي مسلمانان دکفارو په مقابل کي په جرأت سره ودرېدل کفارو ماته وخوړه اوپه شالاړل .دې پېښي ټول عرب دمسلمانانوپرضدراوپارول اوکوم خلک چي ددغه نوي نهضت دښمنان وو هغوی تردې پېښي را وروسته لاپسي په غوسه شول .دبدرجنګ کي چي دمکي کوم رئيسان وژل شوي وو دهغوی دوينودبدل اوکسات اخيستلو په سبب په زرګونو خلک خواشيني اونارامه وو. په عربوکي به ديوه سړي په وژلوسره دجنګ لړۍ ترڅوپېښته پورې پرله پسي روانه وه اودلته خودغسي خلک دېروژل شوي وو چي دهغوی دوينو بدل دسلګونو تنوپه وژلوسره هم نه شوای اخيستل کېدای .له هرې خوانه به دتوپان نښې نښانې راښکاره اوڅرګندېدلی.ديهودو له هغوقبيلوسره چي مخکي معاهدې شوي وې هغوی هم ددې معاهدو درناوی اومراعات ونه کړ،داچي هغوی پرخدای(جل جلاله)،رسالت ،اخرت اوکتاب باندې دايمان درلودلودعوه درلودله، نو پکارو چي په دې اساس مسلمانانوته رانژدې شوي وای ،مګرسمدلاسه دقريشوله مشرکينوسره وتړلی شول اوپه ښکاره به يې هغوی دمسلمانانو پرضددجنګ لپاره لمسول په تېره بيادبني نضيرويومشرکعب بن اشرف په دې معامله کي دسرسختي دښمنی په فکرکي ولوېدپه دې ډول څرګنده شوه چي يهودنه دګاونډيتوب رعايت کوي اونه دهغو ژمنو درناوی کوي چي له حضرت محمد سره يې کړې وې .



په دغو حالا توکي دمديني کوچنی سيمه له څلوروخواو نه په خطرکي لوېدلي وه .اوهمدارنګه دمسلمانانوداخلي حالت هم کمزوری و او داوخت يعني ترجنګ راوروسته لانورهم له مشکلاتوسره مخامخ شول .

دمکي دمشرکانوپه زړونوکي له مسلمانانوڅخه دبدلي اخيستلو اورلمبي وهلي نوله دې کبله يوزيات شمېررئيسانويي دبدلي اخيستلو سوګندونه خوړلي وو.هره قبيله له غوسي اوتاونه ډکه وه چي په دغوحالا توکي به ديهودوله خوامکه وال دجنګ لپاره لمسول کېدل اودې هڅويي پراورباندې دتيلوپاشلوکاروړکړ اوداوخت دبدر جنګ ستونزورکال لا نه وتېرشوی چي مديني ته داخبر ورسېدچي دمکي دمشرکانوله خوايوډېرپياوړی لښکردمديني په لورديرغل لپاره بېخي چمتو دی .

## دقريشو وړاندې تګ :

ددرېيم هـ کال دشوال دمياشتي په لومړی اونۍ کي حضرت محمد دوه تنه صحابه دښېړ خبراخيستلو لپاره ولېږل ،کله چي هغوی بېرته راغلل داخبريي راووړ چي دقريشولښکرمديني ته نژدې را رسېدلی دی اواسونو يې دمديني يوڅرځای هم خوړلی دی. په دې وخت کي حضرت محمد له صحابه وسره مشوره وکړه چي ايادلښکر مقابله دې د مديني په دننه کي وشي اوکه له بهره دې پرې يرغل وشي ؟ ديوشمېر صحابه و رايه داوه چي دمديني دننه دې د دښمن مقابله وشي ،مګرهغه نوي ځلميان چي دشهادت ميني تلولي اونارامه کړي وو او دبدرپه جنګ کي يې ګډون نه و کړی هغوی پردې خبرې باندې ټينګارکاوه چي له مديني څخه دباندې دې پرې يرغل وشي .په پای کي چي حضرت محمد دهغوی ټينګار وليدنو داپرېکړه يې وکړه چي له مديني څخه دباندې دې پردښمن باندې يرغل وشي.

## دمنافقانو دوکي :

کله چي قريش مديني ته نژدې راورسېدل نوداحدپرغره باندې کښته اودېره شول .حضرت محمد له دې نه يوه ورځ وروسته دجمعي لمونځ

اداءکړاوله زروتنوصحابه و سره له ښارنه دباندې ووت.په دوی کې عبدالله بن ابی هم و .که څه هم دی په ښکاره مسلمان شوی و خودده ترلاس لاندې ګڼ شمېرنور منافقان هم ورسره ملګري شوي وو. تریوه ځایه پورې چې لاړل نو عبدالله بن ابی له خپلودرې سووتنوملګروسره بېرته را وګرځېد اوله مسلمانانونه بیل شو،داوخت فقط ۷۰۰)تنه صحابه له حضرت محمد  سره پاتې شول .په دغسې نازکه مرحله کې دعبدالله بن ابی دغه خوځېدا یوه سخته اودرنه نفسیاتي حمله وه خوهغو مسلمانانو چې پرخدای او اخرت باندې ایمان اوباوردرلود اودحق په لارکې دهغوی زړونه دشهادت له ولولې څخه ډک وودغې پېښې پرهغوی باندې هېڅ ډول ناوړه اغېزه ونه کړه اوپه دې وخت کې همغه موجوده مسلمانان دخدای په هیله مخ په وړاندې لاړل .

## دکمکیانوولوله :

حضرت محمد  په دې وخت کې خپلو ملګروته وکتل ځوک چې کمکیان ووهغوی یې بېرته ورولېږل په دې کمکیانو کې درافع اوسمره په نامه دوه تنه هلکان هم وو،کله چې دوی یې له لښکرنه بېلول نورافع دپنجوپه ځوکودرېدلی و.ددې لپاره چې جګ ښکاره شي اومسلمانان یې له ځانه سره بوځي ،په دې ترتیب هغه له دوی سره وخوځېداوسمره ته اجازه ورنه کړای شوه ځکه نوهغه وویل : څنګه چې رافع له ځانه سره بیایئ نوپکارده چې ماته هم اجازه راکړئ. په دې چې زه خوپرهغه باندې په غېږه زوروریم .په دې ډول سره دهغه ددې دعوې دثبوت لپاره هغوی په غېږه ورغلل کله چې رافع یې څملاوه نو سمره هم له لښکر سره روان شو. دغه خویوه کوچنۍ غوندې پېښه وه خوله دې څخه داراڅرګندېږي چې دخدای په لارکې له مسلمانانوسره څومره ولولې شتون درلود.

## دلښکرترتیب :

داحدغرله مدینې نه کابوڅلورمیله لرې پروت دی حضرت محمد  خپل لښکرپه دې توګه ترتیب کړچې شایې غره خواته وه اودقریشو دلښکرمخ ته صرف یوه دره داسې وه چې دشاله خوادیرغل وېره ترې کېده هلته یې عبدالله بن



جبیرτ دپنځوس تنوغیشي ویشتونکو مشروتاکه اولارښوونه یې ورته وکړه چې : هېڅوک ددې درې له لارې راتلوته مه پرېږدئ اوتاسې په هېڅ حال کې له دې ځایه مه خوځېږئ که چېرته تاسې ولیدل چې مرغان زموږ غوښې شوکوي بیاهم تاسې خپل ځای مه خوشي کوئ ).

## دقریشوساز اوسامان :

په دې وخت کې قریش له ډېرساز اوسامان سره راغلي وو.نژدې درې زره لښکر اودجنګ پوره سامان ورسره وو. په عربوکې به چې په کوم جنګ کې ښځوګډون کاوه نوبیابه هغوی په خپلوسرونو لوبې کولې .دوی داګومان کاوه که چېرې جنګ موبایلوده نوزموږدښځوبې عزتي به وشي .ددغه جنګ په وخت کې هم دقریشوله لښکرسره ډېرې ښځې راغلې وې .په دوی کې ډېرې هغه ښځې هم وې چې اولادونه  اودوستان یې دبدرپه جنګ کې وژل شوي وو او دوی پرځان باندې دانذرمنلی و چې ترهغې پورې به کرارې نه کښېنو ترڅودهغوی دقاتلانووینې ونه څښو.

## دجنګ پیل :

قریشوخپل لښکرډېرښه ترتیب کړی و. کله چې جنګ پیل شو ترټولودمخه به دقریشوښځوپکې درباګان وهل اوداسې سندرې به یې ویلې چې سړی به یې په غیرت راووست اوپه بدرکې دوژل شویو دویر اودهغوی دوینې دبدل اخیستلو ولوله ترې ډېره ښه څرګندېدله .وروسته بیاکله چې جنګ پیل شو لومړی خودمسلمانانو پله درنه وه اودقریشوله لښکرنه یوزیات شمېرکسان ووژلی شول اولښکریې تس نس شو .مسلمانانو دافکروکړچې هغوی میدان پرېښود په دې توګه یې دپیلیزې سوبې دپای ته رسېدو په بدل کې دغنیمت مال په ټولولو پیل وکړاوهغه کسان چې د درې دساتنې لپاره ټاکل شوي وو هغوی چې داحال ولیدچې مسلمانان دغنایمو په ټولولولګیادي اودښمنان تښتېدلي دي،دافکر ورغی چې جنګ پای ته رسېدلی دی نوهغوی هم دغنیمت په مال پسې ورودانګل .که څه

هم عبدالله بن جبیرτ ته دحضرت محمد  حکم ورپه یاد و او هغوی یې له دې کارڅخه منع کړل خوپرته له یوڅوتنونورهېڅوک ورسره پاتې نه شول .

## دشاله خوادقریشویرغل :

دامهال خـــــالد بن ولید دکافرانو دلښــــکردیوګـــروپ بولندوی قومندان) و.هغه له دې موقع نه ګټه واخیسته اوله غونډی نه راتاوشو اودشاله خوایې پرمسلمانانوباندې یرغل وکړ.که څه هم عبدالله بن جبیرτ اودهغه څوتنه نورملګري ددې درې دساتنې لپاره هلته پاتې وو اودهغوی مقابله یې هم وکړه خودکافرانویرغل یې په شا ونه شوای تنبولای او شهیدان شول بیانو دښمن پرله پسې دشاله خواپرمسلمانانو باندې یرغل کاوه .کله چې تښتېدونکوداحال ولیدهغوی هم شاوګرځوله اوپه دې وخت کې له دواړوخواونه پرمسلمانانوباندې یرغل وشو.په دغسې وضعه کې مسلمانان داسې کمزوري شول چې یوناڅاپه دجنګ بڼه واوښته او مسلمانان تس نس شول او اخوا دېخوایې وترپل ان تردې چې دوېرې او وارخطایۍ له کبله پخپله دمسلمان له لاسه مسلمان شهیدشو اودهمدې وېرې په وخت کې دا اوازه خپره شوه چې پیغمبر  شهیدشو له دې خبرسره اصحابوخپله حوصله له لاسه ورکړه اوګڼ شمېرخلکو همت بایلود.

## دخدای مرسته اوسوبه :

دامهال دحضرت پیغمبر  شاوخواته لس یولس تنه صحابه ولاړوو. په داسې حال کې چې هغه  ټپي شوی هم وخوله صحابه وτ سره یوې درې خواته ورغی .په دې وخت کې مسلمانانوته ښکاره شوه چې حضرت محمد  ژوندی دی .په دې ډول هغوی بیاله سره یوځای اوسره راټول شول مګرپه دې وخت کې څرګنده نه شوه چې څه پېښه وه اوپه څه ډول کافرانو له جنګ نه مخ واړاوه اوبې له دې چې خپلې بشپړې سوبې ته ورسېږي میدان یې پرېښوداوبېرته لاړل.

کله چې کفاریوڅوپړاوه لرې لاړل نودافکرورغی اوپه خپل منځ کې یې سره وویل:داڅه غلطي مووکړه چې دمسلمانوځواکونودېخې ختمولوموقع په لاس راغلي وه اودهغوی جرړې موونه ویستلې هسې بېرته راغلوپه دې توګه هغوی په



یوه ځای کې سره ودرېدل اودامشوره یې وکړه چې اوس نوپکارده چې یوځل بیاپرمدینه باندې یرغل وکړو،خوبیایې داهمت ونه کړاوبېرته مکې ته راغلل .هلته دحضرت محمد  هم دې خبرې ته خیال و هسې نه چې دښمن بیاپرې حمله راوړي .له دې کبله یې مسلمانان سره راټول کړل او ورته یې وویل چې کفاربایدتعقیب شي. داډېره نازکه مرحله وه خوکوم خلک چې رښتیني مؤمنان وو هغوی دخدای په توکل یوځل بیادسرښندنې لپاره چمتوشول اوحضرت محمد  ترحمراء الاسدنومي ځای پورې په دښمن پسې لاړ.دغه ځای له مدینې څخه ۸) میله لرې پروت دی .کله چې داڅرګنده شوه چې قریش بېرته مکې ته لاړل نوهغه هم بېرته مدینې ته راستون شو. داحدپه جنګ کې  ۷۰) تنه صحابهτ شهیدان شول چې زیات شمېریې انصار وو.دمدینې هرکورپه ساندو او وېرنې بدل شوی و.په دې وخت کې محمد  مسلمانانو ته دالارښوونه وکړه چې په ژړاکې ساندې او وېر دمسلمان په شان کې نه شته.

## دپیلیزې ماتې سببونه اودمسلمانانوروزنه :

داحددجنګ په پیل کې مسلمانانوماتې وخوړه ،که څه هم دمنافقانوتدبیرونه اوچالونه هم پکې وو خوله دې سره سره پخپله دمسلمانانودکمزورۍ برخه هم څه کمه نه وه .اسلامي نهضت چې څه ډول مزاج غواړي اوپه څه ډول دخپلوکارکوونکوروزنه کوي ددې لپاره پوره وخت نه و ترلاسه شوی دا دخدای(جل جلاله) په لارکې دسرښندنې دویمه مرحله وه اوپه دې وخت کې څه ناڅه دکمزورۍ څرګندونه هم وشوه مثلاً دمال دمینې له کبله خپله دنده پرېښودل،دخپل مشرله احکاموڅخه سرغړونه ،مخکې له دې چې د دښمن ځواک ختم کړی شي دغنیمت مال ته پاملرنه اوپرې دانګل او داسې نور.ځکه نوتردې جنګ وروسته خدای(جل جلاله) هم دجنګ پرڅرنګوالي باندې داسې تبصره وکړه اوله اسلامي نصب العین سره چې دمسلمانانوپه داخل کې کوم غفلتونه شوي وو یویویې ورپه ګوته کړاو په دې باره کې یې اړوندې ضروري لارښوونې وکړې. دغه لارښوونې د ال عمران سورت په وروستی برخه کې راغلې دي چې یوڅه یې دلته رانقلوو. داځکه چې یوځل بیاراڅرګنده شي چې په

اسلام کې دجنګ دریځ کوم دی اودجنګ پرواقعیتونو اوحالا توباندې څه ډول رڼاچول کېږي .

## توکل :

کله چې مسلمانان دجنګ لپاره را ووتل دهغوی شمېره زروتنوته رسېده اود دښمن شمېره درې زره تنه وو. سره له دې بیاهم مسلمانان چې یوڅه وړاندې لاړل نودرې سوه تنه منافقان ترې جلاشول او ۷۰۰) تنه مسلمانان پاتې شول. دجنګ سامان هم لږ و اودلښکر له درېیمې برخې نه هم یوڅه کم شول په دغسې نازکه مرحله کې دیوشمېر مسلمانانو زړونه مات شول .داوخت نو یوازې پرخدای(جل جلاله) باندې توکل او دهغه دمرستې اسره وه چې مسلمانان د دښمن دمقابلې لپاره لاړل. حضرت محمد چې په دې وخت کې مسلمانانوته کومه تسلي ورکړې وه خدای(جل جلاله) دهغې داسې یادونه کوي :

یادکړه،کله چې له تاسې څخه دوې ډلې د دې خبرې لپاره چمتوشوې چې بې زړه شي دوی له جنګ نه ) حال داچې خدای(جل جلاله) د دوی مرستندوی و اومؤمنانوته پکارده چې پرخدای(جل جلاله) باندې توکل وکړي اوخامخاپه تحقیق خدای(جل جلاله) له تاسې سره بدر جنګ) کې مرسته کړې وه حال داچې تاسې کمزوري وئ نو ووېرېږئ له خدایه ددې لپاره چې تاسې شکر کوونکي اوسئ. یادکړه ای حضرت محمده ! کله چې تامؤمنانوته ویل ایا دابه ستاسې لپاره بس نه شي چې ستاسې رب د درې زرو پرښتو په رالېږلوسره ستاسې مرسته وکړي) بې شکه که چېرې تاسې صبروکړئ اوله خدای څخه په وېرې سره کاروکړئ اوپه دې درنګ سمدلاسه ) دښمن پرتاسې یرغل وکړي نوله تاسې سره به ستاسې رب مرسته وکړي په پنځوزرو پرښتو سره،خدای(جل جلاله) داخبره تاسې ته ددې لپاره کړې ده چې تاسې خوښ شئ اوستاسې زړونه ډاډه مطمئن ) شي .سوبه اونصرت هرڅه چې وي دخدای له لورې ده چې هغه ډېرقوي ،یوه اولیدونکی دی ).

ال عمران سورت له ۱۲۲-۱۲٦ ایت پورې



په پای کې مسلمانانو ته وویل شول چې په اصل کې پرمادې ځواك باندې ډډه وهل دمسلمان کارنه دی .ددې ځواک اصلي سرچینه پرخدای باندې ایمان او دهغه دمرستې اسره ده .

## دمال مینه :

داحدپه جنګ کې دمسلمانانو دماتې لوی سبب داو چې هغوی دجنګ په بهیرکې دمال مینې راواخیستل اومخکې له دې چې دښمن ته بشپړه ماتې ورکړي ،مال خواته متوجه شول ان تردې چې دهغوخلکوپه غاړه چې د درې دساتنې مسؤولیت وله هغوی څخه هم غفلت وشو اوپه دې توګه جنګ بله بڼه غوره کړه. له دې کبله خدای تعالی په دې وخت کې له مال سره دمینې لرونکو له زړونو څخه دهغوی دمینې ترټولویولوی سبب هم له منځه یوړ یعنې په همدې وخت کې یې سودحرام کړ.

دسودپه کاروبارکې دسود خوړونکوپه زړونو کې دمال مینه داسې ځاله جوړوي چې هغوی دهېڅ یوه اوچت کاردترسره کولولپاره نه پرېږدي. په دې توګه په یوه پاټکي طبقې) کې حرص،بخیلي ،خودغرضي اودمال محبت پیداکېږي اوپه بل کې کرکه ،غوسه ،بغض اورخه .

## دبري ضمانت :

که دهمت دلوړتیالپاره کوم محرک شتون ونه لري نوله ناکامۍ وروسته پکې کمی راځي ،داحدپه جنګ کې چې مسلمانانوماتې وخوړه کېدای شول چې دځینو کسانوزړونه مات شوي وای خوپه دې وخت کې مسلمانانوته ضمانت ورکړی شوچې : [ تاسې مه سستېږئ اومه غمجن کېږئ ،تاسې برلاسې یئ په دې شرط که تاسې مؤمنان یئ .تاسې ایمان ټینګ اودهغه غوښتنې پور ه کړئ ،ستاسې کارهمدومره دی ،تردې وروسته بیاستاسې سرلوړي اوله تشویش اوغم څخه خلاصون دخدای(جل جلاله) کاردی .پاتې شوه داچې که تاسې ته څه ربړونه اوماتې در رسېږي نوستاسې پرمقابلې ډلې باندې هم همداسې مصیبتونه راځي .ځنګه چې هغوی پرباطل باندې خپل همت له لاسه ورنه کړنوتاسې دحق په اړه

دڅه لپاره فکرکوئ تاسې خودجنت غوښتونکي یئ ایاتاسې دافکرکوئ چې جنت ته به ننوځئ .په داسې حال کې چې خدای(جل جلاله) په تاسې کې هغه کسان نه وي معلوم کړي چې په دې لارکې یې جهادکړی دی او په دې سختوحالا توکې ) صبرکوونکي دي ].

ال عمران ۱۴۲-۱۳۹)

## داسلامي نهضت اصلي محرک :

په هریوه نهضت کې یونه یومرکزي شخصیت دهغه تحریک روح وي خوداصولي نهضتونو دپايښت اوپرمختګ مدار هېڅکله هم یوشخصیت نه وي بلکې دهغو داصولو پوخوالی اورښتینولي وي لکه څنګه چې هغه نهضت پرې ولاړوي .داسلامي نهضت لپاره چې څومره دانبیاءکرامυ شخصیتونه مهم دي هغه له چانه پټه خبره نه ده خوڅنګه چې دغه نهضت یواصولي نهضت دی او دهغه دپايښت اوپرمختګ مدار یوازې دهغه داصولوپه قوت کې پروت دی ځکه نو مسلمانانو ته ددې خبرې ښودل هم ضروري وو چې د دوی دذهنونو په کوم ګوټ کې داخبره پاتې نه شي چې دهغوی په منځ کې نبي موجود وي ترهغې به دخدای ددین جنډه بیرغ) لوړه ساتي اوکه چېرې کوم وخت دهغه دمبارک ذات له مستقیمې لارښوونې نه بې برخې شي نو بیابه له دې لارې نه اخوابله کومه لاره غوره کوي. کله چې په احد کې دحضرت محمد دشهادت غلط خبر خپورشونو دیو شمېر مسلمانانو زړونه وښوییدل اودافکر یې وکړ چې دحضرت محمد سیوری زموږ له سره کم شو نواوس به دڅه لپاره جنګېږو. ددغه فکر دسمون لپاره هغوی په دې وپوهول شول چې ګورئ حضرت محمد پرته له دې چې هغه یو پیغمبر دی بل څه نه دی .ترده پخوانورپیغمبران هم تېر شوي دي نو ایا که هغه مړیاشهید شي نو تاسې به بېرته خپلوپوندو کفر) ته ګرځئ یادلرئ څوک چې خپلو پوندو ته وګرځېد له سره به خدای ته زیان ونه رسوي البته څوک چې دخدای شکر کوونکي بندګان دي هغوی ته به ژراجرورکړي. ال عمران ۱۴۴)ایت

هغه دین چې تاسې په فکراوسوچ سره غوره کړی دی پرهغه باندې ټینګ واوسئ اودهغه دټینګښت لپاره دې ته اړتیا نه شته چې دخدای نبي دتل لپاره له تاسې سره



وي بلکې هغه پخپله ستاسې دژغورنې او خلاصون سودا ده خوکه چېر ې پرهغه باندې ټینګ واوسئ نو همغه څه به وموموئ .اود دغه دین اصلي ځواک دهغه په رښتینولي کې ده اودسر لوړی مدارېې نه ستاسې په ځواکونو کې دی اونه په کوم ځانګړي شخصیت کې .

## دکمزورتیاجرړه :

دانسان دټولو کمزوریو جرړه له مرګ څخه دهغه وېره ده .دامهال هغوی ته ورپه یاد شول چې له مرګه څخه وېره او تېښته بېخي بابېزه کاردی هېڅ یوسا کېښ ترهغې پورې نه مري څوچې دهغه دمرګ وخت را نه شي .دخدای ترټاکلي وخت دمخه نه څوک مري اونه ترهغه وروسته یوه شېبه ژوندکولای شي .له دې کبله ستاسې لپاره له مرګ څخه خلاصون اوپه هغه کې دفکرکولو اړتیا نه شته .پردې خبره باندې باید فکروشي چې په ژوندکې کوم مهلت ورکړشوی دی هغه خوهسې هم تېرېږي چې دنیاګټي اوکه اخرت؟ ځکه هغه څوک چې ددنیادګټولپاره کړاوونه ګالي نو بیاهغه څه مومي چې هغه په دنیاکې پیداکېږي خوڅوک چې داخرت دثواب لپاره کارکوي نوخدای(جل جلاله) به دهغه ثواب په اخرت کې ورکوي. هغو خلکوته چې دخدای ددین منلو اوپرهغه باندې دټینګ اوسېدو اوپه دې لارکې دهڅې او هاند نعمت ورپه برخه شوی دی هغوی باید ترهر چازیات ددې ارزښتناک نعمت قدروکړي اوکه په دې خاطرخپل ټول شیان په کارواچوي نو پایله به یې ښه وي اوداخرت تلپاتې بری به دهغوی په نصیب وي اودخدای(جل جلاله) ددغه نعمت شکراداء کوونکي به خدای تعالی په خپلوښواوغوره نعمتونو سره وپالي اوهغوی به له خپل مالک څخه ترټولوښه جزا ومومي .

## د احدترماتې وروسته :

پرته له یودوه قبیلونه کابو دعربوټولې قبیلې له دغه نوي راولاړشوي نهضت سره مخالفې وې. ددغه نهضت نسکورول یې خپل پلرنی مذهب او دودودستورګانه اوغوښتنه یې داوه چې انسان دې په اخلاقي لحاظ لوړ

اوهغوخبروته پرېښودل شي چې هغه په عمومي تو ګه په ټولوعربوکي خورې شوې وې لکه شراب څښلو،جواري،زنا،لوټماري اوداسې نوروته .

دبدرله جنګ نه دمخه ټولوقبيلودافکرکاوه چې دغه نوی نهضت به په څه ډول له منځه يوسي خوپه بدرکې دقريشوترماتې وروسته هغه قبيلې کمزورې اوسستې شوې وې اويوډول زړغی تردد) پکې پيداشوې وه چې څنګه چلندغوره کړي مګرد احد له جنګ نه وروسته دغه حالت بدل شو اودعربوډېرې قبيلې داسلام دښمنې شوې .دهمدغو څو قبيلو واقعات په لاندې توګه دي :

## دقبايلوتعهد ماتول :

۱- دڅلورم هجري کال دمحرم په مياشت کې دفيد قبيلې چې دقطن په سيمه کې اوسېدله ) پرمدينه باندې ديرغل اراده وکړه ،حضرت محمد ابوسلمه ديوه کوچني ټولګي په ملګرتيادهغې دمخنيوي لپاره ولېږه اويرغلګريې په شاوتمبول .

۲- وروسته بياپه همدې مياشت کې د عرينه ) کوهستان يوې قبيلې لحيان ) پرمدينه باندې حمله وکړه .حضرت محمد عبدالله بن انيس دهغوی دمقابلې لپاره ولېږه،عبدالله بن انيسτ دهغوی مشر سفيان) وواژه اويرغل ګربېرته په شالاړل .

۳- دهجرت په څلورم کال دصفرې په مياشت کې دکلاب قبيلې مشر ابوبراء) دحضرت محمد حضورته راغی او ويې ويل چې له ماسره يوڅوکسان ولېږه چې زماقوم اسلام ته راوبولي، حضرت محمد اوياتنه صحابـــــــه ورســـــره کړل چې زيات پـــــکي اصحا ب صفه (۱) وو. دنوموړې قبيلې مشرهغوی ټول راونيول او ويې وژل. حضرت محمد پردې پېښه ډېرغمجن شو اوټوله مياشت يې دسهارپه لمانځه کې دغوظالمانوته ښېرې کولې .عامرله دغو اوياتنو صحابه و څخه يوتن عمروبن اميه پرېښود اوداېې ورته وويل چې ز مامو ر ديوه مريي دازادولونذر په ځان منلی و نوله دې کبله زه تاازادوم. کله چې

............................................................................

(۱) صفه په عربي کې چوترې ته وايي. دنبوي جومات په انګړکې يوه چوتره جوړه شوې وه اوهلته به داسې خلک اوسېدل چې کورېې نه درلود،دهغو عادت داو چې يوڅه لرګي اونورڅه به يې راوړل اوخپله ګوزاره به يې پرې کوله. يوشمېرنورو صحابه و به هم له هغوی سره مرسته کوله. ددې خلکوځانګړی کارد ديني علم زده کړه اوعبادت و.



عمروبن اميه بېرته راته نوپه لارکې دعامردقبيلې دوه تنه ورسره مخامخ شول اوهغه يې ووژل .او دا فکريې وکړچې موږ دعامردقبيلې دبې وفايی بدله واخيسته .کله چې حضرت محمد پردې پېښه باندې خبرشونو سخت خواشينی شو ځکه چې ده دهغې قبيلې وګړوته امان ورکړی و او داخبره دهغه ترون پرخلاف وه .په دې توګه يې دهغو دووکسانو دويني بيه دهغوی قبيلوته ولېږله .په دې توګه دوو نورو قبيلوهم دغسې حرکت وکړ،حضرت پيغمبر دهغوی په غوښتنه لس تنه صحابه دديني ښوونې لپاره له هغوی سره ولېږل مګردغوظالمانو بې وفايي وکړه او اووه تنه صحابه له هغو کفارو سره په جنګ کې شهيدان اودری تنه بنديان شول ،په دوی کې حضرت خبيبτ اوحضرت زيدτ هم وو اودښمنانو دخرڅلاو لپاره مکې ته بوتلل. حضرت خبيب د احدپه جنګ کې يوتن دحارث بن عامرپه نامه وژلی و. دحارث زامنوحضرت خبيب په بيه واخيست اوپه دې ډول سره يې يوڅوورځې وروسته دخپل پلارپه بدل کې شهيدکړ. همداراز صفوان بن اميه زيدτ وپيره اوهغه يې هم وواژه اوشهيديې کړ.

په دې ډول له يوې خوا دعربو قبائلوپرله پسې داسې دښمنې کوله چې هغه به دډېروسختودښمنانوله خواترسره کېدله .اومسلمانانوبه دهغوی ظلمونه زغمل له بلې خواپه همدې وخت کې يهودوهم همدغسې چارې کولې چې هغه دمسلمانانودخواشينی سبب ګرځېدلې .

## ديهودي علماوو اومشرانومخالفت :

کله چې حضرت محمد مدينې ته تشريف راوړ وروسته له هغې يې که څه هم يهودي قبيلوسره ډول ډول معاهدې کړې وې اوهغوی ته يې دا ډاډينه ورکړې وه چې په سراومال به يې تعرض نه کېږي اوهرډول مذهبي ازادي به لري مګرپه ځانګړي ډول سره داسلامي نهضت پرمختګ ديهودوعالمان اومشران تلولي اوناارامه کړي وو اودابې سببه نه وو يوه څوسببه يې په لاندې توګه دي :

۱- تردې وخته پورې يهودوته يوډول مذهبي مشرتابه ورپه برخه وه اوټولوخلکوبه دخدای لمانځنې اوديندارئ له کبله هغوی دعزت وړګڼل .مګر اوس داسلامي نهضت له پرمختګ سره دهغوی دغلط مذهبيت اودنده ايزې خدای لمانځنې خلا معلومېدله دحضرت محمد  په موعظوسره خلکوته معلومېدله چې رښتينی مذهبيت څه ته وايي اودحقيقي خدای لمانځنې مفهوم څه دی؟ په دې ډول ديهودو عالمانو اومشرانو  کاروبار!) په ختميدوکې و.

۲- په قران شريف کې دټولو يهودانو په تېره بياد ديندارە اوعالم ډوله خلکو پراخلاقو اوچارچلند باندې په ډاګه اوښکاره تنقيدونه کېدل لکه  ددرواغو ډېراورېدونکي اودحرام مال ډېرخوړونکي دي ).

دمائده سورت ۴۲) ايت

اوته به له هغوی څخه ډېرووينې چې دګناه اوظلم خواته په ډېره بيړه وړاندې کېږي .

دمائده سورت ۶۲) ايت

دوی سود خوړونکي دي...... حال داچې سود خوړلونه منع کړی شوي وو اودوی دخلکو مالونه خوړلي )

دنساء سورت ۱۶۱ ايت)

دارنګه تنقيدونه په بقره ،مايده ،ال عمران اوداسې نوروسورتونو کې هم موجود دي. دهغو په اورېدوسره به پرته له يوڅوسپېڅلو اونيکو کسانو نور ټول په دې خپه کېدل او په پټو سترګوبه يې داسلامي نهضت مخالفت کاوه .

۳- داسلام پرمختګ اواقتدار ته به چې دوی کتل نوداخطربه ورته په ډاګه ښکارېده چې دوی به يوه ورځ نه يوه ورځ دمسلمانانو په وړاندې غاړه ږدي ،نو په همدې سبب يهود داسلامي نهضت ترټولو سرسخت دښمنان وو.



## دبني قينقاع غزا :

دبدرله سوبې نه وروسته ترټولو  دمخه ددغې سوبې خبرچې يهودوپه غوږرو واورېد هغوی يې اندېښمن کړل .هغوی په ښکاره ليدل چې اوس نوله اسلام نه يوطاقت جوړېږي په دې ډول دبدرله جنګ نه وروسته ژرترژره د دويم هجري کال دشوال په  مياشت کې له يهودي قبيلوڅخه بني قينقاع دمسلمانانو پرخلاف دجنګ اعلان وکړ.اوحضرت محمد  سره يې چې کوم تړون کړی و هغه يې مات کړ. ددې جنګ ناڅاپي سبب داو چې يوه يهودي ديوې  مسلمانې ښځې بې عزتي وکړه. دهغې دمېړه وينه په جوش راغله اويو يهودی يې وواژه. بيايهودو دغه مسلمان هم شهيد کړ. حضرت محمد  ددغې پېښې دمخنيوي لپاره هلې ځلې وکړې مګر يهودو ورته وويل :  موږقريش نه يو چې په بدرکې يې ماته وخوړه اوپه شالاړل ) موږ به تاسې ته دروښيوچې جنګ څه ته وايي .کله چې ديهودوله خوا تړون مات اودجنګ اعلان وشو نو حضرت محمد  دجنګ تياری ونيو .يهود په خپلو کلا ګانو کې کلابند شول له  ۱۵) ورځو کلا بند نه وروسته يهود دې ته چمتوشول چې جلاوطن دې کړی شي. په دې توګه اووه سوه تنه يهود جلاوطن کړای شول .

## دکعب بن اشرف وژل :

کعب بن اشرف ديهودو يو نوميالی شاعر و. دبدرله جنګ نه وروسته يې داسې اشعار ويل چې په مکه کې دمسلمانانو پرخلاف دجنګ اوربل شو. په هغه وخت کې شاعرانو زيات اثردرلود. کعب دبدرپه جنګ کې دوژل شويو قريشو په اړه داسې دردناکې ساندې اووېرنې وليکلې اوبيايې په مکه کې وا ورولې چې هم يې پخپله ژړل اوهم يې نورژړول .کله چې مدينې ته راغی نو حضرت محمد  به يې په خپلو شعرونو کې غنده اودهغه پرضدبه يې خلک راپارول .يوځل يې حضرت محمد  دميلمستيا په پلمه راوغوښت اودهغه دوژلو پلان يې هم جوړکړی و. له دې کبله حضرت محمد  له خپلو صحابه وسره مشوره

وکړه چې څه باید وکړي .په دې ډول حضرت محمدبن مسلمه دهغه په خوښه دهجرت په درېیم کال دربیع الاول په میاشت کې کعب بن اشرف وواژه.

## دبنونضیرواخراج

دبني نضیر ویهودانو په ډېر ومعاملو کې خپل تعهدونو مات کړل اوپه پټه یې داسې ډېر سازشونه کړي وو چې مقصد ترې دحضرت محمد وژل وو دهمدې مقصد لپاره یې دمکې قریش هم لمسولي وو.کله چې د دوی دغه حرکتونه له حده تېر شول نو حضرت محمد د دوی کلاګانې محاصره کړې .دې کلابندۍ ترپنځلسو ورځوپورې دوام وکړ.په پای کې بني نضیر په دې شرط راضي شول چې هرڅومره مال اواسباب پراوښانو باندې وړلای شي هغه دې یوسي اوله خپلو کورونو څخه دې ووځي .ددې تړون پراساس یوزیات شمېر مخورکسان یې خیبرته ولاړل اوله خپل ځان سره یې ډېرساز اوسامان یووړ یوازې هغه سامان یې پرېښود چې هغه یې له ځانه سره نه شوای وړلای .

په دې وخت کې دمسلمانانو دواړو دښمنانو یعنې دعربو مشرکانوپه تېره بیادمکې قریشو اویهودانو دیو اوبل په ملګرتیا دمسلمانانو دله منځه وړلو په باره کې فکرکاوه اوټولو قبایلو په ګډه پرمدینه باندې دیرغل تیاری ونیو. په پیل کې خوحضرت محمد ته هم څرګنده وه چې هغه قبایل پرمدینه باندې دحملې لپاره تیاری نیسي خوهغه دمسلمانانو یوټولګی له ځانه سره واخیست اودهغوی دمقابلې لپاره ووت،مګردښمن مقابله ونه کړه او بېرته په شالاړ .یوځل خو حضرت محمد دهجرت په دویم کال دمحرم په میاشت کې په هغوی پسې تر ذات الرقاع ) اودرېیم ځل دهجرت په پنځم کال دربیع الاول په میاشت کې تر دومة الجندل پورې ولاړ.

# داحزابو غزا (۱)

کله چې بني نضیر له مدینې څخه ووتل او خیبر ته ورسېدل هلته یې داسلام پر ضد سازشونه پیل کړل او شاوخوا قبیلې یې دمسلمانا نو پر خلاف را



وپارولې. مکې ته لاړل او هلته یې قریش دجنګ لپاره چمتو کړل او دا یې ورته وویل که چیرې تاسې له موږ سره یو ځای پر دغه نوي نهضت باندې یر غل وکړئ نو جرړې به یې ووځي. قریش خو دهمدې خبرې لپاره چمتو وو،په دې ډول دیهودو ډېرو قبیلو او دمکې قریشو په ګډه یو لوی لښکر ترتیب کړ چې شمیر یې لسو زروته رسېده.

کله چې حضرت محمد له دې پیښې نه خبر شو چې دومره لوی لښکر پر مدینه باندې دیر غل لپاره چمتو او راروان دی،نو له خپلو صحا به و سره یې مشوره وکړه. حضرت سلمان فارسي رضی الله عنه دامشوره ورکړه چې ددومره لښکر مقابله په اوار میدان کې نا منا سبه ده. زموږ لښکر باید په یوه محفوظ ځای کې وي او شاو خوا دې ورته خندق وکیندل شي.دا ددې لپاره چې دښمن مخامخ یر غل ونه شي کړای. دغه رایه ومنلی شوه او دخندق په کیندلو یې پیل وکړ.

.................................................................................................(۱)
دې غزاته دخندق غزاهم وایي ځکه چې دځان ژغورنې لپاره یې خندق کیندلی و. احزاب په عربي کې لښکروته وایي . څنګه چې دکفارو ټولو لښکروپکې ګډون کړی و نوله دې کبله دې غزاته داحزابو غزاهم وایي.

## دخند ق کیندل :

دمديني دريو خواوته ودانۍ او دکجورو باغونه وو خو يوازې يوه خوايي بيخي خلاصه وه. حضرت محمد  درې زره تنه صحابه له ځانه سره بو تلل او همدې خواته يې دخندق کيندلو حکم وکړ. دا کار دهجرت په پنځم کال دذوالقعدې په مياشت کې وشو. حضرت محمد  پخپله حدونه بيل کړل او لس لس گزه ځمکه يې په لسو لسو تنو ووېشله. دغه خندق دپنځو گزو په ژور والي وکيندل شو او په دريو  زروتنو مسلمانانو يې په شلو ورځوکې تيار کړ. حضرت محمد پخپله هم له ټولو خلکو سره يو ځای دخندق په کيندلو بوخت و. په يوه ځای کې نا څاپه يوه غټه تيږه مخې ته ورغله او هغه هېڅ‌ا هم ټو ټې نه کړای شوه کله چې حضرت محمد  ورغی هغه يې په يو ه گوزار سره ميده ميده کړه. دغه پېښه دحضرت پيغمبر ص له معجزو څخه يوه معجزه وه.

## دکفارو یر غل :

دکفارو لښکر په دريو بر خو وويشل شو اوله دريو خوا و څخه يې پر مدينه باندې یر غل وکړ. دا يوه ډېره سخته حمله وه چې په قران شريف کې  يې څرگندونه په دغو الفاظو سره شوې ده.

ژباړه : « هر کله چې دښمنانو له لوړې خوا  ختيځ نه ) او ژورې خوا   لويديځ نه ) پر تاسي يرغل وکړ او ستاسي سترگې له وېرې خړې او کړې شوې او زړونه مو خولې ته راغلل او دخدای په باره کې مو په ډول ډول گومانونو پيل وکړ،په دغه وخت کې دمسلمانانو د ازمېښت وخت راغی او هغوی په رېږدېدو شول ».

داحزاب سوره  ۱۰-۱۱ ) ايتونه "

دا ديوې ډېرې سختې ازموينې وخت و. له يوې خوا ديخنۍ سخت موسم،دخوراک څښاک دسامان کمښت،څو وخته پر له پسې لوږه،دشپې بې خوبي،دورځې نا ارامي،هره شيبه دسر خطر،پر مال اولاد او نورو شيانو باندې ددښمن یر غل،په مقابل کې دبې پناه لښکر گڼه گوڼه. دا ټول داسې واقعيتو نه وو چې دکومو خلکو ايمان ريښتينی اوکروړ   مضبوط ) و په همدې حالت کې هم ثابت قدم پاتې شول



،دکمزورې ايمان خاوندانو او منا فقانو ددغو حالاتو مقابله ونه شوای کولای. څنگه چې منا فقان دمسلمانانو په لښکر کې ننوتې وو هغوی هم په دې وخت کې په ښکاره را وړاندې شول او دا يې وويل چې : " موږ سره چې خدای او دهغه رسول  دسوبې او مرستې ) کومه ژمنه کړې وه هغه ټوله دوکه وه " .

داحزاب " ۱۲ " ايت )

دغو خلکو دځان ژغورنې لپاره په پلمو جوړولو پيل وکړ او دا به يې ويل چې : " ای يثربو الو!ځئ بېرته  لاړ شئ تاسې ته  داستو گنې ) کوم ځای نه شته،دغه خلک حضرت محمد  ته ور غلل  او ورته يې وويل چې موږته دې اجازه راکړل شي چې زموږکورونه تش پراته دي،ساتنه يې وکړو،کورونه مو بيخي غير محفوظ دي .

داحزاب سورت ۱۲ ايت)

خو دکومو خلکو په زړه کې چې ايمان و او دخپل ايمان په دعوه کې ريښتيني وو په دې وخت کې دهغوی حالت بيخي بل ډول و. کله چې هغو ی دکافرانو لښکر وليد نو ويې ويل دا هغه  حالت) دی  چې خدای او رسول يې له موږ سره ژمنه کړې وه . او ددغو حالاتو په ليدلو سره په هغو کې دايمان ولوله را وپارېده او دلا زيات باور او تا بعدارۍ لپاره چمتو شول. دغو سختو حالاتو په هغوی کې يوه ذره تبديلي پيدا نه کړه " .

داحزاب سورت " ۲۲ ـ ۲۳ " ايتونه )

## دخدای (جل جلاله) مرسته :

څومره چې دکلا بندۍ موده اوږدېدله هومره به یرغلگر سست او کمزورې کېدل يو خو دا چې دلس زره کسيز لښکر دخوراک څښاک انتظام څه اسان کار نه و بل دا چې دډېرې يخنۍ موسم و او داسې سخت توپان راوالوت چې دکفارو دخېمو مراندې يې وشلولې،ټول لښکر يې تس نس شو او داد خدای عذاب و،په ريښتيا سره چې خدای(جل جلاله) دغه تو پان مسلمانانو ته رحمت او کافرانو ته عذاب ليږلی و. په دې پېښې سره خدای(جل جلاله) له مسلمانانوسره احسان وکړ اوويې فرمايل :

« ای مسلمانانو ! دخدای(جل جلاله) هغه احسان در په یاد کړئ چې کله لښکر و پر تاسي حمله وکړه نو موږ پر هغو تو پان او تیاره ولېږله او داسي لښکر مو ولېږه دپرښتو) چې تاسي نه لیده» . داحزاب ۹ ) ایت

په دې ډول کافرانو دحالاتو مقابله ونه شوای کولای او کمزوري شول کله چې یهودو ماتي وخوړه،قریش یوازې پاتي شول نو هغوی هم بې له دې چې په شا لاړ شي بله لار نه درلوده. او دا دخدای(جل جلاله) غیبي مرسته او فضل هم و چې پر مدینه باندې وریځ خپره شوه. په قران شریف کې ددې غزا یادونه په هغه انداز سره شوې ده چې د مسلمانانو دروزنې او مېړانې اړخونه پکې ښه څرګندکړي دي چې یو څو یې دادي :

## دخدای (جل جلاله) پر فضل توکل :

مومن خوایمان پردې لري چې حقیقي ځواک له خدای تعالی(جل جلاله) سره دی. هر څه چې کېږي دهغه په حکم او اراده کې دي. مومن دخپل ځان برې دخپلو تدبیرونو پایله نه ګڼي بلکې هغه یې دالله فضل ګڼي لکه څنګه چې په رښتیا هم همداسي ده. داحزابو په جنګ کې دکفارو لس دولس زره کسیز لښکر دمسلمانانو ددرې زره کسیز لښکر په مقابل کې ماتي وخوړه او خو اشیني ښېرته لاړل. په دغه وخت کې ځینو مسلمانانو داسي فکر کاوه چې دا ددوی دخپلو تدبیرونو خندق کیندلو ) پایله ده،نو ځکه دا هغو ی ته دویاړ یوه غوره او ځانګړې موقع وه. مګر خدای (جل جلاله) له دغې کمزورۍ څخه دهغوی دژغورنې لپاره داسي لارښوونه وکړه : « ای مومنانو دخدای هغه احسان در په یاد کړئ چې کله لښکرو پر تاسي باندې حمله وکړه نو موږ پر هغوی تو پان او تر ګمی ولېږله اوداسي لښکر دپرښتو) مو ولېږه چې تاسي نه لیده».
دحزاب ۹) آیت.

داسلامي نهضت علمبردارانو ته همداسي روزنه پکار ده چې هغوی یوازې دخدای جل جلا له ) پر فضل توکل وکړي او صرف خدا ی(جل جلاله) دټولو کارونو مطلق واکوال وګڼي او ددین دټینګښت او پر مختګ لپاره پر



له پسي هڅه او هاندو کړي که دمقابل لوري ځواک او طاقت هر څومره وي نو وي دې .

## دایمان ددعوې ازموینه :

دمصیبتونو په وخت کې دانسان ایمان ازمویل کېږي او انسان ته پخپله هم معلومېږي چې زوریې څومره دی او نوروته هم دا پته لګېږي چې هغه په دې لار کې ترکومه حده پورې ټینګ دی. کله چې حالات عادي شي دډېرو خلکو په اړه دا اټکل نه شي کیدای چې هغوی له واقعي نصب العین سره دمینې او ژوند په کومه درجه کې واقع دي،دېرځله یوانسان دځان په اړه په درنودوکوکې اخته وي خو هر کله چې کوم سخت حالت پرې راشي نوبیایې کره والی اوکوټه والی په ښکاره لیدل کېږي داحزابو جنګ همدغه کار او څرګندونه وکړه په مدینه کې له مسلمانانو سره یو شمېر منافقان او دکمزوري ایمان خاوندان هم وو،اوداضروري خبره وه چې دهغوی رښتیني بڼه دې ټولو مسلمانانو ته ښکاره شي. په دې توګه ددغو ستونزو په وخت کې دهغوی له مخ نه پرده لرې شوه ځکه چې پرله پسي دخندق کیندل،لوږه تنده تېرول،شپه او ورځ په ځان یوکول،ددومره لوی لښکر په مقابل کې درېدل،خپل سر په ورغوي کې نیول او تر شل دوه ویشت ورځو پورې پر له پسي دوېرې او اندېښنې په حالت کې دورځې هو ساینه او دشپې خوب په ځان حراموں څه اسان کار نه و. په هغو زړونو کې چې رښتینی ایمان نه و دغه ستونزې او کړاوونه یې ونه شوای زغملای او منا فقینو به دا ویل چې ښه ! پیغمبر ع خو له موږ سره دسوبې او نصرت ژمنه کړې وه مګر اوس خوهسې ونه شول .موږ یوه شووچې "خدای اورسول یې له موږ سره کومه ژمنه کړې وه بس هغه یوه دوکه وه".

داحزاب سورت ۱۲ ) ایت

یو شمېر نورو پلمې کولې او دخپلو کورونو دساتنې په پلمه یې میدان پرېښود،خو دهغوی په مقابل کې دخدای جل جلا له دهغو بند ګانو په زړونو کې چې رښتینی ایمان و،پر هغوی باندې دغو حالاتو بل ډول اغېزه وکړه. کله چې دوی ولیدل چې دکفارو لښکرې له ولولوسره راروانې دي نو ویې ویل ښه ده!

ایاداهغه حالات دي چې خدای او رسول یې دمخه موږ ته خبرراکړی و،داهغه ژمنه ده چې خدای او رسول یې له موږ سره کړې وه،خدای اودهغه رسول رښتیاویلي وو ددغوحالاتوله کبله په هغوی کې دایمان قوت لازیات شو)

داحزاب سوره ٢٢ ) ایت

## دکمزور تیا جرړه :

دسر او مال له زیان څخه وېره کول دانسان تر ټولو لویه کمزورتیا بلکې دټولو کمزوریو جرړه ده. دخدای پر ذات اوصفاتو باندې چې اسلام دکوم ډول ایمان راوړلو غوښتنه کوي په بنسټیزه توګه یکې داګروهه پرته ده چې ژوند او مرګ دخدای(جل جلاله) په لاس کې دي،ګټه،زیان او نور هر څه له خدای تعالی سره دي .داسې بل هېڅوک نه شته چې هغه دې مرګ وځنډولای شي او یا په یوه شکل سره دې ګټه په زیان او زیان په ګټه بدله کړي. همدغه ګروهه او همدغه ایمان دمسلمان دځوا ک بنسټ دی. هر څومره چې دغه بنسټ کمزوری کېږي هومره دمسلمانانو په هر کار کې ښکاره کمزورتیا لیدل کېږي،له دې امله ددغې کمزورتیا دلرې کولو لپاره په ښکاره او واضح ډول ورته وویل شول چې :

'' ای نبي ! دوی ته ووایه که تاسې دمرګ یا شهادت له وېرې تښتئ،نو تیښته تاسې ته کومه ګټه نه رسوي او دا یې هم وروښود له چې هغوی خودې دا فکروکړي ) که دخدای(جل جلاله) پرېکړه وي چې هغوی ته دې کوم زیان ورسول شي نو هغه څوک دی چې له خدای(جل جلاله) نه به یې بچ کړي او که دخدای پرېکړه داوي چې) هغوی ته کومه ګټه ورسوي نو هغه څوک دی چې مانع یې شي هغوی دې باید په یاد ولري ) چې بې له خدایه به هېڅوک خپل ساتندوی ونه مومي او نه مرستیال ''

داحزاب ١٧) ایت

که دغه ګروهه دچا په زړه کې وي نو بیاله تېښتې نه مطلب څه دی؟ انسان ته یکار دي چې په هر حساس وخت کې خپل ایمان وازمویي. ډېر ځله انسان پخپله دخپل ځان په دوکه کولو بوخت وي خوسمه پته یې هلته لګېږي چې د ازموینې وخت پرې راشي.



ددې جنګ په اوږدوکې مسلمانانو ته دا لار ښوونه وشوه چې درسول اللهﷺ ژوند ستاسې لپاره دتقلید وړ بېلګه ده،خوهغه کسان ترې دګټې اخیستو وړ ګرځېدلای شي چې هغوی له خدای(جل جلاله) سره دلېدو او اخروي نعمتونو هیله لري او خدای تعالی ډېر یادوي. په دې وخت کې دمسلمانانو دهمت لوړولو او په ډېرو سختو حالاتوکې دهغوی دزړونو دټینګولو او دخدای پر فضل باندې په پوره استقلال سره دتوکل درلودلوپه خاطردرسول اللهﷺ داستقلال،عزم،توکل علی الله او صبرکومه بېلګه چې مخې ته راځي هغه ترقیامته پورې دخدای دټولو بندګانو لپاره دتقلید وړ بېلګه ده. کوم کسان چې دالله ددین قایمولو لپاره چمتو وي او په دې لار کې قدم ږدي دهغوی لپاره دایوه داسې بېلګه ده چې دژوند په هر کړلېچې کې باید مخې ته کېښودله شي،همدا دهغوی لپاره دلارې اصلي مشال دی .

## دبنو قریظه وو پای :

لکه څنګه چې دمخه یادونه وشوه کله چې حضرت محمد ﷺ مدینې ته راغی نو له یهودې قبیلو سره یې تړون وکړ،هغوی تر څو ورځو پورې په خپل تړون ټینګ ولاړ وو،خوکله چې یې خپل تړون مات کړنوبیاجلاوطن کړای شول مګر بنو قریظه وو بیاتړون وکړپه دې توګه حضرت محمد ﷺ ورته امن او په خپلوکلا ګانوکې د اوسېدلو اجازه ورکړه.

داحزابودجنګ په وخت کې یهودي قبا ئلو بنو قریظه دمسلمانانو پر ضد را وپارول او هغوی هم داحزابو په جنګ کې ګډون وکړ او دهغو تړونونو درناوی او رعایت یې ونه کړ چې له حضرت محمد سره یې کړي وو. کله چې داحزابو جنګ پای ته ورسېد نو حضرت محمد ﷺ تر ټو لو دمخه بنو قریظه و ته پاملرنه اوداپرېکړه وکړه چې ارومرو دې هغوی ته دبې وفا یی جزا ورکړی شي. هغوی په داسې وخت کې بې وفایي وکړه چې ټول عرب دمسلمانانو پر ضد راپارېدلي وو. په ښکاره خو دمسلمانانو دخلاصون لپاره هېڅ یوه لاره نه وه پاتې او دبنو قریظه و خپل عمل ثابته کړه چې دمسلمانانو په حق کې دوی تر ښکاره دښمنانو چې هغوی په ښکاره مخالفت کوي ) ډېر خطر ناک دي. بنو قریظه وو له مسلمانانو سره تړون وکړ او له خپل لوري نه یې هغوی ته ډاډېینه ورکړه خو

پـه راتلونکي وخت کې ولېدل شول چې دوی دمسلمانانو دنابودۍ او له منځه وړلو لپاره خپلې هلې ځلې له نورو سره ګډې کړي دي،په دې ډول دهغوی کلاګاني محاصره شوې او دا محاصره تر یوې میاشتې پورې وځنډېدله. په پای کې بنو قریظه دې ته اړ شول چې وسلې کښېږدي بیاپه دې وخت کې پخپله دتورات له احکامو سره سم دهغوی په باب دا پرېکړه وشوه چې د هغوی دجنګ وړ کسان دې ووژل شي او نور دې بندیان شي. مال او اسباب دې ترې واخیستل شي. په دې وخت کې نژدې ۴۰۰) تنه ووژلی شول چې په هغوی کې یوه ښځه هم وه او داپه دې جرم ووژل شوه چې دکلا له دیوال نه یې پر یوه مسلمان باندې تیږه غورځولې او هغه یې وژلی و.

## دحدیبیې سوله :

کعبه داسلام اصلي مرکز و چې حضرت ابراهیم υ او دهغه زوی حضرت اسمعیل υ دخدای په حکم ودانه کړې وه.مسلمانان چې داسلام له دغه مرکز نه ویستل شوي وو تردې وخته پورې پرهغوی باندې شپږکاله اوښتي وو. همدارازحج هم داسلام له مهمو رکنونو څخه یو رکن و ځکه نو داد مسلمانانوخورا ټینګه غوښتنه وه چې دکعبې دخونې حج وکړي.

## دکعبې سفر :

په عربو کې به ټوکرۍ کال دجنګ لړۍ روانه وه خو دحج په وخت کې به یې دځلور و میاشتو لپاره داجنګونه ځنډول.داددې لپاره چې کعبې ته دتګ راتګ په وخت کې خلک په امن کې وي او په ډاډپېنه دکعبې زیارت وکړي. حضرت محمد  دهجرت په شپږم کال دذوی القعدې په میاشت کې دحج اراده وکړه او یو زیات شمېر مهاجرین او انصار دغې نیکمرغۍ ته چې دکعبې زیارت وکړي سترګې پر لار وو. په دې ډول د  ۱۴۰۰) تنومسلمانانوپه ملګرتیا دحج لپاره چمتوشو.کله چې ذوالحلیفه نومي ځای ته ورسېدل دقربانۍ لومړني دودونه یې پر ځای کړل .اوبیایې داخبره اعلان کړه چې مسلمانانو دحج اراده کړې ده نه دجنګ



او یر غل. وروسته له دې حضرت محمد  یو تن مکې ته ولېږه چې دقریشو خبرراوړي چې هغوی څه اراده لري.کله چې هغه بیرته راغی نو ویې ویل:

دقریشو ټول قبایل راټول شوي او دا وایي چې حضرت محمد به مکې ته نه شي راتلای او همدارنګه هغوی ټول دمقابلې لپاره چمتودي او له مکې څخه دباندې یې دخپلو لښکرو په راټولولو پیل کړی او دجنګ لپاره بیخي تیارسئ دي.

## له قریشو سره خبرې اترې :

له دې خبر سره سره حضرت محمدε بیا هم مخ په وړاندې ورته.کله چې حدیبیه نومي ځای ته ورسېد هلته دېره شو.

له مکې نه یو پړاو لرې یوه څاه ده چې حدیبیه نومېږي او دیوه کلي نوم هم دی. په دې ځای کې دخزاعه قبیلې مشر حضرت محمد  ته ورغی او ورته یې وویل چې قریشو دجنګ تیاری نیولی دی او تا سې نه پرېږدي چې مکې ته لاړ شئ هغه ورته وویل : څه،هغوی ته ووایه موږ صرف دعمرې لپاره راغلي یو. جګړه مو مقصد نه ده. موږ ته باید وخت راکړل شي چې دکعبې دخونې طواف وکړو. کله چې دغه پیغام قریشو ته ورسېد نو یو شمېر شریر و خلکو وویل چې : “ موږ دحضرت محمد  دپیغام اورېدو ته هیڅ اړتیا نه لرو “ مګر له یوه کسانو نه یوه تن  عروه ) وویل چې : “ نه،که تاسې پر ما باندې باور لرئ نوزه به لاړشم او له حضرت محمد  سره به خبرې وکړم “ په دې توګه عروه حضرت محمد  ته ورغی خو څه پرېکړه یې ونه شوای کولای. په دې وخت کې قریشو یوه ډله ولېږله چې پر مسلمانانو باندې یر غل وکړي خو هغه ډله ونیول شوه،بیاحضرت محمد  دخپلې مهربانۍ له کبله ښېنه ورته وکړه اوخوشې یې کړه.په پای کې یې دا پرېکړه وکړه چې دسولې دخبرو اترو لپاره دې حضرت عثمان τ مکې ته ولېږل شي. حضرت عثمانτ مکې ته لاړ،خو قریش په هېڅ ډول راضي نه شول چې مسلمانان دې دکعبې زیارت وکړي داخولاڅه چې حضرت عثمانτ یې بندي هم کړ.

## درضوان بیعت :

دلته په مسلمانانو کې په یوه ډول سره) داخبرخپورشوچې حضرت عثمانτ شهید شوی دی. دې خبرې مسلمانان خوا خپورې کړل خو کله چې دا خبر حضرت محمد  ته ورسېد ویې ویل چې اوس نو بایداورمرودحضرت عثمانτ دوینو بدل واخیستل شي.تردې وینا وروسته دکیکرو تر یوې ونې لاندې کښېناست او هلته یې له اصحابو کرامو τ څخه ددې خبرې بیعت واخیست چې موږبه مړه شوخوله جنګ نه به مخ نه اړوو او له قریشو څخه به دحضرت عثمانτ دوینو بدل اخلو. دې تړون په مسلمانانو کې حیرانوونکې ولوله راپیدا کړه او دشهادت مینه پکې وخوټېده او له کفارو څخه دبدل اخیستلو لپاره چمتو شول. ددې بیعت نوم بیعت الرضوان دی،په قران شریف کې یې هم یادونه شوې ده. په دې وخت کې چې کومونېکمرغوخلکودحضرت محمد  په مبارک لاس بیعت وکړ خدای(جل جلاله) دهغوی په حق کې دخپلې خوښۍ څرګندونه وکړه.

## دسولې تړون :

دمسلمانانو له دې جوش او خروش نه قریش هم خبر شول خوهلته بیاڅرګنده شوه چې دحضرت عثمان دوژلو  قتل ) خبر دروغ و. قریشو سهیل بن عمرو له خپلې خوانه دسفیر په توګه ورولېږه تر څوله مسلمانانو سره دسولې په باب خبرې اترې وکړي .سهیل له هغوی سره په دې اړه ډېرې خبرې اترې وکړې په پای کې دسولې پر شرطونو باندې موافقه وشوه. دسوله پاڼې  صلح نامې ) دلیکلو لپاره یې حضرت عليτ راوغوښت کله چې یې پرسوله پاڼه باندې ولیکل چې دا تړون دحضرت محمد رسول اللهε له خوا دی نو دقریشو استازي  سهیل) پرې نیوکه وکړه چې درسول اللهε کلمه باید ونه لیکل شي دا ځکه چې زموږ اختلا ف په همدې کې دی. په دې توګه حضرت محمد  دهغه خبره ومنله او په خپل مبارک لاس یې درسول الله الفاظ لرې کړل او هغه ته یې وویل چې ستاسې په نه منلو څه وشول خوزمادې قسم په خدای وي چې زه دخدای(جل جلاله) رسول یم.

پر هغو شرطونو چې سوله وشوه دادي :

۱- مسلمانان دې سږ کال بېرته لاړ شي.

سپېڅلی ژوند

۲- راتلونکې کال ته دې راشي خو تر دریو ورځو تېرولو وروسته دې بېرته لاړ شي.

۳- وسلو سره دې نه راځي خو یوازې توري له ځانه سره را وړای شي هغه به هم له تېکیو څخه نه باسي.

۴- په مکه کې چې کوم مسلمانان پاتې دي له هغوی څخه دې هېڅ یو له ځانه سره نه بیایي او که کوم مسلمان دا غواړي  چې په مکه کې پاتې شي نو هغه دې نه منع کوي .

۵- که له کافرانو یا مسلمانانو څخه کوم یو مدینې ته لاړشي نو هغه دې بېرته ورکړی شي خوکه کوم مسلمان مکې ته لاړشي هغه به بېرته نه ورکول کېږي.

۶- دعربو قبیلې به دا واک لري چې له مسلمانانو سره تړون کوي او که له کافرانو سره.

۷- دغه تړون به تر لسو کلونو پورې وي.

دا ټول شرطونه په ښکاره دمسلمانانو پر خلاف وو او له هغو ځنې په ډاګه څرګندېدله چې دا دمسلمانانو دماتې سوله ده.

## دحضرت ابو جندل واقعه :

دسوله پاڼې دلیکلو په وخت ناڅاپه دا پېښه رامنځ ته شوه چې دسهیل زوی ابوجندل په یوډول سره وتښتېد او بېړۍ په پښو دلته راورسېد. دمسلمانانو په مخ کې یې ځان وغورځاوه او خپل ټول پرهارونه یې هغوی ته وښودل اودایې وویل چې صرف داسلام منلوله کبله یې ماته دغه ډول تکلیفونه راکړل. ابو جندلτ له حضرت محمد  نه وغوښتل چې « ای پیغمبره ! ما دکفارو له منګولو څخه وژغوره اوله ځانه سره مې بوځه». کله چې سهیل دا حال ولیدنوویې ویل چې دادسولې دتړون لومړی بشپړتیایې پړاودی نودسوله پاڼې په اساس تاسې نه شئ کولای چې ابوجندل له ځانه سره بوځئ. ابوجندل په  یوه ډېره نازکه مرحله کې اسلام منلی و او فریاد یې کاوه چې ای مسلمانانو ورونو! آیاتاسې غواړئ چې بیامې کافرانو ته په لاس ورکړئ،ټول مسلمانان دهغه په دې حال له غوسې نه

وخو تېدل. حضرت عمرτ خوحضرت محمد ته ان تر دې پورې وويل څنګه چې ته دخدای(جل جلاله) رښتينی پيغمبر يې نوبيامونږ ولې داذلت اوسپکاوی ومنو!حضرت محمد ورته وويل چې « زه دخدای پيغمبريم اودخدای له حکم څنې غاړه نه شم غړولای،خدای به زما مرسته کوي ». لنډه دا چې سوله پاېه بشپړه شوه او ابوجندل دسوله پاڼې دشرط له مخې بېرته ولېږل شواوداسلام سر ښندونکي درسول د اطاعت له سختې ازموينې نه بريالي تېرشول. په دې چې له يوې خو اپه ښکاره دمسلمانانو سپکاوی اودابو جندل غمځپلی حالت واوله بلې خوا بې له څنګه ) او ولې ) دپيغمبر اطاعت.

## دحديبيې دسولې اغېزې :

دسوله پاڼې له بشپړيدونه وروسته حضرت محمد حکم وکړ چې په همدې ځای کې دې خلک قربانۍ وکړي لومړی پخپله حضرت محمدε قرباني وکړه او وېښتان يې وخرييل وروسته بيا صحابه و دهغه حکم تعميل کړ. پيغمبر له سولې نه وروسته تر دريو ورځو پورې په حديبيه کې پاتې شو. کله چې له دې ځايه روان شوپه لارکې دفتح سورت وربانديې نازل شو چې په کې يې ددغې سولې واقعې ته اشاره کړې ده او هغې ته فتح مبين ) يعنې ښکاره سوبه ويل شوې ده. په ښکاره خو دا داريانتيا خبره وه چې هغه ترون ته چې دمسلمانانوله نظره دماتې سوله وه هغې ته دې ښکاره سوبه وويل شي،مګر وروستيو حالاتو په ډاګه او څرګنده کړه چې دحديبيې دسولې واقعه داسلام په تاريخ کې ديوې لويې سوبې سريزه وه چې تفصيل يې دادی :

تر د غه وخته پورې دمسلمانانو او کافرانو تر منځ دجنګ لړۍ روانه وه او دواړو ډلو به په خپلوکې سره تګ راتګ نه درلودخو له دغې سولې او روغې نه وروسته ددوی تګ راتګ پيل شو او بې وېرې به مسلمان او نا مسلمان مدينې ته راته او مياشتې مياشتې به يې هلته تېرولې اوله مسلمانانوسره به يې ناسته ولاړه کوله ،په دې توګه هغوی ته داموقع په لاس ورغله چې له دغه نوي نهضت سره له نژدې نه وګوري. دلته به چې راغلل په اريانوونکې ډول به تر اغېزې لاندې راغلل اودمسلمانانو پر خلاف به چې کوم زړونه له کرکې او



غوسې نه ډک وو هغوی به له خپلو خلکو نه په مسلمانانو کې داخلاقو،چار چلند او عاداتو لوړ والی او غوره والی ليده او دا به يې هم ليدل چې دخدای له هغو بندګانو سره مونږ جنګ پيل کړی دی چې دهغوی په زړونوکې زمونږ پر خلاف هېڅ کرکه او دښمني نشته بلکې له هغوی سره که څه کرکه ده هغه زمونږ دغلطو عقايدو او غلطوتګلارو په سبب ده.

مسلمانان چې هره خبره کوي هغه له خواخوږۍ اوانسانيت نه ډکه وي. سره له دې چې هغوی به له مسلمانانوسره جنګونه کول. خو بياهم دمسلمانانو په انساني خواخوږۍ اوښه چارچلندکې څه کمی رانغی، هغو نا مسلمانو خلکو چې داسلام په اړه څه شکونه او اعتراضونه درلودل هغوی ته هم ددې تګ راتګ په سبب دخبرواترو موقع پيدا او دا ور په ډاګه شوه چې دوی داسلام په باب له څومره تېرو تنوسره مخامخ شوي وو، لنډه دا چې دغو حالاتو پخپله دکافرانو زړونه داسلام په لورې راکاږل اودغلط فهميوکومې پردې چې ددوی پر زړونو باندې ددوی مشرانو خورې کړې وې دهغو ټولو په راغونډولو يې پيل وکړ. په دې توګه تر دغه ترون وروسته ديو نيم يا دوو کلونو په اوږدوکې دومره خلکو اسلام راووړ چې هېڅکله يې تردې دمخه نه و راوړی. په دې دوران کې دقريشو يو شمېر لو يان او نامتو مشران هم داسلام تر اغېزې لاندې راغلل، له کافرانو سره يې خپلې اړېکې وشلولې اوله مسلمانانو سره ملګري شول. حضرت خالد بن وليدτ او حضرت عمر بن عاصτ دواړوپه همدې وخت کې اسلام راووړ او داسلام دنفوذ دايره دومره ارته او ځواکمنه شوه چې په دې وخت کې زاړه جاهليت خپل مرګ په خپلو سترګو ليده. دکفارومشرچې دا حال وليد ډېرخواشينی اوغمجن شو. قريش په دې ښه پوهېدل چې په يقيني توګه يې داسلام په مقابل کې لوبه بايللې ده اوس نو هغو ته بله کومه چاره نه وه ورپاتې پرته له دې چې دغه ترون مات کړي او داسلامي نهضت پر خلاف يو ځل بيا خپل بخت په کلکه وازمويي او ددې راروان سېلاب مخه ونيسي. ددې ترون دماتو لو يادونه به په راتلو نکو پاڼوکې دمکې سوبې په لړکې په خپل مناسب ځای کې راشي .

# لسمه برخه

## دپاچايانو په نامه ليکونه :

- دروم دقيصر په نامه
- له ابو سفيان سره خبرې اترې
- دايران دپاچا په نامه

سپېڅلی ژوند

- **دنجاشي او دمصر دعزيز په نامه**

کله چې حضرت محمد  دحديبيې له سولې نه يو څه ډاډه او خوا ټولی شو نو دبلنې او تبليغ کارته يې لا زياته پاملرنه وکړه يوه ورځ يې خپلو صحابه وته وويل چې ”ای خلکو!خدای(جل جلاله) زه دټولې دنيا لپاره رحمت رالېږلی يم زما پيغام دټولې دنيا لپاره دی او دادټولو لپاره رحمت دی،ګورئ دعيسیυ دحواريو نو په شان  بې اتفاقي مه کوئ. لاړشئ او زما له خوا دحق پيغام ټولو ته ورسوئ “. دا وخت يعنې دشپږم هجري کال په پای او داووم هجري کال په پيل کې يې دلويو لويوپاچايانو په نامه بلنليکونه دبيلا بيلو صحابه و په لاس مختلفو هېوادونو ته ولېږل. په تاريخ کې ددې بلنليکونو بشپړه تفصيل راغلی دی خويوڅه برخه يې داده:

دروم دقيصر په نامه ليک حضرت دحيه کلبي ورووړ.

دايران دشاه  خسرو پرويز) په نامه ليک حضرت عبدالله بن خزافه سهمي ورووړ.

دمصر دعزيز په نامه ليک حضرت حاطبτ بن ابي بلتعه ورووړ.

دحبشې دپاچا به نامه ليک حضرت عمرτ بن اميه ورووړ.

### دروم دقيصر په نامه ليک :

دروم دقيصر په نامه يې چې کوم ليک ولېږه هغه په دې ډول و :

بسم الله الرحمن الرحيم * دمحمد له خوا چې دخدای(جل جلاله) بنده او رسول دی،دهرقل په نامه چې دروم لوی رئيس دی.

هغه څوک دې سلامت وي چې دهدايت پيروي کوي. وروسته تر دې زه تا اسلام ته رابلم.

که دخدای (جل جلاله)اطاعت او حکم دې ومانه نو سلامت به يې،خدای(جل جلاله) به تا ته يو په  دوه اجر درکړي خو که تا دخدای(جل جلاله) له حکم نه مخ

واړاوه نو ستا دهېواد والو ګناه به هم ستاپرغاړه وي " ځکه چي ستا دانکار له کبله به هغوی ته هم اسلامي بلنه ونه رسېږي. "

ای اهل کتابو ! راشئ یوې داسي خبرې ته چي زموږ او ستاسي ترمنځ یوشان ده.اوهغه داچي بې له خدای(جل جلاله) به موږ دبل چا بندګي نه کوو او له هغه سره به شریک نه پیدا کوو او بې له یوه خدایه به بل څوک په خدایی نه منو خو که تاسي له دې خبرو نه غاړه وغړوله نوموږ په ښکاره وایو چي تاسي شاهدان اوسئ چي موږ خو مسلمانان یو " یعني دیوه خدای دبندګی او اطاعت منونکي ".

## له ابو سفیان سره خبرې اترې :

حضرت دحیه کلبيؓ چي دغه لیک حارث غساني ته په بصرې کې ورساوه. په دې وخت کې حارث غساني دروم دقیصر له خوا دشام واکمن و. کله چي لیک قیصر ته ورسېد هغه یې پرانېست اوحکم یې وکړکه دلته کوم عرب پیدا کولای شئ ماته یې راولئ. په دې وخت کې ابوسفیان دسوداګرۍ لپاره همدغې سیمي ته راغلی و. موظفو کسانو هغه دقیصر دربارته ورووست. کومي خبرې اترې چي له ابوسفیان سره وشوې هغه دادي :

قیصر : دنبوت دمدعي کورنی څنګه ده ؟

ابو سفیان : له شریفي کورنۍ سره اړېکه لري.

قیصر : په دې کورنۍ کې کوم بل یوه هم دنبوت دعوه کړې وه ؟

ابو سفیان : نه .

قیصر : آیا په دې کورنۍ کې کله کوم پاچا تیر شوی دی ؟

ابو سفیان : نه ! هېڅکله !

قیصر : کومو خلکو چي دا مذهب منلی دی کمزوري دي که شتمن ؟

ابو سفیان : کمزوري خلک دي .

قیصر : دده پیروان زیاتېږي او که کمېږي ؟

ابو سفیان : زیاتېږي.

قیصر : آیا تاسي له هغه نه کله دروغ اورېدلي دي ؟

ابو سفیان : نه، هېڅکله.



قیصر : آیا هغه کله له خپلي ژبې او وعدې نه ګرځېدلی دی ؟

ابو سفیان : تر اوسه پوري خو یې دوعدې او ژبې پر خلاف کوم کارنه دی کړی. اوس دحدیبیې دسولې تړون ورسره شوی دی وبه ګورو چي په خپل تړون درېږي او که نه.

قیصر : آیا تاسي له هغه سره کله جنګ کړی دی ؟

ابو سفیان : هو ! کړی مو دی.

قیصر : دجنګ پایله مو څنګه وه ؟

ابو سفیان : کله موږ سوبمن او کله هغه.

قیصر : هغه څه ښوونه کوي ؟

ابو سفیان : هغه وایي چي یوازې دیوه خدای بندګي کوئ. په هېڅ ډول سره هم دبل چا عبادت مه کوئ،لمونځ کوئ. پاک لمني اوسئ،رښتیاوایئ او یوله بل سره په لورینې او مهربانۍ مخامخېږئ.

له دې خبرو اترونه وروسته قیصر ورته وویل چي : " پیغمبر تل په ښه کورنۍ کې پیداکېږي.که په دغې کورنۍ کې بل چا دنبوت دعوه کړې وای نو کېدای شول چي ده به دکورنۍ اغېزه منلې وي اوکه دده په کورنۍکې کوم پاچاتېرشوی وای نو کېدای شول چي ده به دا هر څه دواکمنی دهوس په خاطرکول،نو څنګه چي دا تجربه شوې ده چي دخلکو په معاملو کې یې هېڅ کله دروغ نه دي ویلي نوڅنګه کیدای شي چي هغه دې دخدای(جل جلاله) په معامله کې دومره غټ دروغ ووایي چي " دی دخدای(جل جلاله) رسول دی " او داهم واقعیت دی چي دپیغمبرانو لومړني پیروان تل غریب خلک وي او رښتینی مذهب تل مخ په وړاندې درومي او داهم رښتیا ده چي پیغمبر هېڅکله له چاسره دوکه او ټګي نه کوي او بیا دې داهم وویل چي هغه دلمانځه،پاک لمنۍ اوتقوی لاربښوونه کوي نوکه داټول رښتیاوي،دا زماحکومت به هم یوه ورځ دهغه تر واک لاندې شي.ماته معلومه وه چي یو پیغمبر راتلونکی دی خوماداخیال نه کاوه چي هغه به په عربو کې پیدا کېږي. که زه هلته تلای شوای نو پښې به مي ورته مینځلي وای. "

قيصر چي ددربار ملايانو او پو هانو ته دغه خيالات واورول نوهغوی ډير خواشيني شول اوقيصرته دا انديښنه پيدا شوه چي دهغه پرضدچيري بغاوت ونه شي .دې انديښني سره بياهم دقيصرزړه ته څه روښنايي ورننوتي وه خو بيا تته او ورکه شوه. ربښتيا چي دحق منني په لارکي له دولت او اقتدار هم تر ټولو لوی خنډ گرځي.

## دايران دپاچا په نامه :

دايران دپاچا خسرو پرويز په نامه چي پيغمبر کوم ليک ليږلی و هغه داو:

بسم الله الرحمن الرحيم *دخدای(جل جلاله) درسول محمد له خوا دفارس لوی رئيس کسریٰ ته. سلام دې وي پر هغه چا چي دهدايت پيرو وي او په خدای او پيغمبر يي ايمان راوړی وي او دا شاهدي ورکوي چي له الله نه پرته بل اله نشته او دا چي زه ټولو انسانانو ته دخدای(جل جلاله) له لوري را ليږل شوی پيغمبر يم او ددې لپاره چي هرڅوك دخدای(جل جلاله) دنا فرمانی له ناوړه انجام څخه ووېروم. ته هم دخدای تعالی اطاعت او فرمانبرداري ومنه،ته به سلامت او سې،که نه نو داور لمانخونکووبال به هم ستاپه غاړه وي.'' خسرو پرويز دډېربرم او اوکوب خاوند و. هغه ته دا رنگه ليک خورا گران او ځوروونکی و چي لومړی پکي دخدای(جل جلاله) نوم،بيا دليک ليږونکي نوم او وروسته دې دپاچانوم ليکل شوی وي او هغه هم په ساده توگه چي نه ورسره اداب او القاب ليکل شوي وو او نه دليکني هغه سلوک لکه څنگه چي په هغوی کي دود و. خسرو پرويز چي دا ليک وکوت نو خو اخپوری پريشان ) شو اوويي ويل : '' زمامريي ماته دا کښلي دي '' له دې وينا نه وروسته يي دغه مبارکه پاڼه څېرې کړه او ديمن والي ته يي فرمان ولېږه چي دنبوت مدعي زما دربارته راولئ.

ديمن والي دوه کسه حضرت محمد ته ولېږل چي هغه راولي په دې وخت کي دخسرو پرويز زوی راپاڅيد او خسرو يي وواژه،پخپله پر تخت کښيناست. کله چي دوالي استازي پيغمبر ته ورغلل،دوی خبرنه وو چي پاچايي وژل شوی دی. حضرت محمد ته داخبره دخدای تعالی په حکم څرگنده شوې وه. په دې توگه يي دواړو استازوته خبر ورکړ او ورته يي وويل چي تاسي ببرته



لاړشئ او والي ته مو ووايئ چي داسلام حکومت به دخسرو تر پايتخت پوري در ورسيږي. کله چي هغه دواړه يمن ته بېرته ورسېدل هلته معلومه شوه چي خسرو پروېز وژل شوی دی.

## دنجاشي او دمصر دعزيز په نامه :

دغه مضمون ته ورته ليک يي دحبشي پاچا ته هم لېږلی و. هغه يي په ځواب کي داسي ليکلي وو چي :''زه شاهدي ورکوم چي ته دخدای(جل جلاله) رښتينی پيغمبر يي '' نجاشي دحضرت جعفرτ په لاس هغه وخت اسلام قبول کړی و چي حضرت جعفرτ حبشي ته هجرت کړی و. په دې اړه د حبشي ته هجرت) ترسرليک لاندې هم يادونه شوې ده.

که څه هم دمصر عزيز هغه ليک ولوست خو اسلام يي رانه ووړ مگر دپيغمبرε استازی يي له عزت او سوغاتو نو سره بېرته ولېږه.

# يـــــولســـمه بـــرخـــــه

## داسلامي حکومت ټينـګښت :

- **دیرغل او پرمختک پالیسي**
- **پر خيبر باندې يرغل**
- **داسلامي ټولنې روزنه**

- **دعمرې اداء کول**
- **دمکې سوبه**
- **دحديبيې له سولې نه غاړه غړول**
- **پر مکه باندې دير غل تيارى**
- **دابو سفيان گرفتاري**
- **مکې ته داخلېدل**
- **تر سوبې وروسته خطبه**
- **دحنين غزا**
- **دحنين جنګ**
- **په دښمن پسې تلل او دخير دعا**
- **دتبوک غزا**
- **دروم له واکمنۍ   سلطنت ) سره کشمکش**
- **دقيصر له خوا دير غل تيارى**

سپېڅلی ژوند

- **دمقابلې پرېکړه**
- **دمنافقت پرده لرې کول**
- **په مکه کې دامن اعلان**
- **دکعبې خو نې ته ننوتل**

کله چې بنونضيروخلک له مدينې څخه وويستلى شول نو هغوى خيبر ته راغلل او په همدې ځاى کې مېشت شول خيبر دهغه ځاى نوم دى چې کابوله مدينې څخه    ٢٠٠) ميله لرې شمال ختيځ لوري ته پروت دى او يهودو پکې ټينګې کلا ګانې جوړې کړې وې .

خيبر په دې وخت کې داسلامي نهضت پر ضد خورا قوي مرکز او داسلام لپاره يوه تلپاتې خطره وه او پرمدينې باندې ديهودو دهغه سخت ير غل ستر لامل و چې داحزابو جنګ تر سر ليک لاندې يې يادونه شوې ده. کله چې خداى تعالى دهغوى دادسيسه هم شنډه کړه،نو بيا يې پر له پسې داسې دسيسې جوړولې چې په هرډول سره وي،اسلامي نهضت له منځه يوسي.ددې مقصد لپاره به يې دعربوله بېلابېلوقبيلوپه تېره بيا له قريشو سره سازشونه کول او له دې سره سره يې دمدينې منا فقان هم لمسول چې که هغوى دمسلمانانو په منځ کې پاتې شي اوپه بيړه دمسلمانانو دجرړ و په غوڅولو پيل وکړي. نو له بهرنه به داسلام دښمنان هم پرې ير غل وروړي او داسلام له لوري خطر !) به دتل لپاره له منځه ولاړ شي. حضرت محمد   ديهودو پردې هلو ځلواوهڅوپوه و. ده هم کوښښ وکړ چې له يهودو سره يو ډول مناسب تړون لاسليک کړي او هغو ى له دغو حرکتونو څخه راوګرځوي. په دې توګه يې دهمدې مقصد لپاره پخپله هم تحريک وچلاوه خو يهود له خپلو سازشونو نه وانه وښتل او ان تردې چې دهغوى بېلابېلو قبيلو ته يې داخبرورکړکه چېرې له موږ سره يو ځاى پرمدينې باندې ير غل کوئ نو موږ

به هر کله تاسې ته دکجورو دبڼ نیمه پیداوار درکوو. لنډه دا چې دیهودو دسازشونو په پایله  نتیجه ) کې داکثرو قبیلو ارادې بدلې شوې او په دې خبره یې اتفاق وکړ چې په ګډه به پرمدینې باندې یرغل کوي.

## دیر غل او پرمختګ پالیسي :

تر اوسه پورې به مسلمانان دځان ژغورنې په خاطر جنګیدل اود ښمن به دهغوی دله منځه وړلو لپاره تعرضي حملې کولې همدا و چې مسلمانانو دخپل ځان دساتنې لپاره وسله په لاس واخیسته او دخدای(جل جلاله) په نصرت سره دهغوی دښمن خړ سترګی شو،خو په دې وخت کې حالاتو ځانته بله بڼه غوره کړه او دې خبرې ته اړتیا وه چې اسلامي نهضت ته که له هرې خوانه کوم خطرمتوجه وي،مخکې له دې چې هغه ددې نهضت دله منځه وړلو لپاره منظم شي،پرهغه باندې دې حمله وشي او هغه دې له منځه یو وړل شي.

کله چې داسلامي نهضت دټینګښت او ژغورنې لپاره دفاعي جنګ ته اړتیاوې نوپه دې وخت کې یرغل او پرمختګ هم یوډیرضروري کاروي. اسلام دژوندانه یو نظام او بشپړ قانون دی ددې نظام او قانون دتحکیم لپاره یوازې هم دومره کافي نه ده چې کله دغیر اسلامي نظام دمخکښانو  علمبردارانو) له خوا پرې کومه حمله کیږي دوی دې ترې صرف ځان وژغورلای شي. بلکې دژوندانه ددغه قانون دتحکیم لپاره داسې وخت هم راځي چې دنورو نظامونو دړنګولو لپاره به پرمخ ځي او په دې خاطر به هلې ځلې کوي. اسلامي نهضت داحزابو له جنګ نه راوروسته په یوه داسې مرحله کې واقع شو چې یوازې دفاعي ډوله جنګونوورته بسنه نه کوله بلکې اوس هغه وخت رارسېدلی و چې که اړتیاپیښیږي نو پخپل یرغل سره دې هغه خطرلرې کړي،څنګه چې داحزابو جنګ پای ته ورسېد وروسته له هغه حضرت محمد  دا لارښوونه وکړه چې " اوس به داسې نه وي چې هغوی به پر موږ باندې یر غل کوي بلکې اوس به موږ پخپله وځو او پرهغوی به دانګو". ۱)

............................................................................................

(۱) موضح القرآن- شاه عبدالقادرصاحب –(داحزاب سورت)



## پر خیبر باندې یر غل :

اوس هغه وخت رارسېدلی و چې په خپل وخت سره دې دیهود و دفتنو دپراختیا مخه ونیول شي .

له دې کبله حضرت محمد  پرخیبرباندې دیرغل تیاری ونیو او دیهودو له خوا چې دکومو بریدونو اندیښنه وه دهغو دمخنیوي لپاه پخپله له مدینې څخه ووت. دغه پیښه دهجرت په اووم کال دمحرم په میاشت کې واقع شوه،په دې حمله کې چې له پیغمبر  سره کوم پوځ و شمېریې یوزراو شپږ سوه  ۱۶۰۰)تنه وو چې له دې جملې څخه دوه سوه تنه سپاره او نور
پلي وو.

په خیبرکې شپږ کلا ګانې وې چې شل زره تنه عسکرپکې اوسېدل.کله چې حضرت محمد  خیبر ته ورسېد او باور یې راغی چې یهودان رښتیا دجنګ لپاره چمتو دي او هیڅ راز تړون او سوله نه غواړي ،نو بیا یې صحابه و ته دجهاد په اړه وعظ وکړ او هغوی یې دخدای(جل جلاله) ددین په لارکې دسر ښندنې لپاره وهڅول. کابو تر شلو ورځو کلا بندۍ وروسته خدای تعالی مسلمانانو ته سوبه ورکړه او په دې جنګ کې له
 یهودانو څخه ۹۳ تنه ووژلی شول او له مسلمانانو څخه ۵تنه په شهادت ورسېدل. دیهودو یو نامتو اتل  مرحب ) دحضرت عليτ په لاس ووژل شو،ددغه اتل وژل قتل ) یو ه عظیم الشانه پېښه وه. داځکه چې یهودو به دهغه په زور او قوت باندې ډیرفخرکاوه له دې سوبې نه وروسته یهودو دا غوښتنه وکړه: هغه ځمکې چې تراوسه پورې زموږ په ولکه کې دي هغه دې له موږ سره وي او نیمه پیداوار به یې مسلمانانو ته ورکوو حضرت محمد  دهغوی دا غوښتنه ومنله او په راتلونکو کلونو کې به مسلمانو امیرانودغه پیداوارله یهودو سره دانصاف له مخې دوه برخې کول او ورو ورو به یې دهغوی زړونه په لاس راوړل. مسلمان امیر به پیداوار دوه برخې کړل او بزګرته به یې داحق ورکاوه چې پخپله خوښه یو ه برخه واخلي .

## داسلامي ټولني روزنه :

داحد له جنګ نه راوروسته چې څومره باندني خطرونه اسلامي نهضت ته متوجه وو دهغو اندازه داحزابو له جنګ او ترې راوروسته نورو واقعاتو نه په ښه توګه څرګندېدلای شي. دغه دوره دلويو کشمکشونو دوره وه خو داسلامي نهضت بلونکي حضرت محمد  به چې کله له دغو پېښو نه وزګار شو ديوه هوښيار جنرال او داخلاقو ديوه ښوونکي او پالونکي په توګه به يې دنهضت دعلمبردارانو روزنه کوله. او ددې نوې ټولنې لپاره به چې کومو اصولو او قوانينو ته اړتيا وه پر له پسې به يې دهغو ښوونه کوله. ددې دورې ددوو مهمو سورتونو  نساء او مائدې ). له ځېرنې څخه راڅرګندېږي چې هغوی ته داسلامي اخلاقو او اسلامي ټولنې دجوړښت لپاره په دې دوره کې دکومو مهمو قوانينو او اصولو تعليم ورکړی شو.

نساء سورت دڅلورم او پنځم هجري کال په بېلا بېلو وختونو کې رانازل شوی دی. له دې سورت نه دارا معلومېږي چې محمد  په څه ډول سره دغه نوې اسلامي ټولنه د زاړه جاهلي دود او دستور له نا پاکيو څخه وژغورله او په نوو اصولو يې اخلاق،تمدن،ټولنه او ژوندون منظم کړل. په دې وخت کې يې مسلمانانو ته په ښکاره لارښوونې وکړې چې سر بېره پر خپل شخصي ژوند،خپل ټولنيز ژوند ته په څه ډول داسلام داصولوله مخې سمون ورکړي،هغوی ته دکورنۍ دتنظيم اصول وښودلی شول. دنکاح او طلاق په اړه ښکاره هدايات ورکړی شول. دښځو او نرينه وو دحقوقو په ټاکلو سره دټولنې ډېرې بدۍ لرې کړی شوې. ديتيمانو او مستضعفينو دحقوقو په خوندي کولو ټينګار وشو دميراث دوېش اصول جوړ شول. په معا ملاتو کې دراکړې ورکړې دسمون لپاره لارښوونې وشوې. دکورنيو شخړو داوارولو لارې چارې وښودلی شوې. دشرابو پر څښلو باندې بنديز ولګول شو. دطهارت او پاکۍ احکام ورکړی شول. مسلمانانو ته دا وښودلی شول چې ديوه نېک انسان اړېکې دې له خدای(جل جلاله) او دهغه له بندګانو سره څه رازوي. سر بېره پردې يې د اهل کتابو دنامناسب ژوند پر دود او غلطو چلندونو باندې انتقاد هم وکړ او په دې خبرې سره يې له



يوې خوا داهل کتابو غلطی ورپه ګوته کړې او له بلې خوا يې مسلمانانو ته دا فکر ورکړ چې له دغسې غلطيو نه ځان وساتې.

دا د اسلام د تاريخ هغه اړخ دی چې له سمون نه يې پرته دباطل په مقابل کې برى نه شي تر لاسه کيدای. داسلامي نهضت علمبردارانو ته په کار ده چې هغوی نه يوازې دخپل ذاتي حيثيت پربنسټ په اخلاقي لحاظ دباطل لمانځونکوپه وړاندې ودرېږي بلکې دهغوی لپاره دا هم ضروري ده چې يوه داسې بېلګه ايزه  مثالي ) ټولنه جوړه کړي چې دحال په ژبه دغير اسلامي ټولنو په مقابل کې خپل غوره والی زيات کړي. ددې مقصددترلاسه کولو لپاره سازش او دوکوته ضرورت نشته بلکې دنهضت په علمبردارانو کې چې کله دتقوی او احسان کيفيت پيداشي نو بيا  پخپله همدغه نتايج ترې راوځي. په همدې سبب ديوه نبي اصلاحي او انقلابي نهضت ترنورو ټولو نهضتونو ممتاز او غوره وي. يو نبي چې پخپلو مخاطبو کسانو کې دبلنې دحق ادا کولو لپاره څومره نا ارامه اوتلولې وي تر دې زيات دخپلو پيروانو دښوونې روزنې او تزکيې لپاره هم متوجه وي دغه امتيازي ځانګړنه پخپله دنساء سورت په مضامينو کې هم شته. ددغه سورت په کوم ځای کې چې هم داخلاقو،تمدن،ټولنې او نوروپه اړه قوانين بيانېږي ورسره دتبليغ او بلنې اړخ هم مخ په وړاندې درومي، مشرکان او اهل کتاب په يوشان دحق دين لورې ته رابلي.

کابو دحديبيې له سولې نه راوروسته په اووم هجري کال دمائدې سورت نازل شو. دحديبيې دسوله پانې پر اساس په دې کال مسلمانانو عمره نه شوای اداءکولای بلکې داپرېکړه شوې وه چې په راتلونکي کال کې به دکعبې زيارت ته ورځي. په دې توګه له دغه پراونه دمخه دکعبې دزيارت په لړکې ډېر زيات اداب هغوی ته وښودلی شول. او داتعليم ورکړی شو چې دکافرانو له تېري سره سره دې مسلمانان پر هغو ی باندې څه زياتی نه کوي .

کله چې مائدې سورت نازل شو په هغه وخت کې دمسلمانانو حالت پوره بدل شوی و او دامهال هغه وخت تېر شوی و چې اسلام له څلورو خواو څخه رااېسار او په خطرکې و، لکه داحد له جنګ نه راوروسته چې دهغوی کوم حالت و بلکې داوخت اسلام پخپله يو ځواک و او اسلامي رياست پوره پراختيا

مونډلي وه. دمديني څلورو خواو ته تر يونيم يو نيم سلوميلو،دوه دوه سوو ميلو پوري ديټولو دښمنو قبيلو زور مات شوی و او ديهودو له لوري به چې هروخت مدينه منوره له خطرسره مخامخ وه هغه خطرهم پای ته رسيدلی و. او که په کوم ځای کې يهودان پاتې هم وو هغوی ټولو دمديني تر رياست لاندې ژوند منلی و. لنډه دا چې په دې وخت کې په ښکاره ليدل کيدل چې اسلام يوازې ديو څو عقايدو مجموعه نه ده لکه څنګه چې دنورو خلکوپه اصطلاح کې ور ته مذهب ) وايه شي او اړيکه يې يوازې دانسانانو له زړه او دماغ سره وي بلکې هغه دژوند يو بشپړ نظام دی چې اړيکه يې دانسان له زړه او دماغ نه علاوه دهغه له ټول ژوند سره هم ده چې حکومت او سياست،سوله او جنګ او نور ټول شيان پکې شامل دي. داهم يوه څرګنده خبره وه چې په دې وخت کې مسلمانان دومره ځواکمن شوي وو چې هغوی دژوند کوم نظام دين ) دفکر او غور له مخې منلی و پر هغه باندې يې بې پوښتنې او ګروېږنې خپل ژوند تر سره کولای شو او دژوندانه بل کوم نظام او قانون يې دلارې خنډ نه شو ګرځيدلای بلکې نور خلک يې خپل دين ته هم رابللی شول.

تردغه وخت پورې پخپله دمسلمانانوله خوا يو داسې تهذيب جوړ شوی و چې هغه له نورو څخه ممتاز اوغوره و. دهغوی اخلاق،دهغوی دژوند تګلار، دهغوی چارچلند،لنډه دا چې دهغوی ټول ژوند داسلامي اصولو په چوکاټ کې داخل شوی و، او دنورو په مقابل کې يې په ښکاره امتيازي حيثيت غوره کړی و. خپل پوځې او دفتري قوانين او محاکم يې درلودل. راکړه ورکړه،پيرل اوپلورل يې په خپله طريقه وو. دميراث مستقل قانون ورسره و. د طلاق، نکاح،پردې اوداسې نورو چارو لپاره يې خپل اصول او قوانين درلودل. ان تر دې چې دهغوی دناستې ولاړې،خوراک څښاک او روغ بړ دادابو په باره کې هم ښکاره هدايات موجود وو او ددغو ټولو شيانو په يو ځای کولو سره يې اسلامي ټولنه او داسلامي ژوند تګلاره له نورو غير اسلامي ټولنو څخه ممتازه او غوره ګرځولې وه. او داهر څه دهغې ښوونې او روزنې پايله وه چې حضرت



محمد ورته پوره پاملرنه کوله او په نتيجه کې دمسلمانانو ژوند له سپېڅلتيا څخه دلا سپېڅلتيا په لور روان و.

دمائدې سورت کې دحج دسفر اداب،دخوراک څښاک په شيانو کې دحرامو او حلالو توپير،داوداسه،غسل او تيمم تر تيب او قاعدې،دشرابو او قمار حرمت،دشهادت په اړه لارښوونې،پرعدل او انصاف باندې ټينګار او داسې نور موضوعات دي چې داسلامي ټولنې دجوړښت لپاره خورا ډير ضروري وو او دې ټولو ته به پوره پاملرنه کېده.

**دعمرې اداء کول :**

دحديبيې په سوله کې يو شرط داو چې مسلمانان دې په راتلونکې کال کې عمره اداء کړي. په دې توګه حضرت محمد په راتلونکي دهجرت په اووم ) کال له ګڼ شمېر مسلمانانو سره دکعبې زيارت وکړ. په دې وخت کې پر صحابه و باندې له ډېرې خو شحالی او ولولې نه يو اريانوونکی کيفيت پريووت. دې منظرې دقريشو دکفارو زړونه مات او خواشيني کړل،درخې او تعصب اوريې لمبه وکړه او دا مهال يې خپلې هغې سوله پاټې ته هېڅ ونه کتل چې په خپله خوښه يې خپله پله پکې درنه کړې وه.

# دمکې سوبه

## دحديبيې له سولې نه غاړه غړول :

دحديبيې دسوله پانې په اساس دعربو قبيلو ته داحق ورکړ شوی و چې دمسلمانانو او يا قريشو له هرې يوې ډلې سره چې هغوی غواړي تړون وکړي دهمدغه شرط په اساس خزاعه قبيلې له مسلمانانو سره تړون وکړ او بنو بکر قبيلې له قريشو سره. نژدې تر يونيم کال پورې همدغه تړون عملي کيده خو تر دې وروسته يوه نوې پېښه رامنځ ته شوه او هغه داچې دخزاعه او بنو بکر قبيلې چې له ډېرې مودې په خپل منځ کې سره جنګېدلې يوځل بيايې ترمنځ جګړه پيل شوه. ددې جنګ پيل داسې و چې کله بنوبکرو پر خزاعه و باندې بريدوکړ نو قريشو دبنوبکرو ملاتړ وکړ. داځکه چې هغو ی له خزاعه و نه په دې خبره خپه وو چې دهغوی پر ضد يې له مسلمانانو سره تړون کړی و لنډه داچې هغوی په ګډه دخزاعه قبيلې دخلکو پروژلو باندې پيل وکړ ان تردې چې کله هغوی دکعبې خونې ته پناه يو وړه هلته يې هم پرېښنبودل او په حرم کې يې هم دخزاعه و وينې وبهولې. خزاعه اړ شول او له دې حالاتو څخه يې حضرت محمد ته خبر ورکړ اودمخکيني تړون پر اساس يې له حضرت محمدε څخه مرسته وغوښته. کله چې حضرت محمد دخزاعه و له مظلوميت نه خبر شو نو ډېر زيات غمجن شو او قريشو ته يې خپل استازی ولېږه ترڅو هغوی له خپلو دغو حرکتونو څخه لاس واخلي او له دې درېو شرطونو څخه يو ومني :

۱- دخزاعه وکوم کسان چې وژل شوي دي دهغوی دوينو بيه دې ورکړه شي.

يادې

۲- قريش دبنو بکرو پلوي او ملاتړ نه کوي.

يادې

۳- ددې خبرې اعلان وکړي چې دحديبيې سوله ماته شوه .



کله چې استازي دغه پيغام قريشو ته واوراوه له هغوی څخه يوه تن قرطبه بن عمر وويل : "دادرېيم شرط مو منلی دی". خو کله چې استازی ترې لاړ نو بيا هغوی پښېمانه شول او ابو سفيان يې دسفير په توګه ورولېږه ترڅو دحديبيې دسولې تړون له سره بيانوی کړي خوحضرت محمد ته چې کوم حالات معلوم وو دهغو له مخې يې دقريشو په مخکې هغه پاليسي ليدله چې دی پرې ډاډه نه و او دابو سفيان خبره يې ونه منله.

## پرمکه باندې دیرغل تياری:

دکعبې خونه دخالص توحيد هغه مرکز و چې حضرت ابراهيم υ يوازې دخدای(جل جلاله) دعبادت لپاره جوړه کړې وه خو هغه تراوسه پورې دمشرکانو په ولکه قبضه ) کې وه اود شرک په يوه لوی کور بدله شوې وه.

حضرت محمد دابراهيمυ ددين بلونکی او دخالص توحيد علمبردار و نو له دې کبله لازمه وه چې دتوحيد دغه مقدس مرکز دې ژر تر ژره له هر ډول نا پاکيو څخه پاک او خوندي شي. خو تر اوسه پورې حالاتو ورته اجازه نه وه ورکړې. کله چې حضرت محمدε دا اندازه ولګوله چې اوس يې وخت دی چې دخدای دغه مقدس کور يوازې دهغه دعبادت لپاره خاص وګرځول شي او دبت لمانځنې له ټولو ناپاکيو څخه دې پاک کړای شي. نو په دې توګه يې ټولو هغو قبيلو ته چې له دوی سره يې تړون کړی و،پيغام ولېږه او دا خبره يې ورته په ګوته کړه چې مکه وال دې پر دې باندې خبرنه شي؛چې کله يې پوره تياری ونيو نو حضرت محمد دهجرت په اتم کال دروژې مياشتې په لسمه په پوره برم او کوب دلس زره تنه سر ښندونکو په ملګرتيامکې ته ولېږدېده او په لارکې به دعربو نورې قبيلې هم ورسره ملګرې کېدې.

## دابو سفيان ګرفتاري :

کله چې داسلام لښکر مکې ته نژدې ورسېد نو ابو سفیان به په پټه ددغه لښکر اندازه او پته لګوله؛په دې کې هغه ونیول شو او دحضرت محمد حضورته وړاندې کړای شو. داهغه ابو سفیان وچې تردې وخته پورې داسلام په دښمنۍ کې ډېرزیات مخکې و اوپه کراتو یې پرمدینې باندې دیرغل لپاره سازشونه کړي وو،ان تردې چې دحضرت محمد دوژنې لپاره یې پټه دسیسه هم جوړه کړې وه ،داټولې داسې خبرې وې چې ابوسفیان پرې بایدژرترژره وژل شوی وای ،خوحضرت محمد هغه ته دلورینې په سترګه وکتل او ورته یې وویل : ځه تانه به اوس دهیڅ شي پوښتنه ونه شي .خدای دې تاته بخښنه وکړي هغه ترټولو رحم کوونکو ډېر رحم کوونکی دی ) له ابوسفیان سره دغه معامله بیخي یوه اریانوونکې معامله وه. درحمةً للعلمین دغې پېرزوینې دابوسفیان دزړه سترګې پرانستې اوداورته جوته شوه چې پرمکې باندې خوایرغل کوونکې له خپلو دښمنانوڅخه دبدل اخیستلو لپاره دهغوی دوینو تږي نه دي اونه د دنیوي پاچایانو په څېر مغرور اومتکبردي. همدالامل و چې حضرت محمد ابوسفیان آزاد کړ خو هغه مکې ته بېرته رانغی بلکې اسلام یې ومانه او دحضرت محمد له سربښندونکو سره یوځای شو .

## مکې ته داخلېدل :

په دې وخت کې حضرت محمد پرحضرت خالدτ بن ولید باندې حکم وکړ چې: " له یوه لوري څخه مکې ته داخل شه خو څوک مه وژنه. هو! که پرتاسې چالاس پورته کړ نو دخپل ځان دژغورنې لپاره تاسې ته هم دلاس پورته کولو اجازه ده" او پخپله حضرت محمد له بل لوري څخه مکې ته داخل شو ،دحضرت خالدτ دلښکرپه مقابل کې دقریشو یوې ډلې غیشي واورول اودرې تنه مسلمانان یې شهیدان کړل .ځکه نوخالد τپردغویرغلګروباندې حمله وکړه او ۱۳) تنه یې ترې ووژل اونور وتښتېدل کله چې حضرت محمد دحضرت خالدτ له دغه یرغل نه خبرشو نو تحقیق اوپوښتنه یې ځنې وکړه خوچې کله اصلي واقعه ورڅرګنده شوه نو دایې وویل چې : الهي قضا همدغسې وه ) له هغه بل لوري بې



کړاوه حضرت محمد مکې ته ورننووت اودده دعسکروپه لاس هېڅوک ونه وژل شو.

## په مکه کې دامن اعلان :

کله چې حضرت محمد مکې ته داخل شو نو دا اعلان یې وکړ چې :

۱- هرڅوک چې دخپل کوردروازه وتړي اوپکې دننه کښېني هغه په امن کې دی .

۲- هرڅوک چې دابوسفیان کورته پناه یوسي هغه هم په امن کې دی .

۳- اوهر څوک چې دکعبې خونې ته پناه یوسي هغه هم په امن کې دی .

حضرت محمد په داسې برم او اوکوب مکې ته ورننووت چې د علم) رنګ یې سپین اودبیرغ تور و .زغره یې پرسر کړې اوتورپټکی یې پرې تړلی و او د انافتحناسورت) تلاوت یې په لوړ اوازسره کاوه .اودخدای(جل جلاله) په حضورکې دده دډېرې تواضع اوعاجزۍ یوداسې جهان و چې هغه پرکوم اوښ سپور و دومره یې ځان پرې راټیټ کړی و چې مبارک مخ به یې داوښ پرشالګېده .

## دکعبې خونې ته ننوتل :

کله چې حضرت محمد دکعبې خونې ته ننووت ترټولو دمخه یې دا امر وکړ چې ټول بتان دې ویجاړ او وویستل شي. دا مهال په کعبه کې ۳۶۰ بتان موجود و. پردېوالونو یې تصویرونه انځورکړي وو. دایې هم ټول له منځه یووړل. په دې ډول دخدای(جل جلاله) کوردشرک له ناپاکیو څخه پاک شو. تردې وروسته یې تکبیرونه ویل او دکعبې دخونې طواف یې کاوه اودابراهیم مقام کې یې لمونځ اداکړ. بس دغه و دسوبې جشن. کله چې دغه حال مکه والو په پرانستوسترګوولید چې هغوی دیوې داسې لویې سوبې دخوښۍ په وخت هم نه دبرم او اوکوب څرګندونه کوي اونه دغرور اوتکبر خبرې بلکې په بشپړه تواضع اومننه خپل خدای(جل جلاله) ته غاړه ږدي اودهغه په ستاینه اوتکبیرمست دي،نوهغه څوک دی چې دغه منظره دې یې لیدلې وای اودایې نه وای ویلي چې په حقیقت کې دانه پاچایي ده اونه ملک نیونه بلکې دا نورڅه دي !

## له سوبې نه وروسته خطبه :

کله چې دمکې سوبه بشپړه شوه وروسته له هغې يې يوه ډېره مهمه اوتاريخي خطبه واوروله چې يوه زياته برخه يې داحاديثوپه کتابونوکې رانقل شوې ده .حضرت محمد  وويل:

له يوه الله پرته بل اله نشته هېڅوک له هغه سره شريک نه دی .هغه خپله ژمنه رښتيا کړه .هغه له خپل بنده سره مرسته وکړه. اوټولې ډلې يې يوازې ماتې کړې .هو! واورئ ! ټولې وياړنې ټول انتقامونه اودپخوانيو وينوبيې اودوينوپورونه داټول زماترپښولاندې دي. يوازې دکعبې سرپرستي اوحاجيانوته اوبه ورکول له دې څخه مستثنی دي. ای قريشو ! خدای تعالی(جل جلاله) اوس دجاهليت غرور او پر توکم باندې وياړنه له منځه يووړه. ټول خلک د آدم له توکمه نسل ) دي او آدم له خاورو جوړ شوی و).

بيايې دقران شريف دا آيت ولوست :

ای خلکو! ماتاسې له يوه نرينه اوښځې نه پيداکړئ اوتاسې مې قبيلې اوکورنۍ کړئ چې په خپلومنځوکې يوبل سره وپېژنئ خو دخدای(جل جلاله) په نزد هغه څوک شريف دی چې ډېر پرهېزګار وي. خدای(جل جلاله) پوه اوپه هرڅه خبردی ).
الحجرات ۱۳) ايت)

له دې سره سم يې دځينې نورومسائلو تلقين هم وکړ. داده داسلام دهغه سترسوبمن ويناچې له خپلې دغې لويې سوبې نه وروسته يې واوروله .په دې کې ددښمنانو پرخلاف نه کومه غوسه شته نه کرکه .نه دخپلوکارنامو يادونه شته اونه دخپلوسربښندونکوستاينه .هرڅه ستاينه چې ده بس هغه ديوه خدای(جل جلاله) ده څه چې وشول ټول دخدای(جل جلاله) دفضل نتيجه ده .

په عربوکې دوژنې  قتل ) دبدلې اخيستلو ډېرزيات اهميت و. که له يوې کورنۍ څخه به يوڅوک دچاله خواووژل شونو دهغې کورنۍ په يادښت کې به دغه پېښه خوندي او وساتله شوه اوسوونه کاله وروسته به هم ترڅوراتلونکي نسل به يې دقاتل له کورنۍ نه دمقتول بدله وانه خيسته ترهغې به کرار نه کېښناستل .په



دې وخت کې حضرت محمد  دوينو دغسې بدله ټوله پای ته ورسوله اوپه عربوکې يې په سمه توګه دامن او ډاډينې ژوند رامنځ ته کړ. په عربوکې په خپلې کورنۍ اوټو کم باندې وياړنه  افتخار) يوه ډېره لرغونې ناروغي وه. داسلام په وړاندې انسان اوپه انسان کې امتياز ترډې  اخواسم اوصحيح نه دی چې هغه په کومه درجه دخدای(جل جلاله) داحکامو منونکی دی. څوک چې څومره دخدای(جل جلاله) داحکاموپابند اودهغه درضاليپاره وېرېدونکی دی هغه هومره ستر اوشريف هم دی. په اسلام کې دنسل شرافت کوم ارزښت نه لري،کورنۍ اړيکې صرف ديوبل دتعارف اوپېژندنې لپاره دي. دخدای رسول په دې ترڅ کې دغه ناروغي هم له منځه يووړه اودټولو انسانانو ترمنځ يې دهغه مساوات اعلان وکړچې تراوسه پورې بې له اسلامه بل کوم مذهب چاته نه دی ورکړې .

## عمومي بخښنه :

په کومه غونډه کې چې حضرت محمد  خطبه ورکوله هلته دقريشولوی لوی مشران حاضروو او هغه خلک هم وو چې په کلکه يې داسلام دتباهی لپاره اراده کړې وه،هغه خلک هم وو چې مسلمانان يې دومره ځورولي وو چې دخپل هېواد پرېښودلوته يې اړکړي وو، هغه خلک هم وو چې دمسلمانانوپرجايدادونويې خېټه اچولې وه اوهغه خلک هم وو چې حضرت محمد  ته يې سپکې سپورې ويلې وې،دهغه په لاره کې يې اغزي خواره کړي وو،پرهغه  باندې يې سرې اچولې وې ان ترډې چې دهغه په وژلو پسې راوتلي وو اوپه هغوی کې يې دتره قاتل اوهغه څوک هم وو چې دتره ځګريې راوېستلی اوخوله يې پرې لګولې وه اوهغه خلک هم وو چې ډېرمسلمانان يې يوازې ددې لپاره وژلي ووچې هغوی به ديوه خدای(جل جلاله) دبندګی اعلان کاوه .حضرت محمد  دوی ټولوته وکتل اوپوښتنه يې ترې وکړه چې  وواياست تاسې په دې پوهېږئ چې زه به له تاسې سره څه معامله کوم؟ دې خلکوليدلې وو چې دخدای(جل جلاله) رسول په مکه کې څه راز قدم ايښی دی اودوی اوس له هغه سره څرنګه چلندوکړي. ژرترژره يې داغږاوچت کړ چې :

ته زموږشريف ورور اوشريف وراره يې )

ددې خبرې په ا وربدوسره حضرت محمد  هغوی ته لاربنوونه وکړه اودايې وويل :  ځئ اوس پرتاسې باندې هېڅ الزام نه شته ،تاسې ټول ازاديځ ) هغو خلکو چې دمسلمانانو کورونه تر خپلې ولکې لا ندې نيولي وو هغه يې هم ترې ببرته وانه خيستل بلکې مهاجرينوته يې وويل چې تاسې له خپل حق څنې ورتېرشئ .

دحضرت محمد   ددغه غير معمولي چلند اغېزه داوه چې غټو اونامتومشرانو دا اعلان وکړ: په رښتياچې ته دخدای رسول يې ،ښکېلاک ګرپاچانه يې اوکومه بلنه چې ورکوې هغه حقه ده.

داوه دمکې دسوبې نقشه ،دادځمکې ،مال اوجايداد سوبه نه وه بلکې په دغې وسيلې سره زړونه ترلاسه  شول اوهمدغه ستره سوبه وه .

# دحنين غزا

**دمکې دسوبې اغېزه :**

دادحضرت محمد  له پېرزوينې ډک سلوک او دمسلمانانو پاملرنه وه چې له يوې خواپه مکه کې ډله ډله خلک په اسلام مشرف کېدل اوله بلې خوا دمکې سوبې پرټولو عربو باندې اغېزه وکړه او په دې پوه شو ل چې داسلام بلونکی دحکومت او دولت وړی نه دی بلکې هغه دخدای(جل جلاله) پيغمبر دی تر دې وخته پورې نه يوازې داچې اسلام او دهغه ځانګړنې پټې پاتې نه شوې بلکې کابوټول عرب په دې پوه شول چې داڅه ډول بلنه ده ؛ په کومو خلکو کې چې دا استعداد و هغو ته ښکاره شوه چې همدغه حق دی .کله چې مکه فتحه شوه له هغې سره سم دعربو له ګوټ ګوټ نه بيلا بېلې قبيلې ډله ډله راتللې  او اسلام به يې راووړ خودا داسې حالت و چې دځينو خلکو په زړونوکې داسلامي نهضت پرضد کرکه اوغوسه هم موجوده وه. کله چې



هغوی به دغه حالت وليدنوسخت تلولي اوناارامه به شول اوپه زړونو کې به يې دتعصب اودښمنۍ اورلمبې وهلې په دې وجه دهوازن اوثقيف په نامه قبيلې په دې دښمنۍ کې ډېرې وړاندې وې .داخوهسې هم ډېر جنګيالي خلک وو،داسلام پرمختګ به يې چې ليده نو ډېر به خواخپوري اوناارامه وو. هغوی دافکر وکړچې تردې وروسته پرمکه باندې زموږ دبرلاسۍ وار دی نو د دواړو قبيلو مشرانو ترمشورې وروسته دا پرېکړه وکړه چې هر څه کېږي بايد دمسلمانانو په مقابل کې په کلکه ودرېږو اود دغه خطر مخه ونيسو که نه نو بياپکې زموږ خير نشته .هغوی خپل يومشر  مالک بن عوف ) خپل پاچا وټاکه او دمسلمانانو دتباهۍ لپاره يې په تياري نيولوپيل وکړ اوله ځان سره يې ډېرې نورې قبيلې هم ملګرې کړې .

**دحنين جنګ :**

کله چې حضرت محمد  په دې خبرشونو هغه هم له خپلوصحابه و سره مشوره اوپرېکړه وکړه چې ددغې راپيداشوې فتنې دله منځه وړلو لپاره دې بايدپه خپل وخت هلې ځلې وشي. په دې ډول دهجرت په اتم کال دشوال په لسمه نيټه له ۱۲) زرو تنو مسلمانانو سره د دښمن دمقابلې لپاره وخوځېد. په دې وخت کې دمسلمانانو شمېر ډېر زيات و اوهومره ډېر سازوسامان يې درلود چې هغوی به په خپله ورته کتل نو يقين به يې راغی چې دښمن يې مقابله نه شي کولای او په بېړه به ميدان پرېږدي ،وبه تښتي. په دې توګه به دځينو مسلمانانو له خولې نه دا الفاظ هم راوتل چې   نن پرموږ باندې څوک برلاسی کېدای شي!) مګردغه خيال دمسلمان له شان څخه لرې دی. هغوی بايدهېڅکله پرخپل ځواک اتکا ونه کړي .اويوازې دخدای(جل جلاله) پرفضل اوکرم توکل وکړي. په دې اړه خدای(جل جلاله) په قرآن شريف کې دالاربنوونه کړې ده چې :

دحنين ورځ درپه يادکړئ چې تاسې پرخپل ډېربښت نازيدلئ خوهغه تاسې ته پکار رانغی اوځمکه له دومره ارتوالي سره په دې ورځ پرتاسې تنګه شوه اوتاسې بياپه شا راو تښتېدلئ اوبياخدای(جل جلاله) په خپل رسول او مؤمنانو

تسلي او ډاډينه را نازله کړه اوداسي لښکرې يي درولېږلي چي تاسي نه ليدلې او کافران يي په عذاب کړل او همداد کافرانو سزاده).
د توبې سورت ۲۵-۲۶) ايتونه .

حنين دمکي اوطايف ترمنځ ديوې ناوې نوم دی. داجنګ په همدې ځای کې پېښ شو. کله چي داسلام لښکر له دښمن سره مخامخ شونو هغوی له څلورو خواو پرې دغيشوباران پيل کړ .مسلمانان دجنګ لپاره بيخي چمتونه وو. ددې غښو په وجه دهغوی ليکې ماتې شوې او په لږ وخت کې يي قدم وښوييد،دپربدوي قبايل وتښتېدل ،په هغوی کې دېرداسي کسان هم وو چي تازه يي ايمان راوړی و اودهغوی بشپړه روزنه لانه وه شوې. په دغه اخ و ډب اونامساعد حالت کې حضرت محمد  له پوره ډاډېنې سره دجنګ په ميدان کې ټينګ ودرېد اوپرله پسې به يي مسلمانانو ته غږکاوه چي دجنګ ميدان ته شامه اړوئ .کله چي دده په شاوخواکې ګڼ شمېر صحابه و د ده ثابت قدمي وليدله نو دمسلمانانو پښې بياټينګې شوې اوهر يوه له سره بيا په پوره ميړانه  او زړورتياله دښمن سره مقابله پيل کړه،خدای(جل جلاله) دحضرت محمد  او دهغه صحابه و دې ثابت قدمي ته له خپل لوري نه نازل شوی سکنيت  داطمينان اوډاډيني کيفيت ) ويلی دی،په نتيجه کې دجنګ بڼه بدله او مسلمانانو ته بشپړه سوبه ورپه برخه شوه .له کافرانو څخه نژدې  ۷۰) تنه مړه اوپه زرګونو تنه بنديان شول .

### په دښمن پسې تلل اودخير دعا:

دکافرانو نورلښکر وتښــــتېد اوطايف ته يي پناه يووړه  دايو خوندي ځای ګڼل کېده)حضرت محمد  په دښمن پسې لاړ اوطايف يي کلابند کړ. په طايف کې يوه اوڅاره او ټينګه کلاهم وه له دې کبله کافرانو  هلته پناه وړې وه دغه کلابندئ نژدې ترشلو ورځو پورې وځنډېدله خوکله چي حضرت محمد  ته په ښه توګه دامعلومه شوه چي ددښمن اصلي  ځواک مات شوی دی اوله هغې خوا اوس دکومې سرغړونې انديښنه پاتې نه ده نوله کلابندئ نه يي لاس واخيست اودهغوی په حق کې يي دادعا وکړه چې:   ای خدايه ! سقيفوته هدايت وکړه اوداتوفيق ورکړه چي ماته راشي ) بې دخدای(جل جلاله) له نبي څخه چي هغه هم يوازې د



دين لپاره هلې ځلې کوي نور څوک دومره لوړبينه کولای شي !؟ چي په دغسي وخت کې دې هم خپلو دښمنانو ته دعا وکړي.

## دتبوک غزا

### دروم له واکمنی  سلطنت ) سره اخ وډب :

دعربو شمال ته دروم يوه لويه واکمنی وه اوله دغې واکمنی سره دمکي له سوبې نه پخوا اخ وډب پيل شوی و،حضرت محمد  دشمال له خوا هغوقبايلوته چي دشام پولو ته نژدې آباد وو د اسلامي بلنې يو وفد هيئت) ولېږه. هغه خلک اکثره عيسوي اودروم دواکمنئ تراغېزې لا ندې وو. هغوی داسلامي وفد پنځلس کسان ووژل اويوازې دوفد رئيس حضرت کعبτ بن غفاري ترې راخلاص شوی اوبېرته راغلی و. په دې وخت کې حضرت محمد دبصرې درئيس شرجيل په نامه هم داسلامي بلنې پيغام لېږلی و خو هغه هم دحضرت محمد  استازی حضرت حارث بن عميرτ وژلی و البته شرجيل هم دروم دقيصر ترواکمنئ لا ندې و له دې کبله حضرت محمد  دهجرت په اتم کال دجمادې الاول په مياشت کې دمسلمانانو يو درې زره کسيزلښکر دشام سرحدته ولېږه چي دهغې سيمې مسلمانان بياونه ځوروي. کله چي شرجيل له دې لښکرنه خبر شونو مقابلې ته يي له يولک کسيزلښکر سره راووت،خو مسلمانان له دی سره سره بياهم مخ په وړاندې تلل .داوخت  د روم قيصرپه حمص) نومې ځای کې و. ده له خپل ورور  يتودور) سره يولک نه زيات لښکر

ولېږه خوسره له دې بیاهم مسلمانان مخ په وړاندې تلل بالاخره په موته نومي ځای کې دغه درې زره کسیزلښکر د رومیانو له همغه ډېرلوی لښکر سره مخامخ شو. په ښکاره خوحالات داسې ووچې ددې اقدام په نتیجه کې دې دمسلمانانو دغه کوچنی ټولګی له منځه ولاړشي،خودخدای(جل جلاله) په فضل درومیانو همدومره لوی لښکرهم مسلمانانو ته زیان ونه شو رسولای. دغه پېښه داسې وه چې پر شاوخوا قبیلوباندې یوډول رعب پرې ووت اوتردېر لرې ځایه پورې هم اوسېدونکي قبیلي اسلام خواته متوجه اوپه زرګونه تنه یې مسلمانان شول .

ترټولو ډېره اغېزمنه پېښـــــــه داوه چې پخپله درومي لښکر یو بو لندوی قومندان) فروه بن عمروالجذامي اسلامي تعلیماتوته پاملرنه وکړه اومسلمان شو.بیایې دخپل ایمان پوخوالی داسې ثابت کړ. کله چې دی دقیصر له خواونیول شو نودایې ورته وویل چې یاخواسلام پرېږده چې بیاپرخپله دنده باندې وټاکل شي اویاخو داعدام لپاره تیارشه. خو هغه له منصب اودندې نه دکرکې څرګندونه وکړه او ویې ویل چې داخرت دبرې په مقابل کې د دنیا دسرداری منلوته تیارنه یم .کله چې دی ووژل شو دا یوه داسې پېښه وه چې زرګونو کسانو ته داسلام داخلاقي ځواک او واقعي اهمیت اندازه ولګېدله اوپه دې پوه شول چې ددغه نوي نهضت سېلاب د دوی په لورپه بیړه روان دی اوله هغه سره مقابله کول څه اسانه اومعمولي خبره نه ده .

## دقیصرله خوادیرغل تیاری :

بل کال قیصرله مسلمانانو څخه دموته غزادکسات اخیستلو لپاره دشام په سرحدکې دلښکروپرچمتووالي باندې پیل وکړ اودعربو هغه قبیلې یې سره راټولې کړې چې دده ترلاس لا ندې وې حضرت محمد هم دهغه له چمتووالي څخه خبر شو. داداسلامي نهضت لپاره یوډېرحساس وخت و،که ډېره لږه سستي یې هم ښودلې وای نوټول کاربه ویجاړ و. له یوې خوا دعربو هغوقبیلوچې همدا اوس اوس یې دحنین په جنګ کې ماته خوړلې وه ،سررااوچت کړی و اوله بلې خوا دمدینې منافقانو چې داسلام له دښمنانو سره لاره درلوده .که په همدې وخت کې



یي داسلامي ټولګي په منځ کي فتنه اچولي وای نوبیابه د دې نهضت اوتنظیم سنبالول ډېر ګران وو او په دغسې حالاتو کې به دروم دواکمنی ددغې لویې حملې په مقابل کې دربېدل اسانه خبره نه وای. او ددې خبرې اندېښنه به هم وه چې اسلامي نهضت دکفر په مقابل کې ددې دریو حملو وس نه لري اوماته به وخوري. له دې کبله حضرت محمد له خپل بې ساري خدای(جل جلاله) ورکړې بصیرت نه کاراواخیست اوبې له ځنډه یې داپرېکړه وکړه چې همدا اوس دقیصرله همدې لوی ځواک سره جنګېدل مناسب دي داځکه چې په دې وخت کې دلږې کمزورې په ښودلو سره هم جوړکارورانېږي .

## دمقابلې پرېکړه :

دامهال دمسلمانانو لپاره دجنګ تیاری نیول یوه ډېره سخته ازموینه وه. په ملک کې دکاختې کال و.دګرمی سخت موسم و. فصلونه پخېدوته نژدې وو اوبشپړ جنګي سامان هم نه و.لرې او اوږدسفرو،جګړه هم له یوه زورور طاقت سره خوسره له دې بیاهم حضرت محمد دوخت باریکی په پام کې ونیوله اوبیایې دعمومي جنګ اعلان وکړ اوپه ډاګه اوښکاره یې وویل چې دی چېرته ځي اودڅه لپاره ځي .دلته دې خبرې ته پام پکاردی چې تردغه وخته پورې اسلامي نهضت په ښکاره له باندنیو دښمنانوسره مقابله کوله اودمکې اوحنین له جنګ نه راوروسته دهغوی دمخالفینوځواک مات شوی و خو تراوسه پورې له کورنیودښمنانو یعني منافقانوسره زیاتره داسې چلندشوی و چې دهغوی په مقابل کې به مسلمانانوخپل ځانونه ناګاره اچول داځکه چې تراوسه پورې لا اسلامي نهضت دومره نه وټینګ شوی چې په یوه وخت کې دې له باندنیو اوکورنیوټولودښمنانو څخه جنګ وګټي. بله داچې په داخلي دښمنانو کې ټول یورازخلک نه وو.په هغوی کې داسې کسان هم وو چې یاخودهغوی ایمان کمزوری و اویایې څه شکونه اوشبهات درلودل ،دغسې خلکوته خوتریوه مناسب وخت پورې مهلت ورکول ضرور ووترڅو خپله کمزورې ،خپل شکونه اوشبهات لرې کړي. لنډه داچې یوازې هغه خلک پاتې شول چې هغوی په شعوري توګه داسلام دجرړودغوڅولولپاره په مسلمانانوکې ورننوتي اوځای پرځای شوي وو

لکه څنګه چې تریوه وخته پورې ددې ډول خلکودپوهولولپاره په کلکه اونرمه دهرډول چلندکوښښونه وشول. په پای کې هغوخلکو چې یوڅه صلاحیت اواستعداد درلود هغوی سمې لارې ته راوګرځېدل. په دې توګه داټولې مرحلې سرته رسېدلې وې او مسلمانانو خپل کورني دښمنان ترډېره حده پورې لاندې کړي وو. خو اوس یې مقابله له هېوادڅخه دباندې ځواکونو سره وه .په دغسې حالا توکې دداخلي دښمنانوټکول اونسکورول ډېرضرور وو. که نه نودا اندېښنه وه چې هغوی به له باندنیو دښمنانوسره لاس یوکړي او معلومه نه ده چې کله به ) مسلمانانوته څه ډول زیان اړوي .

## دمنافقت پرده لرې کول :

دمنافقانودله منځه وړلولپاره لومړنی پړاو داو چې داټول خلک دې په ازادانه توګه یوله بل سره مخامخ شي اوهغوکسانوچې پرخپلومخونوباندې پرده غوړولې ده هغه دې ترې لرې کړی شي اودهغوی حیثیت دې ټولنې ته وښودلی شي اویادې هغوی ته داوخت ورنه کړی شي چې دمسلمان په توګه دمسلمانانو په چاروکې لاس وهنه وکړي اوهغه درجه اومقام چې مسلمانانوته ورپه برخه دی ،دوی دې هم ترلا سه کړي .

په دې توګه دتبوک دجنګ دغه اعلان دمنافقانوپه رسواکولوکې بشپړاغېزمن واقع شو. په دې ترڅ کې هغه خلک چې دخپل ایمان په دعوه کې مخلص وو هغوی دزړه له کومې دجهادلپاره چمتوشول اودمالي اړتیادرفع لپاره چې له دوی سره هرڅه وو هغه یې راوړل خودسورلۍ دانتظام دنه بشپړتیاله امله ځینوکسانو ته له حضرت محمد سره دتللوموقع په لاس ورنغله،ددې محرومتیاپه سبب هغوی ډېر وژړل،په دې توګه ښکاره اوڅرګنده شوه چې په اسلامي ټولګي کې څومره کسان مخلص دي خوسرچپه دهغو خلکوپه زړو نوکې چې ایمان نه و دجنګ داعلان په اورېدلوسره ګواکې دهغوی سا و ویستلی شوه. په ډول ډول پلموجوړولویې پیل وکړ،اوپه جنګ کې دګډون نه کولوپه خاطریې له حضرت محمد نه په رخصت اخیستلوپیل وکړ،حضرت محمد هم په دې موقع نرمه رویه غوره کړه اودې ډول ټولو خلکوته یې رخصت ورکړ.بیادغه منافقان نه یوازې



داچې پخپله جنګ ته نه ورتلل بلکې نوربه یې هم دروهول دوکه کول) اومانع به یې ګرځېدل .کله به یې ویل چې ډېره سخته ګرمي ده اوپه دې وخت کې جنګ ته تلل ځان وژل دي ،کله به یې ویل چې ښه! د روم دواکمنی په مقابل کې به دغه کم شمېرمسلمانان څه وکولای شي داخولاسي خپل ځان دهلاکت کندې ته غورځول دي .لنډه داچې دجنګ دغه اعلان یوداسې ازمیښت و چې مخلص مؤمنان اومنافقان په ښکاره یوله بله سره بېل شول اودامکنه شوه چې اوس د داسې خلکوپرخلاف چې څه ډول چلندمناسب وي هغه دې ورسره وشي څنګه چې حضرت محمد له تبوک نه بېرته راغی په دې اړه یې یوڅه انتظام ونیوچې په راتلونکي وخت کې به یې یادونه وشي .

## تبوک ته ورتلل :

لنډه داچې حضرت محمد دهجرت په نهم کال درجب په میاشت کې دېرش زره کسیزلښکرچمتوکړ او له مدینې څخه راووت .په هغوی کې لس زره تنه سپاره وو. اوښان دومره کم وو چې څوڅوتنه به پریوه اوښ په خپل روڼ وار) سره سپرېدل .سربېره پردې سخته ګرمي او د اوبوکمښت هم و خومؤمنانو په مینې سره دخدای(جل جلاله) په لار کې سرښندنه ثابته کړې وه خدای(جل جلاله) هغه قبوله کړه اوداسې انتظام اوبندوبست یې وکړچې بې له کوم جنګ نه هغه مقصدپه لاس ورغی کوم چې حضرت محمد له مدینې څخه ورپسې لېږدېدلی و. تبوک ته له رسېدو وروسته معلومه شوه چې قیصرخپلې لښکرې له سرحدنه لرې کړې اوهېڅوک دمقابلې لپاره حاضرنه دی .

کله چې قیصرپه دې خبرشو چې دده له دومره بشپړ چمتو والي سره سره بیاهم مسلمانان بې له وېرې دهغه دمقابلې لپا ره له مدینې نه راوتلي اومخ په وړاندې درومي نودایې مناسبه وګڼله چې خپلې لښکرې واپس کړي. قیصر تردې پخواهم لیدلي وو چې په موته غزاکې درو زرو تنومجاهدینو دهغه د دوه لکه کسیزلښکرپه مقابل کې څه ډول زړورتیاښودلې وه .له دې کبله کله چې هغه ته څرګنده شوه چې پخپله

حضرت محمد  له دېرش زره کسیز لښکرسره روان دی ،نوداپرېکړه یې وکړه چې ددغه سېلاب مقابله دې ونه کړی شي هسې نه چې موږه ماتې و خورواوبې عزته شو.

## په تبوک کې مېشتېدل :

دقیصرپه دې ډول میدان پرېښودنه حضرت محمد  کافي وګڼله اوپه هغه پسې دتللو پرڅای یې په دې سیمه کې دخپلواثراتوتینګول مناسب وګڼل اوترشلوورځوپورې همالته پاتې شو،په دې موده کې یې زیات شمېر واړه واړه ریاستونه چې داسلامي حکومت اودروم دواکمنی ترمنځ پراته وو او تراوسه پورې لاهم درومیانو تراثرلاندې وو هغه یې په اسلامي حکومت پورې وتړل اوجزیه یې پرې ومنله ،همدارنګه کوموعربې قبایلوچې تراوسه پورې د روم دقیصر ملګرتیاکوله هغوی هم داسلامي حکومت ملا تړاومرستیالان شول .

## دمنافقانو دروه  مکر اوفریب) :

کله چې حضرت محمد  له مدینې څخه دتبوک دجنګ لپاره روان شو په دې وخت کې ټول هغه خلک چې په اصل کې مسلمانان نه وو او دخپلې کومې ګټې په خاطر په اسلامي ټولګي کې ورننوتي وو،هغوی ټول په مدینه کې پاتې شول .او په دې یې پوره یقین درلود چې مسلمانان به له دې جنګ څخه روغ رمټ بېرته راستانه نه شي. ډېربه یې دموسم دسختۍ اوسفردمصیبتونوښکارشي اوکه نه نودقیصر ددې زورور لښکرپه مقابل کې به یوپناه شي. همدغومنافقانویوجومات مسجدضرار) هم جوړکړچې له عامومسلمانانونه به په جلا توګه پکې راغونډېدل اوپټې مشورې به یې کولې .دې خلکو په دې وخت کې اسلامي نهضت ته دبشپړزیان اړولو لپاره ډول ډول روغی جوړې  سازشونه ) وکړې ان تردې پورې چې دتبوک جنګ دپرېکړې له څرګندېدلونه وروسته به « په دې باره کې هغوی یقین درلودچې مسلمانانوته به ماتې ورکړی شي» عبدالله بن ابی دمدینې پاچاشي .خودخدای(جل جلاله) اراده اوپرېکړه بل ډول وه او هغه وخت اوس ببخي رانژدې شوی وچې کفارودمسلمانانودماتې په اړه څه هیلې درلودلې هغه دې له خاوروسره خاورې شي. کله چې دتبوک دغه بې جنګه سوبه داسلام دښمنانوته



څرګنده شوه نودهغوی ملاماته اوداسې ورښکاره شوه چې دهیلو وروستی موقع یې هم له لاسه ووتله.

## دتبوک له راستنېدونه وروسته :

کله چې حضرت محمد  له تبوک نه راغی نوپه مخ کې یې درې مهم کارونه وو:

۱- دمنافقانوپه باره کې پرښکاره پالیسي عمل اودهغوی له فساد خپرولونه داسلامي نهضت دخوندي کولوبشپړ انتظام .

۲- دحضرت محمد  ترڅارنې لا ندې دصالحواوربښتینومؤمنانوروزنه اودهغوی دکردار اونورو اړخونو سنبالښت اوبشپړول چې په نژدې راتلونکې کې دحق دشهادت کوم بار پرهغوی اېښودل کېږي هغه ترسره کړای شي .

۳- په دغه نوي تشکیل شوي هېوادکې ددارالاسلام دپالیسي ښکاره اعلان .

## له منافقانوسره چار چلند :

حضرت محمد  لا له تبوک نه مدینې ته نه و رارسېدلی چې داوخت په لاره کې پرې دتوبې سورت نازل شو اوخدای(جل جلاله) خپل نبي  پرداسې ډېرولارښوونو سرلوړی کړ چې کله مدینې ته ورسېږي نوپرهغو دې عمل وکړي .تر اوسه پورې له منافقانوسره په نرمه پالیسي عمل کېده اوهغه عذرونه یې منل شوي وو چې دتبوک جنګ دسفرپه وخت کې یې دڅان دخلاصون لپاره حضرت محمد  ته وړاندې کړي وو. خواووس حضرت محمد  ته دپالیسی دبشپړېدلون هدایت ورکړشو.په ښکاره ورته وویل شول چې له هغوی سره دې په سختۍ چارچلند وشي. که هغوی دخپلې درواغجنې دعوې پرڅای تاسې ته دربښتیني ایمان دثبوت لپاره مالي مرسته وړاندې کوي نوهغه مه منئ .که له هغوی څخه کوم یومړشي نو حضرت محمد  دې دهغه دجنازې لمونځ نه کوي .مسلمان دې دڅانګړو اوکورنیواړیکوپه اساس له هغوی سره دخلوص اودوستۍ معامله اوچارچلندنه کوي .

## دابوعامر روغي جوړی سازشونه ) :

مدينې ته دحضرت محمد  له راتګ نه دمخه يوعسوي راهب ابوعامر) په مدينه کې په پوهه اوفقيرۍ ډېرمشهور او په خلکوکې ډېر منلی و،کله چې حضرت محمد  مدينې ته راغی نو پکاروچې دهغه دفقيرۍ اوخدای لمانځني پايله راوباسي ترڅودهدايت له نورڅخه ګټه واخلي اودخدای لمانځني رښتينی تصورترټولو دمخه هم دی قبول کړي. خو ددغسې علم اوتقوی غلطه انګېرنه اود معمولي او دوديزې ديندارۍ مظاهر په عمومي ډول انسان دهدايت له پيروۍ څخه منع کوي .په دې ډول پرابوعامر باندې هم اسلامي بلنې سرچپه اغېزه وکړه او دخپلې دېندارۍ کاروبارته متوجه شو اوداېي درک کړه چې اوس به دهغه دفقيرۍ اوپيرۍ سکه ددې نوي نهضت په مقابل کې کوټه  ناچله) شي نوله همدې کبله داسلامي نهضت ترټولو سخت مخالف اودښمن شو.

په لومړي سرکي خوله ابوعامرسره داهيله وه چې داد دوه درې ورځونهضت دی،ددغسې خدای لمانځني اوديندارۍ بنديزونه کله خلک مني .

خوچې قريشودبدرپه جنګ کې ماتې وخوړه،ابوعامر خواشينی شو او دمسلمانانو پرخلاف يې دعربو قبيلو اوقريشوپه لمسولو پيل وکړ اوداحدپه جنګ اوداحزابو په حمله کې چې مسلمانانو ته څه ورپيښ شول ،دغه درويش  ابوعامر) پکې لاس درلود.دغه عيسوي اهل کتاب دمسلمانانوپرخلاف له مشرکانوسره په روغه جوړه اودتوحيد دډېوې پرځای دشرک دتياروپه خورولوکې ديوې شېبې لپاره هم کمی ونه کړخو دخدای(جل جلاله) دافيصله په ښکاره مخې ته راتله چې «داډېوه به په پوکيومړه نه شي » او اسلام به په ټولو عربو لاسبری دين وي. خوبياهم ددغه « خدای لمانځونکي درويش !» هلې ځلې پای ته ونه رسېدې او روم ته يې سفر وکړ،تر څو هلته دخطرزنګ ووهي اوقيصرمتوجه کړي چې



ددغه را پورته شوي توپان  !) دمخنوي لپاره که څه کولی شي چې ويې کړي .

### دضرار جومات :

له ابوعامر سره په دغوټولوهڅو اوکوښښونو کې دمدينې يوه ډله منافقان همکاروو اودې خلکو به په خپلومنځوکې په مشورې سره داسلامي نهضت دله منځه وړلو تدبيرونه سنجول په دې توګه دمدينې منافقانو دابوعامر دپلان له مخې ديوه جلاجومات دودانولوپرېکړه وکړه لکه څنګه چې دمخه يې يادونه شوې ده .هلته به داخلک دلمانځه په پلمه راغونډېدل او دمسلمانانو پرخلاف به يې سازشونه کول .

په هغه وخت کې په مدينه کې دوه جوماتونه وو يو د قبا) جومات چې دښاريوې څنډې ته اوبل نبوي جومات چې دښار په منځ کې واقع و. خوبل درېيم جومات ته څه ضرورت نه ومګردغومنافقانو په دې پلمه چې دځينوبوډاګان اومعذوروخلکولپاره ترهغو دوو جوماتو نوپورې ورتګ ډېرستونزوردی ،درېيم جومات جوړکړ.اوحضرت محمد  ته يې بلنه ورکړه چې په هغه جومات کې يوځل لمونځ اداء کړي ترڅوددې جومات پرانېستنه په خير او برکت سره وشي. حضرت محمد  هغوی ته وويل چې اوس خوزه دتبوک دجنګ لپاره په تياري نيولوبوخت يم،کله چې له هغه ځايه بېرته راغلم بيابه سره وګورو.دبېرته راتلوپروخت په لاره کې پرې هغه آيت نازل شو چې خدای(جل جلاله) په ښکاره په دې جومات کې له لمانځه اداء کولونه منع کړاودايي وويل چې په حقيقت کې دايوداسې ځای دی چې دمسلمانانو پرخلاف دمشورې کولولپاره ترې دځارنځي په توګه کار اخيستل کېږي نودا ددې وړنه دی چې ته پکې لمونځ اداءکړې.په دې توګه حضرت محمد  پريوشمېر کسانوباندې حکم وکړ چې مدينې ته دده له رسېدونه دمخه هغه جومات ړنګ کړي .په دې ډول دهغه جومات ړنګول په حقيقت کې دمنافقانوپرخلاف دمسلمانانو دراتلونکي کړ نلارې يوښکاره اعلان و،اوپه راتلونکې کې پرې عمل وشو.

## دمؤمنانو دروزنې بشپړتیا :

په دې وخت کې اسلامي نهضت دیوې نړیوالې هڅې اوهاند پړاوته ورداخلېده اوهغه وخت ډېررانژدې و چې دعربودغه مسلمانان دټولې نړۍ دنامسلمانوخلکو په مقابل کې دخدای(جل جلاله) ددین دپیغام رسولولپاره دجنګ ډګرته ورودانګي. په دغسې پړاوکې دمؤمنانو یوه معمولي غوندې کمزوري هم دلوی خنډسبب ګرځېدله .له دې کبله په دې وخت کې دمؤمنانو بشپړې روزنې ته پوره پاملرنه وشوه اودهغوی دایمان دکمزورۍ نښې نښانې یې و اونډلې اوپه لرې کولویې ټینګاروشو.

دتبوک دجنګ په وخت کې هغه کسان له لارې بېرته راګر ځېدلي وو چې په هغوی کې واقعي ایمان او اسلام موجودنه و ځینې داسې مؤمنان هم ستانه شوي وو که څه هم هغوی رښتیني مؤمنان ووخودکومې موقتي کمزورۍ یاسستۍ له امله ترې غفلت اوسرغړونه شوې وه .ددغسې خلکو داصلاح لپاره ډېرسخت چلندغوره کړی شو، ترڅو بیادغسې کمزوري ترې څرګنده نه شي.دلا ندې دریوتنوصحابه و حضرت کعب بن مالک،هلال بن امیه اومراره بن ربیع(رض) ) واقعه دزدکړې وړبشپړدرس دی چې دهغې په رڼاکې په ښه توګه دا اندازه لګېدلای شي چې په هغه وخت کې د مؤمنانو روزنه په کومه کچه سرته رسېدله .دغه درې تنه صحابه که څه هم رښتیني مؤمنان وو اوتردې دمخه هم دهغوی دایمان خلوص تجربه شوی و خوڅنګه چې هغوی مازې دسستۍ له امله دتبوک دجنګ په وخت کې له حضرت محمد سره ملګرتیاونه کړای شوه، نوځکه ډېرتنګ اوسخت ونیولی شول؛ کله چې حضرت محمد له تبوک نه بېرته راستون شو نو مسلمانانو ته یې حکم وکړ چې هېڅوک دې له هغوی سره سلام کلام نه کوي. له څلوېښتو ورځو نه وروسته دا ټینګارپرې هم وشو چې له خپلوښځونه دې هم جلاواوسي .له پنځوسو ورځووروسته خدای(جل جلاله) دهغوی توبه ومنله اودهغوی دبخښنې حکم یې رانازل کړ چې دتوبې په سورت کې یې یادونه شوې ده له دوی څخه دیوه تن حضرت کعب بن مالکτ واقعه دهغه په خپله ژبه په تفصیل سره رانقل شوې ده چې هغه دعبرت ډېرپه زړه پورې درس دی .

## دحضرت کعبτ واقعه :

کله چې حضرت محمد دتبوک دجنګ لپاره مسلمانان چمتوکول نوماهم اراده کړې وه چې زه دې هم دتللوتیاری ونیسم خوبیامې سستې وکړه اودامې وویل چې تراوسه پورې خولاڅه خبره نه شته .کله چې دتلووخت راورسېږي نوبیابه دتیاري نیولولپاره خویوڅه وخت وي،په دې توګه خبره وځنډېدله ان تردې چې دتلو وخت راورسېد خوزه چمتونه وم. ماپه زړه کې وویل چې لښکر لاړنوزه به هم یودوه ورځې وروسته پسې وخوځېږم اوله قافلې سره به یوځای شم لنډه داچې په همدې سستۍ کې وخت راځنې تېرشو اوزه پاتې شوم .

کوم خلک چې په مدینه کې پاتې شوي وو،ومې لیدل چې هغوی خویامنافقان دي اویاداسې کمزوري او اړخلک دي چې خدای(جل جلاله) معذور ګڼلي دي خوزمازړه خورا ډېر ځورېده اوپه خپل حال مې افسوس کاوه .

کله چې حضرت محمد له دې سفرنه بېرته راغی نوله عادت سره سم لومړی جومات ته ورغی اودوه رکعته لمونځ یې اداء کړ،بیاله خلکوسره دلیدنې کتنې لپاره کښېناست ،په دې وخت کې به منافقان ورتلل اوخپل عذرونه به یې وړاندې کول اوپه قسم خوړلو سره به یې حضرت محمد ته دخپلو اړتیاو یادونه کوله،ترڅو هغه پرې یقین وکړي .دغه خلک څه دپاسه ٨٠) تنه وو.حضرت محمد به دهغوی جوړې کړې خبرې واورېدلې اودهغوی دښکاره عذر په منلو سره به یې دهغوباطن خدای ته پرېښوده اوبخښنه به یې ورته وکړه .کله چې زماوار راغی ،زه وروړاندې شوم اوسلام مې واچاوه حضرت محمد چې ماته وکتل په مسکاشو اوراته یې وویل «ووایه ستامانع څه وو» ماورته وویل قسم په خدای دی که زه دکوم اهل دنیاپه وړاندې حاضرشوی وای نواروموبه مې هغه په یوه نه یوه خبره راضي کړی وای خوستاپه اړه مې دا ایمان دی که زه اوس دکومې یوې خبرې په جوړولوسره تاراضي هم کړم خوخدای(جل جلاله) به خامخاتاله ماڅخه ناراض کړي،نوزه به رښتیاربښتیاوایم کېدای شي چې ته به پرې خوښ نه شې

خوزه هیله لرم چې خدای(جل جلاله) به ماته دبخښنې کومه لاره پیداکړي.رښتیاخوداده چې ماسره داسې عذرنه شته چې تاسې ته یې وړاندې کړای شم،مادتلوپوره وس درلو.په دې ډول حضرت محمد  وویل : دې سړي رښتیاخبره وکړه )بیایې راته وویل : ښه نو،پاڅیږه! لاړشه اوسترګې په لاراوسه چې خدای(جل جلاله) ستاپه باب څه پرېکړه کوي .زه پاڅېدم اوخپلې قبیلې ته لاړم اوهمالته اوسېدم .زماپه شان دوو نوروکسانو مراره بن ربیع او هلال بن امیه )هم رښتیاویلي وو.

تردې وروسته حضرت محمد  امروکړچې له درې واړوسره به خبرې نه کوو.هغه دواړه خوپه کورکښېناستل مګرزه به راوتلم .په جماعت سره به مې لمونځ اداء کاوه .بازارونوکې به ګرځېدم خوهېچابه له ماسره خبرې نه کولې .داسې ښکارېده چې دغه ځمکه بیخي بدله شوې ده.زه دلته پردی یم اوهېڅوک مې نه پېژني .جومات ته به چې دلمانځه لپاره لاړم نوحضرت محمد  ته به مې سلام واچاوه اوځواب ته به یې سترګې په لاره وم چې دهغه شونډې خوځیږي که نه ،په لمانځه کې به مې دسترګوپه ګوټ حضرت پیغمبر  ته کتل چې هغه په کوم نظرراته ګوري په داسې حال کې چې هغه به ماخواته کتل خوکله چې به ماسلام وګرځاوه نوزماخواته به یې نه کتل .یوه ورځ په ډېره وېره دخپل تره دزوی اودوړکتوب اندېوال ابوقتاده څنګ ته لاړم .دهغوی دبڼ پردېوال وختلم هغه ته مې سلام واچاوه هغه لادسلام ځواب نه و راکړی چې دا مې ورته وویل : ابوقتاده! زه تاته په خدای قسم درکوم اوپوښتنه کوم چې آیازه له خدای اودهغه له رسول سره مینه نه لرم؟ ) هغه غلی شو .مابیاپوښتنه وکړه ،هغه بیاغلی شو،دریم ځل یې بس همدومره وویل : یوازې خدای(جل جلاله) اودهغه رسول ښه پوهیږي ) په دې خبره زماله سترګواوښکې راغلې اوله دیوال نه راکوزشوم.

په همدې ورځوکې یوځل له بازارنه تېرېدم چې دشام یوه اوسېدونکي دغسان پاچایولیک چې په وریښمینه ټوټه کې نغښتی و ماته راکړ.ماهغه پرانیست اوومې لوست،په هغه کې یې لیکلي ووچې : موږ اورېدلي دي چې ستاسې بادارپرتاظلم کړی دی.ته کوم بې پته اوخوارسړی نه یې ،نه ددې وړیې چې له



منځه لاړشې .زموږڅنګ ته راشه ،موږ به ستاقدروکړو) ماوویل: دابله بلاراغله )په دې وخت کې مې هغه په نغري کې وسوځاوه .

په دې ډول څلوېښت ورځې تېرې شوې چې بیاحضرت محمد  حکم وکړچې له خپلې ښځې نه دې هم جلاکړی شه ماپوښتنه وکړه : آیاطلاق ورکړم؟) په ځواب کې داراته وویل شول چې  نه) بس جلا اوسه) ماخپله مېرمن پلارګنۍ کره ولېږله اودامې ورته وویل  ترهغې پورې انتظارکوه ترڅوچې خدای(جل جلاله) ددې معاملې فیصله کوي).

پنځوسمه ورځ دسبالمانځه نه وروسته زه دخپل کورپربام ناست وم اوله خپل ځان نه مې کرکه کوله چې ناڅاپه یوغږشو اوویې ویل : مبارک دې شه کعب ابن مالکه!کله چې مې داغږ واورېد په سجده پرېوتم اوپه دې پوه شوم چې زمادبخښنې حکم شوی دی .بیانوخلک ډله ډله په ځغاسته راتلل اوهر یوه به دمخه تربله دامبارکي راکوله چې ستاتوبه قبوله شوه .زه راپاڅېدم اونیغ په نیغه نبوي جومات ته لاړم،ګورم چې دحضرت محمد  مبارک مخ له خوشحالۍ نه غوړېدلی دی .ماهغه ته سلام واچاوه اوهغه راته وویل : مبارک دې شه داستادژوندترټولوښه ورځ ده) ماترې پوښتنه وکړه چې : دابخښنه ستاله خواوه اوکه دخدای(جل جلاله) له خوا؟) ده راته وویل : دخدای(جل جلاله) له خوا)اودقرآن هغه آیت یې راته واوراوه چې په هغه کې زمادتوبې قبلولویادونه شوې ده .

ماوویل چې  یارسول الله!زماتوبه کې داڅرمنه هم ده چې زه خپل ټول مال دخدای(جل جلاله) په لارکې صدقه کړم) هغه را ته وویل  یوڅه یې پرېږده داستالپاره ډېره ښه ده ) مادهغه له لارښوونې سره سم دخیبربرخه دځان لپاره پرېښودله اونوره مې ټوله صدقه کړه .کله چې زمادرښتیاویلوپه بدل کې خدای(جل جلاله) ماته بخښنه وکړه نوداژمنه مې وکړه چې په ټول ژوندکې به دواقعیت پرخلاف خبره ونه کړم .لکه څنګه چې تراوسه پورې مې دعقل اوپوهې له مخې هېڅ یوه خبره دواقعیت پرخلاف نه ده کړې اوګانده آینده )به مې هم خدای(جل جلاله) ترې وساتي .

## داسلامي ټولنې ځانګړتیاوې :

ددې واقعې په بیان کې چې دصحابه و(رض) کومه نقشه مخې ته راځې ښکاره ځانګړتیاوې یې داسې دي چې هغه باید دهرمؤمن په مخ کې وي. له هغونه دارامعلومیږي چې اسلامي نهضت په څه ډول دخپلوعلمبردارانو اخلاق جوړوي .

ترټولو لومړنۍ خبره داده چې کله دکفر او اسلام داخ و ډب معامله په وړاندې وي ،نودادمؤمن لپاره دیوه ډېرسخت ازمیښت وخت وي. دامهال ددې خبرې اندېښنه وي چې هسې نه دکوم غفلت له امله دهغه دټول ژوندکړه وړه لوټ شي. که په دغسې وخت کې یومؤمن داسلام ملګرتیانه کوي نوکه دهغه غفلت دکوم بدنیتۍ له کبله هم نه وي اوپه ټول ژوندکې یې همدایوځل دغفلت څرګندونه کړې وي نوبیاهم کېدای شي چې دغه کړنلاره یې دټول ژوندنیکي اوعبادتونه بربادکړي .هېڅکله یوه مؤمن ته ددې خبرې ځای نه شته چې هغه دې داسلام پرځای دکفرملګرتیاوکړي اویوداسې عمل دې وکړي چې غیراسلامي نهضت پرې پیاوړی شي.په دې صورت کې دغه وضعه لا زیاته خطرناکه وي چې کله دغیر اسلامي نهضت په مقابل کې اسلامي نهضت موجودوي خو مؤمنان دخدای(جل جلاله) ددین دحاکمولوپرځای پرنوروچارو باندې خپل استعدادونه په کارواچوي .

بله خبره داده چې کله دکوم فرض د اداء کولو وخت راشي،په دې وخت کې له مؤمن سره تنبلي ښه نه ایسي. کله په دې لټي اوتنبلي کې ترې دکاروخت تېرشي،نوبیاداعذرنه پکارېږي چې دهغه غفلت دبدنیتۍ له مخې نه و.

دصحابه و(رض) دټولنې حال داو چې یوې خواته یې هغه منافقان وو چې هغوی به خپل جوړکړي عذرونه وړاندې کول اوټول خلک به په دې پوهېدل چې هغوی دروغ وایي،خوحضرت محمد  به دهغوی دخبرو ظاهري اړخ ته کتل اوله جرمونوڅخه به یې تېرېده .داځکه چې له هغوی څخه یې داهیله درلوده چې یووخت به دازمیښت په وخت کې دخپل ایمان خلوص ثابت کړي خوله بلې خواهغه شمېرربښتیني مؤمنان وو چې پخوایې ځوځلي خپل ایمان ثابت کړی و.له دروا‌غونه به یې کرکه کوله .په ډاګه اوښکاره به یې خپلې غلطۍ منلې ،خوبیاهم



له هغوی سره دومره سخته معامله کېدله چې دټولنې هریوه تن سره به یې اړیکې وشلېدلې. داکار ددې لپاره نه و چې دهغوی  په ایمان او اخلاص کې څه شک پیداشوی و،بلکې داصرف ددې لپاره ووچې دوی ولې هغه کار وکړ چې هغه دمنافقانوکارو. بیالورېینه خوداچې په دې معامله کې رسول الله  هغوی ته په څه شان سره سزاورکوي اوپیروان یې په څه شان سره زغمي اوګرده ټولنه په داسې شان دخپل پیغمبر  له ارادې سره سم عمل کوي چې هراړخ یې بې ساری دی .پیغمبر  ورته ډېره سخته سزاورکوي خونه غوسه شته اونه کرکه،بلکې په پوره محبت سره داسې سزاورکوي لکه چې یومهربان پلاریې خپل غافل زوی ته ورکوي اوددې خبرې هیله من وي چې کله یې زوی سم شي نوبیابه یې په غېږکې ټینګ نیسي. پیرو دسزادسختۍ له کبله ډېرناارامه و خوله هغه سره داتصورهېڅکله هم نه و چې دخپل محبوب پیغمبر  داطاعت پرځای دې له هغه سره په زړه کې دسرغړونې خیال پیداشي. نه کوم شکایت و،نه دخپلوکارنامو څخه غوښتنه. بیاداټولنه وګورئ چې دخپل پیغمبر  داحکامو داطاعت څومره جذبه او ولوله لري. کله چې داحکم وشو چې له پلاني سړي سره دې اړیکې وشلول شي نو داسې څرګنده شوه لکه چې په ټول ښارکې یې څوک نه پېژني خوچې کله یې دبخښنې اعلان وشونوبیاهرڅوک په دې تکل کې و چې ترټولودمخه ورشي اوهغه ته مبارکي ورکړي.

دا درسول  داطاعت یوه بېلګه ده چې قرآن شریف یې په خپلوپیروانوکې پیداکول غواړي،هغه کسان چې غواړي دخدای(جل جلاله) د دین دحاکمولو په خاطرکاروکړي نوهغوی ته هم لا زمه ده چې دخپل مشر او اولی الامراطاعت وکړي. یوګنهګار پخپله ویني چې ترده ډېرغټ ګنهګاران مازې د درواغوپه جوړولوسره پرېښودل کېږي اوهغه په رښتیاویلودومره کلک نیول کېږي خوبیاهم هغه نه په غوسه کېږي اونه دکومې خوابدۍ څرګندونه کوي. ترپنځوسو ورځوپورې یې دسزاډېرې سختې ستونزې وګاللې خودیوې ګړۍ لپاره دهغه په ذهن کې داخیال رانغی چې له هغه سره زیاتی شوی دی .اوپخوانۍ کارنامې یې دباد‌پرمخ ایره شوې،په ایمان او اخلاص یې شکمن شوي دي. په داسې حال کې چې هغه نه بدنیتی و اونه

يې دخداى(جل جلاله) اودهغه د رسول له محبته زړه تش و اونه يې داسلامي ټولنې پرخلاف سازش)و کړ،نه يې په خلکوکې زړه بدوالی خپورکړ اونه يې په ټولنه کې ديوې بلې ډلې دجوړولو کوښښ وکړ بلکې په پوره صبر اوسړه سينه يې سزا وسهله برداشت کړه) اوهره شبېه په دې هيله و چې کله به يې داغفلت بخښل کيږي ،داهغه بېلګه ايزه مثالي) کړنلاره ده چې دهغې په اساس خداى(جل جلاله) په ډېروښکلوالفاظودهغوی دتوبې منلواعلان وکړ اوهمدغه ترټولو لوی بری دی چې په دې ډول خداى(جل جلاله) هغوی ته ورپه برخه کړ.

## دايمان د دعوې حقيقت :

دايمان اواسلام دعوه چې پرچاباندې څومره مسؤوليتونه اوپېټې ږدي هغه په پوره وضاحت سره وښودلی شول،له آره اصله) د دې دعوې حيثيت دا دی چې خداى(جل جلاله) له مؤمنانو څخه دهغوی ځان اومال دجنت په بدل کې پيرلی دی.

دتوبې سورت ۱۱۱) آيت.

ترهغې پورې چې دايمان دا څرګندونه په ښه توګه په ذهنونوکې ناسته اودتل لپاره دانسان په مخ کې نه وي ،نو د دين دغوښتنو په پوره کولوکې به يې هرو مروسستي راشي.خداى(جل جلاله) دايمان تعبيرپه هغه تړون سره کړی دی چې مؤمن يې له خداى(جل جلاله) سره کوي.هغه تړون دادی چې بنده خپل ځان اومال ګواکې پر خداى(جل جلاله) باندې پلوري اوپه بدل کې يې دخداى(جل جلاله) هغه ژمنه مني چې له مړينې وروسته به خداى(جل جلاله) هغوی ته په تلپاتې ژوندکې جنت ورکوي .

تر کومه ځايه چې په اصل حقيقت پورې اړه لري په هغه اساس خو دانسان مال او ځان هر څه يوازې دخداى(جل جلاله) دي. هغه دټولو شيانو پيدا کوونکی دی او همغه يې حقيقي مالک دی نو په دې صورت کې له بنده سره څه دي چې هغه به يې په خداى (جل جلاله) وپلوري،نو ځکه دپيرلو او پلورلو هډو



پوښتنه قدرې هم نه پيدا کيږي. مګر يو شی شته چې هغه خداى تعالی خپل هر بنده ته وربخښلی او دهغه پوره واک يې ورکړی چې دی ځنګه غواړي هسې وکړي. همداده دهغه دارادې او خوښې خپلواکي. هغه ته ددې خبرې آزادي ورکړی شوې ده چې کولای شي دخداى له خوا ورکړی شوی ځان او وربخښل شوی مال دهمغه خداى (جل جلاله) ملکيت وګڼي لکه څنګه چې په حقيقت کې دهغه دی خو که دی دخپل ځان او خپلو نو رو شيانو مالک،خپل ځان ګڼي په داسې حال کې چې دی يې مالک نه دی نو خداى (جل جلاله) ورته اختيار ورکړی دی،کولای شي چې له خداى (جل جلاله) نه مخ واړوي او خپل ځان او خپل نور شيان له خپلې غوښتنې او ياد نورو انسانانو له غو ښتنې سره سم په کار واچوي او داهم کولای شي چې اصلي مالک يې مالک ومني او دهغه له رضا سره سم له همغه ورکړ شوي مال او ځان څخه کار واخلي او د ا حقيقت ومني چې په اصل کې له هغه سره څه شته هغه دالله امانت دی او ددې شيانو په استعمالو کې هغه دمالک او واکمن حيثيت نه لري. دارادې او اختيار دغه لږ شانته آزادي په حقيقت کې دهغې معاملې بنسټ دی لکه څنګه چې الله تعالی په خپل کرم سره هغه ته پيرل او پلورل ويلي دي. خداى (جل جلاله) له خپلو بندګانو څخه دا غوښتنه کوي چې زماله خوا په دربخښل شوي امانت کې سره له دې چې اختيار يې درکړ شوی دی دخيانت چلند پکې مه غوره کوئ بلکې له دې امانت څخه به هغسې کار اخلئ لکه څنګه چې زما رضا وي. نوزه به تاسې وروسته له دې په هغه تلپاتې دايمي) ژوند کې په خپل نعمت سره وپالم چې نوم يې جنت دی. اوس نو هغه څوک چې دخداى تعالی دغه غو ښتنه مني او دا اقرار کوي چې هغه په خپل ځان او مال يوازې دخداى (جل جلاله) درضا په لارکې په کار اچوي نو دهغه دا معامله لکه څنګه چې خداى (جل جلاله) ورته پيرل او پلورل ويلي دهغه دايمان اقرار دی او څوک چې دغه غو ښتنه نه مني او دخداى (جل جلاله) درضا پر خلاف دخپل ځان او مال پرېکړه پخپله کوي هغه ګواکې له خداى (جل جلاله) سره ددې پيرلو او پلورلو معامله نه کوي نو په دې صورت کې هغه کافر دی او دهغه همدغه انکار کفر دی.

حضرت محمد  دتبوک دجنګ لپاره چې کومو خلکو ته دچمتو والي حکم کړی و په هغو ی کې ټول هغه کسان وو چې دخپلې مومن ولۍ اقرار یې کړی و. دا ټول ګواکې هغه کسان وو چې له خدای سره یې دهغو پیرلو او پلورلو دمعاملې پرېکړه کړې وه لکه څنګه چې دمخه ترې یادونه وشوه خو کله چې ددغې دعوې دازموینې نازک پړاو راورسېده نو په هغوی کې ځینې داسې کسان هم وو چې په دغې ازموینه کې بریالي نه شول او دخدای په لاره کې یې دخپل مال او ځان له ښندلو نه ډډه وکړه. په هغوی کې اکثره منافقان او د ایمان په دعوه کې دروغجن وو او مازې دمصلحت یا خج  فشار ) له امله په اسلامي ټولګي کې داخل شوي وو،خو په هغوی کې ځینې داسې کسان هم وو چې مازې دغفلت او سستۍ له کبله ترې سر غړونه شوې وه. له دې کبله یې په دغه وخت کې هغوی ټولو ته له ښکاره تنقید نه وروسته په ډاګه وښوول چې ایمان مازې ددې منلو نوم نه دی چې خدای شته او هغه یو دی بلکې ایمان په حقیقت کې ددغه اقرار نوم دی چې همغه خدای (جل جلاله) زموږ دځانونو او مالونو یوازینی مالک دی. په دې توګه که دهمغه مالک تر منلو وروسته یو څوک دخدای په لاره کې د خپل ځان او مال له لګښت نه ډډه کوي او له دې لارې نه پرته یې به بله لاره کې لګوي په اصل کې هغه دا ثابتوي چې په خپل اقرار کې درواغجن دی. دایمان ټولو مدعیانو ته پکار ده چې دا رښتینی اصل په پام کې ونیسي او دخدای(جل جلاله) په لارکې له هلو ځلو نه هېڅکله ډډه ونه کړي.

## دعوامو دیني روزنه :

داسلام په لومړني پړاو کې به چې له د غه نهضت سره کوم خلک دملګرتیا لپاره چمتو کېدل،دا داسې خلک وو چې پر زړونو باندې به یې داسلام رښتینولۍ ژوره اغېزه کوله،هغوی به چې په سمه توګه پرخبرې باندې پوه شول اسلام به یې ومانه،کله چې داسلام اثر څلورو خواو ته خپور شونوله هرې خو ا به ډلې ډلې خلک را تلل او په اسلام کې به داخلېدل. ښکاره ده چې په هغوی کې کم شمیر خلک داسې وو چې په پوره توګه به په اسلام وپوهېدل اوبیا به یې اسلام راووړ. زیاتره هغه خلک وو چې بې له زیات سوچ او فکره به له اسلام سره دملګرتیا لپاره چمتو کېدل. په ښکاره خو دغه وضعه داسلام داقتدار لامل و دا

سپېڅلی ژوند

ځکه چې په زرګونو تنه به پکې داخلېدل خو تر هغې پورې چې یوه ډله داسلام پر غوښتنو په پوره توګه نه وي پوه شوې او د هغو ټولو اخلاقي بندیزونو دبشپړتیا لپاره چمتوشوې نه وي چې  اسلام یې دخپلو منونکو به اوږو ږدي نو په حقیقت کې دغسې ډله داسلامي نظام دکمزورتیا لامل ګرځي لکه څنګه چې د تبوک دغزا په وخت دغسې وضعه رامنځ ته شوه نو ځکه په دې ترڅ کې له داخلي کمزورتیا څخه داسلام دژغورنې لپاره یو ډېر مهم هدایت ورکړی شو چې له کلیو او بانډونه دې ځینې کسان داسلام مرکزونو لکه مدینې،مکې او داسې نورو ځایونو ته راشي چې دلته اسلامي تعلیمات په پوره تفصیل سره زده کړي او د رښتیني اسلامي روح ولوله پکې ژوندۍ شي،بیا دې بېرته لاړشي او دخپلو کلیو او بانډو دعوامو دښوونې او روزنې لارې چارې دې برابر ې کړي تر څو په هر کلي او بانډه کې رښتینی اسلامي شعور پیدا شي او دخدای تعالی له احکامونه خبر و اوسي.

په اصل کې له دغې ټولیزې   عمومي ) اسلامي ښوونې څخه مطلب یوازې خلکو ته دلیک او لوست زده کول نه وو،بلکې دیني پوهه وه او پر دې باندې پوهېدل وو چې داسلامي او جاهلي ژوند دتګلارې تر منځ تو پیر وکړای شي. کېدای شي چې دلیک او لوست تر زده کړې وروسته دا کار سرته ورسوي او یا یې بې له دې تر سره کړې اصلا مقصد باید ددین رښتینی شعور پیدا کول وي،لیکل او لوستل دهغه لپاره ذریعه وګرځول شي نه غایه  (۱).

## ددارالاسلام دپالیسي ښکاره اعلان :

دتبوک دجنګ له بري نه راوروسته دهغو خلکو هیلې دباد پر مخ ایره شوې چې هغوی تر اوسه پورې لا په دې اسره ناست وو چې یو نه یو وخت به اسلامي نهضت ته یو داسې ګوزار ورکړي  چې هغه پرې له منځه یوړلای شي. په دې وخت کې هغوی ته پرته له دې چې داسلام لمنې ته پناه راوړي بله کومه چاره پاتې نه وه او که پخپله له دغه نعمت نه ګټه وانخلي نو لږ تر لږه خو به یې راتلونکي توکمونه داسلام په مقدس دین مشرف شي.

دامهال کابـــو دټولو عربو حکومـــــت دایمان دڅښتنانو په لاس کې و او د

.........................................................................................

(۱) هغه لیک اولوست چې هدف ترې اسلامي شعورپیداکول نه وي اوپه پایله کې له اسلامي شعورڅخه بې برخې کېدل وي نوهغه علم نه بلکې جهل دی.

سپېڅلی ژوند

هغوی په مقابل کي دیادوني وړ ځواک پاتي نه و له دي کبله اوس نو هغه وخت رارسېدلی و چي داسلامي حکومت دښکاره پالیسي اعلان دې وشي،ځکه یي نو په لاندې توګه خپله پالسي وړاندې کړه :

الف : په عربو کي دې په غوڅه توګه شرک بیخي ورک کړای شي،زوړ مشرکانه نظام دې پای ته ورسېږي او دمسلمانانو لپاره دې یوتلپاتي خالص اسلامي مرکز جوړ شي. ددې موخي لپاره دې له مشرکانو سره په غوڅه توګه اړیکي وشلېږي په دې توګه حضرت محمد دهجرت په نهم کال دحج په وخت د حاجیانو په عمومي غونډه کي دحضرت علي τ په ذریعه اعلان کړل چي :

١. جنت ته به داسي سړی نه داخلېږي چي داسلام دین یي نه وي منلی او انکار یي ترې کړی وي.
٢. له سږکال نه پرته هېڅ یو مشرک دکعبې خونې ته دحج لپاره نه شي راتلای.
٣. له بیت الله شریف نه به په بر بنډه هېڅاته دطواف کولو اجازه ورنه کړی شي.
٤. له هغو خلکو سره چي دحضرت محمد ژمنه پاتي ده او سرغړاوی یي نه دی کړی له هغوی سره به دژمني تروختته پوري همغه شان چلند کېږي خو هغو خلکو چي له ژمني سره سره داسلام پرخلاف سازشونه کړي دي هغوی ته خبر ورکول کېږي چي یوازې او یوازې څلور میاشتي وخت لري.

ددغي مودې په اوږدوکي دې یا خوله مسلمانانو سره وجنګېږي او دخپل برخلیک فیصله دې وکړي،او یا خودې ملک پرېږدي او ځي دې،او یادې فکرا دخدای (جل جلاله) دین ومني او په اسلامي نظام کي دې شامل شي.

ب : دکعبې انتظام او سر پرستي به په بشپړه توګه دتوحید دڅښتنانو په لاس کي وي او دمشرکانو لاس وهنه به پکي نه وي،اوس به نه یوازې دا چي په کعبه کي کوم مشرکانه دود نه تر سره کېږي بلکي هغوی به ددې پاک سپېڅلي کور تر څنګ هم نه اوسي.

# دولسمه برخه

## وروستی حج او وفات

### دحج سفر :

حضرت محمد دهجرت په لسم کال دحج اراده وکړه. دهمدې کال دذیقعدې په میاشت کې یې اعلان وکړ چې حضرت محمد د حج دتلو اراده لري دا خبر په ټولو عربو کې خپورشو. په دغه مبارک وخت کې له حضرت محمد سره دحج دنیکمرغی ترلاسه کولو په مینه ټول عرب په جوش راغلل حضرت محمد دذیقعدې په وروستیو ورځو کې له مدینې څخه راوخوځېد او دذی الحجې په څلورمه نېټه دسبا مهال مکې ته ورسېد. تر راتګ وروسته یې لومړی دکعبې طواف وکړ او بیایې په مقام ابراهیم کې دوه رکعته لمونځ اداء کړ. بیا یې دصفا غونډۍ او مروه تر منځ هڅه او هاند سعی ) وکړوروسته له دې په اتمه نېټه دپنجشنبې په ورځ له ټولو مسلمانانو سره په منی کې پاتې شو. په دویمه ورځ دذی الحجې په ۹ نېټه دسبا لمانځه له اداء کولو نه وروسته له منی څخه وخوځېد او عرفات ته ورغی،حضرت محمد هلته هغه تاریخي خطبه ولوستله چې په هغې

سپېڅلی ژوند

سره داسلام برم او اوکوب وښودل شو. په دې خطبه کې حضرت محمد دډېرو مهمو چارو په اړه لارښوونه وکړه چې ځینې یې دادي :

### دحج خطبه :

بسم الله الرحمن الرحیم

« واورئ،دجاهلیت دودونه زما تر دواړو پښو لاندې دي ».

« عرب پر عجم او عجم پر عرب هېڅ فضیلت نه لري. تاسې ټول دادم اولاد یئ او آدم له خاورې پیدا شوی و».

« مسلمانان په خپل منځ کې سره ورونه دي ».

« ستاسې مریې ! ستاسې مریې !! څه چې پخپله خورئ پر هغوی یې هم وخورئ. څه چې پخپله اغوندئ پر هغوی یې هم واغوندئ ».

« دجاهلیت ټول قتلونه باطل کړی شول،اوس هېڅوک یو له بل څخه دپخواني قتل دبدلې اخیستلو حق نه لري او تر ټولو دمخه زه دخپلې کورنۍ ربیعه بن الحارث دزوی له قتل څخه تېرېږم او هغه باطلوم ».

« دجاهلیت هر راز سود هم باطل کړی شو اوس هېڅوک یو له بل څخه دسود غوښتنې حق نه لري،او تر ټولو مخکې زه دخپلې کورنۍ سود باطلوم چې هغه دعباس بن عبدالمطلب سود دی »

« دښځو په اړه له خدایه ووېرېږئ،ستاسې حق پر ښځو او دښځو پرتاسې دی».

«ســــــتاسې وینې او ســــــتاسې مالونه ترقیامته پورې یو پر بل حرام (١) دي لکه څنګه چې دا ورځ – دا میاشت او دا ښار حرام دی »

«زه تاسې ته یو شی در پرېږدم که تاسې هغه ټینګ ونیو نو بې لارې به نه شئ. او هغه دالله(جل جلاله) کتاب دی »

تر دې وروسته هغه دشریعت ډېر اصولي احکام بیان کړل. بیا یې په خطاب سره له ټولې غونډې نه پوښتنه وکړه :

.......................................................................................

(١) یعني د درناوي وړدي لکه څنګه چې تاسې ته دعرفې ورځ ،د ذالحجې میاشت اودمکې معظمې ښارد درناوي وړدي په دې توګه یو دبل وینې اومالونه هم دي .

« خدای(جل جلاله) به له تاسې څخه هلته هغې دنیا کې ) زما په باب پوښتنه وکړي،نو تاسې به څه ووایئ ؟ »

صحابه و وویل موږ به په شهادت سره ووایو چې «هغه محمد ) دخدای(جل جلاله) پیغام راورساوه او خپل فرض یې اداء کړل » بیایې آسمان لوري ته ګوته ونیوله او درې ځله یې وویل :

« ای خدایه ! ته شاهد اوسه » په دغه وخت کې دقرآن شریف دا آیت نازل شو :

**الیوم اکملت لکم دینکم و اتممت علیکم نعمتي ورضیت لکم الاسلام دینا***

ستاسې لپاره مې نن دا دین بشپړکړ او خپل نعمت مې پر تاسې تمام کړ او تاسې ته مې اسلام ددین په حیث غوره کړ.

حضرت محمد دهمدې وروستي حج په تر څ کې دحج هغه ټولې طـــریقې عملي کړې لکه څنګه چـــــې اداء کـــول یې پکاردي.

حضرت محمد په دې وخت کې دا هم وویل چې « له ما څخه دحج مسایل زده کړئ. شاید تردې وروسته ما ته دبل حج موقع را نه شي»

په دې تر څ کې یې دا هم ټولو مسلمانانو ته وویل :

**فلیبلغ الشاهد الغائب** کوم خلک چې په دې وخت کې حاضر دي هغوی دې ارومرو دا ټولې خبرې ) هغوخلکو ته ورسوي چې حاضرنه دي.

## ناروغي :

دیوولسم هجري کال دصفرې میاشتې په ۱۸ مه یا ۱۹ مه نېټه او دچارشنبې ورځ وه چې دهغه مبارک روغتیایي حالت څه نا څه ښه نه و. او ددوشنبې په ورځ یې ناروغي زیاته شوه حضرت محمد چې تر څو پورې توان درلود دلمانځه لپاره به جومات ته ورته او ترټولو وروستی لمو نځ یې چې اداء کړ هغه دماښام لمونځ و. په سر یې درد و او په دسمال یې تړلی و چې جومات ته یې تشریف راووړ او په لمانځه کې یې د. والمرسلات عرفا سورت قرائت کړ. دما سختن په وخت کې ډېرکمزوری و او جومات ته یې تشریف رانه وړای شو او دایې وویل چې ابوبکرτ دې لمو نځ ورکړي په دې توګه تر څو ورځو پورې حضرت ابوبکرτ لمونځ ورکاوه .



## وروستۍ خطبه او لارښوونې :

په دې منځ کې یې یوه ورځ طبیعت لږ څه ښه شو،غسل یې وکړ او جومات ته یې تشریف راووړ او یوه خطبه یې واوروله چې دادهغه ) دژوندانه تر ټولو وروستۍ خطبه وه. هغه ) وویل :

« خدای(جل جلاله) خپل یوه بنده ته واک ورکړ چې کولای شي ددنیا نعمتونه قبول کړي یا له خدای سره په آخرت کې ) چې څه دي هغه قبول کړي. خو ده محمد ) هغه څه قبول کړل چې هغه له خدای سره دي ».

کله چې حضرت محمد دا خبره واوروله حضرت ابو بکرτ پوه شو چې نغوته یې کومې خواته ده نو ویې ژړل. حضرت محمد زیاته کړه :

« تر ټولو ډېردابوبکرε له دولت او ملګرتیا نه خوښ یم،که ما په خپل امت کې څوک خلیل ځانته نیولای نو ابوبکر به مې نیولی وای مګر زما او دهغه ترمنځ داسلام اخوت او دوستي بسنه کوي.

او هو،واورئ ! له تاسې نه پخوا قومونو دخپلو پیغمبرانو او لویانو له قبرونو څخه عبادتځي جوړول. ګورئ تاسې هغسې مه کوئ. زه تاسې ترې په کلکه منع کوم ».

بیایې وویل :

« دحلالو او حرامو نسبت دې ما ته نه کیږي. ما هغه شیان حلال کړي دي چې هغه خدای(جل جلاله) حلال کړي دي او هغه شیان مې حرام کړي دي چې هغه خدای(جل جلاله) حرام کړي دي ».

دهمدې ناروغۍ په ترڅ کې یې یوه ورځ دخپلې کورنۍ اهل مخاطب کړل اوورته یې وویل : « ای دخدای(جل جلاله) دپیغمبر لورې فاطمې رضی الله عنها) او دخدای(جل جلاله) دپیغمبر ترورې صفیې رضی الله عنها) هغه څه وکړئ چې دخدای(جل جلاله) په وړاندې ستاسې پکارشي. زه تاسې دخدای(جل جلاله) له عذاب) څخه نه شم ژغورلای ».

یوه ورځ یي ناروغي ډېره زیاته وه.کله به یي ځادر پرمخ را خور کړ او کله به یي لرې. په دې ترڅ کي حضرت عایشي رضی الله تعالی عنها دهغه له مبارکي خولي څخه دا الفاظ واورېدل :

« پر یهودو او نصاراوو دې دخدای لعنت وي هغوی دخپلو پیغمبرانو او لویانو له قبرونو څخه عبادتځي جوړ کړي وو ».

حضرت محمد لږ شانته اشرفی له حضرت عایشي رضی الله عنها سره در لودلي. په همدې سخت حالت کي یي یو ځل هغې ته وویل :

«عایشي!هغه اشرفی چېرته دي؟ آیامحمد دې له خدای(جل جلاله) سره بدګوما ن مخامخ شي! لاړه شه دخدای(جل جلاله) په لارکې یې خیرات کړه ».

## داعلیٰ ملګري په لور سفر:

ناروغي به یي کله ډېره شوه اوکله لږه .په کومه ورځ چي دی وفات شو یعني د دوشنبې په ورځ )په ښکاره یي طبیعت ارام و خولکه څنګه چي ورځ پخېده پرهغه به بیابیا بې هوښي راتله. په دغه حالت کي به یي زیاتره له مبارکي خولي څخه دا الفاظ راوتل «مع الذين انعم الله عليهم » له هغوخلکو سره چي پرهغوی باندې خدای(جل جلاله) انعام کړی دی .

اوکله به یي ویل :

**اللهم فی الرفیق الاعلی :** ای خدایه سترملګری یي

اوکله به یي ویل :

**بل الرفیق الاعلی:** اوس نورځوک نشته بلکي هغه سترملګری پکاردی .

دهمدې وینا په بیابیا ویلویي حال نورشو اوپاک روح یي عالم قدس ته ولاړ.

**اللهم صل علی محمدوبارک وسلم.**

## دوفات نېټه :



په عمومي ډول چي دپیغمبرε دوفات نېټه مشهوره ده هغه دهجرت یولسم کال د دوشنبې ورځ دربیع الاول دمیاشتي ۱۲ مه ده خوپه دې کي اختلاف شته،دمولا ناسیدسلیمان ندوي صاحب دپلټني له مخي دربیع الاول لومړۍ نېټه ده .

دویمه ورځ یي تجهیز اوتفکین بشپړشو اومبارک جسدیي په هغي حجره کي خاوروته وسپارل شوچي هلته وفات شوی و.

**انک میت وانهم میتون)**

**انالله وانا الیه راجعون)**

دا کتاب له اصلاح انلاین څخه ډاونلوډ شوی دی

سپېڅلی ژوند

دا کتاب له اصلاح انلاین څخه ډاونلوډ شوی دی